وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوٓا أَيْدِيَهُمَا جَزَآءً بِمَا كَسَبَا نَكَٰلًا مِّنَ اللَّهِ ۗ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ

[سُورَةُ المَائدة : 38]

او غل، که نر وي که ښځه، د دواړو لاسونه پرېکړئ، دا د هغو د خپلي کړني بدله او د الله له لوري د عبرت وړ سزا ده. د الله قدرت پر ټولو غالب دی او هغه د پوهي او حکمت څښتن دی.


مؤسسة العزائم الإعلامية

14 گڼه

خراسان غږ

ديني، تاريخي، سياسي، ادبي او خبري مجله

څوارلسمه گڼه / دوشنبه 4 جمادی الأولی 1444هـ


د مجلي له منځپانگې څخه


- سيرت النبي صلى الله عليه وسلم
- نثر الؤلؤ والمرجان
- د اصحابو د ژوند پلوشې براء بن مالک رضی الله عنه
- الفلاح والرشاد فى مسايل الجهاد


# د الله حدود او د طالبانو ډرامه

تفسير القرآن الكريم

ډالر خبري کوي

ښاري ښکاري

طارق ( وحدت ) تقبله الله

## اسونه زين کړئ !

اول: د الله په لاره کې د جهاد په نيت  أس ساتل داد خپل مالک دپاره د قيامت په ورځ باندی د جهنم د اور څخه پرده گرځي.
دويم: أس ساتل مکمل خير او خير دی. دريم : أس چې په شپه او ورځ کې څومره خوراک کوي نو د هغې په اندازه به ورته نيکې ليکل کيږي. څلورم : أس چې د مالک د ارادی څخه بغير څومره اوبه وڅښي نو د اوبو څښلو په اندازه به ورته نيکې ليکل کيږي، نو داچې خپل مالک أس ته پخپله اوبه ورکوي د هغې به څومره أجر وي ؟
پنځم: أس چې په شپه او ورځ کې څومره غوشيان او متيازې وکړې نو د هغې په اندازه به د أس مالک ته نيکې ليکل کی...

4 جمادی الأولی
1444

دیني برخه


تفسیر القرآن الکریم 03
نثر اللؤلؤ والمرجان في سلسلة معرفة الرحیم الرحمان 08
الفلاح والرشاد في مسائل الجهاد 11
سوال ځواب 16
اسونه زین کړئ 19


سیاسي برخه


ډالر خبرې کوي 23
دالله حدود او دطالبانو ډرامه 32


ادبي برخه


شعر (نوی احساس نوی بدلون ښکاري) 41
ښاري ښکاري! 43
شعر (طالب کشران غولوي) 47


تاریخي برخه


سیرة النبي صلی الله علیه وسلم 48
براء بن مالک رضی الله عنه 55
سلطان محمود غزنوي 58

# سُورَةِ الأَنفَالِ

## تفسير القرأن الكريم

## ١٤

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على سيد الأنبياء والمرسلين، وعلى آله وصحبه أجمعين أما بعد: د الله عزوجل په توفيق سره مخکې د سورت توبې تفسير بيان شو، وس راځو د سورت أنفال تفسير ته، ربط به د دواړو داسې شي چې مخکې د قتال بحث وشو، نو د قتال په نتيجه کې غنيمتونو لاس ته رازي نو ځکه اوس د سورت الأنفال تفسير د الله په توفيق سره شروع کوو، رب العالمين دې په خير سره تر پايه ورسوي.

رب يسر ولا تعسر وتمم بالخير.

### بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ
### سُورَةِ الْأَنْفَالِ

سورت أنفال مدني سورت دی، مصحف عثماني کې اتم نمبر سورت دی، ٧٦ آيتونه لري. حافظ ابن کثير وايي چې ١٦٣١ کلمات لري او ٥٢٩٢ حروف لري. والله أعلم.

موضوع ددې سورت مبارکه ده: [التحريض على القتال وفوائده وبيان قواعده] ژباړه: قتال ته هڅونه، د قتال فوائد او قتال اړوند قواعد پکې بيانيږي. لکه الله عزوجل فرمايي: يَاأَيُّهَا النَّبِيُّ حَرِّضِ الْمُؤْمِنِينَ عَلَى الْقِتَالِ. (65) چې د جهاد او قتال اول اطلاق کفارو سره په توره، ټوپک، خفيفه او ثقيله اسلحه، بري او بحري، زميني او فضايي اسلحو، وسايطو، امکاناتو، او ټيکنالوژۍ په توسط سره جنګ باندې کيږي، بيا وروسته اطلاق يې په اعلامي، استخباراتي، اقتصادي او فکري جګړې وغيره بخشونو باندې هم کيږي.

سورت انفال هغه سورت دی چې الله عزوجل پکې د ژوند مقصد ذکر کوي، نن سبا مونږ د خپل ژوند مقصد نه پيژنو، د غربي افکارو پر وړاندې مو ماتې خوړلې ده، زمونږ ستاسې د ژوند يوازينې هدف د ټولو انسانانو په ټوله ځمکه کې د انسان د بندګۍ او اطاعت څخه راويستل او د وحده لا شريک ذات عبادت ته سوق کول دي. دا يې لنډه خلاصه شوه، لکه الله عزوجل فرمايي: وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلَّهِ فَإِنِ انْتَهَوْا فَإِنَّ اللَّهَ بِمَا يَعْمَلُونَ بَصِيرٌ (39) سورة الأنفال. ژباړه: او تاسې وجنګيږئ دوی سره تر دې چې فتنه پاتې نشي او دين ټول د الله لپاره شي کچيرې دوی منع شول نو يقينا الله د دوی کړنو لره ليدونکی دی. نو قتال ته هڅونه ده، قتال امر دی تر دې چې په ټوله ځمکه ټول انسانان د الله تعالى حکم ته منقاد شي.

بايد مونږ تاسې خپله مبارزه وګورو چې مونږ د خپل تخليق هدف لپاره څومره کار کړی، چې الله تعالى انسان د عبادت لپاره پيدا کړی دی، د توحيد لپاره يې پيدا کړی دی، چې خپله به هم توحيد مني او په د نړۍ ټولو خلکو باندې به هم دغه توحيد مني او يا به د توحيد حاکميت پرې رسمي توګه ورپيژني.

اوس مونږ وګورو چې شخصا مونږ څومره دا مسؤوليت ادا کړی، د کور او ټولنې په کچه، د مملکت او د نړۍ په سطحه مو څومره اندازه کې خپل مسؤوليت ادا کړی ؟ خو کله چې يو انسان خپل هدف نه پيژني هغه به د هدف په لور مزل څنګه وکړي ؟ هغه به د خپلو کړنو مراقبت او ارزيابي څنګه وکړي ؟ ورونو! د سورت انفال موضوع انسان دی، يوازې مسلمان نه دی، بلکې اسلام د ټول انسانيت لپاره راغلی، الله عزوجل يوازې د مسلمانانو رب نه دی، نه يوازې د عرب قوم يا د عجم قوم رب دی، بلکې د ټولو عالمونو او جهانونو رب دی، نو اوس به دا ټول جهانونه د الله عزوجل توحيد او د رب العالمين قانون ته سوق کولای شي، همدا د انبياؤ راليږلو غايه وه، همدا د وحي اساسي هدف دی، الله تعالى فرمايي: وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَسُولٍ إِلَّا نُوحِي إِلَيْهِ أَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدُونِ (25) سورة الأنبياء.

ژباړه: او مونږ ندی ليږلی مخکې ستا نه هيڅ رسول مګر همدغه وحی مو ورته کړېده چې له ما څخه پرته بل معبود نشته نو تاسې همدا زما بندګي وکړئ.

وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَسُولًا أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ فَمِنْهُمْ مَنْ هَدَى اللَّهُ وَمِنْهُمْ مَنْ حَقَّتْ عَلَيْهِ الضَّلَالَةُ فَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانْظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِينَ (36) سورة النحل.

ژباړه: او يقينا مونږ په هر امت کښې يو پيغمبر ليږلی، [دې لپاره] چې الله لپاره بندګي خاص کړئ او د طاغوت څخه ځان وژغورئ. نو بعضې په دوی کې هغه څوک دي چې الله تعالى ورته هدايت کړی دی او بعضې په دوی کې هغه څوک دي چې پخه شوې ده په هغه باندې ګمراهي، نو وګرزئ تاسې په ځمکه کې او وګورئ څنګه شو انجام د تکذيب کونکو.

هماغه موضوع شوه چې ټوله نړۍ کې د فتنې تر ختمولو پورې قتال او مبارزه لازم ده.

اوس که څوک د خپلې مبارزې هدف د دغه قرآني موخې په خلاف ټاکي نو مونږ تاسې به پوهه شو چې ګمراه دی، لکه طالبان يا نور تنظيمونه دي يا راتلونکي وخت کې داسې ډلې پيدا شي، چې د مبارزې هدف يې: د افغانستان، پاکستان يا عراق، شام او نورو مملکتونو په محدوده ځمکه د اسلام محدودو شخصي احکامو ته د خلکو رابلل او د شريعت بنيادي مفاهيمو، اصولو او احکامو تعطيل کول وي. ځکه مخکې تير شو چې د اسلام موضوع انسان دی، د پيدايښت څخه تر مرګه پورې دده ژوند هدف دی. د شريعت مقصود ټول انسانان په ټوله ځمکه توحيد ته رابلل دي، نو طالبانو، يا نورو دغه منهج لرونکو خلکو، تنظيمونو او ګوندونو د اسلام هدف يې محدود او تغير کړ، د عالَمونو او جهانونو لپاره راليږل شوی الهي نظام يې د تغير او تحريف څخه وروسته يو

قوم، سیمې او وطن پورې وتاړه. اوس څوک چې د قرآن کریم او اسلام دغه عالَمي او جهاني هدف پر مخ خنډ جوړیږي نو سورت أنفال کې به رب وفرمايي چې قتال ورسره وکړئ، وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلَّهِ فَإِنِ انْتَهَوْا فَإِنَّ اللَّهَ بِمَا يَعْمَلُونَ بَصِيرٌ (39) سورة الأنفال.

سورت أنفال کې د اسلام تر بریا پورې په ټوله نړۍ کې د جهاد مشروعیت دی، څوک چې اوس دغه مشروع او واجب او فرض عمل ته تخریبي اعمال یا هم فساد وايي، نو ددوی پر ضد هم جهاد همداسې مقدسه فریضه ده، لکه د اسلام د نزول پرمهال چې د مکې مشرکانو، یهود نصاراو او مجوسیانو سره فرض و، چې هغوی هم د اسلام دین د ټول انسانیت لپاره په ټوله ځمکه کې د سیاست، اقتصاد او ټولنیز ژوند کې د حاکم په حیث نه تسلیموو. د په ټوله ځمکه کې د ټولو انسانانو د الله تعالی حکم ته منقاد کولو څخه هدف دا نه دی چې ټول انسانان دې اسلام قبول کړي او مسلمانان دې شي، بلکې دلته د دین بریا او غلبه مراد ده، د بندګانو د بندګۍ څخه د انسانانو آزادول دي، د الله عزوجل غصب کړی حق ترې اخستل دي، چې نور په نړۍ کې دوی د خپل ناقص فهم مطابق پریکړې ونه کړي، قانون جوړ نه کړي، اجتماعي ژوند کې به د اسلام تابع وي، ولو که شخصي ژوند کې د شرایطو موافق ورته اجازت شته. نو عقیده به په چا په زوره نشي تحمیلولای خو د اسلامي نظام احکامو تطبیقولو لپاره مسلمانانو ته له ټول واک او ځواک څخه استفادې اخستلو یوازې اجازت نه بلکې کلک امر شوی دی. ځکه الله عزوجل د اهل کتابو او مجوسو کفارو لپاره د جزیې حکم مشروع ګرځولی دی، که دوی اسلام نه راوړي نو دویم رخصت ورته دا دی چې د اسلامي نظام تر چتر لاندې به په معلومو شرطونو ټیټ سترګي اوسیږي.

اوس دغه هدف چې ټول انسانان په ټوله ځمکه د الله عزوجل عبادت ته سوق کول دي، دا به څنګه لاس ته راوړو ؟ آیا یوازې په دعاګانو، یوازې په دعوت او تبلیغ، یوازې په جنګ او قتال ؟ نه دې سورت کې به الله عزوجل ددغه هدف لار هم مونږ تاسې ته وښايي چې هغه دعوت او قتال دواړه سره یوځای کول دي. کچیرې چا یوازې د درس، دعوت او تبلیغ لاره ونیوله نو هیچرې په ټوله ځمکه ټول انسانان د الله تعالی حکم ته نشي منقاد کولای، ځکه مونږ تاسې ګورو چې دې نړیوالو کفارو په کومه طریقه له مونږ څخه اسلامي نظام اشغال کړی دی، د الله تعالی حق یې څنګه غصب کړی دی ؟ آیا دوی یوازې په درس، تبلیغ او دعوت باندې د الله عزوجل د الوهیت او ربوبیت صفت غصب کړی ؟ نا عزتمندو بلکې دوی د الله د پریکړې واک پرځای خپله ناقصه او شرکي پریکړه او واک په پار جنګونه کړي دي، میلیونونو قتلونه یې کړي دي، نظامي وسایطو او اسلحو څخه یې کار اخیستی دی، د بمونو مور پورې اسلحې یې په پاکو مجاهدینو استعمال کړي دي نو مونږ تاسې به هم د دوی څخه د الله عزوجل دغه حق په هماغه طریقه اخلو چې په کومه یې رانه اخیستی دی، او دا مونږ ته الله عزوجل په سورت انفال او نورو سورتونو کې بیان کړی دی، چې کله کفارو د الله تعالی حقوق غصب کړل نو بیا یې پر خلاف قتال شروع کړئ.

او دغه شان دویمه هغه ډله چې هغوی خپلې مسلحې مبارزې سره د کتاب او سنت منهج نه دی یوځای کړی، خپله عقیده یې بدله کړې ده، نو تاریخ شاهد دی چې هغوی خو واک ترلاسه کړې خو یا یې د توحید او منهج مسیر کوږ شوې او یا یې کفر ته تسلیمي ورکړې ده. د دعوت او قتال یوځای راجمع کولو مشروعې او معقولې لارې پرته نورې ټولې لارې کږې دي، که اویا کاله پرې مزل وشي او که سل کاله پرې مزل وشي، مصارف وشي، استعدادونه، وختونه او صلاحیتونه پکې استعمال شي، خو د تبلیغیانو په څیر په یوه لویشت ځمکه باندې به شریعت نافذ نشي. بلکې څومره چې پدغه کږه لاره مزل کیږي، هغومره به د اسلام څخه لرې کیږي. او د یادونې وړ ده چې نبي علیه السلام د خپل ژوند او مبارزې ځانګړې هدف پرمهال همدا یو منهج ساتلی دی، ټولو انسانانو سره یې په ټوله ځمکه کې د توحید منهج کارولی، د دین په بنیادي مفاهیمو کې یې انعطاف او نرمۍ څخه یې کار ندی اخیستې، چې دا د بین الملل سازمان دی، دې سره به ګزاره وکړو، د دوی بعضې شرایط به ومنو ترڅو شرکي رسمیت راته راکړي، نه بلکې نبي علیه السلام د بین الملل سازمان سره او نورو سازمانونو ټولو سره په خپله عقیده معامله نه ده کړې، منهج یې ندی تغییر کړی، کله چې د احزابو غزا پرمهال ټولو قوتونو اتحاد وکړ، او دغه ملګرو ملتونو سازمان د مدینې په وړه جغرافیه باندې هجوم راوړ، نبي علیه السلام ورته تسلیم نشو، بلکې خپلې خیټې پورې یې تیګې وتړلې خو تر آخري ساعته یې دښمن ته ټیټه خبره ونه کړه، نو که نن طالبان د افغانستان خارجه پالیسي تغییروي، یا نور مرتد دولتونه یې تغییروي، یا هم راتلونکي وخت کې بل ګوند او بل تنظیم دغه خارجه پالیسي تغییروي، یو کافر سره یو شان او بل سره بل شان وي، شرایط یې مني نو مونږ تاسې به پوهه شو چې دوی لار خطا کړې ده، ځکه نبي علیه السلام خارجه پالیسي د هر کافر سره یو شان وه. نو موضوع او مهم مقصد د سورت انفال دا دی چې د اسلامي نظام قیام لپاره یوازینۍ لار د جهاد او قتال ده، او غایه د قتال د فتنې ختمیدل دي.

## خلاصه ددې سورت:

سورت مبارکه دوه برخې لري، لومړۍ برخه یې ځلویښتم آیت کریمه پورې ده، پدې برخه کې دوه بابونه دي. لومړی باب تر نولسم آیت پورې دی. په ابتداء کې د مال غنیمت حکم دی، بیا د مومنانو مجاهدینو پنځه صفات دي، بیا د مال غنیمت حکم علتونه او د قتال یو اصل به بیان شي.

او په عموم کې دا سورت مبارکه په ډیرو قیمتي موضوعاتو او اړینو بحثونو مشتمل دی، ابتداء کې الله عزوجل د غنیمت موضوع بیانه کړې ده، چې غنیمتونه د الله عزوجل او د هغه د رسول علیه السلام دي، دې لپاره به دیارلس علتونه بیان شي، او د قتال دیارلس ښایسته قوانین به بیان شي، دغه رنګ الله عزوجل پدې سورت مبارکه کې مومنانو ته دا بیان کوي چې د تمکین، بریا، اقتصاد جوړونې، نظامي پیاوړتیا وغیره ټول فنون په قتال او جنګ کې دي او دا زده کړئ، نو اې مومنانو که تمکین غواړو قتال به کوو، که اقتصاد غواړو قتال به کوو لکه چې بدر کې صحابه وو ته الله عزوجل غنیمتونه ورکړل، دښمن یې ذلیله شو، رأس الکفر ابو جهل څخه سر غوڅ شو، د دښمن نظام مات شو، علت یې د الله تعالی قتال حکم ته لبیک ویل و. دغه شان دې سورت کې د کفارو سره د ډیپلوماسۍ او د صلحې استراتیژي بیان به وشي، مجاهدینو ته بشارات او قاعدینو ته وعیدات به بیان شي، د مجاهدینو صفات، د جهاد موانع، د عقیدوي، نظامي، اقتصادي، استخباراتي اعداد او تربیت امر به وشي، هر عصر کې د کفارو مرعوبه کولو په پار د وخت تقاضاؤ موافق تکتیکونه اختیارول، پالیسي جوړول، تصنیع او ټیکنالوژۍ بخش کې ځانګړې مهارتونه او نوښتونه لاس ته راوړلو امر به وشي. چې دغه بخشونه د دین مهم ارکان دي، دا خو د سیکولرزم او نورو غربي نظامونو اثر دی چې دین او سیاست یې سره جلا کړل، دین او ټیکنالوژي یې سره جلا کړه، چې نتیجه کې یې مسلمانان نن قوي او پیاوړی نظام نه لري، د ډار په ثقافت روږدي شوي دي، د اسلامي نظام تصور ورته ناممکن ښکاري، سره ددې چې سیاست د دین اصل دی، یا بل تعبیر سره ویلی شو چې سیاست د دین روح ده، چې سیاست په کوم دین کې نه وي هغه د مړي مثال لري، نن سبا وګورئ، مسلمانان قوي نظام نه لري نو د مړي په څیر له ځان څخه مچ هم نشي شړلی، د ډورن یو توغندي له ډاره خلک خپل منهجونه بدلوي، دا ځکه چې عالم او مسلمان ځان د جمات او مدرسې پورې محدود کړی دی او ټیکنالوژي او سیاست ترې کفارو او مرتدینو نیولی دی، او ډیرې داسې ساده ګان هم وي چې پدې فخر کوي چې زمونږ د ډلې او جماعت امتیاز دا دی چې سیاست کې ګوتې نه وهي، نو سیاست خو ددین روح ده، یعني معنا دا شوه چې ستاسې د جماعت امتیاز دا دی چې د دین روح لپاره کار نه کوي، او غواړي چې دا دین همداسې مړ وي، او راپورته نشي ؟؟ که مونږ تاسې اسلامي تاریخ وګورو، نوح علیه السلام د لویو بیړیو او بحري جازونو جوړولو او تخنیکي بخش نوموتی استاذ و، چې ددې زمانې اصطلاح موافق د انجنیرۍ فن ماهر و، ځکه یې دومره لوی جاز جوړ کړ. داود علیه السلام د اسلحې جوړونې فابریکا درلوده، سلیمان

علیه السلام او یوسف علیه السلام د اسلامي سیاست غوره ځیرې وې، محمد رسول الله علیه السلام، ابو بکر، عمر، عثمان، علي او معاویه رضوان الله علیهم أجمعین د علم سره سره د نظامي بخش او د حرب او قتال د ټولو فنونو او د شرعي سیاست ماهرین وو، د جنګونو واقعات چې یې انسان ولولي، داخله او خارجه پالیسي یې چې مطالعه شي نو انسان ورته حیران لاړ شي چې دوی ته الله عزوجل په هر بخش کې څومره مهارت وربښلی و، او دا نن هم ممکن دی، چې کوم فن کې کوشش وشي، الله یې انسان ته ورکوي. خو نن د کفارو د فکري جګړې اثر دی چې زمونږ عالم او مدرس سپیني جامې اچوي، چې دوړه هم پرې ونه لګي، او خلکو کې دا مشهور وي چې مولایانو باندې څوک کار نه کوي، بس هغه د خلکو صدقاتو او زکاتونو ته ناست وي، نه په نظامي ډګر باندې پوهیږي، نه په سیاسي بخش کې تجربه لري، نو ځکه خو امت مسلمه دغه ناکامۍ سره مخ دی، مونږ باید نبي علیه السلام ژوند عملي نمونه وګرځوو، دا سیرتونه یې چې بیانوو دا د خوند او کیسې په نیت باید بیان نه کړو، بلکې عملي کولو لپاره یې بیان کړو.

بیا سورت أنفال کې د خیانت کونکو کفارو لپاره سخت عذاب بیان به وشي، د اسیرانو بعضې احکام، د مهاجرینو او غیر مهاجرینو مومنانو توپیر او داسې نور مهم مسائل او مباحث به ذکر شي. ان شاء الله.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ

**يَسْئَلُونَكَ عَنِ الْأَنْفالِ قُلِ الْأَنْفالُ لِلَّهِ وَالرَّسُولِ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَصْلِحُوا ذاتَ بَيْنِكُمْ وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ (1)**

ژباړه: تپوس کوي دوی ستا څخه د غنیمتونو په اړه، ته ووایه واک د غنیمتونو خاص الله تعالی او د رسول لپاره دی. نو ویریږئ د الله تعالی څخه او سمې کړئ خپل منځي اړیکې، او تابعداري وکړئ د الله تعالی او د رسول د هغه کچیرې تاسې مومنان یاست.

## تفسير:

**[يَسْئَلُونَكَ عَنِ الْأَنْفالِ قُلِ الْأَنْفالُ لِلَّهِ وَالرَّسُولِ]:**

ددې آیتونو وضاحت په پار شان نزول بیانول لازم دي،

## شان نزول:

مشهور تابعي امام سَعِيد بْن جُبَيْرْ وایي ما د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه د سورت انفال [نازلیدو] په اړه تپوس وکړو هغه وویل: «نَزَلَتْ فِي بَدْرٍ». صحيح البخاري. دا د بدر په اړه نازل شوی.

الله عزوجل د شریعت احکام تدریجا او مرحله په مرحله نازل کړي دي، تر دې چې نبي علیه السلام ۲۳ کاله نبوي ژوند کې دا دین کامل شو، نو په ابتداء د اسلام کې ډیرې احکام لازم نه و، لکه جهاد، ستر او پرده، د شرابو حرمت، د کورني خره غوښې حرمت او داسې نور احکام وو چې هغوی په اړه شریعت کوم حکم نه و کړې، خو په مرور د زمان سره بعضې احکام فرض شول او بعضې حرام شول. نو جهاد هم د اسلام په لومړیو کلنو کې فرض نه و، حافظ ابن القیم یې لنډیز داسې بیان کړی: وَكَانَ مُحَرَّمًا، ثُمَّ مَأْذُونًا بِهِ، ثُمَّ مَأْمُورًا بِهِ لِمَنْ بَدَأَهُمْ بِالْقِتَالِ، ثُمَّ مَأْمُورًا بِهِ لِجَمِيعِ الْمُشْرِكِينَ. [زاد المعاد ج ۳ / ص ٦٤] او [قتال] حرام و، بیا یې اجازت وکړی شو، بیا د هغه چا سره د قتال امر وشو چې چا د دوی [مسلمانانو] په جګړه پیل کړی وي، بیا ټولو مشرکانو سره د جهاد امر وشو.

کله چې دین کامل شو نو اوس اعتبار د دین دغه نهایي مرحلې لپاره دی، دې وخت کې به مرجئه داسې نه کوي چې سابقه حالات او مراحل د ځان لپاره دلیل وګرځوي او نهایي مرحله پریږدي، ځکه بیا به شراب او د کورني خره غوښه هم حلاله ګڼي، د زنانه وو لپاره پردو سړو څخه پرده به هم ناجایز بولي او ټول دین به برباد کړي، چې دې احکامو کې نهایي مرحلې ته اعتبار ورکوي نو د جهاد او قتال په ډګر کې به هم نهایي مرحله معتبره وي. مکې کې جهاد ولی فرض نه و ؟ نو حقیقي علتونه به یې الله عزوجل ته معلوم وي، خو علماؤ لیکلي دي چې هلته نبي علیه السلام سره د بنو هاشمو قوت ولاړ و، د مسلمانانو جهاد ته حاجت نه و، ټول بني هاشم یې پر شا ولاړ و. نبي علیه السلام ته د دعوت زمینه مساعده وه، هغه توحید دعوت کوو، خلکو اسلام قبلوو، مسلمانان هم کم ول، که په جګړه بوخت شوي وای نو مشکلاتو سره مخ کیدل، خو کله چې مدینه کې د بنو هاشمو حمایت د لاسه لاړو نو جهاد الله عزوجل فرض کړو، او بیا یې منسوخ کړی نه دی، بلکې تر قیامته پورې فرض شو. دغه رنګ نور هم پکې د الله عزوجل ستر ستر حکمتونه و، هغه خلک چې مومنانو ته به یې تعذیبونه ورکول، د الله په فضل سره یو وخت دوی د اسلامي قافلې سالاران وګرځیدل، لکه عمر بن خطاب، ابو سفیان رضي الله عنهما او داسې نور. دا د جهاد د فرضیت مختصر مراحل و.

کله چې مسلمانان مدینې ته ولاړل، نو قریشو ورته اخطار او تهدید ولیږه چې پدې غره نه شئ چې مدینې ته رانه ولاړئ، مونږ در پسې درځو، او هملته مو تس، نس کوو. رسول الله صلی الله علیه وسلم د یو زیرکه قائد په څیر د قریشو فاسدو ارادو ته کلک زیر و، نو ځکه به یې ټوله شپه په رڼو سترګو تیروله او یا به د صحابه وو تر پیرې لاندې ویده کیده. پدې حساسو او خطرناکو حالاتو کې چې د مسلمانانو وجود تر خطر لاندې و، او داسې ښکاریده چې قریش په سد نه راځي، او په هیڅ قیمت هم خپل کبر او ظلم نه پریږدي. په همدې وخت کې الله تعالی مسلمانانو ته د جنګ اجازه ورکوي، خو دا جنګ ورباندې فرض کوي نه بلکه ورته فرمایي: أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا وَإِنَّ اللَّهَ عَلَى نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ. (الحج: 39). [حکم ورکړی شویدی (د قتال) هغو کسانو ته چې قتال ورسره کاوه شي (د کفارو له خوا) پدې سبب چې بیشکه په دوی ظلم شویدی، او بیشکه چې الله په مرسته د دوی ښه قادر دی.]

دا آیت له هغو آیاتونو سره رانازل شو چې مسلمانان یې پدې پوهول چې ددې اجازی هدف جنګ د جنګ پخاطر نه بلکه ددې اصلي هدف دا دی چې باطل له مینځه یووړل شي او د الله احکام او شعائر په ځای شي. الله فرمایي: الَّذِينَ إِنْ مَكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ وَلِلَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ. (الحج: 41) [دغه مهاجر مظلومان، هغه کسان دي چې که چیرې قدرت ورکړو مونږ دوی ته په ځمکه کې نو قائموي دوی لمونځ او ورکوي به زکات، او امر به کوي په نیك کار سره او منع کوي به (خلك) له بد کار څخه او د کارونو پایله له الله سره ده.]

د جنګ دا اجازه له هجرت نه وروسته په مدینه کې نازله شویده، خو کره نیټې تعیین یې معلوم نه دی.

د جنګ د اجازې له نزول نه وروسته مسلمانانو د پورته یادو شوو دواړو پلانونو د تطبیق پخاطر عملاً په عسکري تحرکاتو لاس پورې کړ. او د سَیف البحر سریه ، د رَابِغ سریه ، د خرَّار سریه ، د أَبْواء یا ودَّان غزا ، د بُوَاط غزا ، د سَفَوَان غزا ، د ذو العُشَیره غزا ، د نَخْلَه سریه وغیره تحرکات رامنځ ته شول، چې د یو پرته په نورو کې جنګ ونشو. قریش پدې باوري شول چې د مدینې قیادت ویښ، او با حکمته قیادت دی، د دوی ټول تجارتي حرکات یې تر کلکې څارنې لاندې نیولي. اوس مسلمانان ددې توان لري چې ان دری سوه میله مخکې لاړ شي، او بیا هلته مشرکان ووژني یا یې اسیران کړي او مالونه یې له ځان سره یوسي او پخپله روغ رمټ مدینې ته ستانه شي. چې دې پیښې د قریشو کبر او غرور لا زیات کړ، او بیا وروسته د بدر غزا راپیښه شوه، چې واقعه به یې وروستي آیتونو کې راشي، ان شاء الله.

نو دا آیت کریمه د غزوه بدر کې غنیمتونو ویش په اړه نازل شوی دی، لکه عباده بن صامت رضي الله عنه وایي: مونږ د نبي علیه السلام سره ووتلو، نو زه هم ورسره بدر کې حاضر وم، خلک [مسلمانان او کفار] سره مخامخ شول، الله تعالی دښمن ته شکست ورکړ، نو یوه ډله د مجاهدینو قریشو پسې شوه چې هغوی مات کړي او هغوی ووژني، او یوه ډله لګیا شوه غنیمتونه یې راټولول، [یا لښکر یې راټولوه] او یوه ډله د رسول الله علیه السلام څخه تاو شوې وه چې د غفلت له امله ورته دښمن ضرر ونه رسوي. تر دې چې شپه شوه، او مسلمانان یو بل ته راوګرځیدل، نو کومو کسانو چې غنیمتونه راټول کړي وو، هغو وویل دا مونږ راټول کړي دي، د بل چا پکې برخه نشته. او کوم کسان چې دښمن پسې تللي وو، هغو وویل: تاسې له مونږ څخه زیات حق دار نه یاست، مونږ له تاسې څخه دښمن وشاړه او شکست مو ورکړو. او کومو کسان چې د

نبي علیه السلام ښځه شاوخوا تاو ول، هغو وویل، تاسې د غنیمتونو مونږ ښځه زیات حق دار نه یاست، مونږ خو د نبي علیه السلام ساتنې په پار له هغه ښځه تاو ول چې دښمن ورته زمونږ د غفلت پرمهال ضرر ونه رسوي، مونږ خو دې کار مصروف کړي وو. نو دا آیت الله عزوجل نازل کړو [يَسْـئَلُونَكَ عَنِ الْأَنْفالِ قُلِ الْأَنْفالُ لِلَّهِ وَالرَّسُولِ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَصْلِحُوا ذاتَ بَيْنِكُمْ] او نبي علیه السلام د مسلمانانو ترمنځ غنیمتونه برابر تقسیم کړل. او نبي علیه السلام به چې کله د دښمن په سیمه برید وکړ نو څلورمه حصه به یې زیاتي ورکوله [دا د عمومي لښکر ښځه د یو ګروپ لخوا په یوه سیمه باندې برید پرمهال د غنیمت ښځه زیاتي برخه ورکول مراد ده] او کله به چې هغه او ټول خلک راوګرځیدل نو دریمه حصه به یې زیاتي ورکوله او هغه به دا زیاتي حصه ورکول خوښ نه ګڼل او ویل به یې: قوي مومنان ضعیفانو ته خپل غنیمتونه راګرځوي. [مسند أحمد ط الرسالة قال محققوه: حسن لغیره]

## [يَسْـئَلُونَكَ]:

ابتداء ددې سورت پدې الفاظو سره ځکه وشوه چې الله عزوجل صحابه وو او د ټولو مجاهدينو تربيت کوي، چې اې مومنانو، دا غنیمتونه خو د جهاد یوه جزوي ثمره ده، ددې په اړه اختلافات مه کوئ، بلکې د معرکې نتیجې ته خو وګورئ چې دا څومره ستره فتحه درته رب درکړه، داسې بریا درته په نصیب شوه چې د حق او باطل ترمنځ یې جدايي راوسته، دوست او دښمن ته د اسلام حقانیت او د کفر بطلان ثابت شو.

دلته ذهن ته یو سوال رازي چې صحابه خو ډیر پاک خلک وو، هغوی څنګه د مال په سر لفظي شخړه کوله ؟ جواب یې څرګند دی چې حلال مال د تقوا سره کوم منافات نه لري، د مال محبت الله تعالی د انسان په فطرت کې اچولی دی، هغوی هم بشر وو، زمونږ په شان د غوښو زړونه یې لرل. یا دویم جواب دا چې د غنیمت پاک مال هر یو ته خپل حق ښکاره کیدو، او خپل حق غوښتنه خو پکار ده، هغه څوک چې همیش د خپل حق ښځه تیریږي، دا په ژوند کې بریا نشي ترلاسه کولای، او نه هم خپل کارونه په موفق ډول اداره کولای شي.

خازن وايي: [قوله سبحانه وتعالى يَسَـئلُونَكَ عَنِ الْأَنْفَالِ اسْتِفْتَاءٌ يَعْنِي يَسْأَلُكَ أَصْحَابُكَ يَا مُحَمَّدُ عَنْ حُكْمِ الْأَنْفَالِ وَعِلْمِهَا وَهُوَ سُؤَالُ اسْتِفْتَاءِ لَا سُؤَالَ طَلَبٍ قَالَ الضَّحَّاكُ وَعِكْرِمَةُ هُوَ سُؤَالُ طَلَبٍ] [تفسیر الخازن، لباب التأويل في معاني التنزيل ج ۲/ ص ۲۹۰] ژباړه: د الله تعالى ددې قول: هغوی له تا ښځه تپوس کوي، معنا فتوه غوښتل دي، یعني اې محمد صلی الله علیه وسلم ستا ملګري له تا ښځه د غنیمتونو حکم او علم په اړه تپوس کوي، نو دا فتوه غوښتل و، د مال غوښتل نه و. ضحاک او عکرمه وايي چې دا د غنیمتونو غوښتلو سوال و. صاحب د تحفة الأحوذي وايي: د سعد بن أبي وقاص حدیث د تقاضا موافق دا د مال غوښتنې سوال و، او حدیث د ابن عباس او عباده دا تقاضا کوي چې دا د فتوې پوښتنه وه، وايي همدا زما په نزد غوره ده.

[عَنِ الْأَنْفَالِ]: أنفال د نَفَلٌ جمع ده، لکه أفراس چې د فَرَسٌ جمع ده او زیاتي شي ته ویل کیږي. لکه سورت اسراء کې تهجد ته نفل مونځ ویل شوی [وَمِنَ اللَّيْلِ فَتَهَجَّدْ بِهِ نافِلَةً لَكَ (79)] ځکه چې دا هم د فرض مونځونو ښځه زیاتي مونځ دی. بیا ددې لفظ یو څو مصداقات دي: [اول]: مال غنیمت ته وايي. دا ځکه چې جهاد کې اصل مقصود ثواب او اجر ګڼل وي، غنیمت زیاتي ثمره د جهاد وي. او دا پخوانیو امتونو لپاره حلال نه و، یوازې د امت محمدي علیه السلام ځانګړی امتیاز دی. [دویم]: په یو غزا کې امیر د یو خاص کار په پار انعام مقرر کړي یا غزا کې د یو مجاهد اتلولۍ ستایلو په پار ورته د غنیمت حصې ښځه زیاته برخه ورکوي نو دې ته هم نفل وايي. [دریم]: د وژل شوي دښمن سامان، اسلحه او سورلۍ وغیره ته سَلَب ویل کیږي، هغه هم نفل کې داخلیږي. [څلورم]: د عمومي جنګ په ترڅ کې بعضې سیمو باندې برید لپاره د مجاهدینو کتیبه، ګروپ یا ډلګۍ ولیږل شي او هغوی غنیمت راوړي، دغه غنیمت کې د ټول لښکر برخه ده خو امیر دغه کتیبې او ډلګۍ مجاهدینو ته خصوصي برخه ورکوي، دې ته هم نفل وايي، لکه رسول الله علیه السلام به د تګ پرمهال څلورمه برخه ورکوله او د راګرځیدو پرمهال به یې دریمه حصه ورکوله. [پنځم]: د غنیمت د ویش ښځه مخکې چې امیر د ځان لپاره کوم شی غوره کړي، لکه اسلحه ، سورلۍ یا وینزه وغیره نو دې ته صفي وايي او دا هم نفل کې داخلیږي.

[عَنِ الْأَنْفَالِ] یعني [مِنَ الْأَنْفَالِ] دلته عَنْ په معنا د مِنْ سره دی، او یا هم ویل شوي دي چې دا عَنْ صله ده، عبارت به داسې شي: [يَسْأَلُونَكَ الْأَنْفَالَ] [تفسیر الخازن]

بیا دلته د غنیمت اجمالي یادونه شوې ده چې دا د الله او د رسول الله علیه السلام دي، تفصیلي حکم به یې ۴۱ آیت کریمه کې راشي. [وَاعْلَمُوا أَنَّمَا غَنِمْتُمْ مِنْ شَيْءٍ فَأَنَّ لِلَّهِ خُمُسَهُ وَلِلرَّسُولِ...] هلته به د غنیمت اړوند بعضې احکام بیان کړو، چې څوک د الله د اجر سره غنیمت نیت وکړي د هغه حکم څه دی ؟ غنیمت اخستل د مجاهد په اجر کې کمی راولي که نه راولي ؟ او د غنیمت خمس مربوط یو خوږ بحث به هلته وکړو چې آیا دا خمس ورکول او قتال کول د ایمان په ارکانو کې یو رکن دی او که نه ؟ ان شاء الله تعالى.

## [قُلِ الْأَنْفَالُ لِلهِ وَالرَّسُولِ]:

جاهلیت کې به قانون دا و چا به چې جنګ کې کوم مال ترلاسه کړو، دا به د هغه و، خو د غزوه بدر ښځه وروسته الله عزوجل د غنیمت قانون نازل کړو، او صحابه کرامو ته یې دا حکم وکړو چې مال غنیمت حکم د الله او د هغه د رسول علیه السلام پورې مربوط دی، ستاسې لپاره پکې کوم اختیار نشته.

امام ابن جریر الطبري په سند سره د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما ښځه کړي دي: الْأَنْفَالُ الْغَنَائِمُ ، كَانَتْ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَالِصَةً لَيْسَ لِأَحَدٍ مِنْهَا شَيْءٌ. [تفسیر الطبري] ژباړه: انفال غنیمتونه دي، دا یوازې د نبي علیه السلام لپاره و، د نور هیچا لپاره پکې برخه نشته.

خو راجح مقصد یې دا دی چې دلته حکم د غنیمتونو مراد دی، چې دې کې مومنانو لپاره د تصرف واک نشته. نور بیان د غنیمت وروسته راروان دی. ان شاء الله.

## [فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَصْلِحُوا ذاتَ بَيْنِكُمْ وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ]:

حافظ ابن کثیر یې داسې تفسیر کوي: [اتَّقُوا اللَّهَ فِي أُمُورِكُمْ وَأَصْلِحُوا فِيمَا بَيْنَكُمْ وَلَا تَظَالَمُوا وَلَا تَخَاصَمُوا وَلَا تَشَاجَرُوا فَمَا آتَاكُمُ اللَّهُ مِنَ الْهُدَى وَالْعِلْمِ خَيْرٌ مِمَّا تَخْتَصِمُونَ بِسَبَبِهِ] تفسیر ابن کثیر ج ۴ / ص ۳. ژباړه: په خپلو کارونو کې د الله ښځه وډار شئ، خپل منځ کې جوړه وکړئ، یو بل باندې زیاتی مه کوئ، یو بل سره جګړه مه کوئ، یو بل سره اختلاف مه کوئ، الله تعالی چې تاسې ته د هدایت او علم ښځه څه درکړي دي هغه د هغه څه نه ډیر غوره دي چې تاسې یې په سر جګړه کوئ.

دې جمله کې الله عزوجل مجاهد ته د قتال آداب بیان کړل چې: تقوا، خپل منځي جوړجاړی، د الله او د هغه د رسول علیه السلام اطاعت ښځه عبارت دي.

تقوی باندې یې امر وکړو ځکه تقوا د انسان د خواهشاتو او دنیا ته د میلان کنټرولولو پړی دی، د واګې مثال لري، او کله چې زړه د تقوا پیزوان سره راټینګ شو نو بیا یې خپل منځي جوړجاړي او د الله او د رسول اطاعت په لور کش کوي.

د تقوا تعریفات خو علماؤ زیات کړي دي، خو دلته به ددې مقام مناسب پیژندنه به د متقي په ضمن کې ذکر کړو: [الْمُتَّقِي مَنْ سَلَكَ سَبِيلَ الْمُصْطَفَى، وَنَبَذَ الدُّنْيَا وَرَاءَ الْقَفَا، وَكَلَّفَ نَفْسَهُ الْإِخْلَاصَ وَالْوَفَا، وَاجْتَنَبَ الْحَرَامَ وَالْجَفَا. تفسیر الرازي ج ۲/ ص ۲۶۸] ژباړه: متقي هغه څوک دی چې د رسول الله علیه السلام په لاره روان شي او دنیا د خپل شټ ښځه شاته ګزاره کړي او خپل نفس د اخلاص او وفا پابند وګرزوي او د حرامو او بې وفايي ښځه ځان وساتي.

نو متقي هغه څوک دی چې هر هغه مال کې د تصرف ښځه ځان ساتي چې الله عزوجل ترې دا منع کړې دی. ځکه یې صحابه وو ته د تقوا اختیارولو امر وکړو.

## [وَأَصْلِحُوا ذاتَ بَيْنِكُمْ]:

دا به د تقوا لومړۍ نتیجه شي، ځکه زړه چې جوړ شي، د الله عزوجل خوف پیدا کړي، د مال مینه او محبت کم شي نو اثر یې د انسان پر معاملاتو غورځیږي، بیا د مال

په سر چا سره اختلاف او خفګان نه کوي. او د جهاد مهم اصل ته اشاره وشوه چې اې مجاهدينو په دې وړو خبرو باندې خپل د بريا مهم راز وحدت، قوت او اجتماعيت مه خرابوئ.

او دلته يې حقوق العباد د الله او رسول عليه السلام اطاعت څخه مخکې کړل، ځکه دا اهم مقامي دی، شريعت کې د خپل منځي جوړجاړي زيات تاکيد او فضايل بيان شوي دي: أبو الدَّرداء رضي الله عنه وايي چې رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: "ألا أخبِرُكُم بأفضَلَ من درجةِ الصِّيامِ والصَّلاةِ والصَّدَقة؟ " قالوا: بَلَى يا رسولَ الله صلی الله عليه وسلم قال: "إصلاحُ ذاتِ البَينِ، وفسادُ ذات البين الحالِقَة" [سنن أبي داود وسنده صحيح] ژباړه: آيا تاسې ته د روژې، مونځ او صدقې څخه غوره درجه (عبادت) ونه ښايم ؟ هغو وويل: ولې نه، اې د الله رسوله. هغه وفرمايل: هغه (عمل) خپل منځي جوړجاړی دی. او خپل منځ کې فساد دين ختمونکی دی.

ترجمان القرآن ابن عباس او امام مجاهد وايي: هذا تحريج من الله ورسوله أن يتقوا وَيُصْلِحُوا ذَاتَ بَيْنِهِمْ. [تفسير ابن كثير وسنده حسن]
ژباړه: دا د الله او د هغه د رسول عليه السلام لخوا لازم دي چې دوی تقوا اختيار کړي او خپل منځ کې جوړجاړی وکړي.

## [وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ]:

حافظ ابن کثير وايي: د الله او د هغه د رسول عليه السلام اطاعت وکړئ، د مال غنيمت کوم نوعه تقسيم چې الله تعالی غواړي د هغه اطاعت وکړئ، ځکه نبي عليه السلام د الله تعالی د امر موافق په عدل او انصاف سره تقسيم کوي. [تفسير ابن کثير]
دا د تقوا دويمه نتيجه شوه، او دريم جهادي ادب شو. کله چې د انسان زړه کې د الله او د رسول مينه زياته شوه يعنې تقوا پکې راغله نو د مال محبت او د نفس خواهش باندې خپه ږدي او الهي فرمان ته لبيک وايي.
لومړی اطاعت د غنيمت قضيه کې مراد دی او بيا په ټولو کلي او جزءي احکامو کې اطاعت مراد دی. چې همدغه لاره نيغه جنت ته تللې ده.

## [إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ]:

دا ترغيب او مزيد تاکيد دی، يا [إن] په معنا د [إذ] سره دی، علت به شی د ماقبل لپاره.
معنا دا چې اې مومنانو ستاسې په زړونو کې د ايمان کوم جوهر چې پروت دی، د هغه تقاضا دا ده چې د غنيمت ويش پرمهال تاسې خپل منځي اختلافات او شخړې رامنځ ته نه کړئ، بلکې د آخرت د رغبت له امله د الله او رسول عليه السلام حکم ومنئ.
که مومنان ياست نو جاهليت خويونه پريږدئ چې دا مال زما دی او د نورو پکې برخه نشته بلکې الهي پريکړې پر وړاندې ځانونه تسليم کړئ.
او دلته يې د ايمان لپاره شرط د الله تعالی اطاعت سره د محمد رسول الله عليه السلام اطاعت هم راوړی دی، نو معلومه دا شوه چې څوک د سنت تابعداري نه کوي، هغه مومن نه دی.
[راتلونکې دوه آيتونو کې د مجاهدينو او مومنانو ښايسته صفات ذکر کيږي، چې دا د ايمان تقاضا ده، ځکه د ايمان ثبوت به په عمل سره ورکولای شي، امام حسن بصري وايي: " لَيْسَ الإِيمَانُ بِالتَّمَنِّي، وَلا بِالتَّحَلِّي، لَكِنْ مَا وَقَرَ فِي الْقَلْبِ، وَصَدَّقَهُ الْعَمَلُ" ژباړه: ايمان د آرزو يا د ډول نوم نه دی، مګر دا هغه څه دی چې زړه کې ثابت پاتې شي او عمل يې تصديق وکړي. داسې الفاظ نبي عليه السلام ته هم منسوب شوي دي خو هغه موضوعي روايت دی. نو پدې دوه آيتونو کې مجموعي پنځه صفات بيان شوي دي، درې قلبي صفات دي، يو بدني او يو مالي صفت دی]

## إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ آيَاتُهُ زَادَتْهُمْ إِيمَانًا وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ (2)

ژباړه: يقينا مومنان هغه کسان دي چې کله ياد شي الله تعالی، ډاريږي زړونه د هغوی او کله چې لوستلې کيږي په دوی باندې آيتونه د هغه نو زياتوي ايمان ددوی او خاص په خپل رب باندې اعتماد لري.

## تفسير:
## [إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ]:

دې آيت کې د ځمکو او آسمانونو مالک هغه ايمان ذکر کړی دی چې له خپلو بندګانو يې غواړي. دا الهي الفاظ په خپل معنوي مدلول باندې په دقيقه توګه دلالت کوي، [إِنَّمَا] دلته د حصر لپاره راغلی دی او د بعضې علماؤ په اند يوازې همدا خلک مومنان دي، او هغه کسان چې دا جمله صفات ونه لري هغو مومنان نه دي، دغه علماء وايي چې دلته د ايمان کمال او نقصان نه دی مراد بلکې د ايمان وجود او عدم مراد دی، ايمان د همدغه صفاتو څخه عبارت دی، همدا معين او معلوم تعبير دی، دغه رنګ د آيت کريمه په آخر کې دا تاکيد هم پرې دلالت کوي، [أُولَئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا]، لفظ د حق دا دلالت کوي چې [غير حق] مومنان نه دي، ځکه الله تعالی فرمايي: [فَمَاذَا بَعْدَ الْحَقِّ إِلَّا الضَّلَالُ [يُونُسَ: 32] ژباړه: نو له حقه وروسته له ګمراهۍ پرته نور څه پاتې شول ؟
نو د حق مقابلې کې ګمراهي رازي، د حق مقابلې کې غير کامل نه رازي، قرآني تعبير کې تاويل کول نامناسب دي، که د الله تعالی مقصود کامل ايمان وای نو دغه تعبير به يې کړی وی، خو بيا هم بعضې علماء وايي دا جمله صفات د کمال ايمان نښه ده، او پدې کې بعضې صفات د نفس ايمان نښه ده.

## [إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ]:

لومړی صفت د مومنانو دا دی چې کله د دوی ترمنځ تنازعاتو کې د الله تعالی د ذات يا هم د هغه د مبارکو فرامينو يادونه وشي نو د هغوی زړونه لړزيږي او د نافرمانۍ له امله د الله تعالی د عقاب څخه يې زړونه ډاريږي.
امام طبري په خپل تفسير کې ددې آيت د لاندې د عبد الله بن عَبَّاس رضي الله عنهما څخه نقل کړي دي، هغه وايي: الْمُنَافِقُونَ لَا يَدْخُلُ قُلُوبَهُمْ شَيْءٌ مِنْ ذِكْرِ اللَّهِ عِنْدَ أَدَاءِ فَرَائِضِهِ، وَلَا يُؤْمِنُونَ بِشَيْءٍ مِنْ آيَاتِ اللَّهِ، وَلَا يَتَوَكَّلُونَ عَلَى اللَّهِ، وَلَا يُصَلُّونَ إِذَا غَابُوا، وَلَا يُؤَدُّونَ زَكَاةَ أَمْوَالِهِمْ. فَأَخْبَرَ اللَّهُ سُبْحَانَهُ أَنَّهُمْ لَيْسُوا بِمُؤْمِنِينَ، ثُمَّ وَصَفَ الْمُؤْمِنِينَ فَقَالَ: {إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ} [الأنفال: 2] فَأَدُّوا فَرَائِضَهُ، {وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ آيَاتُهُ زَادَتْهُمْ إِيمَانًا} [الأنفال: 2] يَقُولُ: تَصْدِيقًا، {وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ} [الأنفال: 2] يَقُولُ: لَا يَرْجُونَ غَيْرَهُ.
ژباړه: د فرضي عباداتو ادا کولو پرمهال د منافقانو په زړونو کې هيڅ شی نه ننوځي، او هغوی د الله په آيتونو باندې هيڅ ايمان نه راوړي، او هغوی په الله باندې ځانونه نه سپاري، کله چې له خلکو لرې شي نو بيا مونځونه هم نه کوي، او د خپلو مالونو زکاتونه هم نه ادا کوي. نو الله تعالی دا خبر ورکړو چې دوی بيخي مومنان نه دي، بيا يې د مومنانو صفت ذکر کړو او ويې فرمايل: يقينا مومنان هغه کسان دي چې کله الله ياد کړی شي نو د دوی زړونه رپيږي، نو د هغه ذات فرائض ادا کوي. او کله چې په دوی باندې د الله آيتونه ولوستلی شي نو ددوی تصديق له امله ايمان زياتيږي. او هغوی په خپل رب باندې توکل کوي، له بل چا څخه اميد نه لري.
امام مُجَاهِد د [وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ] معنا کوي: فَرِقَتْ يعني [فَزِعَتْ وَخَافَتْ] وډار شي. [تفسير الطبري وسنده صحيح] همدا قول سُّدِّي او نورو څخه هم نقل شوی دی.
حافظ ابن کثير وايي همدا د يقيني مومن صفت دی، هغه مومن چې الله ياد کړی شي نو د هغه زړه ولړزيږي. يعني وډار شي، بيا د هغه امرونه پرځای کوي او له زجرونو څخه ځان ژغوري. لکه الله تعالی فرمايي: {وَالَّذِينَ إِذَا فَعَلُوا فَاحِشَةً أَوْ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ ذَكَرُوا اللَّهَ فَاسْتَغْفَرُوا لِذُنُوبِهِمْ وَمَنْ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلا اللَّهُ وَلَمْ يُصِرُّوا عَلَى مَا فَعَلُوا وَهُمْ يَعْلَمُونَ} [آلِ عِمْرَانَ: 135] ژباړه: او کوم کسان چې داسې دي چې کله کومه دشرم نارواچاره ورڅخه صادريږي يا کله د کومې ګناه په کولو هغوی پر خپل ځان ظلم کوي؛ نو ورسره جوخت الله ورياديږی او له هغه څخه هغوی د خپلو ګناهونو ښښنه غواړي؛ ځکه چې له الله نه پرته بل څوک دی چې ګناهونه وبښلی شي؟ او هغوی له پوهې او ادراك سره په خپلو کړنو ټينګار نه کوي. او دا وينا د الله تعالی: {وَأَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوَى فَإِنَّ الْجَنَّةَ هِيَ الْمَأْوَى} [النَّازِعَاتِ: 40، 41] ژباړه: او چاچې د خپل رب په مخ کښې له دريدو نه ويره کړې وه او نفس يې له ناوړو غوښتنو څخه ساتلی و. نو جنت دهغه هستوګنځي دی. ځکه نو امام سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ وايي: ما د سدي څخه واوريدو چې ددې آيت په اړه يې ويل: {إِنَّمَا

الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ} وايي: دا هغه سړی دی چې د ظلم يا ګناه اراده وکړي او ورته وويل شي د الله څخه وډار شه نو زړه يې ولړزيږي. [تفسير ابن کثير وسند الأثر حسن]

علماء ليکي چې د الله تعالی څخه خوف په دوه قسمه دی، يو د عامو خلکو ډار دی چې د الله تعالی د عذاب، عقاب او جهنم څخه ډاريږي، او بل د خاصو مومنانو ډار دی، چې د رب العالمين د ذات د هيبت له امله له هغه څخه خوف کوي، تعظيم يې په زړه کې وي، د هغه نافرمانيو ته نه وړاندې کيږي، دا ځکه چې دې خلکو الله تعالی په کامله معنا باندې پيژندلی وي.

نو حقيقي مومن هغه څوک دی چې کله ورته قال الله او قال الرسول عليه السلام راورسيږي، بس دا بيا مخکې نه ځي، په هماغه ځای ودريږي. لکه عمر رضي الله عنه مشهوره واقعه امام بخاري رحمه الله نقل کړې ده: عبد الله بن عباس رضي الله عنهما وايي چې عُيينه بن حِصن خپل وراره حُرّ بن قيس خواته راغی، دا حُرّ بن قيس هغه خلکو کې و چې عمر رضي الله عنه به ځان ته نژدې کول، د قران کريم قاريان [عالمان] به د عمر رضي الله عنه د مجلس او مشورې خلک وو، برابره ده که عمر به يې پوخ و او که ځوانان به وو. عيينه خپل وراره ته وويل: چې امير صيب سره ستا لوی حيثيت دی، ما ته ترې اجازه وغواړه چې مجلس ورسره وکړم. هغه ورته وويل: سمه ده ستا لپاره به ترې اجازه وغواړم. ابن عباس وايي: حُرّ خپل کاکا عيينه لپآره اجازه وغوښته او عمر رضي الله عنه ورته اجازه وکړه. کله چې عيينه په عمر راداخل شو نو ويې ويل: اې د خطاب زويه، قسم په الله ته نه مونږ ته زيات مال راکوې او نه زمونږ ترمنځ په عدل سره پريکړې کوې. وايي عمر غصه شو تر دې چې د هغه د وهلو اراده يې وکړه. نو حُرّ وويل: اې امير المؤمنينه، الله تعالی خپل نبي عليه السلام ته فرمايلي دي: {خُذِ العَفْوَ وَأْمُرْ بِالعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ الجَاهِلِينَ} [الأعراف: 199]، وَإِنَّ هَذَا مِنَ الجَاهِلِينَ، «وَاللَّهِ مَا جَاوَزَهَا عُمَرُ حِينَ تَلاَهَا عَلَيْهِ، وَكَانَ وَقَّافًا عِنْدَ كِتَابِ اللَّهِ» صحيح البخاري. ژباړه: [د نرمۍ او تېريدنې لاره غوره کړه، د ښو چارو ښوونکی اوسه، او له ناپوهانو څخه مخ واړوه.] او دا د ناپوهانو څخه دی. کله چې هغه آيت ولوستو نو قسم په الله عمر رضي الله عنه د دې څخه تجاوز ونه کړو، او هغه د الله د کتاب پر وړاندې ډير زيات ودريدونکی انسان و.

دا د صحابه کرامو د بريا راز و، چې مشران او کشران ټول يې د الله تعالی او محمد رسول الله عليه السلام د حکمونو پر وړاندې ودريدونکي وو، د هغه پر مقابل به يې حرف هم له خولې څخه نه راويستلو، ځکه ترې فارس او روم امپراطورۍ په لړزان وې. که نن مونږ تاسې همدا صفات پيدا کړو، نو ان شاء الله رب مو هماغه رب دی، د امريکا نه تر روس او چين پورې ټول به زمونږ ستاسې په ولکه کې راولي. او کچيرې زمونږ ټولنه داسې وه چې د دوه مسلمانانو ترمنځ يوې وړې موضوع کې صلح او جوړجاړي په اړه جانبينو ته سل آيتونه هم ولوستل شي هغوی پرې غوږ هم نه رپوي، يا د جهاد په اړه ټول سورت توبه او سورت انفال او نور سورتونه ولوستل شي، د اسلامي نظام قيام او د حدودو، قصاص، وينځو غلامانو نظام، جزيې نظام، اسلامي محکمې فرضيت په اړه سلګونو آيتونه ولوستل شي خو عمل ته څوک تيار نشي نو بيا بايد د شته ذلت څخه د زيات ذلت طمعه وساتو، والله المستعان.

او ددې آيت کريمه څخه د بريليانو او سيفيانو استدلال سم نه دی، چې هغوی خپل رقصونه ددې آيت څخه ثابتوي، وايي الله تعالی فرمايلي دي چې مومنانو په مخکې الله ياد شي نو د دوی زړونه لړزيږي، وايي ګوره د صوفيانو رقص او نڅا ثابته شوه، جواب دا دی چې دلته الله تعالی زړونو لړزيدل ياد کړي دي او تاسې خو اندامونه خوځوئ ؟ لاسونه، خپې، سرونه، خيټې، شاګانې وغيره ښکته پورته اچوئ ؟ الله تعالی زړونه ياد کړي دي که اندامونه ؟ دويم تحقيقي جواب دا دی چې ددې آيت کريمه عملي تفسير نبي عليه السلام او صحابه وو څنګه کړی دی ؟ آيا نبي عليه السلام چيرته په ٢٣ کاله د نبوت دور کې ستاسې په شان رقص کړی دی ؟ آيا صحابه ستاسې په څير نڅيدلي دي ؟ بلکې مونږ تاسې چې وګورو دا نڅا او لاسونه پړقول او چکچکې کول او شپيلي وهل د مشرکانو عبادت و، وروسته به راشي ان شاء الله،[وَمَا كَانَ صَلَاتُهُمْ عِنْدَ الْبَيْتِ إِلَّا مُكَاءً وَتَصْدِيَةً فَذُوقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُونَ (35)] نو دا خو تاسې ته د مکې قريشو څخه ميراث پاتې شوی دی چې هغوی به بيت الله کې دغه اتڼونه کول او تاسې يې دلته جماتونو کې کوئ، نو د چا په لار روان ياست ؟

## [وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ آيَاتُهُ زَادَتْهُمْ إِيمَانًا]:

د مومنانو دويم قلبي صفت دا دی چې کله په دوی باندې د الله تعالی آيتونه ولوستلی شي نو ايمان يې زياتيږي. د الله تعالی کلام د مومن په زړه مستقيما اثر کوي، د انسان زړه او د قرآن ترمنځ هيڅ نوعه پرده يا حائل نشته، د دواړو ترمنځ يوازينی مانع کفر دی، کفر داسې پرده ده چې د انسان زړه له قرآن څخه بندوي، خو کله چې دا توره پرده پورته شي نو بيا قرآن کريم د انسان په زړه کې ځای نيسي او يو نآشنا حلاوت او خوږوالی انسان محسوسوي. او وخت په وخت يې حالت تغير کوي. ايمان يې زياتيږي او اطمينان ترلاسه کوي.

ابن القيم رحمه الله په بدائع الفوائد کې وايي: ايمان په دوه قسمه دی، يو مطلق ايمان دی، چې هغه د زړه تصديق او يقين ته وايي، نو دې کې د زيادت او نقصان په اړه اختلاف شته خو صحيح خبره دا ده چې دې کې هم زيادت او نقصان رازي، او بل مقيد ايمان دی، چې يقين او عمل دواړه مراد وي، نو دې کې خو بالاتفاق زيادت رازي، ځکه څومره چې عملونه زياتيږي، هغومره ايمان هم زياتيږي. خو څوک ترې په زيادت سره تعبير کوي او څوک ترې پوخوالي سره تعبير کوي.

د ايمان د زيادت او نقصان مسئله مونږ مخکې درس کې مختصره بيانه کړې وه، خو دې مقام کې حافظ ابن کثير ډيره خوږه وينا کړې ده، هغه به ترې رانقل کړو: وَقَدِ اسْتَدَلَّ الْبُخَارِيُّ وَغَيْرُهُ مِنَ الْأَئِمَّةِ بِهَذِهِ الْآيَةِ وَأَشْبَاهِهَا، عَلَى زِيَادَةِ الْإِيمَانِ وَتَفَاضُلِهِ فِي الْقُلُوبِ، كَمَا هُوَ مَذْهَبُ جُمْهُورِ الْأُمَّةِ، بَلْ قَدْ حَكَى الْإِجْمَاعَ عَلَى ذَلِكَ غَيْرُ وَاحِدٍ مِنَ الْأَئِمَّةِ، كَالشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ بْنِ حَنْبَلٍ، وَأَبِي عُبَيْدٍ، كَمَا بَيَّنَّا ذَلِكَ مُسْتَقْصًى فِي أَوَّلِ الشَّرْحِ الْبُخَارِيِّ، وَلِلَّهِ الْحَمْدُ وَالْمِنَّةُ. [تفسير ابن کثير]

ژباړه: او امام بخاري او نورو امامانو ددې آيت او د دې په شان نورو آيتونو څخه د ايمان د زيادت او په زړونو کې د هغه غوره والي په اړه دليل نيولی دی، لکه څنګه چې دا د اکثره امت مذهب دی، بلکې ډيرو امامانو لکه امام شافعي، احمد بن حنبل او ابو عبيد په دې باندې اجماع نقل کړې ده. لکه مونږ دا مسئله د بخاري شرحې په لومړيو کې تفصيل سره بيانه کړې ده.

الله دې حافظ ابن کثير ته اجر ورکړي، ډير جامع کلام يې کړی دی.

نو مجاهده وروره! قرآن کريم سره به زما او ستا نه بيليدونکې اړيکې وي، مسلمانه وروره، د قرآن کريم تلاوت سره سره د دې په مفاهيمو، مدلولاتو، رازونو او خيرونوباندې به ځان پوهه کوو، ددې احکامو تنفيذ په خاطر به مبارزه کوو، ددې څخه به سياسي نظام، تعليمي نظام، اجتماعي، ثقافتي او اقتصادي نظامونه زده کوو، ددې قرآن دښمنان به خپل دښمنان ګڼو، او حاميان به يې خپل ورونه ګڼو، د هغوی ځاني، مالي او اعلامي مرسته به کوو. ان شاء الله، ترڅو قرآن کريم سبا د قيامت په ورځ د رب په دربار کې ګيله ونه کړي، چې اې ربه ستا دې بنده زه شاته ګزار کړی وم، نه يې راباندې عمل کاوه، نه يې زما د حاکميت په پار چيرته وينه تويه کړه، نه يې خوله تويه کړه، حتی هغه د قرآن کريم د نظام په پار جنګيدونکو غازيانو ته يې دعا هم نه کوله.

## [وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ]:

دريم قلبي صفت د مومنانو او مجاهدينو دا دی، چې د دوی ټول اعتماد به په خپل رب وي. نو معنا به دا شي: لَا يَرْجُونَ سِوَاهُ، وَلَا يَقْصِدُونَ إِلَّا إِيَّاهُ، وَلَا يَلُوذُونَ إِلَّا بِجَنَابِهِ، وَلَا يَطْلُبُونَ الْحَوَائِجَ إِلَّا مِنْهُ، وَلَا يَرْغَبُونَ إِلَّا إِلَيْهِ، وَيَعْلَمُونَ أَنَّهُ مَا شَاءَ كَانَ، وَمَا لَمْ يَشَأْ لَمْ يَكُنْ، وَأَنَّهُ الْمُتَصَرِّفُ فِي الْمُلْكِ، وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَلَا مُعَقِّبَ لِحُكْمِهِ، وَهُوَ سَرِيعُ الْحِسَابِ؛ وَلِهَذَا قَالَ سَعِيدُ بْنُ جُبَيْرٍ: التَّوَكُّلُ عَلَى اللَّهِ جِمَاعُ الْإِيمَانِ. [ابن کثير]

ژباړه: د الله پرته له بل چا څخه اميد نه لري، د الله پرته بل څوک نه غواړي، په هغه سره پناه نيسي،

يوازې هغه څخه خپل حاجتونه غواړي، هغه ته رغبت کوي، او په دې پوهيږي چې هغه ذات څه وغواړي کيږي، او څه چې ونه غواړي هغه نه کيږي، هغه په پاچاهۍ کې تصرف کونکی دی، يوازې دی، شريک نه لري، څوک د هغه حکم نشي بدلولای، او هغه زر حساب کونکی دی، ځکه سعيد بن جبير فرمايي: په الله ځان سپارل ايمان لره جمع کونکی دی.

مجاهدينو او مسلمانانو ورونو!

توکل په الله تعالی باندې د وحدانيت سالمې عقيدې مظهر دی، توکل د کامل اخلاص انتهاء ده، توکل په الله باندې د پوخ يقين ثمره ده. د انسان په زړه کې د الله تعالی توحيد او په غير الله باندې توکل سره نشي جمع کيدای، معاذ الله کچيرې مونږ تاسې دغه شان مشکل سره مخ شو، چې د الله پرته په بل ذات يا په بل شخص يا په يو سبب مو توکل شروع کړو، نو بايد په خپل ايمان له سره غور وکړو، دې زړه سم ايمان نه دی راوړی.

خو توکل سره اسباب کوم منافات نه لري، توکل به انسان کوي خو اسباب به استعمالوي، ځکه دنيا دار الأسباب ده، مجاهده وروره ټوپک چې چليږي نو کفار به مرداريږي، او اسلام نظام ته به زمينه مساعديږي، اعلامي، اقتصادي او اداري وروره، د قلم او بيان منبر چې آباد وي، اقتصادي سنګر چې فعال وي، اداري نظم چې جوړ وي نو د اسلام سپيڅلی کاروان به پرمخ درومي، پرته له اسبابو مزل ناشونی دی. خو بيا نتيجه مرتب کول د الله تعالی کار دی، اسباب او نتيجې ترمنځ کوم ربط نشته، کوم ذات چې اسباب برابروي هماغه ذات نتيجه پرې هم خپله مرتب کوي، او دغه ته تقدير ويل کيږي، چې نن سبا غربيان او مستشرقين د مفکرينو، ساينس پوهانو او په نورو نومونو د انسانانو ذهن څخه د تقدير تصور ختمولو کوشش شروع کړی دی، د غيبو ايمان باندې يې حملې شروع کړي دي، او خپلې مشاهدې يې د اعتبار وړ ګرزولي دي، ظاهري اسباب معيار بولي، خپل حواس خمسه يې معيار ګرزولي دي، همدې په اساس ايمانيات او عقائد تنظيموي، همدې په اساس سياسي نظامونه ټاکي، سره ددې چې د دوی دا مشاهدې لږه زمانه وروسته خطا ثابتيږي او خپله پرې بيا رد کوي، ځکه د حواسو ادراک فرق کوي، د هر وخت اسباب جدا وي او د کائناتو تحولاتو له امله د ځمکې په طبيعت او موسم کې تغير رازي، نو د څو پيړيو خواري يې په سين لاهو شي، مونږ سره قرآن او حديث داسې ماخذ دی چې هيڅ خطايي نه لري خو چې مونږ تاسې پرې منګولې ولګوو، او عملي يې کړو، د اسلامي نظام د پياوړتيا په پار يې په کار واچوو.

نو اوس به مونږ تاسې يوازې الله تعالی باندې ځان سپارو، که مجاهد دی، دا دې هم ځان وسپاري، رب به دې پالنه، روزنه، تربيه او حفاظت کوي، عالمه وروره ته هم ځان کې توکل پيدا کړه، د زمانې د حوادثو ښکار مه جوړيږه، د درهم او دينار مريض مه جوړيږه، د تورې، ټوپک، زندان، اسارات او شهادت له ډاره دين مه تحريفوه، دين مه تغييروه، غرب پلوه نظامونو ته مشروعيت مه ورکوه، عوامو باندې حق مه ګډوډوه بلکې په هغه وحده لا شريک ذات توکل وکړه چې نوح عليه السلام يې طوفان کې ساتلی و، ابراهيم عليه السلام يې د اوور منځ کې ساتلی و، يونس عليه السلام يې د ماهي په خيټه کې ساتلی و، محمد رسول الله عليه السلام يې په غار کې ساتلی و، نو تا به هم ساتي، ستا بچي به هم ساتي او ستا ناموس، عزت به هم ساتي. باذن الله.

## الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنْفِقُونَ (3)

ژباړه: دا هغه کسان دي چې د مونځ پابندي کوي او د هغه مال څخه چې مونږ ورکړی دی دوی ته، [د الله په لار کې] خرچه کوي.

## تفسير:

## [الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلَاةَ]:

مخکې آيت کريمه کې د مومنانو درې قلبي صفات ذکر شو، اوس څلورم بدني صفت ذکر کوي. د جهاد په مقدسه فريضه کې يا بل اجتماعي عمل کې به مونږ تاسې بريا ته رسيدو په پار شخصي او انفرادي اعمال هم په سالمه توګه ترسره کوو، د فرض مونځونو د ارکانو، واجباتو او شروطو لحاظ به کوو. د نوافلو اهتمام به کوو. د مونځ خشوع او خضوع خيال به ساتو.

او دلته يوازې مونځ ادا کول نه دي مراد، بلکې د مونځ نظام قائمولو په پار مبارزه هم مراد ده، ځکه سورت جهادي سورت دی، چې يو مسلمان مونځ کوي خو خواته يې خلک مونځ نه کوي، د مونځونو څخه يې په زوره ځانونه بند کړي دي، په نصيحت او دعوت ونشو نو اوس به داسې يو نظام لپاره کوشش کوي چې دا خلک هم سم شي، او ټولنه کې مونځ په صحيح ډول ادا شي.

ددې جملې نور وضاحت مخکې درسونو کې تير شوی دی.

## [وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنْفِقُونَ]:

پنځم صفت د مومنانو او خالصو مجاهدينو دا دی چې دوی به د الله په لار کې خپل مالونه مصرفوي. او دغه شان دې کې دا هم داخليږي چې مومنان به خپل استعدادونه د اسلامي نظام په ګټه مصرفوي، خپلې د ګل څخه نازکې او حسينې تنکۍ ځوانۍ به شرعي نظام قيام په هدف نمرودي اورونو کې لوګی کوي، د الله د رضا په پار به د سرونه سودا کوي.

د انفاق ربط د غنيمتونو سره زيات دی، يعنې اې مجاهدينو تاسې خو خپل مال د الله په لاره کې خرچه کوئ نو غنيمتونو له امله خو جنجال درته بيخي ندی پکار.

کله چې دا پنځه صفات مومنانو او مجاهدينو کې راغلل نو بيا به ورته رب داسې بريا ورکړي، لکه د بدر غازيان يې چې پرې ونازول.

## أُولَئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا لَهُمْ دَرَجَاتٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَمَغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ (4)

ژباړه: دغه کسان خاص دوی ريښتني مومنان دي، دوی لپاره ډيرې درجې دي په نزد د رب د دوی، او بښنه ده او عزتمند رزق دی.

تفسير:

مخکې صفات بيان شو، اوس يې نتيجه ذکر کوي، څلور نتيجې يا څلور انعامات د دغه مومنانو او مجاهدينو لپاره بيانيږي. اول: دوی حقيقي مومنان دي. دويم: د الله په نزد دوی لپاره زياتې درجې دي. دريم: دوی لپاره بښنه ده. څلورم: دوی لپاره عزت مند رزق دی.

حافظ ابن کثير وايي: الْمُتَّصِفُونَ بِهَذِهِ الصِّفَاتِ هم المؤمنون حقَ الإيمان. ژباړه: د دې صفاتو خاوندان حقيقي مومنان دي. [تفسير ابن کثير] دا د حقيقي مجاهدينو نښې دي، چې دا اعمال يې نه درلودل هغه کسان سم مجاهدين نه دي، چې د الله پر ځای د امريکا په ولسمشر او روسيا، چين او نورو کفري ملکونو پورې يې زړه تړوو، د هغوی څخه يې قانون اخيستو، د هغوی ملتونو سره يې د ملګرتوب رسميت غوختو نو دغه خلک مومنان نه دي، ددوی مبارزه جهاد نه ده بلکې دوی غليظ مرتدين شميرل کيږي. نعوذ بالله.

## [لَهُمْ دَرَجَاتٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ]:

بحث د جهاد شروع دی، نو کله چې مومن ايمان کامل شي، او د حقيقي ايمان خاوند شي بيا جهاد ته مخه کړي، د کفارو پرضد مبارزه پيل کړي، خپل سر او ځان په الله تعالی باندې خرڅ کړي، او استشهادي او انغماسي کتيبه کې نوم ليکنه وکړي، نو الله تعالی ورته نتيجه بيانوي چې دغه شان مومنانو او مجاهدينو لپاره د الله په نزد زياتې درجې دي.

دا درجې په دنيا کې هم شته او په آخرت کې هم شته، خو لفظ [عند ربهم] څخه معلوميږي چې دا د آخرت خاص درجات مراد دي، والله أعلم لکه نبي عليه السلام فرمايي: إِنَّ فِي الْجَنَّةِ مِائَةَ دَرَجَةٍ أَعَدَّهَا اللَّهُ لِلْمُجَاهِدِينَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ، مَا بَيْنَ الدَّرَجَتَيْنِ كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ. [صحيح البخاري]

ژباړه: په جنت کې سل درجې دي، الله رب العالمين د مجاهدينو لپاره تياري کړي دي، د دوو درجو ترمنځ د ځمکې او آسمان هومره فاصله وي.

او نور زيات شمير فضايل چې احاديثو کې راغلي دي، دا ټول الله تعالی شهيد او غازي مومن ته ورکوي. ان شاء الله.

## [وَمَغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ]:

بل انعام د دغه صفاتو خاوندانو مومنانو لپاره دا دی چې دوی ته الله بښنه کوي. او شهيدانو ته قبر کې هم د عزت روزي ورکوي او کله چې د رب العالمين ميلمستون جنت ته ورشي نو هلته خو بيا د رزقونو او خوراکونو شمير نشته. ځکه دا مجاهدين د الله عزوجل ميلمانه دي. الله دې مونږ تاسې هم پدغه ميلمانو کې شامل کړي. آمين. وآخر دعوانا أن الحمد لله رب العالمين.

# نثر اللؤلؤ والمرجان

## في سلسلة معرفة الرحيم الرحمان

### دیارلسم درس

ألحمد الله وأسبّحه بعلوّه وكماله الذي خلق السموات والأرض على مِنواله ونُوِّرَت بنوره وزُيّنتْ بجماله ثم استوى على العرش لائقا بذاته وجلاله ولا يخفى عليه شيئ من أمور العالم وأفعاله وعليم بجميع أحواله وأعلن الفوز لمن امتثل بإنزاله وإرساله وأصلي وأسلّم على رسوله ونبيه محمد وعلى أهل بيته وأصحابه وآله، أمابعد:

محترمولوستونكو!

مونږ د الله عزوجل د معرفت سلسله شروع كړې وه، تیر درس كې مونږ دالله تبارک وتعالی د قدم اثبات په صحیح اوثابت دلائلو سره ذکر کړ. راځو د الله په توفیق او مرسته د قدم سره د ژور مناسبت په لحاظ سره د الله تبارک وتعالی د إتیان او مجیئة (یعني راتللو) صفت ذکر کوو.

## باب الحاجة المَبِیئة، لقبول عقیدة إتیان الله والنزول والمجیئة

مخکې باب کې مونږ د لوی الله په خاص فضل او توفیق سره د کتاب او سنت څخه د قدمونو اثبات ذکر کړ، اوس دی باب کې غواړو چې د لوی الله په توفیق د قدمونو سره د ژور مناسبت او تعلق لرلو په اعتبار سره د إتیان او مجیئة (د الله متعال د راتللو) مسله ذکر کړو، چې دا هم د الله تبارک وتعالی هغه فعلی اختیاری صفت دی، چې الله تبارک وتعالی ځانته په قران کې او رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه ته په احادیثو کې ثابت کړي دي.

د امت مسلمه اوایلو او اواخرو دغه صفت بغیر له تأویل، تحریف او تعطیل څخه منلی او قبول کړی ده، او همدا هغه صفت دې چې د هغه تعالی کمال او جلال سره مناسب دي، مخکې تاسو ولوستل چې الله تبارک وتعالی قدمونه ځانته او د هغه رسول صلی الله علیه وسلم هغه ته ثابت کړي دي، نو چې کوم ذات قدم ولري او بیا هغه د اتیان او مجیئة د داسې صفت نه محروم وګڼلی شي چې هغه ځانته ثابت کړي وي نو دا خو اقرار شو په اثبات د عجز او نقص د هغه تعالی، نو د کتاب او سنت او اجماع د امت همدا تقاضا ده چې الله تبارک وتعالی دې د خپل ذات شان او جلال سره موافق راتلل وکړي او کتاب او سنت هم د دې صفاتو اثبات کړې، کومو مبتدعینو چې دې صفت د الله تبارک وتعالی کې هم د نورو صفاتو په شان مذموم تأویلونه کړې دي، او غرض یې دا وي چې دا نفې کړي، نو شیخ الاسلام ابن تیمیة رحمه الله د دې متعلق فرمایي: والصواب: أن جميع هذه التأويلات مبتدعة لم يقل أحد من الصحابة شيئا منها ولا أحد من التابعين لهم بإحسان؛ وهي خلاف المعروف المتواتر عن أئمة السنة والحديث. ژباړه: اوحقیقت دا دی چې دغه ټول تأویلونه مبتدع (نوي پیدا د ځان نه جوړ شوی تاویلونه دي) یو صحابی هم په دې کې څه نه دي ویلي او نه کوم کس له هغو څخه چې په نیکیو کې یې د دوی تابعداري کړې ده، او دغه تأویلونه دا د هغه معلوم تواتر نه خلاف ده کوم چې د سنت او حدیثو د امامانو څخه نقل ده. [مجموع الفتاوى ٥/٤٠٩]

## تصریح القرآن، بإثبات مجیئ الرب والإتیان

نو اوس راځو دې فصل کې د دې مذکوره صفاتو اثبات اول د الله د مقدس کتاب څخه ذکر کوو.

اول دلیل: په سورة البقرة ۲۱۰ نمبر ایت کریمه کې الله عزوجل فرمایي: {هَلْ يَنظُرُونَ إِلَّآ أَن يَأْتِيَهُمُ اللَّهُ فِي ظُلَلٍ مِّنَ الْغَمَامِ وَالْمَلَٰٓئِكَةُ وَقُضِيَ الْأَمْرُ ۚ وَإِلَى اللَّهِ تُرْجَعُ الْأُمُورُ} ژباړه: که له دې ټولو نصیحتونو او لاربښودنو څخه وروسته بیا هم خلک سم نه وي، نو ایا اوس هغوی دې ته سترګي په لار دي چې الله د وریځو چترۍ ودروي، د ملائکو له صفونو سره دوی ته مخامخ راشي او پرېکړه وشي؟ په پای کې خو ټولې چارې د همدې الله حضور ته وړاندې کېدونکې دي.

فائدة الآیة: دا ایت هم صراحتا دلالت کوی په إتیان (راتللو) دالله عزّوجلّ کې چې هغه به دغه راتلل د قیامت په ورځ دخلکو ترمنځه د حساب د پاره کوي. علامه ابن جریر الطبری رحمه الله د دې ایت تفسیر کې فرمایي: يعني بذلك جل ثناؤه: هل ينظر المكذبون بمحمد صلى الله عليه وسلم وما جاء به، إلا أن يأتيهم الله في ظلل من الغمام والملائكة؟

ژباړه: د دې قول سره اراده د الله جل ثنائه دا ده چې انتظار نه کوي تکذیب کونکی د محمد صلی الله علیه وسلم او د هغه شریعت چې هغه راوړی، مګر د دې انتظار کوي چې راشي دوی ته الله په سیورو د وریځو کې او ملائکې راشي. [تفسیر بن جریر ۴/۲۶۰]

بیا فی الجمله دا چې دغه إتیان به بغیر له کوم تأویل نه خپله بذاته تعالی کوي، د دې اثبات یې له ډېرو مفسیرینو څخه کړې ده. دغه ډول مشهور مفسر د قران علامه ابن کثیر رحمه الله د دې ایت متعلق فرمایي: يقول تعالى مهددا للكافرين بمحمد صلوات الله وسلامه عليه هل ينظرون إلا أن يأتيهم الله في ظلل من الغمام والملائكة يعني يوم القيامة لفصل القضاء بين الأولين والآخرين، فيجزي كل عامل بعمله إن خيرا فخير، وإن شرا فشر، ولهذا قال تعالى: وقضي الأمر وإلى الله ترجع الأمور كما قال الله تعالى: كلا إذا دكت الأرض دكا دكا. وجاء ربك والملك صفا صفا.

وجيء يومئذ بجهنم يومئذ يتذكر الإنسان وأنى له الذكرى.

ژباړه: فرمایي الله تعالی په داسې حال کې چې تهدید ورکونکی دی کفر کوونکو ته په محمد صلوات الله وسلامه علیه باندې، دا چې دوی انتظار نه کوي مګر د دی چې راشي دوی ته الله په سیورو د وریځو کې او ملائکې راشي، یعنی د قیامت په ورځ د فیصلې د پریکړې لپاره په منځ دأولینو او اخرینو کې، پس بدله به ورکړي هر عمل کوونکي ته د عمل د هغه، نو که عمل یې د خیر وی بدله به یې د خیر وي او که عمل یې د شر وي نو بدله به یې د شر وي، نو ځکه خو الله تبارک وتعالی فرمایي: فیصله به کړای شي امر او عاقبت د کارونو! خو د الله طرف (حضور) ته ګرځېدلی شي، لکه څنګه چې الله تعالی دا فرمایلي: نه هرګز داسې نه ده بلکې کله چې وجړقولی شي ځمکه په جړقولو سره او راشي رب ستا او ملائکې صف صف، او رابه وستلې شي په دغه ورځ جهنم، په دغه ورځ به انسان نصیحت واخلي، لیکن چیرته فایده ورکوي ده ته

دغه وقت نصيحت اخيستل [تفسير ابن كثير ١/ ٤٢٣]

دويم دليل: په سورةالأنعام ١٥٨ نمبر ايت كريمه كې فرمايي: {هَلْ يَنظُرُونَ إِلَّآ أَن تَأْتِيَهُمُ الْمَلَٰٓئِكَةُ أَوْ يَأْتِيَ رَبُّكَ أَوْ يَأْتِيَ بَعْضُ ءَايَٰتِ رَبِّكَ...}

ژباړه: ايا اوس خلک دې ته سترګې په لار دي چې مخې ته يې ملائكې راشي ودريږي؛ يا ستا رب په خپله راشي؛ او يا ستا د رب ځيني ښکاره شي؟ څرګندي نښانې ښکاره شي؟

فائدة الآية: د دې ايت مطلب ډير واضح او روښانه دی چې الله تبارك وتعالی په كې ځانته د إتيان (راتللو) صفت ذكر كړی، بلكې كه دلته څوګ دا تأويل كوي چې دلته د ( يأتی ربک) نه مراد نشاني د وجود د رب دي، نو د دې تأويل مخه وروسته جمله (أَوْ يَأْتِيَ بَعْضُ ءَايَٰتِ رَبِّكَ) كلكه بنده كړه چې صريح دليل شو په دې چې دغه راتلل د الله عزوجل د هغه د ذات او جلال سره موافق راتلل دي، نو د "القول في الصفات كالقول في الذات " د قاعدې موافق به هيڅ تأويل په كې نه شي كيدای، مشهور مفسر امام ابو جعفر ابن جرير الطبری فرمايي: يقول جل ثناؤه: هل ينتظر هؤلاء العادلون بربهم الأوثان والأصنام إلا أن تأتيهم الملائكة"، بالموت فتقبض أرواحهمأو أن يأتيهم ربك، يا محمد، بين خلقه في موقف القيامة أو يأتي بعض آيات ربك يقول: أو أن يأتيهم بعض آيات ربك. وذلك فيما قال أهل التأويل: طلوع الشمس من مغربها

ژباړه:الله جل ثنائه فرمايي: انتظار نكوي دغه خلک كومو چې بوتان او مجسمې د خپل رب سره برابرې كړې، مګر د دې چې راشي دوی ته ملائک د مرګ د پاره چې واخلي ارواح د دوی او يا راشي دوی ته رب ستا ای محمده صلی الله عليه وسلم! د مخلوقاتو تر مخه د قيامت په موقف كې او يا راشي دوی ته بعضې نښې د رب ستا او دا چې وايي راشي دوی ته بعضې نښې د رب ستا نو دا هغه دي چې اهل التفسير ويلي دي چې مراد ترينه د مغرب له طرف نه د لمر راختل دي، بيا ابن جرير رحمه الله دغه معنا او تفسير د دې ايت د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه، امام مجاهد، مفسر قتاده، مفسر سدّی او مفسر بن جريج رحمهم الله د ټولو نه په سندونو سره ذكر كړې.[تفسير الطبری ١٢ /٢٤٥ /٢٤٦]

دريم دليل:

په سورَة الفجر ٢١ او ٢٢ نمبر اياتونو كې الله عزوجل فرمايي: {كَلَّآ إِذَا دُكَّتِ الْأَرْضُ دَكًّا دَكًّا وَجَآءَ رَبُّكَ وَالْمَلَكُ صَفًّا صَفًّا} الاية

ژباړه: هيڅكله نه، كله چې ځمكه په پرله پسې ټكولو سره ميده ميده وګرځولی شي، او راشي رب ستا په داسې حال كې چې ملائكې ليكه په ليكه ولاړې وي.

## فائدة الآية:

عزتمندو مسلمانانو ورونو دلته دا ايت هم واضح دی، په دی كې چې الله تبارک وتعالی ته راتګ ثابتوي، علامه طبري رحمه الله د دې ايت ژباړه كوي او فرمايي: وقوله: وجاء ربك والملك صفا صفا يقول تعالى ذكره: وإذا جاء ربك يا محمد وأملاكه صفوفا صفا بعد صف

ژباړه: وينا د الله چې رابه شي رب ستا او ملائكې صف صف، فرمايي چې لوړ دې ياد د هغه، او چې كله راشي رب ستا ای محمده صلی الله عليه وسلم! او ملائک د هغه صف صف ولاړ وي وروسته د بل صف [تفسير الطبری ٢٤/٤١٧].

مفسر ابن كثير فرمايي: وجاء ربك يعني: لفصل القضاء بين خلقه، وذلك بعد ما يستشفعون.

ژباړه: يعنې راشي د قضاء د فيصلې كولو لپاره د مخلوق ترمنځه او دا وروسته له هغه چې انسانان شفاعت طلب كړي، بيا ابن كثير رحمه الله فرمايي: فيجيء الرب تعالى لفصل القضاء كما يشاء، والملائكة يجيئون بين يديه صفوفا صفوفا.

ژباړه: پس رابه شي رب تعالی د فيصلې كولو د پاره لكه څنګه يې چې خوښه وي، او ملائكې به راځي له هغه نه مخكې ډلې ډلې. [تفسير ابن كثير ٨/٣٩٩ ]

علامه سمعاني فرمايي: وجاء ربك وهو من المتشابه الذي يؤمن به ولا يفسر، وقد أول بعضهم: وجاء أمر ربك، والصحيح ما ذكرنا.

ژباړه: او رابه شي رب ستا او دا د متشابهاتو څخه ده، هغه چې ايمان لرل پرې واجب دي، او تفسير يې نه شي كيداې، بعضو تأويل كړې په دې كې چې د دې ايت چې "وجاء ربک" دې له ده نه مراد دا اخلي چې( او رابه شي امر د رب ستا) خو صحيح خبره هغه ده چې مونږ ذكر كړه. [تفسير سمعاني ٦/٣٢٢]

علامه سعدي د دی ايت متعلق فرمايي:

ويجيء الله تعالى لفصل القضاء بين عباده في ظلل من الغمام، وتجيء الملائكة الكرام، أهل السماوات كلهم، صفا صفا أي: صفا بعد صف، كل سماء يجيء ملائكتها صفا، يحيطون بمن دونهم من الخلق، وهذه الصفوف صفوف خضوع وذل للملك الجبار.

ژباړه: راځي الله تعالی د فيصلې كولو لپاره په مابين د بنده ګانو كې په سيورو د وريځو او عزتمندې ملائكې به راشي د ټولو اسمانونو ډلې ډلې يو صف به د بل صف پسې وي د هر اسمان ملائكې به صف صف راشي، د دوی نه بغير چې څومره مخلوق دی له هغوې نه به يې ګيره اچولې وي، او دا صفونه به جبار بادشاه ذات ته د عاجزۍ او انكساری صفونه وي [تفسير السمعانی ١/٩٢٤].

دا شو عزتمندو د قرآن صراحت په اثبات د راتلو د الله تبارك وتعالي كې چې په دې مو د يو څو مفسرينو اقوال هم پيش كړل، اوس له دی نه بعد غواړو چې دی مسله باندی احاديث ذكر كړو. باذن الله

أقوال الرسول، بإثبات إتيان الرب والمجيئ والنزول

اول حديث: صحيح مسلم كي د ابو هريرة، رضي الله عنه څخه په نمبر ٧٥٨ باندې روايت موجود دې چې هغه فرمايي: رسولُ اللهِ صَلى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلم وفرمايل: إِذَا مَضَى شَطْرُ اللَّيْلِ، أَوْ ثُلُثَاهُ، يَنْزِلُ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا، فَيَقُولُ:هَلْ من سَائِلٍ يُعْطَى؟ هَلْ مِنْ دَاعٍ يُسْتَجَابُ لَهُ؟ هَلْ مِنْ مستغفر يُغْفَرُ لَهُ؟ حَتَّى يَنْفَجِرَ الصُّبْحُ

ژباړه: كله چې نيمه حصه د شپې تيره شي او يا دوه ثلثه، نو راكوزيږي الله تبارک وتعالی اسمان د دنيا ته، پس فرمايي: ايا شته څوک د څه غوښتونكي چې وركړای شي؟ ايا شته څوک دعا كوونكی چې قبوليت يې وكړای شي؟ ايا شته څوک ښښنه غوښتونكې چې ښښنه ورته وكړای شي؟ تر دی دا وايي چې سحر شي.

دويم حديث: امام دارمي رحمه الله په الرد على الجهميه كې په نمبر ١٥٢١ باندې د جبير رضی الله عنه حديث ذكر كوي چې هغه فرمايي: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "يَنْزِلُ اللَّهُ تَعَالَى كُلَّ لَيْلَةٍ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا فَيَقُولُ: هَلْ من سَائِلٍ فَأُعْطِيَهُ؟ هَلْ مِنْ مستغفر فَأَغْفِرَ لَهُ؟

ژباړه: بېشكه رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل الله تبارک وتعالی هره شپه ددنيا اسمان ته راكوزيږی پس فرمايي ايا شته څوک غوښتونكی چې هغه ته وركړه وكړم؟ اياشته څوګ ښښنه غوښتونكی چې هغه ته ښښنه وكړم؟

دريم حديث: د ابو سعيد او ابو هريره رضی الله عنهما نه حديث نقل دی چې هغوی په رسولِالله صَلى اللهُ عَلَيْهِ وسلم باندې ګواهي وركړه، چې أَنَّهُ قَالَ: " إِنَّ اللَّهَ يُمْهِلُ حَتَّى إِذَا ذَهَبَ ثُلُثُ اللَّيْلِ هَبَطَ فَقَالَ: من تَائِبٌ فَيُتَابُ عَلَيْهِ؟ من دَاعٍ فَيُسْتَجَابُ لَهُ؟ مَنْ مستغفر؟ مَنْ مُذْنِبٌ؟ مَنْ سَائِلٌ فَيُعْطَى؟

ژباړه: بېشكه الله وي تر دې چې دريمه حصه د شپې تيره شي، بيا راكوز شي نو پس فرمايي څوک دي توبه ويستونكي چې توبه يې قبوله كړای شي؟ څوک دي دعا غوښتونكي چې دعا يې قبوله كړای شي؟ څوک دي ښښنه غوښتونكي، څوک دي ګناهګار، څوګ دي د څه غوښتونكي چې وركړای شي؟ هغه څه چې غواړي يې؟

## الرد على الجهميه حديث نمبر ١٢٤

څلورم حديث: په التوحيد د امام ابن خزيمه رحمه الله كې په نمبر ٤٣ باندې د عثمان بن ابي العاص رضی الله عنه نه روايت نقل دی، هغه د نبي كريم صلى الله عَلَيْهِ وَسلم څخه نقل كوي چې هغه وفرمايل: يَنْزِلُ اللَّهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى إِلَى سَمَاءِ الدُّنْيَا كُلَّ لَيْلَةٍ، فَيَقُولُ: هَلْ من دَاعٍ فَأَسْتَجِيبَ لَهُ؟ هَلْ مِنْ سَائِلٍ فَأُعْطِيَهُ؟ هَلْ مِنْ مستغفر فَأَغْفِرَ لَهُ؟

ژباړه: راكوزيږی الله تبارک وتعالی اسمان د دنيا ته هره شپه پس فرمايي: ايا شته څوک دعاء غوښتونكی چې زه يې قبوله كړم هغه ته؟ ايا شته څوک غوښتونكی پس چې زه يې وركړم (څه چې غواړي) ايا شته څو ښښنه غوښتونكی پس چې ښښنه وكړم هغه ته؟

پنځم حديث: امام ترمذی رحمه الله په السنن كې په نمبر ٢٣٨٢ د ابو هريره رضی الله عنه څخه طويل حديث نقل كړی، د كوم په بيانولو كې چې خپله ابو هريره رضی الله عنه څلور ځله بې هوشه شوی دی له هغې بعد بيا فرمايي: حَدَّثَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، أَنَّ اللَّهَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ يَنْزِلُ إِلَى الْعِبَادِ لِيَقْضِيَ

بَيْنَهُمْ وَكُلُّ أُمَّةٍ جَاثِيَةٌ فَأَوَّلُ مَنْ يَدْعُو بِهِ رَجُلٌ جَمَعَ الْقُرْآنَ ، وَرَجُلٌ قُتِلَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ، وَرَجُلٌ كَثِيرُ الْمَالِ ، فَيَقُولُ اللَّهُ لِلْقَارِئِ : أَلَمْ أُعَلِّمْكَ مَا أَنْزَلْتُ عَلَى رَسُولِي ؟ قَالَ : بَلَى يَا رَبِّ ، قَالَ : فَمَاذَا عَمِلْتَ فِيمَا عُلِّمْتَ ؟ قَالَ : كُنْتُ أَقُومُ بِهِ آنَاءَ اللَّيْلِ وَآنَاءَ النَّهَارِ ، فَيَقُولُ اللَّهُ لَهُ : كَذَبْتَ ، وَتَقُولُ لَهُ الْمَلَائِكَةُ : كَذَبْتَ ...

ژباړه: ماته رسول الله صلی الله علیه وسلم حدیث بیان کړ چې الله تبارک

و تعالی به کله چې د قیامت ورځ شي راکوز شي بنده ګانو ته د دې د پاره چې فیصله وکړي د دوی ترمنځه نو هر امت به په ځنګونو پر مخه پراته وي نو اول هغه څوګ چې دا به حساب ته راغوښتلی شي هغه دی چې قران یې حفظ کړی وي او بل هغه چې د الله لاره کې قتل شوی او دریم هغه چې ډیر مال الله ورکړی نو قاري ته به الله وفرمایي آیا ما تاته هغه څه نه وو در زده کړي کوم چې ما په خپل رسول نازل کړي وو هغه به ووایي ولې نه ای ربه (نو الله تعالی به) ورته ووایي نو څه عمل دې کړی وو په هغه علم چې کړی دې وو نو دا به ورته ووایي مابه قیام کولو د ورځې او شپې د دې په قراءت کولو الله به ورته وفرمایي دروغ دې وویل، ملائکې به هم ورته ووایي دروغ دې وویل .....الی اخر الحدیث السنن الترمذي

دا دی عزتمندو د الله تبارک وتعالی د دنیا اسمان ته د نزول احادیث بلکه که ټول احادیث راجمع کوو هغه بې حده زیات دي خو دې باره کې چې کوم صحیح احادیث دي د مختلفو صحابه کرامو نه نقل دي چې د الله تبارک وتعالی دإتیان او مجیئة اعتقاد او مسأله ثابتوي د دې متعلق علامه عبدالغني المقدسي په الإقتصاد في الإعتقاد ص ۱۰٦ کې فرمایي وروی حدیث النزول علي بن أبي طالب و عبد الله ابن مسعود وجبیر بن مطعم و جابر بن عبد الله و أبو سعید الخدري و عمرو بن عبسه و أبو الدرداء و عثمان بن أبي العاص و معاذ بن جبل و أم سلمة زوج رسول الله وخلق سواهم.

و نحن مؤمنون بذلك مصدقون، من غیر أن نصف له کیفیة،

(ژباړه) او د نزول حدیث روایت شوی د علي بن أبي طالب د عبد الله ابن مسعود او د جبیر بن مطعم د جابر بن عبد الله د أبو سعید الخدري د عمرو بن عبسه او د أبو الدرداء او د عثمان بن أبي العاص او د معاذ بن جبل او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د بي بي ام سلمې رضي الله عنها څخه او د نورو خلقونه هم بغیر له دوی نه نقل دي او مونږ ایمان لرونکي یو او تصدیق کونکي یو د دې بغیر له دې چې مونږ د دې کیفیة بیان کړو،

دغه ډول د دې احادیثو متعلق امام بیهقي رحمه الله د امام الْمُزَنِيَّ رحمه الله نه د سمعت په صیغې سره سندا نقل کړی چې هغه وفرمایل حَدِيثُ النُّزُولِ قَدْ ثَبَتَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ وُجُوهٍ صَحِيحَةٍ» وَوَرَدَ فِي التَّنْزِيلِ مَا يُصَدِّقُهُ وَهُوَ قَوْلُهُ تَعَالَى: {وَجَاءَ رَبُّكَ وَالْمَلَكُ صَفًّا صَفًّا}

(ژباړه) د نزول حدیث له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه یقیني په ډیرو صحیح طُرُقو ثابت دی او په قران کې هم هغه څه نقل دي چې د دې تصدیق کوي او هغه د الله دا وینا ده چې (او رابه شي رب ستا او ملائکې ډلې ډلې) [السنن الکبری ۳ / ۴ ]

## ذكر الآثار
## في مجيئة الله و نزول الغفار

مخکې فصل کې مونږ په توفیق د لوی متعال ذات د نزول إتیان او مجیئة متعلق مرفوع روایات ذکر کړل اوس دې فصل کې دې متعلق د یو څو صحابه کرامو أقوال هم پیش کوو اګر چې دې باب کې موقوفات هم په منزله او حکم د مرفوعاتو کې وای.

(۱ أثر)امام ابوبکر خلاّل په السنة کې په ۳۰۸ نمبر باندې د عَبْدِ اللهِ بْنِ سَلَامٍ رضي الله عنه قول نقل کوي چې هغه وفرمایل إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ ینزل الجبار عَنْ عَرْشِهِ وَقَدَمَيْهِ عَلَى الْكُرْسِيِّ، وَيُؤْتَى بِنَبِيِّكُمْ عَلَيْهِ السَّلَامُ، فَيُقْعِدُهُ بَيْنَ يَدَيْهِ عَلَى الْكُرْسِيِّ» ، فَقُلْتُ: يَا أَبَا مَسْعُودٍ، عَلَى الْكُرْسِيِّ إِذَا كَانَ عَلَى الْكُرْسِيِّ فَهُوَ مَعَهُ؟ قَالَ: نَعَمْ، وَيْلَكُمْ، هَذَا أَقَرُّ حَدِيثٍ فِي الدُّنْيَا لِعَيْنَيَّ (ژباړه) چې کله د قیامت ورځ شي نو جبار ذات له عرش نه راکوز شي او قدمونه یې په کرسۍ وي او ستاسو نبي علیه السلام به راوستلی شي نو ځانته به یې مخامخ په کرسۍ کېنوي (راوي فرمایي) ما ورته وویل په کرسۍ نو چې کله هغه به کرسۍ وي دا به هم کېنوي نو دا به هم ورسره وي؟ نو هغه وفرمایل چې او هلاک شې دا په دنیا کې زما سترګو لره ډېر یخونکی حدیث دی!!

(۲أثر) امام ابوبکر الخلال رحمه الله په السنه کې په نمبر ۳۰۹ باندې هم په سند سره د عَبْدِ اللهِ بْنِ سَلَامٍ رضی الله عنه قول نقل کړی چې هغه وفرمایل: إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ ینزل الجبار عَنْ عَرْشِهِ وَقَدَمَيْهِ عَلَى الْكُرْسِيِّ، فَيُقْعِدُ مُحَمَّدًا عَلَى الْكُرْسِيِّ» ، قَالَ: فَقُلْتُ لِلْجُرَيْرِيِّ: يَا أَبَا مَسْعُودٍ، يُقْعِدُهُ عَلَى الْكُرْسِيِّ، قَالَ: نَعَمْ، يُقْعِدُهُ مَعَهُ عَلَى الْعَرْشِ(ژباړه) چې کله د قیامت ورځ شي نو جبار ذات به له عرش نه راکوز شي او قدمونه یې په کرسۍ وي نو محمد (صلی الله علیه وسلم) به ځان سره په کرسۍ کېنوي (راوي فرمایي) ما جریري ته وویل ای ابو مسعوده په کرسۍ به یې له ځان سره کېنوي هغه وویل او هغه به ځان سره په عرش کېنوي.[السنة لابي بکر الخلال ۱/۲۵۷]

(۳ أثر) امام دارمي رحمه الله په الرد علی الجهمیة کې په نمبر ۱۴۱باندې په سند سره د أَنَسِ بْنِ مَالِكٍرَضِيَ الله عَنْه څخه نقل کړی چې بې شکه هغه دا ایت تلاوت که چې {يَوْمَ تُبَدَّلُ الْأَرْضُ غَيْرَ الْأَرْضِ} او بیا یې وفرمایل يُبَدِّلُهَا اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِأَرْضٍ مِنْ فِضَّةٍ - لَمْ يُعْمَلْ عَلَيْهَا الْخَطَايَا، ینزل عَلَيْهَا الجبار تَبَارَكَ وَتَعَالَى (ژباړه) الله به دغه ځمکه بدله کړي د قیامت په ورځ د سپینو زرو په ځمکه چې نه وي کړی شوې په هغې باندې ګناهونه راکوزیږي به جبار ذات تبارک وتعالی په هغې باندې [الرد علي الجهمیة۱/۸۷]

(۴أثر) د ابو هریرة څخه روایت دی فرمایي چې ”یحشر الناس حفاة، عراة، مشاة، قیاما، أربعین سنة، شاخصة أبصارهم إلی السماء ینظرون فصل القضاء، وقد ألجمهم العرق من شدة الکرب، وینزل الله في ظلل من الغمام من العرش إلی الکرسي (ژباړه) حشر به کړی شي خلق ښځې ابله بربنډ پیاده ولاړ څلوېښت کاله سترګې به یې پورته اسمان ته نیونکي وي انتظار به کوي د فیصلې د حساب او حال دا چې سختې پریشاني به خولې د دوی تر خولو رارسولی وي او راکوز به شي الله په سورو د وریځو کې د عرش نه کرسۍ (خپلې) ته [العرش للذهبي رقم الاثر ۱۱۰ ج ۲ ص ۱۷۰]

(۵ أثر) ابن عباس رضي الله عنهما فرمایي أما قوله {أم السماء بناها} فإنه خلق الأرض قبل السماء ثم استوی إلی السماء فسواهن سبع سموات ثم نزل إلی الأرض فدحاها“ [اجتماع الجیوش الاسلامیة ۲/ ۲۵۰]

(ژباړه) بهر حال کوم چې دا قول د الله دی چې (او که نه اسمان چې جوړ کړی یې دی) نو پس بې شکه هغه ځمکه اول د اسمان نه مخکې پیدا کړه بیا یې اراده وکړه اسمان ته، نو اوه ۷ اسمانونه یې جوړ کړل بیا راکوز شو ځمکې ته پس هغه یې وغوړوله دا قول امام بخاري په خپل صحیح کې هم نقل کړی امام ابن قیم رحمه الله د دې روایت متعلق فرمایي وهذه الزیادة وهي قوله: (ثم نزل إلی الأرض) لیست عند البخاري وهي صحیحة اودغه زیادة چې هغه د (ثم نزل الی الارض) جمله ده دا د بخاري د روایت څخه نه ده خو دا صحیح جمله ده [اجتماع الجیوش الاسلامیة ۲/ ۲۵۰].

دا شو عزتمندو یو څو هغه اثار او موقوفات د صحابه وو رضوان الله علیهم اجمعین چې د مرفوع حکم لري چې له دې نه هم لکه د نیمې ورځې دا ثابتیږي چې نزول اتیان مجیئة دا ټول د الله تبارک وتعالی فعلي صفات دي چې د هغه د مشیئة سره متعلق دی هیڅ مخلوق په مخلوقاتو کې دا حق نه لري چې هغه د دې کیفیة بیان کړی وي او یا هم له دې نه انکار وکړي لکه د جهمیه او معتزله وو چې هغوی دغه د کمال نه ډک صفات د ذهني خرابوالي او فاسدوالي له وجې نه رد کړي دي ایا دوی ولې دا فکر نه کوي چې نبي صلی الله علیه وسلم د ټول مخلوق نه په الله ډېر علم لرونکی د هغه نه ډېر ویریدونکې د هغه ډېر وقار لرونکی شخصیت دی دا هم کله داسې لفظ کلمه او جمله باندې تلفظ کوي او یا کولی شي چې هغې کې والعیاذبالله د الله توهین او یا هم د مخلوق سره د هغه تشبیه واقع کېږي ایا کوم صحابي او یا هم د اهل السنة و الجماعة کوم معتبر امام دې کې تأویل کړی دی؟

او یا یې دا نصوص د خپل ظاهر نه اړولي دي ؟

# الفلاح والرشاد في مسائل الجهاد

## دیارلسم درس: صحیح البخاري کتاب الجهاد

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على رسوله الأمين وعلى أزواجه وأصحابه ومن تبعهم في إحسان إلى يوم الدين أما بعد: محترمو مسلمانانو ورونو او خویندو مونږ مخکې درس کې د لوی الله عزوجل به توفیق سره د الفلاح والرشاد په سلسله واره درسونو څخه په تیر شوي درس کې د لوی الله عزوجل په توفیق د۳۳ نمبر حدیث شرح او وضاحت ذکر شو اوس دې درس کې د۳۴ حدیث شرح او وضاحت شروع کوو:

۲۳ - باب من طلب الولد للجهاد باب ثابت دے په دې باره کې چې څوګ د بچي طلب د جهاد د پاره وکړي.

### حصول الأجروالثواب بتشريح الكلمات مافي ترجمة الباب

دلته هم د باب نه مخکې دا عبارت مقدر دے چې هغه (هذا) اسم اشاره ده (یعني هذا باب) او بیا له (من) اسم موصول نه مخکې دا کلمه مقدره ده چې (في) چې تردې ځایه د عبارت خلاصه داسې ده "هذا باب في من طلب الولد للجهاد علامه عیني رحمه الله د دې ژباړه الباب مقصد داسې بیانوي فرمایي: "هذا باب في بيان من نوى عند المجامعة مع أهله حصول الولد ليجاهد في سبيل الله فيحصل له بذلك أجر لأجل نيته وإن لم يحصل له ولد(ژباړه) دا باب دی په بیان د هغه چا کې چې هغه د جماع په وقت کې د خپل اهل سره دانیت وکړي چې نارینه بچی ترې پیداشي د دې د پاره چې هغه د الله په لار کې جهاد وکړي نو دې کس ته په دې نیت هم اجر ورکول کیږي اګر که بچی یې پیدا هم نه شي [عمدة القاري ۱۱۵/۱۴]

### مطر الرحمة والسحاب بذكر مناسبة ترجمة الباب مع الكتاب

دا باب د کتاب الجهاد دابوابو د شمیر او عدد په اعتبار سره درویشتم ۲۳ نمبر باب دی امام بخاري رحمه الله په دې کې صرف یو حدیث د ابو هریره رضے الله عنه څخه ذکر کوي بیا مناسبت د ترجمة الباب د کتاب الجهاد سره لفظي او معنوي دواړو طریقو سره موافق دی هغه په دې ډول چې کتاب الجهاد کې د جهاد او د هغې د فضیلت متعلق د احادیثو التزام شوی او په ترجمة الباب کې هم دا مقصود بیان شوے دی والله اعلم

(حدیث ۳۴) (رقم الحديث ۲۸۱۶-)

عن عبد الرحمن بن هرمز قال: سمعت أبا هريرة -رضي الله عنه- عن رسول الله -صلى الله عليه وسلم- قال: «قال سليمان بن داود - عليهما السلام لأطوفن الليلة على مائة امرأة -أو تسع وتسعين- كلهن يأتي بفارس يجاهد في سبيل الله. فقال له صاحبه: قل إن شاء الله فلم يقل إن شاء الله، فلم تحمل منهن إلا امرأة واحدة جاءت بشق رجل. والذي نفس محمد بيده لو قال إن شاء الله لجاهدوا في سبيل الله فرسانا أجمعون,

(ژباړه) عبدالرحمن بن هرمز رحمه الله فرمایي ما د ابوهریره رضے الله عنه څخه واوریدل چې هغه د رسول الله صلے الله علیه وسلم نه نقل کولو چې (رسول الله صلے الله علیه وسلم) و فرمایل (چې) سلیمان بن داود علیه السلام وفرمایل زه به نن شپه د خپلو سل ۱۰۰ او یایې داسې وویل د نهه نوي ۹۹ بیبیانو سره جماع کوم او هره یوه به له دوی څخه یو شاه سوار زیږوي چې د الله په لار کې به جهاد کوي نو هغه ته د هغه ملګري وویل چې ان شاء الله ووایه پس هغه ان شاء الله ونه ویلي پس نو حمل وانه غسته( له ده نه) په هغو ښځو کې مګر یوي ښځې او (هغې هم په داسې بچي ) راتلل وکړه چې د انسان یو ټوته وه (فقط) قسم په هغه ذات چې د محمد نفس یې په لاس (اختیار) کې دی که چرته هغه ان شاء الله ویلے وای نو (هغو ټولو ښځو به زامن راوړي وای چې) د الله په لار کې به ټولو په اسونو سواره جهادونه کړي وای

### التفكر والمراقبة في ذكر التطبيق والمناسبة

دا حدیث امام بخاري رحمه الله د امام اللیث رحمه الله نه دلته معلق ذکر کړی خو په نورو شپږو مقاماتو کې یې په هم دي صحیح کې مسند او متصل هم د مختلفو استاذانو نه ذکر کړی لکه خالد بن مخلد محمود ابو الیمان علے بن عبدالله معلے بن أسد رحمهم الله اجمعین نه بیا مناسبت دحدیث دترجمة الباب سره لفظا موافق دی ځکه ترجمه چے دځه دپاره وضع شوے نو حدیث دهمدې مفهوم داثبات دپاره ذکر شوے والله اعلم.

## إغاثة المغيث في ذكر شرح الحديث

(قال سليمان بن داود عليهما السلام) دا څوى او پلار دواړه جليل القدر پيغمبران وو الله تبارك و تعالى په قران كې د دوى تذكره كړي ده.

(لأطوفن الليلة) په بعضې رواياتو كې (لأطيفن) ذكر دى علامه عيني د مبرد په حوالي سره نقل كړى چې كلاهما صحيح دا دواړه الفاظ صحيح دي بيا دا طواف كول دا كنايه ده د جماع كولو نه د خپلې بي بي سره او لام په دې كې دا د قسم د پاره دى څكه دا لام د قسم په جواب باندې داخليږي او ډېر څلې عرب له داسې مقاماتو څخه مقسم به حذف كوي قاله العينى(على مائة امرأة أو تسع وتسعين) چې دا شك له راوي نه واقع شوى دغه ډول په يو روايت كې شپيته ٦٠ اوپه يوروايت كې اويا ٧٠ او يو روايت كې پوره سل ١٠٠بغير له شك نه او يو روايت كې نهه نوي ٩٩ بغير له شك نه ذكر دي حافظ بن حجر رحمه الله د نووي رحمه الله په حوالي سره فرمايي بأن مفهوم العدد ليس بحجة عند الجمهور فذكر القليل لا ينفي



ذكرالكثير فتح الباري ١١/٦٠٦ دغه ډول قسطلاني رحمه الله هم فرمايي وليس في ذكر القليل ما ينفي الكثير هدي الساري ٥/٥٣ نو د دې مقصد دا شو چې د رواياتو د عدد متعلق دغه اختلاف داسې دى چې دا ضرر نه رسوي فهم ته په حديث كې نو د عبارت معنى دا شوه چې والله لأجامعن الليلة مائة اوتسعا وتسعين او ما ذكر في الروايات يعني قسم په الله چې زه به د سلو ١٠٠ او يا د نهه نوي ٩٩ بيبيانو سره جماع كوم (كلهن يأتي) دغه ضمير دى ښڅو ته راجع دے دابوذر په نسخه كې تأتي ذكر دے په تاويل د جماعةٌ سره چې دا تولې به راوړي (بفارس) شاسوار دا هغه چاته وايي چې جنگ كې په اس باندې سور وي او په دې كې مهارت لري ( يجاهد في سبيل الله) دا جمله صفة دى د(فارس) نو سليمان عليه السلام چې دا خبره وكړه (فقال له صاحبه) نو هغه ته خپل ملگري وويل چې دده متعلق دا دي چې دا ملائك وو چې (قل إن شاء الله) څكه هغه نه هيره وه (فلم يقل) عليه السلام يعنې په ژبه يې ونه ويل چې (إن شاء الله). خو له دې نه دانه ثابتيږي چې هغه دي په زړه كې دغه معامله الله ته نه وي سپارلې او په خپل ځان دې اعتماد كړى وي څكه انبياء له داسې اعتقاد نه بري او بې زاره دي (فلم يحمل) او دابوذر والا نسخه كې دي چې ( فلم تحمل) حمل وانه غسته (منهن) د دې ښڅو څخه (إلا امرأة واحدة) مگر يوې ښځې (جاءت بشق رجل) چې هغې هم يوه حصه د انسان وزيږوله يعني روغ نه وو بلكه ناتمام يې وزيږاوه او دا په يورويات كې راځي چې نيم وو نو له دې نه بعد نبي صلے الله عليه وسلم وفرمايل (والذي نفس محمد بيده لو قال إن شاء الله لجاهدوا في سبيل الله) يعني كه ده ان شاء الله ويلي واى نو دي تولو بيبيانو به ترينه حمل اغستى واى او تولو به هلكان راوړي او دالله عز وجل په لار كې به جنگيدلي واى (فرسانا) دا جمع د فارس ده د دي نصب د حال به وجه دي يعني په داسې حال كې چې دوى به په اسونو سواره جنگيدلي وي (أجمعون) دا تاكيد معنوي دے د هغه (هم) ضمير نه چې په جاهدوا كې دے نو د هغې په وجه دا هم مرفوع دے .

[فوائدالحديث]

[١] انبياوو ته الله تبارك وتعالى له ځلورو نه دزياتو بيبيانو اجازه او جواز وركړى دے

[٢] دغه جواز انبياو پوري خاص دى بل هيڅ امتي ته په دي باندې عمل جائز او حلال نه دى

[٣] الله تبارك وتعالى انبياوو ته طاقت وركړى دى

[٤] په انبياوو هم نسيان رازي او دا دليل دى چې هغوى د بشر له جملې څخه دي

[٥] په جماع كولو كې د صالح اولاد نيت كول د انبياوو سنت دى

[٦] جهاد غوره او افضل عمل دى

[٧] مجاهدين د عامو مسلمانانو نه افضل دي

[٨] په جهاد كې شاه سواري افضل عمل دى

[٩] ان شاء الله لوستل د انسان د حاجت د پوره كولو شكلى سبب دى

[١٠] كه يو ملگرى نه د دين متعلق څه خبره هيره شي نو وريادولې يې شي او دا د نيك او صالح ملگري صفت وي

[١١] بچي وركول دا د الله صفت او اختيار دى هيڅ نبي ولي او بزرگ دغه واك او اختيار نه لري

[١٢] بغير له دې نه چې له تانه د قسم مطالبه وشي نو بيا هم قسم كول جايز دي انسان پري نه گناهگاريږي البته عادت جوړول نه وي پكار چې په هره وړه لويه خبره باندې قسمونه خوري

[١٣] دليل دے چې رسول الله صلے الله عليه وسلم په حقه رسول او نبي دى د مخكې انبياوو نه الله خبر وركړى دى څكه د نبي صلے الله عليه وسلم ليك لوستل نه وو زده چې د مخكنو كتابونه يې لوستى واى او بيا يې له هغې نه خبر وركړى واى او نه ترنته يهودو او نصاراو چې دوى د كتابونو والا وو د دوه خلاف داسې څه ثابت كړي چې هغه دروغ وي او نه بل چا داسې ريښتونى خبر وركړى لكه دده په شان چې دا دليل دى چې دا په حقه او ريښتونى پيغمبر دى صلى الله عليه وسلم

٢٤ - باب الشجاعة في الحرب والجبن

باب ثابت دى په (باره د مدح كولو) دشجاعت (بهادري) كولو په جنگ كې او په (بيان دمذمة د بزدلي كې

## (حصول الأجروالثواب ) (بتشريح الكلمات مافي ترجمة الباب)

دلته هم د بابٌ نه مخكې د(هذا) كلمه مقدره ده يعني هذا باب دلته به (باب) منون وايي د(الشجاعة) نه مخكې دا عبارت مقدر دى (في بيان مدح ) نو عبارت به تول داسې وي (هذا باب في بيان مدح الشجاعة في الحرب) دا عبارت بيا معطوف عليه دى ( و) دغه واو بيا عاطفه دى(الجبن) به نون مخفف سره بزدلي او يَري ته وايي دي متعلق به عبارت دا وي ....وفي بيان ذم الجبن نو دغه تولة ترجمة اللباب به داسې لوستى شي " هذا باب في بيان مدح الشجاعة في الحرب وفي بيان ذم الجبن"

## مطر الرحمة والسحاب بذكر مناسبة ترجمة الباب مع الكتاب

دا باب د كتاب الجهاد د ابوابو د عدد او شمير په اعتبار سره څلورويشتم ٢٤ نمبر باب دے امام بخاري رحمه الله په دې كې دوه ٢حديثه ذكر كوي چې يو د أنس او بل د جبير بن مطعم رضي الله عنهما نه نقل دے بيا مناسبة د ترجمة الباب د كتاب الجهاد سره لفظي موافقت لري څكه په جنگ كې د شجاعت مدح او د بزدلي او يري مذمت دا دليل دى ترغيب وركولو ته به جهاد سره والله اعلم

( حديث ٣٥) (رقم الحديث ٢٨١٧)

- عن أنس رضي الله عنه قال: "كان النبي -صلى الله عليه وسلم- أحسن الناس وأشجع الناس وأجود الناس. ولقد فزع أهل المدينة، فكان النبي -صلى الله عليه وسلم- سبقهم على فرس، وقال: وجدناه بحرا".

(ژباړه) د انس رضي الله عنه څخه روايت دى چې هغه وفرمايل چې وو نبي صلى الله عليه وسلم په تولو خلقو كې ډير خايسته او ډير زړه ور (بهادر) او ډير د سخا والا او يقيناً يوه ورځ د مديني والا (له يو طرف نه) ويَريدل نو نبي صلے الله عليه وسلم وو چې

له ټولو نه مخكې په اس باندې (سور هغه طرف ته وراغی) او بیا (چې واپس كله راغی نو داس متعلق ) یې وفرمایل مونږ خو دا د بحر غوندې مونده

## التفكر والمراقبة
## فی ذكرالتطبيق والمناسبة

دي حديث كې د امام بخاري رحمه الله استاذ او شيخ هغه احمد بن عبدالملک بن واقد الحراني دی چې د"ثقة" په صفت سره موصوف دی چې له ده نه دا حديث په سند سره له انس بن مالک رضي الله عنه څخه نقل كوي بیا مناسبة د حديث د ترجمة الباب سره په معنوي طريقې سره دی په ډول چې په ترجمة الباب كې په جنګ كې د بهادري او زړه ورتیا مدح ذكر شوي او په حديث كې دغه صفت په رسول الله صلی الله عليه وسلم كې ثابت شوی چې هغه هاغه ځای ته تنها ورغلی چې د ټولې مديني والاوو له هغې ځای نه خوف او ویره محسوس كړې وه او دا د بې حده مدح لائق عمل دی

## إغاثة المغيث في ذكر شرح الحديث

(كان النبي صلى الله عليه وسلم) دلته كان داستمرار د پاره دی څكه دا صفت په نبي صلی الله عليه وسلم كې تر وفاته پوري موجود وو لهذا قابل در مدح او اتباع دی ( أحسن الناس) دا صفت پكې څكه وو چې الله تعالی انبياوو ته د باطن پشان ظاهر هم شكلی او د هر عيب نه پاک او پاكيزه ورنصيب كوي نو لهذا الله تبارک وتعالی ورته د هر قسم خایست څخه وركړه كړې ده (وأشجع الناس) يعني په ټولو انسانانو كې زيات او د كامل جرأت او شجاعت خاوند هغه رسول الله صلى الله عليه وسلم وو(وأجود الناس) اوسره له مخكنې صفاتو په كې الله تبارک وتعالی د سخا هم كامل صفت ايښی وو نو وركړه او عطا به يې په داسې اندازه وه چې د فقر نه به يې هيڅ خوف او ويره نه كوله (ولقد فزع) په زير دزاء سره ويريدلو ته وايي يعني (أهل المدينة) او دغه د مديني والا چې ويريدل نو دا واقعه د شپې واقع شوې وه څكه د صحيح مسلم په روايت كې راغلي چې نمبر د حديث ۴۲۷۳ دی هغې كې الفاظ داسې دي ...... وَلَقَدْ فَزِعَ أَهْلُ الْمَدِينَةِ ذَاتَ لَيْلَةٍ ، فَانْطَلَقَ نَاسٌ قِبَلَ الصَّوْتِ ، فَتَلَقَّاهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَاجِعًا ، وَقَدْ سَبَقَهُمْ إِلَى الصَّوْتِ .. (ژباړه) د مديني والا يوه شپه ويريدل نو پس خلق ټول د هغه اواز طرف ورروان شول نو دوی په مخه كې ( دهغه اواز له طرف نه) د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره مخامخ شول چې له هغې طرف نه هغه راواپس كيدونكی وو چې له هغوی نه مخكې دغه اواز پسې ورغلی وو انتهی (على فرس) چې دغه اسپ يې د ابو طلحه نه استعارة اغستی وو يعني چې واپس به يې وركوي او دي اس ته به مندوب ويل كيده يعني بطيء المشي سست رفتاري (وقال): نو نبي صلى الله عليه وفرمايل چې كله راواپس شو (وجدناه) يعني دا اس خو مونږه لكه د بحر (سمندر) داسې بيامومه

علامه قسطلاني رحمه الله دي متعلق فرمايي وفيه استعمال المجاز حيث شبه الفرس بالبحر لأن الجري منه لا ينقطع كما لا ينقطع ماء البحر او په دي حديث كې جايزوالی د مجاز ذكر شوی په دي طريقې سره چې اس يې د بحر سره مشابه كړی يعني د دي اس رفتار نه قطع كېږي لكه څنګه چې د بحر د اوبو او چپو رفتار نه قطع كېږي

## فصل البراعة في ذكر فائدة
## التوفيق بين الحسن والجود
## والشجاعة

دلته درسول الله صلى الله عليه وسلم ته د ديعې دري ۳ صفاتو په جمع والي كې فائدة او حكمت كوم چې كمال مدح د رسول الله صلى الله عليه وسلم دلالت كوي دا دی چې عموما څوګ چې د شكل او صورت په لحاظ سره ظاهري خايست حسن او شكلا باندې موصوف وي نو هغه غالبا تكبر او غرور لري او د مال او متاع او سهولتونو شوق مند وي نو د بخل شكار وي او غريبانو او فقراو ته وركړه نه كوي او چې داسې وي نو بيا هغه كې بزدلي ويره او خوف هم زيات وي له دي وجهې نه چې هغه نه غواړي د ده ظاهري حسن مجروح شي او يا ترينه مال پاتې او ضايع شي نو د مرګ زخم درد او د يرې او زحمت مواضعو ته غالبا نزدې هم نه ورځي خو د دي برعكس رسول الله صلى الله عليه وسلم د دي يو هم پروا نه كوي او د خوف او خطر مواقعو ته ځان ورپيش كوي چې دا دليل دی په كمال توكل على الله او دغه ډول په شجاعت او زړورتيا د رسول الله صلى الله عليه وسلم نو لهذا امت ته هم په دي فعلي صفت د پيغمبر كې د نور اوصافو په څير تابعداري او اتباع پكار ده نو امام بخاري رحمه الله له دي كبله دا حديث په كتاب الجهاد كې ذكر كړی چې جهاد كې په نسبت د نورو امورو شجاعت او

١: حديث دليل دی په كمال شجاعت د رسول الله صلى الله عليه وسلم.

٢: امير به د رعيت نه د خطراتو او ضرورونو د مخنيوي كوشش كوونكی وي.

٣: امير به رعيت ته داړ او اطمنان وركوي. څكه د دي حديث په نورو الفاظو كې دا هم دي چې كله رسول الله صلى الله عليه وسلم واپس راغی نو هغوو ته يې وفرمايل: لم تراعوا(يعني مه يريږئ) څكه عرب داسې مواضعو كې( لم) د (لا) پر ځاي استعمالوي كما في هدى السارى ٩٨/٥.

٤: امير به له رعيت نه د خطر موقع ته مخكې كيږي كه ضرورت وي.

٥: رسول الله صلى الله عليه وسلم شاه سوار و.

٦: د اسونو سورلی د رسول الله صلى الله عليه وسلم سنت دی.

٧: د يو شي صفت كې تشبيه د بل څيز سره وركولی شي، كه اوصاف يې په بعضی برخو كې سمون خوري. والله اعلم.

## حديث (٣٦) (رقم الحديث ٢٨١٨)

أن محمد بن جبير قال: أخبرني جبير بن مطعم أنه بينما هو يسير مع رسول الله صلى الله عليه وسلم ومعه الناس مقفله من حنين فعلقه الناس يسألونه حتى اضطروه إلى سمرة فخطفت رداءه فوقف النبي صلى الله عليه وسلمفقال: أعطوني ردائي، لو كان لي عدد هذه العضاه نعما لقسمته بينكم، ثم لا تجدوني بخيلا ولا كذوبا ولا جبانا.

ژباړه: د جبير بن مطعم رضي الله عنه نه روايت دی چې فرمايي: دی په يو وقت د اوقاتو كې د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره روان وو، او د هغه سره نور خلک هم وو چې نبي صلى الله عليه وسلم د حنين له غزا څخه واپس كيدونكی و، چې خلک ورپسې ونختل چې سوالونه (مطالبې) يې ترينه كولې. تر دې چې هغوی د يوه كيكر د ونې طرف تاو كړ نو د هغه څادر يې ترينه كش كړو نو نبي صلى الله عليه وسلم ودريدو او ويې فرمايل: ما ته زما څادر راكړئ او كه چيرته ما سره د دې كيكر د ونو په مقدار نعمتونه (مالونه) وي نو ما به ستاسو ترمنځه تقسيم كړی وای، او بيا به تاسو زه بخيل دروغجن او بزدله (ډارن) نه وم مونډلې.

## التفكر والمراقبة
## في ذكرالتطبيق والمناسبة

په دي حديث كې د امام بخاري رحمه الله استاذ او شيخ هغه أبو اليمان الحكم بن نافع رحمه الله دی چې د تعديل او توثيق په باب كې د "ثقة" او "ثبت" په صفاتو سره موصوف دی، چې له ده نه يې دغه حديث په سند سره د جبير بن مطعم رضي الله عنه څخه ذكر كړی دی، بيا مناسبت ددې حديث د مخكې حديث سره په دې ډول دی چې مخكې حديث كې دا خبره ذكر شوه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم سخي او شجاع و، دلته دي حديث كې د هغه صفاتو نقيض او ضد نفي شو چې هغه بخل او جبن دی، نو شجاعت د جبن منافي او سخا د بخل منافي ده، بيا مناسبت د دې حديث د ترجمة الباب سره په دي كلمه كې ده چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ولا جبانا څكه ترجمة الباب كې د جبن ذم او بدي ذكر شوي او دلته حديث كې دغه صفت نبي صلى الله عليه وسلم له ځان نه نفي كړی دی، نو دا ترينه هم معلومه شوه چې بزدل او ډارن انسان جهاد هم نه شي كولی. والله اعلم

## إغاثة المغيث في ذكر شرح الحديث

(الناس مَقْفَلَه) مقفله د ميم د زبر او د قاف په سكون او د فا او لام په زبر سره دا مصدر ميمي دي معنا يې رجوع يعنې (رجوعه) أو يا هم اسم زمان ده، زمانه د رجوع د هغه صلى الله عليه وسلم (من حنين) چې دا د مكې او طائف ترمنځه د ځاى نوم ده، او دغه غزوه په اتم (٨) كال د هجرت واقع شوى وه. (فعلقه الناس) يعني خلك د نبي صلى الله عليه وسلم پسې ونښتل د دې نه مراد كلك اسرار كول او الحاح كول دي په مطالبو كولو كې د بل نه نو مطلب دا چې دغه خلك شروع شول چې د نبي صلى الله عليه وسلم نه يې غوښتني كولې او د ابوذر په نسخه كې دي چې دغه خلك چې مطالبه يې كوله دا اعراب يعني باندېچيان وو.

( حتى اضطروه الى سمرة) يعني په رسول الله صلى الله عليه وسلم دومره زيات شول چې هغه يې د كيكر ونه چې دغه ځاى كې وه هغه ته ورتكيه كړ، ځكه دغه ونه د ازغو والا ونه وه، شكلى سيورى يې درلود داسې ونې په صحراګانو كې كيږي.

(فخطفت رداءه) نو نبي صلى الله عليه وسلم خپل څادر ونه كې زورند كړ نو هغه يې ترينه واغوسته.

نو دغه اغستل د مالك په اجازه او خوښه نه وو نو دې نه يې تعبير په اختطاف سره وكړ، دغه خلك چونكه اعراب وو نو دغه ډول معاملې دوى خپلو كې كولې.

د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره يې هم دغه ډول كار وكړ، چونكه دوى د نورو په نسبت د ادب او احترام نه ډير خبر نه و، ځكه يې ترينه څادر وتختاوه.

فوقف النبي صلى الله عليه وسلم فقال: نو پس نبي صلى عليه وسلم ودريده او ويې فرمايل: أعطوني ردائي (زما څادر ماته واپس راكړئ) لو كان لي عدد هذه العضاه نعما (كه ماسره د دى كيكرانو د ونو په شمار (نعما) دا منصوب دى په وجهه د تمييز او (لي) دا خبر دى د كانه او دا هم امكان لري چې دغه نعما منصوب وي بنابر خبر (كان) او مراد د نعما نه (مالونه) دي، ځكه نِعَمْ اوښان غوا ګانې او ګډو بيزو ته وايي او چې كله صرف اوښان وي هغې ته هم (نعم) وايي خو چې كله صرف غواګانې ګډې او بيزې وي بيا ورته (نعم) نه وايي، كما فی العمدة ١٤/١١٨ نو مطلب دا چې كه ماسره د دې كيكرانو د ونو په شمار چې تاسې يې وينئ، اوښان، غواګانې، ګډې او بيزې هم وي، نو (لقسمته بينكم) ما به په تاسو كې تقسيم كړى واى، او د ابوذر رضى الله عنه په نسخه كې د (بينكم) په ځاى د (عليكم) لفظ ذكر ده، (ثم لا تجدوني) او بيا به زه تاسو نه واى موندلاى (بخيلا ولا كذوبا ولا جبانا) يعني كه زه مو تجربه كړاى واى، نو زه به مو بخيل، دروغجن او ډارن نه وم موندلې.

## شفاء الأمراض بدفع الشبهة والاعتراض

دلته د بخيل او كذوب او جبان دغه صيغه د مبالغې ده نو د دې په نفې سره خو د اصل صفت نفى نه راځي.

الجواب بعون الله الوهاب هغه دا دى چې دلته مراد په دې سره د اصل نفې غرض ده نه نفې د مبالغې ځكه دا بد او قبيح صفات دى، او الله تبارك وتعالى خپل انبياء او رسولان د هر هغه عيب او نقص نه پاك او مبرأ پيدا كوي چې د رسالت حسن او عظمت الشأن سره په ضد او ټكر او په هغه د اعتراض او نيوكې سبب ګرځي.

دويم جواب دا چې بل داسې أمورو كې مقاماتو او اشخاصو ته كتل په كار وي ځكه دغه اوزان د مبالغې د (ذى كذا) په معنا هم راځي، لكه الله سبحانه وتعالى فرمايي: وما ربك بظلّام للعبيد. چې اصل يې داسې دي، وما ربك بذى ظلم للعبيد. نو معلومه شوه چې نفې د جبانية او كذابية، دا منافي نه ده د نفس جبن او كذب نه. والله أعلم

## فوائدالحديث

١: رسول الله صلى الله عليه وسلم جهاد ته په خپله هم تللو.

٢:.رسول الله صلى الله عليه وسلم كې ملګرو ته سخا او جوادية معلوم و، نو ځكه يې ترينه مطالبې كولې.

٣: كه بعض وقت د يو مصلحت او ضرورت په بناء څوك چا ته څه ورنه كړي نو دا به د هغه په بخل دليل نه شي ګرځيدلی.

٤: ادب او احترام دا دي چې د چا نه په غوښتنه كې بايد مبالغه ونه شي.

٥: د چا د رضاء نه بغير له چا نه څه شى اخيستل جايز نه دي.

٦: رسول الله صلى الله عليه وسلم سخي، شجاع او رېښتنی انسان و.

٧: كه ضرورت وي نو يو انسان د خپل ځان صفت او مدحه هم كولى شي، دا به تكبر او غرور نه شي شماريدى، خو دا هغه وقت چې زړه كې تكبر نه وي او بل خلقو ته اعتماد وركول غرض وي.

٨: د خپل مال مطالبه كول جايز دي.

پنځه ويشتم: باب ما يتعوذ من الجبن

باب ثابت دى په بيان د.پناه غوښتلو د بزدلی (ډار او يرې) نه!

## حصول الأجروالثواب بتشريح الكلمات مافى ترجمة الباب

دلته هم د مخكې بابونو په شان د (باب) د كليمې نه مخكې (هذا) مقدر ده او دا جمله به هم ورپسې وي چې (في بيان) او بيا دلته د (مايتعوذ) صيغه د مجهول صيغه ده په دى كې دغه ما مصدريه ده، ( من الجبن) دا ضد د شجاعت او بهادرۍ دی، رعب او ډار ته وايي، نو پوره عبارت به داسې وي "هذا باب في بيان التعوذ من الجبن"

## مطرالرحمة والسحاب بذكر مناسبة ترجمة الباب مع الكتاب

دا باب د كتاب الجهاد د ابوابو د شمېر په اعتبار سره پنځه ويشتم (٢٥) نمبر باب دی، امام بخاري رحمه الله په دې باب کې دوه حديثه ذكر کوي، يو د سعد بن ابي وقاص او بل د انس بن مالك رضی الله عنهما نه او بيا مناسبة د دې ترجمة الباب د كتاب الجهاد سره، هغه په دې ډول دی چې جهاد کول دا شجاعت غواړي، او شجاعت د جبن (ډار) منافي ده، نو لهذا د جبن نه پناه غوښتل پکار دي والله اعلم.

(حديث ٣٧) ( رقم الحديث ٢٨١٨)

عمرو بن ميمون الأودي قال: "كان سعد يعلم بنيه هؤلاء الكلمات كما يعلم المعلم الغلمان الكتابة ويقول: إن رسول الله صلى الله عليه وسلم كان يتعوذ منهن دبر الصلاة: اللهم إني أعوذ بك من الجبن، وأعوذ بك أن أرد إلى أرذل العمر، وأعوذ بك من فتنة الدنيا، وأعوذ بك من عذاب القبر. فحدثت به مصعبا فصدقه".

ژباړه: عمرو بن ميمون الأودی فرمايي: سعد رضی الله عنه به خپلو بچو ته دغه كليمې داسې ښودلی لکه يو استاذ چې شاگرد ته د ليکو تعليم ورکوي او فرمايل به يې چې: بېشکه رسول الله صلی الله عليه وسلم و چې له دی نه به يې د هر مانځه په اخره کې پناه غوښتله هغه دا چې: ای الله زه په تا پناه نيسم د بزدلۍ (ډار) نه او په تاه پناه نيسم د دې نه چې زه دې ذليل عمر ته ورسم او په تا پناه نيسم د دنيا د فتنې څخه او په تا پناه نيسم د قبر د عذاب څخه نو بيا ما دا حديث (د سعد) مصعب رضی الله عنه ته بيان کړ نو هغه هم د دی تصديق وکړ.

## التفكروالمراقبة في ذكرالتطبيق والمناسبة

په دی حديث کې د امام بخاري رحمه الله استاذ موسى بن إسماعيل المنقري رحمه الله دی چې د توثيق او تعديل په باب کې د "ثقةٌ" "ثبتٌ" په اوصافو موصوف ده، د ده نه دا حديث په سند سره له سعد بن ابي وقاص رضی الله عنه څخه نقل کوي، بيا مناسبة د حديث د ترجمة الباب سره لفظا موافق ده، ځکه په ترجمة الباب کې ذکر شوي مقصود باندې حديث په دليل کې پيش شوی دی. إغاثة المغيث في ذكرشرح الحديث

(كان سعد) چې دا سعد ابن أبي وقاص رضی الله عنه دی چې يو له هاغو صحابه و څخه دی چې دنيا کې پری د جنت زيری شوی دی. (يعلم بنيه هؤلاء الكلمات كما يعلم المعلم الغلمان الكتابة) د دې نه معلوميږي چې دا کلمې ډيرې ضروري دي، ځکه چې ده به د دې په ښودنه کې خپل اهل ته ډير تاکيد کولو، او بيا به يې ورته دليل کې دا ويل چې (إن رسول الله صلى الله عليه وسلم كان يتعوذ منهن) نو معلومه شوه چې دليل به کتاب او سنت وي نه د چا شخصي رأيه او مشوره (دبر الصلاة) د دې نه مراد د سلام نه بعد مقام دی، علامه قسطلاني فرمايي: بعد السلام منها (يعنې د سلام نه وروسته به يې دا فرمايل: اللهم إني أعوذ بك من الجبن.

دا خو بار بار ذکر شو چې د جبن ضد د شجاعة دی، (وأعوذ بك أن أرد إلى أرذل العمر) او له دې نه چې زه دې واپس وگرځم هغه ذليل عمر ته.

## شفاء الأمراض بدفع الشبهة والاعتراض

په انسان خو له دينه مخکې بوډا والی او ذليل عمر نه دی تير شوی چې دا وايي: ما بيرته هغه ذليل عمر ته مه گرځوه بلکه په ده خو د ځوانۍ شکلې او شايسته وقت او عمر تير شوی نو د (أن أرُدّ) څه معنا ده .

الجواب بعون الله الوهاب هغه دا چې دلته په انسان د طفولة زمانه تيره شوې چې د پاک او نجس دغه ډول د ښه او بد، د خير او د شر فرق يې نه شو کولی، عقل يې نه و، فهم يې کم و، ضعف يې زيات و، په هر څه کې بل ته محتاج او په بل بوج و، نو په دی بناء نه غواړي چې دوباره دي د داسې يو حال سره مخ شي، چې دغه مخکې ناکاره صفات په کې يو ځل بيا راشي، علامه قسطلاني د دې په معنا کې فرمايي: هو الخرف أي يعود كهيئته الأولى في زمن الطفولية سخيف العقل قليل الفهم أو هو أردؤه وهو حال الهرم والضعف عن أداء الفرائض وعن خدمة نفسه فيكون كلا على أهله مستثقلا بينهم يتمنون موته وإن لم يكن له أهل فالمصيبة أعظم.

ژباړه: دا کمزوري ده يعنې چې واپس شي هغه اول حال ته چې د ماشومتوب په زمانه کې و، هغه ناکاره عقل، کم فهمي او هغه چې له دې نه هم ډير بېکاره دي، او هغه حال د بوډاوالي دی اوکمزوري ده د اداء کولو د فرايضونه او دغه ډول د ځان د خدمت کولو نه، نو په دې اعتبار سره دا کس بوج وي دروند پيټی وي په خپل اهل او کورنۍ باندې، هغوې به يې خپله د مرگ تمنا کوي، او که اهل يې نه وي، نو بيا خو يو ډير لوی مصيبت دی، هدی الساری ٥ / ٥٥ (وأعوذ بك من فتنة الدنيا) د دنيا زينة مال متاع او اسباب واړه هغه فتنې دي چې په هر وقت او هره زمانه کې يې ډير خلق راگير کړي دي، او د الله د دين او د قيامت د غم نه يې غافله کړې دي او غټ مصداق يې دجال هم دي، نو لهذا د دې خطرناکې فتنې نه پناه غوښتل ډير ضروری او لازمي دي.

# سوال او ځواب

**د خراسان غږ مجلې درنو لوستونکو! په دې ګڼه کې مو هم ستاسې ځینې رالیږلې پوښتنې ځواب کړې دي ،که تاسې نورې ورته پوښتنې لرئ نو زموږ په ادرسونو یې موږ ته راواستوئ .**

## سوال: امیر چې کله مرتد شي او کفر بواح ترینه صادر شي نو څه کول پکار دي ؟

جواب: کله چې یو امیر د إبتداء نه کافر وو یا ترینه روسته کفر بواح [ یعني ښکاره کفر ] صادر شي نو ددغه امیر اطاعت کول او حکم منل جائز نه دي بلکې د هغې د اطاعت نه وتل او په خلاف یې جهاد کول فرض دي الله تعالی فرمایي:
[ وَلَن يَجْعَلَ اللَّهُ لِلْكَٰفِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلًا [سُورَةُ النِّسَاء : 141]

ژباړه: او هیڅکله الله تعالی نه ورکوي کافرانو ته په مومنانو باندی لاره ـ یعني حجت او غلبه ـ

او حدیث کې دي :عن عبادة بن الصامت رضی الله عنه قال: بَايَعَنَا رسول الله صلى الله عليه وسلم عَلَى السَّمْعِ وَالطَّاعَةِ فِي مَنْشَطِنَا وَمَكْرَهِنَا ، وَعُسْرِنَا وَيُسْرِنَا، وَأَثَرَة عَلَيْنَا، وَأَنْ لَا نُنَازِعَ الْأَمْرَ أَهْلَهُ، إِلَّا أَنْ تَرَوْا كُفْرًا بَوَاحًا ، عِنْدَكُمْ مِنَ اللَّهِ فِيهِ برهان.
[ متفق عليه]

ژباړه: د عبادة بن صامت رضی الله عنه نه نقل دي هغه وایي چې موږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره بیعت وکړو په حکم منلو او اطاعت کولو سره په خوشحالۍ او خفګان زمونږ کې او په تنګسیا او اسانتیا زمونږ کې او په نورو غوره کولو کې په مونږ باندې او په دی چې مونږ به امیرانو سره اختلاف نه کوو مګر که تاسو پکې ښکاره کفر ولیدو چې تاسو سره د هغی په باره کې د الله له طرفه واضح دلیل وی.

امام نووي رحمه الله وایي: [ قال القاضي : فلو طرأ عليه كفر وتغيير للشرع.....خرج عن حكم الولاية ، وسقطت طاعته ، ووجب على المسلمين القيام عليه ، وخلعه ونصب إمام عادل إن أمكنهم ذلك ، فإن لم يقع ذلك إلا لطائفة وجب عليهم القيام بخلع الكافر....[ شرح مسلم: 12/228]

ژباړه: امام نووي رحمه الله وایي چې قاضي  ویلي دي که چیرته په امیر کې وروسته کفر راغې او د شرعي احکامو بدلول یې کول...نو د مشرۍ د حکم نه ووته او اطاعت یې ختم شو او په مسلمانانو ددې په خلاف ودریدل واجب دي او د مسئولیت نه یې لرې کول او د بل عادل امام ټاکل پرې لازم دي که چیرته ورته ممکن وو او که چیرته ددې امکان ورته نه ؤ[یعني که چیرې ددې په کفر د ټولو مسلمانانو ذهن نه ؤ خلاص] مګر د یوې ډلې  نو په دغه ډله لازم دي چې د کافر امیر لرې کولو لپاره پاڅون وکړي او په خلاف یې ودریږي .
نو د ذکر شوي وضاحت نه دا معلومه شوه چې کافر په مسلمانانو هیڅکله مشري نشي کولې او که وروسته په امیر کې کفر ښکاره شي نو لرې کول او په خلاف یې جهاد کول فرض دي.

### په فرض عين جهاد کی د والدينو نه اجازه اخستل نشته:

## دويمه پوښتنه : د مور او پلار نه په جهاد کې اجازه أخستل څه حکم لري ؟

جواب: د مور او پلار نه په جهاد کې اجازې اخستلو لپاره دوه حالتـه دي :

١ـ کله چې جهاد فرض کفايي وي: او مور او پلار يې مسلمانان وي نو اجازه ترينه اخستل واجب دي

دليل: عن عبدالله بن عمرو رضى الله عنهما: جاءرجل للنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاسْتَأْذَنَهُ في الْجِهَادِ، فَقَالَ : " أَحَيٌّ وَالِدَاكَ ؟". قَالَ : نَعَمْ. قَالَ : " فَفِيهِمَا فَجَاهِدْ .[رواه البخاري ومسلم]

ژباړه : د عبدالله بن عمرو رضى الله عنهما نه نقل دي چې يو سړی نبي عليه السلام ته راغی چې د جهاد اجازه يې ترينه غوښتله نو نبي عليه السلام ورته وويل آيا مور او پلار دي ژوندي دي؟ نو هغه وويل هو ژوندي دي نو نبي عليه السلام ورته وفرمايل: د دوی خدمت کوه.

2ـ کله چې جهاد فرض عين وي: لکه په اوسنی زمانه کې نو د مور او پلار نه اجازه غوښتل واجب نه دي په اتفاق د فقهاؤ رحمهم الله ځکه فرض عين حکم کې د مور او پلار اجازه شرط نه ده که مور او پلار ورته د جهاد په نه کولو امر کوي نو دا د گناه امر دی ځکه د جهاد پريښودل گناه ده او په گناه کې د هيچا خبره منل نشته حديث کې دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:[لا طاعة لمخلوق في معصية الخالق. [ أخرجه ابن ابي شيبة في مصنفه: 7/737]

ژباړه: د خالق په نافرمانۍ کې د مخلوق خبره منل نشته.

### بغير د قرضه وړي د اجازي څخه جهاد کول څنګه دي؟

## دريمه پوښتنه : آيا قرضداري لره مخکې د اداء کولو د قرض نه جهاد ته تلل جائز دي؟

جواب: کله چې جهاد فرض عين وي نو د فقهاؤ اتفاق دی چې قرضدار سړی بغير د اجازې د قرضوړي نه جهاد ته تللی شي.

دليل الله تعالى فرمايي: [ انفِرُوا خِفَافًا وَثِقَالًا وَجَاهِدُوا بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ۚ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ] [سُورَةُ التَّوبَة : 41]

ژباړه: که سپك ياست که درانه (غزا ته) ووځئ او د الله په لار کې په خپلو مالونو او په خپلو سرونو سره جهاد وکړئ. دا ستاسې لپاره ډېره ښه ده که پوهيږئ.

د [ خفافا او ثقالا ] علماؤ يوه معنا دا ذکر کړی [فقراء و أغنياء] که غريبان ياستئ او که مالداره ياستئ نو دا خو معلومه خبره ده چې قرض د غريبی له وجې پاتې کيږي نو غريب ته هم جهاد ته د وتلو أمر شوی.

شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله فرمايلی دي [ سئلت عمن عليه دين وله ما يوفيه وقد تعين الجهاد؟ فقلت: من الواجبات ما يقدم على وفاء الدين، كنفقة النفس، والزوجة، والولد ، ومنها ما يقدم وفاء الدين عليه، كالعبادات من الحج والكفارات، ومنها ما لا يقدم عليه إذاخوطب به كصدقة الفطر، فإن كان الجهاد المتعين لدفع الضرر كما إذا حضره العدو، أو حضرهو الصف، قدم على وفاء الدين، كالنفقة ...[المستدرك لابن قاسم: 3/214]

ژباړه: ما نه تپوس وشو په باره د هغه چا کې چې قرضدار وي او ده لپاره دومره مال وي چې قرض يې پرې خلاصيږي او جهاد فرض عين وي نو قرضداري لپاره څه کول پکار دي ؟ نو ما ورته په جواب کې اوويل چې بعضې واجبات داسې دي چې په قرض اداء کولو باندې هم مخکې دي لکه نفقه د خپل ځان او د خپلې ښځې او د بچو او بعضې واجبات داسې دي چې قرض اداء کول به پرې مخکې وي لکه د حج او کفارې عبادات اداء کول او بعضې عبادات داسې دي چې په هغې به قرض نشي مخکې کيدلې کله چې پرې انسان مخاطب شي لکه سرسايه، نو که چيرته جهاد فرض عين وي د وجې ددفع کولو د ضرر ددښمن لکه کله چې ده ته دښمن حاضر شي او يا مجاهد د جنګ صف او ميدان ته حاضر شي نو بيا به جهاد په قرض اداء کولو مخکې وي لکه نفقه چې مخکې ده په قرض اداء کول باندې.

### د مجاهد لپاره دږيري خريلو يا تورولو وغيره احکام:

## څلورمه پوښتنه : د خپل شکل بدلولو په موخه د مجاهد لپاره ږيره خريل يا وره کول څه حکم لري؟

جواب: د مجاهد لپاره ږيره وره کول يا خريل او بريتونه غټول او د کافرانو سره په ظاهري شکل او لباس کې مشابهت کول د جهاد د مصلحت له وجې جائز دي چې کله ورته ضرورت وي

دليل: حديث کې دي چې نبي عليه السلام فرمايي:[الحرب خدعة]

.[رواه البخاري] ژباړه: جنګ دهوکه ده .

امام ابن حجر رحمه الله [ 6/119] کې وايي قال النووي:[ واتفقوا على جواز خداع الكفار في الحرب كيفما أمكن إلا أن يكون فيه نقض عهد أو أمان فلايجوز ]. ژباړه : امام نووي رحمه الله ويلي دي " د فقهاؤ اتفاق دی چې کافرانو ته په جنګ کې دوکه ورکول جائز دي څومره چې ممکن وي مګر که چيرته په دې سره لوظ د کفارو سره ماتيدو او يا د امن وعده ماتيده نو بيا جائز نه ده.

دويم دليل: عن عمار بن ياسر عن أبيه قال أخذ المُشركون عمَّار بنَ ياسرٍ فلم يترُكوه حتَّى سَبَّ النَّبيَّ صلَّى اللهُ عليه وسلَّم وذكر آلهتَهم بخيرٍ، ثمَّ تركوه، فلمَّا أتى رسولَ اللهِ صلَّى اللهُ عليه وسلَّم قال: ما وراءَك؟ قال: شرٌّ يا رسولَ اللهِ، ما تُرِكْتُ حتَّى نِلْتُ منكَ وذكَرْتُ آلهتَهم بخيرٍ، قال: كيف تجِدُ قلبَكَ؟ قال: مُطْمَئِنًّا بالإيمانِ، قال: إن عادُوا فعُدْ. [رواه البيهقي في السنن الكبرى 8/362]

ژباړه : د عمار بن ياسر رضی الله عنهما نه نقل دي چې هغه يې خپل پلار نه نقل کوي وايي چې مشرکانو عمار بن ياسر لره ونيو نو نه يې پريخودو تر دې چې نبي عليه السلام پسې يې بدې ردې وويلې او د هغوی د معبودانو صفت يې وکړو نو بيا يې پريخودو نو کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم خوا ته راغی نو هغه ترينه تپوس وکړو چې څه حال وو نو عمار بن ياسر رضی الله عنهما ورته وويل چې ای د الله رسوله ډير بد حال راباندی تير شو زه نه پريخودل کيدم تر دې چې ستا په باره کې مې بدې خبرې وکړې او د هغوی د معبودانو صفت مې وکړو نو رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمايل: چې زړه دی څنګه وو نو ده ورته اوويل چې په ايمان باندې اطميناني وو نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته اوفرمايل: که چيرته دوی بيا ته ونيولې او زور يې درباندې وکړو نو ته بيا دغه خبرې وکړه.

دريم دليل: همدا رنګه عبدالله بن أنيس رضی الله عنه خپل لونګ کم کړی وو لپاره د قتلولو د سفيان الهذلي. [ رواه ابو داود اسناده حسن ]

او رسول الله صلى الله عليه وسلم يوه سريه د كعب ابن أشرف د قتل لپاره ليږلې وه چې په دغه سريه کې محمد بن مسلمه او ابو نائله رضی الله عنهما هم وو چې دوی ته يې د شريعت خلاف خبرو اجازه هم ورکړې وه او دا مشهوره واقعه ده ...

نو هر کله چې د جهاد د مصلحت له وجې دومره غټ کارونه جائز شول نو د ږيرې خريل يا وره کول خو په طريق اولی سره جائز دي بلکې ددينه غير نور هم ډير داسې کارونه د جهاد د مصلحت له وجې جائز دي چې په عامو اوقاتو کې ترينه سخته منع شوی ده لکه د نوکانو غټول او بريتونو غټول او توره نکريزه استعمالول او د ريخمو استعمال او زنار چې د نصاراؤ خاص نښه ده هغه أغوستل او د مجوسو خولی په سرول وغيره جائز دي نو د پورته رواياتو څخه معلومه شوه چې په جهاد کې بعضې د ګناه کارونه د جهادي مصلحت له وجې جائز دي کله چې ورته اضطرار او ضرورت شي ان شاءالله

**په جهاد باندی مزدوري اخستل:**

## پنځمه پوښتنه : په جهاد باندې مزدوري اخستل څه حکم لري ؟

جواب: په دی مسئله کې راجح خبره داده چې د مجاهد لپاره مزدوري اخستل په جهاد باندی جائز نه دي.

دليل : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، أَنَّ رَجُلًا قَالَ : يَا رَسُولَ اللَّهِ، رَجُلٌ يُرِيدُ الْجِهَادَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، وَهُوَ يَبْتَغِي مِنْ عَرَضِ الدُّنْيَا ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " لَا أَجْرَ لَهُ ". فَأَعْظَمَ النَّاسُ ذَلِكَ، وَقَالُوا لِلرَّجُلِ : عُدْ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَعَلَّهُ لَمْ يَفْقَهْ، فَأَعَادَ ذَلِكَ عَلَيْهِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، كُلَّ ذَلِكَ يَقُولُ : " لَا أَجْرَ لَهُ .[رواه ابو داود ومسندأحمد و هو حسن ]

ژباړه: د ابوهريره رضی الله عنه څخه نقل دي چې يقينا يو سړي وويل ای د الله رسوله يو سړی چې د الله په لاره کې جهاد اراده لري او د دنيا سامان هم طلب کوي؟

نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته اوفرمايل: چې هيڅ اجر ورله نشته نو خلکو دغه خبره ډيره غټه وګڼله او سړي ته يې وويل چې ته واپس لاړ شه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته شايد چې هغه نوي پوهه شوی نو هغه سړي دغه خبره رسول الله صلى الله عليه وسلم ته درې کرت وګرځوله چې په هر ځل به يې ورته وويل هيڅ اجر ورله نشته خو دومره مال ورته د بيت المال څخه أخستل جائز دی چې د مجاهد په خرچه کې او يا د هغی د اهل وعيال په خرچه کې ورسره مرسته وکړي دليل: نبي عليه السلام فرمايي : [ مَنْ جَهَّزَ غَازِيًا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَقَدْ غَزَا، وَمَنْ خَلَفَ غَازِيًا فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِخَيْرٍ فَقَدْ غَزَا.[ متفق عليه]

ژباړه: چا چې يو غازي تيار کړو د الله په لاره کې نو ده هم غزا وکړه او څوک چې د غازي نه وروسته په خير سره پاتې شو نو ده هم غزا وکړه

په [ الفروع 4/436 ] کې دي: [ما يؤخذ من بيت المال فليس عوضا ولا أجرة بل رزق للإعانة على الطاعة] ژباړه:کوم څه چې د بيت المال نه اخستل کيږي نو دا عوض او مزدوري نه ده بلکې رزق دی لپاره د کومک کولو د مجاهد سره په طاعت کې.

﴿ وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ وَمِنْ رِبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ وَعَدُوَّكُمْ ﴾ الأنفال" 60"

# اسونه زین کړئ

الحمد لله الذي فضّل الخيل على سائر الأنعام وجعل العزة في الاسلام بالصّافنات الجياد، والصلاة والسلام على النّبي القائل، الخيلُ مَعقودٌ في نَواصيها الخيرُ : أما بعد

قال الله تعالى " ﴿ وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ وَمِنْ رِبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ وَعَدُوَّكُمْ ﴾ الأنفال" ٦٠

وقال تعالى " ﴿ وَالْخَيْلَ وَالْبِغَالَ وَالْحَمِيرَ لِتَرْكَبُوهَا وَزِينَةً وَيَخْلُقُ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴾ النحل " ٨

مومنانو مسلمانانو ورونو! أس ته رب العالمین په ټولو حیواناتوفضیلت او غوره والې ورکړې، أس هغه حیوان دی چې رب العالمین یې په قران کریم کې صفت کړې، أس هغه حیوان دی چې رب العالمین پرې قسمونه کړي او رب العالمین چې په یو شي باندې قسم وکړي هغه ډیر قیمتي وي، أس هغه حیوان دی چې محمد صلی الله علیه وسلم به ورسره مینه کوله، أس هغه حیوان دی چې په دې سره د اسلام حفاظت کیږي، أس هغه حیوان دی چې په جهاد کې ترې غټ کار أخستل کیږي، أس هغه حیوان دی چې تر قیامته یې رب العالمین په تندي کې

خیر ایښی دی، أس هغه حیوان دی چې د هغه هر یو حرکت د قیامت په ورځ د نیکۍ په تله کې تلل کیږي، أس هغه حیوان دی چې د هغه مړیدل، خوراک کول، اوبه څښل، خوشه یان، بولې، په زمکه گرځیدل او په هغه خرچه کول دا ټول د قیامت په ورځ باندی د نیکۍ په تله کې تلل کیږي، أس هغه حیوان دی چې ساتوونکي یې د هغه چا پشان دی چې شپه او ورځ صدقې کوي،

، د رب العالمین په لاره کې په جهاد في سبیل الله کې د ثواب او د جهاد په نیت أس ساتل دا مکمل خیر او خیر دی، أس د نورو حیواناتو څخه په ډیرو صفتونو او عادتونو سره جدا دی، أس داسې حرکتونه لري چې بل یو حیوان یې هم نلري. د الله په لاره کې د جهاد او ثواب په نیت أس ساتل ډیر أجر او ثواب لري، نو اوس راځو او د الله په لاره کې د جهاد او ثواب په نیت د أس ساتلو فضایل ذکر کوو بإذن الله.

## په قرآن کریم کې د جهاد په نیت د أس ساتلو فضائل

الله تعالی فرمایي ﴿ وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ وَمِنْ رِبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ وَعَدُوَّكُمْ وَآخَرِينَ مِنْ دُونِهِمْ لَا تَعْلَمُونَهُمُ اللَّهُ يَعْلَمُهُمْ ۚ﴾" الأنفال" ٦٠

ترجمه " او تیار کړئ د دوی " یعني مشرکانو " مقابلې دپاره چې څومره مو وس او طاقت وي ، د جنگ له سامانونو څخه او د ساتل شویو أسونو څخه ،چې یروئ تاسې په هغې سره دښمن د الله او دښمن خپل، او نور کسان سیوا د هغوی څخه " یعني منافقان " چې تاسې یې نه پیژنئ مگر الله یې پیژني .

مومنانو ورونو ! په دی ایت کې الله تعالی د جهاد په نیت د أس ساتلو مختلف فضایل بیان کړي.

اول " د جهاد لپاره په أس ساتلو باندې الله تعالی أمر کړی او الله تعالی چې مومنانو ته په کوم شي باندې أمر وکړي هغه ډیر قیمتي وي ، ځکه الله تعالی په فضول او په بې فایدې شي باندی مومنانو ته أمر نه کوي.

لکه امام قرطبي رحمه الله ددی ایت لاندی فرمایي " قال الشاعر : أمر الإله بربطها لعدوه " في الحرب إن الله خير موفق

وقال مكحول بن عبد الله : تلوم على ربط الجياد وحبسها " وأوصى بها الله النبي محمدا.

دویم " د جهاد په نیت، أس ساتلو باندې د الله او د مومنانو د دښمنانو په زړونو کې ویره پیدا کیږي اود دښمن په زړونو کې یره پیدا کیدل دا د هغوی د شکست او ناکامۍ سبب دی.

دریم " أس د هغه أسبابو څخه یو سبب دی چې په هغې سره د اسلام او مسلمانانو دفاع او ساتنه کیږي.

څلورم " د جهاد په نیت أسونو ساتلو په وجه دالله، اسلام او

د مومنانو د دښمنانو په زړونو کې يره پرېوځي او مسلمانانو ته کاميابي ملاوېږي.

پنځم " د جهاد په نيت أسونه ساتل دا رب العالمين د اسلام او مسلمانانو د ښکاره او پټو دښمنانو په زړونو کې د ويرې پيدا کيدو سبب ګرځولی.

بل ځائ کې الله تعالی فرمايي " ﴿ وَالْخَيْلَ وَالْبِغَالَ وَالْحَمِيرَ لِتَرْكَبُوهَا وَزِينَةً وَيَخْلُقُ مَا لَا تَعْلَمُونَ﴾ النحل "٨

ترجمه " الله تعالی أسونه، قچر او خرونه ستاسو د سورلۍ او زينت لپاره پيدا کړي او الله تعالی پيدا کوي هغه څه چې تاسو يې نه پيژنئ.

په دې ايت کې الله تعالی قچر او خر هم ذکر کړی خو مونږ د أس فضايل ذکر کوو

اول " الله تعالی د أسونو صفت کړې.

دويم " أسونه الله تعالی د مسلمانانو د مشکل حل کولو لپاره پيدا کړي چې هغه سورلي کول او سفر کول دي په أس باندې.

دريم " أسونه الله تعالی د زينت او ډول لپاره پيدا کړي او دا يقيني خبره ده چې کوم ځای يا کور کې أس وي نو هغه ډولي وي يا کوم انسان چې په أس باندی سور وي نو هغه ښايسته ښکاري.

بل ځائ کې الله تعالی فرمايي " ﴿ وَالْعَادِيَاتِ ضَبْحًا * فَالْمُورِيَاتِ قَدْحًا * فَالْمُغِيرَاتِ صُبْحًا *فَأَثَرْنَ بِهِ نَقْعًا * فَوَسَطْنَ بِهِ جَمْعًا ﴾ العاديات

ترجمه " قسم په هغه أسونو باندی چې په وخت د منډه کې د سينې نه اواز راويستوونکي دي. بيا په پښو وهلو سره اور بلوونکي دي. بيا په وخت د سبا کې په دښمن حمله کوونکي دي. بيا په پښو وهلو سره ګرد اوچتوونکي دي. نو ورننوځئ، په هغې سره په ډله د دښمن کې.

اول فضيلت " الله تعالی په أسونو قسم کړې او الله تعالی چې په کوم شي باندی قسم وکړي هغه ډير قيمتي وي. لکه امام قرطبي رحمه الله ددې ايت لاندی فرمايي " قال ابن العربي : أقسم الله بمحمد – صلى الله عليه وسلم – فقال : يس والقرآن الحكيم وأقسم بحياته فقال : لعمرك إنهم لفي سكرتهم يعمهون ، وأقسم بخيله وصهيلها وغبارها ، وقدح حوافرها النار من الحجر.

ترجمه " الله په محمد صلی الله عليه وسلم، قرآن کريم، د نبي عليه السلام په ژوند، په أسونو او د أسونو په يو څو حالتونو قسم کړی.

او همدغه شان الله تعالی په وخت د ماذيګر يا په زمانې هم قسم کړې چې دغه ټول قيمتي او د الله غټ نعمتونه دي.

تنبيه " الله تعالی په قرآن کريم کې په مخلوق باندی قسم کړې لکه څنګه يې چې دلته په أسونو باندی قسم کړې خو انسانانو ته جائز نه دي چې په مخلوق باندی قسم وکړي.

دويم فضليت " دلته الله تعالی د أس هغه حرکتونه ذکر کړي چې دغه حرکتونه په بل حيوان کې نشته.

تنبيه " ابن عباس، مجاهد، عکرمه، قتاده او نورو مفسرينو ويلي دي چې الله تعالی دلته په هغه أسونو باندې قسم کړې چې د جهاد لپاره ساتل شوي وي.

## په حديثونو کې د جهاد په نيت د أس ساتلو فضايل

اول حديث " ابو هريره رضی الله عنه فرمايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي " الْخَيْلُ ثَلَاثَةٌ : هِيَ لِرَجُلٍ وِزْرٌ، وَهِيَ لِرَجُلٍ سِتْرٌ، وَهِيَ لِرَجُلٍ أَجْرٌ ؛ فَأَمَّا الَّتِي هِيَ لَهُ وِزْرٌ : فَرَجُلٌ رَبَطَهَا رِيَاءً، وَفَخْرًا، وَنِوَاءً عَلَى أَهْلِ الْإِسْلَامِ، فَهِيَ لَهُ وِزْرٌ، وَأَمَّا الَّتِي هِيَ لَهُ سِتْرٌ : فَرَجُلٌ رَبَطَهَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ، ثُمَّ لَمْ يَنْسَ حَقَّ اللَّهِ فِي ظُهُورِهَا ، وَلَا رِقَابِهَا ، فَهِيَ لَهُ سِتْرٌ، وَأَمَّا الَّتِي هِيَ لَهُ أَجْرٌ : فَرَجُلٌ رَبَطَهَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ لِأَهْلِ الْإِسْلَامِ فِي مَرْجٍ وَرَوْضَةٍ، فَمَا أَكَلَتْ مِنْ ذَلِكَ الْمَرْجِ، أَوِ الرَّوْضَةِ مِنْ شَيْءٍ ؛ إِلَّا كُتِبَ لَهُ عَدَدَ مَا أَكَلَتْ حَسَنَاتٌ، وَكُتِبَ لَهُ عَدَدَ أَرْوَاثِهَا وَأَبْوَالِهَا حَسَنَاتٌ، وَلَا تَقْطَعُ طِوَلَهَا ، فَاسْتَنَّتْ شَرَفًا ، أَوْ شَرَفَيْنِ، إِلَّا كَتَبَ اللَّهُ لَهُ عَدَدَ آثَارِهَا، وَأَرْوَاثِهَا حَسَنَاتٍ، وَلَا مَرَّ بِهَا صَاحِبُهَا عَلَى نَهْرٍ فَشَرِبَتْ مِنْهُ، وَلَا يُرِيدُ أَنْ يَسْقِيَهَا إِلَّا كَتَبَ اللَّهُ لَهُ عَدَدَ مَا شَرِبَتْ حَسَنَاتٍ.... رواه مسلم " ٩٨٧ ـ وبخاري

ترجمه " أسونه په درې قسمه دي " يو هغه أس دی چې هغه د خپل مالک لپاره ګناه او بوج دی، دويم هغه أس دی چې د خپل مالک لپاره پرده ده، دريم هغه أس دی چې خپل مالک او خاوند لپاره اجر دی. کوم سړي لپاره چې ګناه او بوج دی نو دا هغه أس دی چې انسان د ځان ښودنې او مسلمانانو سره د دښمنۍ لپاره ساتلی وي، او کوم سړي لپاره چې پرده ده نو دا هغه أس دی چې انسان د الله په لاره کې د جهاد دپاره ساتلې وي او د الله حق د هغې په ملا او څټ باندی نه هيروي " يعني په ده باندی د أس اړوند کوم واجب حکمونه دي هغه ادا کوي لکه په أس باندی خلکو ته فايده رسول " او کوم سړي لپاره چې اجر دی نو دا هغه أس دی چې انسان يې د مسلمانانو دپاره د جهاد په خاطر په غټ د ګيا ميدان کې تړلې وي او يا يې په يو باغ کې تړلې وي نو دغه أس په دغه ميدان يا باغ کې څه وخوړل نو هغه دپاره د أس د خوراک په برابر اجر او ثواب دی، او هغه دپاره د هغه خوشه يانو او متيازو په اندازه نيکۍ ليکل کيږي، او که أس پړی وشکولو او په تيزۍ سره يې يو يا دوه ميله منډه ووهله نو ددې أس په دغه مزل کې د خوشه يانو او قدمونو په اندازه ددغه أس مالک ته نيکي ليکل کيږي، او که چيرته په يو نهر باندی دغه أس تير شو او د هغې نه يې اوبه وڅښلې او د مالک دا اراده نه وه چې أس ته اوبه ورکړي نو د أس مالک ته د اوبو څښلو په اندازه نيکۍ ليکل کيږي.

مومنانو مسلمانانو ورونو ! په دې حديث کې د الله په لاره کې د جهاد په نيت د أس ساتلو ډير زيات فضيلت بيان شوی انسان يې چې واوري نو زړه کې يې دا اراده پيدا شي چې زه د فرضي أحکامو څخه پس د جهاد په نيت باندی خه ډير أسونه وساتم او بل يو عمل هم ونکړم.

دغه حديث کې د الله په لاره کې د جهاد په نيت د أس ساتلو فضائل دادي.

اول " د الله په لاره کې د جهاد په نيت أس ساتل دا د خپل مالک دپاره د قيامت په ورځ باندې د جهنم د اور څخه پرده ګرځي.

دويم " أس ساتل مکمل خير او خير دی.

دريم " أس چې په شپه او ورځ کې څومره خوراک کوي نو د هغې په اندازه به ورته نيکي ليکل کيږي.

څلورم " أس چې د مالک د ارادې څخه بغير څومره اوبه وڅښي نو د اوبو څښلو په اندازه به ورته نيکۍ ليکل کيږي، نو داچې خپل مالک أس ته پخپله اوبه ورکوي د هغې به څومره أجر وي ؟

پنځم " أس چې په شپه او ورځ کې څومره غوشيان او متيازې وکړي نو د هغې په اندازه به د أس مالک ته نيکي ليکل کيږي.

شپږم " أس چې پړی وشکوي او څومره مزل وکړي نو د هغې په اندازه به د أس مالک ته نيکي ليکل کيږي، نو دا چې يو انسان په أس باندې پخپله جهادي سفر او مزل وکړي د هغې به څومره أجر وي ؟

اووم " چا چې د جهاد په نيت أس وساتلو نو دا انسان د هغه خلکو څخه ګرځي چې شپه او ورځ په پټه او ښکاره د الله په لاره کې خپل مال لږوي او ددغسې انسان لپاره د الله په نزد ډير زيات أجرونه دي.

دا فضايل د هغه أسونو دي کوم چې د الله په لاره کې د جهاد په نيت ساتل شوی وي او که دغسې نه وي نو د هغې بدي بيان شوی لکه حافظ ابن حجر رحمه الله فرمايي " في هذا الحديث بيان أن الخيل إنما تكون في نواصيها الخير والبركة إذا كان اتخاذها في الطاعة أو في الأمور المباحة، وإلا فهي مذمومة " فتح الباري

دويم حديث " عن ابي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ : قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " مَنِ احْتَبَسَ فَرَسًا فِي سَبِيلِ اللَّهِ إِيمَانًا بِاللَّهِ، وَتَصْدِيقًا بِوَعْدِهِ، فَإِنَّ شِبَعَهُ وَرِيَّهُ وَرَوْثَهُ وَبَوْلَهُ فِي مِيزَانِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. رواه البخاري

ترجمه " ابو هريره رضی الله عنه فرمايي چې نبي عليه السلام فرمايلي " چا چې په داسې حالت کې د الله په لاره کې أس وساتلو چې په الله يې ايمان وو او د هغه وعدې يې ريشتيني ګڼلې، نو د هغه د أس مړيدل، اوبه ورکول، د هغه خوشه يان او د هغه متيازې به د قيامت په ورځ د نيکۍ په تله کې تلل کيږي.

فضيلت " څوک چې د ايمان په حالت کې د الله په لاره کې أس وساتي نو د هغه أس مړيدل، اوبه

ورکول، د هغه خوشه یان او متیاز به د قیامت په ورځ باندې د نیکې په تله کې تلل کیږي. سبحان الله

دا چې یو انسان ډیر أسونه تر ډیر وخته پورې د الله په لاره کې وساتي نو د هغه مالک ته به څومره أجرونه او ثوابونه ورکول کیږي ؟

دریم حدیث " عن جریر بن عبد الله قال: رأیت رسول الله صلی الله علیه وسلم یلوي ناصیة فرس بأصبعیه وهو یقول: الْخَيْلُ مَعْقُودٌ فِي نَوَاصِيهَا الْخَيْرُ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ، الأَجْرُ وَالْمَغْنَمُ " رواه مسلم " وبخاري

ترجمه " جریر بن عبد الله رضی الله عنه فرمایي " ما رسول الله صلی الله علیه وسلم ولیدو چې د أس تندی یې په ګوتو باندې مړلو او دا یې فرمایل " چې د أس په تندي کې تر قیامته پورې خیر یعني أجر او غنیمت دی.

اول فضیلت " که څوک غواړي چې ما ته دې خیر رانصیب شي او زما کور دی د خیر څخه ډک شي نو هغه ته پکار دي چې د جهاد په نیت أس وساتي ځکه چې د جهاد په نیت أس ساتل دا د خیر حاصلولو د اسبابو څخه یو سبب دی.

دویم " أس هغه حیوان دی چې نبي علیه السلام ورسره مینه کړې.

څلورم حدیث " عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " الْبَرَكَةُ فِي نَوَاصِي الْخَيْلِ. بخاري و مسلم

ترجمه " انس بن مالک رضی الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي " برکت د أسونو په تندیو کې ایښودل شوی.

اول فضیلت " په أسونو کې برکت دی نو کوم کور کې یا کوم انسان سره چې أس وي هغه الله تعالی برکتي کوي.

دویم " ښکله خبره چې په دې حدیث کې نبي علیه السلام د أس په باره کې کړې ده نو دغسې وینا د نبي علیه السلام نه د بل حیوان باره کې نه ده نقل.

او په حدیث د ابوداود کې دي " عن ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " يُمْنُ الْخَيْلِ فِي شُقْرِهَا.

ترجمه " برکت د سور رنګ أسونو کې دی.

څلورم حدیث " عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " مَا مِنْ فَرَسٍ عَرَبِيٍّ إِلَّا يُؤْذَنُ لَهُ عِنْدَ كُلِّ سَحَرٍ بِدَعْوَتَيْنِ : اللَّهُمَّ خَوَّلْتَنِي مَنْ خَوَّلْتَنِي مِنْ بَنِي آدَمَ وَجَعَلْتَنِي لَهُ، فَاجْعَلْنِي أَحَبَّ أَهْلِهِ وَمَالِهِ إِلَيْهِ، أَوْ مِنْ أَحَبِّ مَالِهِ وَأَهْلِهِ إِلَيْهِ. رواه النسائي وأحمد والحاكم.

ترجمه " ابو ذر رضی الله عنه فرمایي " چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي " چې هر سحر عربي أس ته دوه کرته ددعا کولو اجازه ورکول کیږي، ای الله تا چې زه کوم انسان ته حواله کړی یم او زه دې د هغه مملوک ګرځولی یم، نو ما خپل مالک ته د هغه د أهل او مال نه زیات ګران او محبوب وګرځوه.

فضیلت " په دې حدیث د جهاد په نیت، د ساتل شوي أس فضیلت دا ذکر شوی چې هر سحر ورته دوه کرته ددعا کولو اجازه ورکول کیږي یو کرت " أحب أهله " او دویم کرت " أحب ماله.

او په یو أثر کې دي " أَنَّ مُعَاوِيَةَ بْنَ حُدَيْجٍ مَرَّ عَلَى أَبِي ذَرٍّ وَهُوَ قَائِمٌ عِنْدَ فَرَسٍ لَهُ، فَسَأَلَهُ : مَا تُعَالِجُ مِنْ فَرَسِكَ هَذَا ؟ فَقَالَ : إِنِّي أَظُنُّ أَنَّ هَذَا الْفَرَسَ قَدِ اسْتُجِيبَ لَهُ دَعْوَتُهُ. قَالَ : وَمَا دُعَاءٌ لِبَهِيمَةٍ مِنَ الْبَهَائِمِ ؟ قَالَ : وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، مَا مِنْ فَرَسٍ إِلَّا وَهُوَ يَدْعُو كُلَّ سَحَرٍ، فَيَقُولُ : اللَّهُمَّ أَنْتَ خَوَّلْتَنِي عَبْدًا مِنْ عِبَادِكَ وَجَعَلْتَ رِزْقِي بِيَدِهِ، فَاجْعَلْنِي أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ أَهْلِهِ وَمَالِهِ وَوَلَدِهِ. مسند أحمد ٢١٤٤٢ ـ وابن کثیر

ترجمه " معاویه بن خدیج په ابوذر رضی الله عنه باندې تیریده او ابوذر رضی الله عنه د خپل أس سره ولاړ و، معاویه رض الله عنه ترې پوښتنه وکړه، چې ته د خپل أس څه خدمت کوې ؟ نو هغه وویل چې زما دا ګمان دی، چې ددې أس دعا قبلیږي معاویه رضي الله عنه وویل چې د حیوان دعا څنګه وي؟

ابو ذر رضی الله عنه ورته وویل چې په هغه ذات مې دې قسم وي چې زما نفس د هغه په لاس کې دی هر أس هر سحر دا دعا کوي.....

پنځم حدیث " سلمة بن نفیل رضی الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي " الخَيْلُ معقود في نَواصيها الخيرُ إلى يومِ القيامةِ، وأهلُها مُعانونَ عليها. شعیب الأرناؤوط" تخریج مشکل الآثار " رقم ـ ٢٢٨ " حکم الحدیث: إسناده صحیح، رجاله رجال الصحیح غیر إبراهیم بن سلیمان الأفطس، وهو ثقة. ونخب الأفکار للعیني " ١٢/٤٦

ترجمه " تر قیامته پورې د أسونو په تندیو کې خیر ایښودل شوی او د أس ساتوونکو سره به د الله له طرفه مدد او مرسته کیدلې شي.

اول فضیلت " أس په تندي کې تر قیامته خیر ایښودل شوی

دویم " د أس ساتوونکي سره الله تعالی مدد او مرسته کوي.

شپږم حدیث " سهل ابن حنظلیه رضی الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي " الْمُنْفِقُ عَلَى الْخَيْلِ كَالْبَاسِطِ يَدَهُ بِالصَّدَقَةِ لَا يَقْبِضُهَا. رواه ابوداود وأحمد وغیرهما

ترجمه " په أس باندی مال لګوونکی او خرچه کوونکی د هغه چا پشان دي، چې شپه او ورځ یې د صدقو لپاره لاس خلاص کړی وي او نه یې بندوي.

فضیلت " په أس باندې خرچه کوونکی د هغه چا پشان دی چې شپه او ورځ صدقې کوي او د هغې نه لاس نه بندوي او شپه او ورځ صدقې کول دا ډیر أجرونه او ثوابونه لري.

اووم حدیث " عَنْ أَبِي وَهْبٍ الْجُشَمِيِّ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " ارْتَبِطُوا الْخَيْلَ، وَامْسَحُوا بِنَوَاصِيهَا وَأَعْجَازِهَا - أَوْ قَالَ : أَكْفَالِهَا - وَقَلِّدُوهَا، وَلَا تُقَلِّدُوهَا الْأَوْتَارَ. رواه ابوداود وابن حجر العسقلاني في تخریج مشکاة

ترجمه " تاسو أسونه وساتئ او د هغوی په تندي او شا باندې لاس راکاږئ هغه ته رسۍ واچوئ خو د اوتار او تان رسۍ ورته مه أچوئ.

نبي علیه السلام د اوتار رسۍ څخه ځکه منعه کړې، چې په هغې سره د مرۍ د خفه کیدو ویره وي. او علماؤ دا هم ویلي چې مشرکانو به اوتار رسۍ د هغوی په غاړو کې د بدنظر څخه د بچ کیدو لپاره أچوله او دیته به یې د تعویز اعتبار ورکاوه.

الله تعالی فرمایي " وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ وَمِنْ رِبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ وَعَدُوَّكُمْ وَآخَرِينَ مِنْ دُونِهِمْ لَا تَعْلَمُونَهُمُ اللَّهُ يَعْلَمُهُمْ . أنفال " ٦٠

فضیلت " په ذکر شوي حدیث او ایت کې الله تعالی او نبي علیه السلام د أس په ساتلو باندی أمر کړې نو څوک چې د جهاد په نیت أس ساتي هغه د الله او رسول الله صلی الله علیه وسلم په أمر عمل کوي. د الله او رسول الله په أمر باندی عمل کونکي انسان ته ډیر أجر او ثواب ورکول کیږي.

## غوره أسونه

عَنْ أَبِي قَتَادَةَ ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ : " خَيْرُ الْخَيْلِ الْأَدْهَمُ، الْأَقْرَحُ ، الْأَرْثَمُ ، ثُمَّ الْأَقْرَحُ الْمُحَجَّلُ ، طَلْقُ الْيَمِينِ فَإِنْ لَمْ يَكُنْ أَدْهَمَ، فَكُمَيْتٌ عَلَى هَذِهِ الشِّيَةِ. رواه الترمذي وابن ماجه وأحمد

ترجمه " ابو قتاده رضی الله عنه فرمایي چې نبي علیه السلام فرمایلي دي " غوره أس هغه دی چې تور رنګ والا وي، په تندي کې یې لږ سپینوالې وي، پوزه او پاس شونډه یې سپینه وي، ښې یې سپینې وي خو مخکنې ښې ښپه کې سپینوالي نه وي خو که چیرته دغه أدهم أس نه وو نو بیا کمیت أس غوره دی. یعني هغه أس چې رنګ یې د تور او سور په منځ کې وي او دغه ذکر شوی نښې پکې هم موجود وي.

الأدهم : تور رنګ والا.

الأقرح : چې په تندي کې یې لږ سپینوالې وي.

الأرثم : هغه چې پوزه او بره شونډه یې سپینه وي.

المحجل : هغه چې ښې یې سپینې وي.

مطلق الیمین : چې مخکنې ښې پښه سپینه نه وي.

فکمیت : هغه أس چې رنګ یې د تور او سور په منځ کې وي.

هغه أسونه چې نبي علیه السلام ته نه وو خوښ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، قَالَ : كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَكْرَهُ الشِّكَالَ مِنَ الْخَيْلِ. رواه مسلم، ابوداود، نسائي وابن ماجه

ترجمه " نبي علیه به په أسونو کې شکال نه خوښول.

یعني یو به یې هغه أس نه خوښاوه، چې روستنۍ ښۍ پښه او مخکینۍ چپه پښه کې به یې سپینوالې وو

دويم: به يې هغه أس نه خوښاوه، چې وروستنۍ ښۍ پښه او مخکينۍ ښۍ پښه کې به يې سپينوالې وو

## د نبي عليه السلام د أسونو نومونه

امام ابن النحاس رحمه الله په مشارع الأشواق ديارلسم باب کې د نبي عليه السلام هغه اوه أسونه ذکر کړي په کوم چې د علماؤ اتفاق دی.

اول أس " السکب " دا هغه أس دی چې تندي او درې پښو کې يې سپينوالې وي او مخکنې ښۍ پښه کې يې سپيينوالې نه وي. او دا د نبي عليه السلام د ټولو څخه لومړی أس وو او د بانده چې څخه يې أخستی وو او اولنۍ غزا ته چې په دې أس باندی تلې وو هغه د أحد غزا وه.

دويم " المُرْتَجِز " په دې باندې دا نوم ځکه ايښودل شوی چې ششنا يې ښکلې وه.

دريم " اللُّحَيْف " نغښتوونکی " او په دې باندې دا نوم ځکه ايښودل شوی چې لکۍ يې ډيره اوږده او ګڼه وه.

څلورم " اللَّزَّاز " نښتوونکی " او ديته دا نوم ځکه ايښودل شوی چې هغه د خپل تيز رفتار په وجه د خپل مطلوب سره نښتوونکی وو.

پنځم " الظَّرِب " غونډۍ " وړوکی غر " دا ډير قوي او مضبوط أس وو ځکه ورته الظرب ويل کيدل.

شپږم " الْوَرْدُ " زيړ والي ته مايل سور " او په دې باندې دا نوم د هغه د رنګ په وجه ايښودل شوی.

اووم " سَبْحَة " لامبو وهوونکې " او دا هغه أس ته وايي چې په منډه کې لاسونه ښايسته اوږدوي او د أس لامبو چې ده هغه منډه ده.

او ځينې نور أسونه دي چې هغې کې د علماؤ اختلاف دی.

## بعضی شعرونه چې أس باره کې ويل شوي دي

**أَحِبُّوا الخَيْلَ وَاصْطَبِرُوا عَلَيْهَا**
**فَإِنَّ العِزَّ فِيهَا والجَمَالَا**
**إِذَا مَا الخَيْلُ ضَيَّعَهَا أُنَاسٌ**
**رَبَطْنَاهَا فَأَشْرَكَت العِيَالَا**
**نُقَاسِمُهَا المَعِيشَةَ كُلَّ يَوْم**
**وَنَكْسُوهَا البَرَاقِعَ وَالجِلَالًا.**
**أمر الإله بربطها لعدوه**
**في الحرب إن الله خير موفق**

**تلوم على ربط الجياد وحبسها**
**وأوصى بها الله النبي محمدا.**

وصلى الله على نبينا وسيدنا محمد وآله وسلم

# DOLLAR

# ډالر خبري کوي

الحمد لله ذی القوة التین الذی كلّف عباده المؤمنین بقتال أعدائه الكافرین والمرتدین الی ان یتوبوا ویشهدوا ویقیموا الصلاة فیكونوا من المؤمنین والمسلمین والصلاة والسلام على خیر خلق الله محمد أفضل الرسل والنبیین وعلى آله واصحابه أجمعین الطیبین والطاهرین أمابعد

هر مسلمان په دې پوهیږي څنګه چې اسلام شعائر لري، اودهغې احترام په مونږ لازم اوضروري دی ،چې د هغې په حفاظت داسلام حفاظت او دالله دکلمې اوچتوالی او علو منځ ته راځي، نو دغه ډول دکفر هم خپل شعائر دي چې دهغې په عملي کولو سره کفر ساتل کیږي او الله تبارک وتعالی دشرعي ارادې په اشراف کې په خپلو مؤمنو بنده ګانو جهاد فرض ګرځولی او په دې جهاد یې هرهغه څوک له دوی څخه مکلف ګرځولی چې دوسع اواستطاعت خاوند وي، چې دابه تر هغه وخته ددوی سره جنګیږي، چې ترڅو د کفر شعائر سقوط ونه کړي، او د اسلام شعائر غلبه ونه مومي په دې اړه الله تبارک وتعالی په سورَة التوبة ۲۹ نمبر ایت کریمه کی فرمایي:

قَٰتِلُوا الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْءَاخِرِ وَلَا يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ اللَّهُ وَرَسُولُهُۥ وَلَا يَدِينُونَ دِينَ الْحَقِّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَٰبَ حَتَّىٰ يُعْطُوا الْجِزْيَةَ عَن يَدٍ وَهُمْ صَٰغِرُونَ

(ژباړه) له اهل کتابو څخه د هغو خلکو په خلاف وجنګیږئ چې په الله او د اخرت په ورځ ایمان نه لري ، او څه چې الله او د هغه پیغمبر حرام کړي دي، هغه نه حراموي او حق دین خپل دین نه ګرځوي. (له هغو سره وجنګیږئ) تر دې پورې چې په خپل لاس جزیه ورکړي او ذلیل شي؛ وګورئ مسلمانانو ! دا آیت کریمه صفا اومستقیماً دجهاد هدف او غایه دابیانوي چې جهاد به د کفارو سره ترهغه وخته پوری دوام لري، چې تر څو دکفر رسوم اوشعائر ختم شوي نه وي اوداسلام شعائر اوکلمه غالبه شوي نه وي!

جهادبه ترهغه وخته دوام لري، چې ترڅو کفارو دالله اودهغه درسول صلی الله علیه وسلم حرام کرده اشیاء حرام نه وي ګڼلي ،چې داعبارت دي له څخه چې دوی اسلام ته غاړه کیږدي او په الله او په ورځ داخرت ایمان راوړي او که داسې نه کوي نو په خپل لاس به په ټیټ سر ذلیل صفت سره مسلمانانو ته جزیه ورکوي، چې دا به د دوی دسرونو دبچ کیدو قیمت وي، چې دې سره به دکفري شعیرو سقوط او رسوایي او د اسلامي شعائرو تعظیم اوچت والی او ساتنه واقع کیږي، داحکم د هاغو کفارو باره کې دی ،چې هغوی د اسماني دین او کتاب دعوی کوي، لکه یهود او نصارا او هغه څوک چې د دوی په حکم کې دي، لکه مجوس اوکوم چې له دوی پرته نور کفار دي لکه دهریه هندوان سیکان او اصلی مشرکان دي، نو دهغوی باره کې دقران کریم حکم دادی الله تبارک وتعالی په سورة التوبة ۵ نمبر ایت کریمه کی فرمایي:

فَإِذَا انسَلَخَ الْأَشْهُرُ الْحُرُمُ فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدتُّمُوهُمْ وَخُذُوهُمْ وَاحْصُرُوهُمْ وَاقْعُدُوا لَهُمْ كُلَّ مَرْصَدٍ فَإِن تَابُوا وَأَقَامُوا الصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُا

الزَّكَـوٰةَ فَخَلُّـوا سَـبِيلَهُمْ ۚ إِنَّ اللَّـهَ غَفُـورٌ رَّحِيـمٌ

(ژباړه) نـو کلـه چـې حرامـې میاشـتي تـیري شي، نـو مـشرکان ووژنـئ چـیري یـې چـې وموميـئ او هغـوی ونیسـئ او حصـار یـې کـړئ، او پـه هـر څارنځـاي کښـې د هغـوی لپاره کښـېنئ. نـو کـه هغـوی توبـه وباسـي او لمونـځ قایـم کـړي او زکات ورکـړي، نـو خـوشي یـې کـړئ. اللـه بښـونکی او رحـم کوونـکی دی؛

نـو دادی وګـورئ مسـلمانانو دې ایـت کریمـه کـی هـم دهاغـو کفـارو سره دجهـاد اخـري حـد اوغایـه ذکـر شـوه چـی هغـوی غیرکتـابي کفـار دي، چـی ددوی سره د قتـال او د دوی دقتلولـو بـاره کـی اللـه تبـارک وتعالـی خپلـو بنـده ګانـو تـه داسـې جـدي حکـم کړی ،چـې دهیـڅ اسـمان نـه لانـدې او دهیـڅ ځمکـې لـه پاسـه یـې دوی تـه د امـن اوامـان ځـای نـه دی پریښـی، ترهغـې به دوی بـې امنـه وي او دقتليدو کوشـش به يي دهرمؤمـن مجاهد ایـماني فریضه وي، ترڅو چـې دوی توبه نـه وي ویسـتلي او د اسـلام شـعائر یـی عمـلي کـړي نـه وي، لکـه لمونـځ زکات وغیرهـما نوداشـو دالله عزّوجلّ امراوحکـم خپلـو مؤمنـو بنـده ګانـو تـه دکفـارو مقابل کـې، اوس راشـئ او ددې ښـکاره قـرآني نصوصـو څخـه دحـربي کفـارو دمحافظینـو اوچوکیدارانـو اودډالـر خوړونکـو وطنـي طالبانـو خـلاف اوبرعکـس معامـلات وګـورئ .

نوراځـو! او ددوی ددې تـور کـردار څخه د پـردې پورتـه کولـو څخـه مخکـې یوڅـو نـورې تمهیـدي خـبرې هـم مسـلمانانو لوسـتونکو تـه عـرض کـوو ددې لپـاره چـې دحـق اوباطـل ترمنځـه دتمییـز درک اومعرفـت پـه اسـانه وکـړای شـو دوطنـي امـارت دطالبانـو دهـر اووړ اوزوړ د خولـې څخـه داخـبر ددوی دطاغـوتي رسـینو پـه هـره صفحـه او څانګـه کـی پـه زور اوشـور سره اوریـدل کیـږي او لیـدل کیـږي چـې دوی وای‌ي مونږافغانسـتان دشـل ۲۰ کالـه جهادپـه نتیجـه کـی عنـوةً یعنـي پـه زوراوجنـګ بانـدې داصـلي کافروڅخـه ازاد کـړی دی اونـه صرف دومـره بلکـه دلتـه مـو یوشرعـي نظـام حاکـم کـړی ،چـې ددوی پـه ګـمان څـوګ چـې ددی نظـام او ددوی دامیـر مخالفـت وکـړي ،نـو باغـي او خـوارج بـه ګڼـل کیـږي دا ددوی هغـه دعـوی ده چـې مشرانـو یـې پـرې کـشران او عالمانـو نـه ، بلکـې ( عملاؤ ) یـې پـرې جاهـلان داسـې دوکـه کـړي، لکـه بـې عقلـه کوچنـي ماشـومان چـې څـوک پـه وړو موټرکـو، اونانځکـو دوکـه کـوي، اوبلـه عجیبـه خـو داده چـې دغـه دعـوی کـې یـې هغـه خلـک هـم تصدیق نـه کـوي، چـې ددیـن ددومـره لویـې برخـې څخـه فقـط دومـره علـم لـري چـې صرف پنځـه وختـه لمونـځ پـرې کـولای شي، پرتـه لـه ډیـر علـم لرونکـو څخـه، خوبیاهـم طالـب پـه سـپین سـترګی سره دحیـاء حـدود عبورکـوي او وایـي چـې مونـږ شریعـت نافذ کـړی دی ،مونـږ بـه دلتـه دارخـاء العنـان او دعلـی سـبیل الفـرض والتقدیـر دعنـوان لانـدی داتسـلیم کـړو چـی فعـلاً افغانسـتان چـی دامـارتي طالبانـو دحاکمیـت لانـدې دی ، دې کـې شرعـي نظـام نافـذ دی او دیتـه دارالاسـلام ویلـی شي؟

## (صاعقة السماء)
## (علی تقریر فاقدالمرؤة والحیاء)
## د اسمان تندر د نه سړي په بي حیا تقریر ( وینا ) باندې .

هسـې خـو طالـب ملېشـې ورځ تربلـې د خپـل ایمـان او حیـا جنـازې وبـاسي ، او د کفـر چـې کـوم ور او در خـلاص دې پـرې سر ټیټـې ورننوتـل او کـوم چـې بنـد دې نـو هغـه دی دوی ورتـه دد دي او همداسـې بیدریغـه یـې ورټکـوي تـر څو یـې ورته خـلاص کـړي او دوی پـرې سر وردننـه کـړي ، د طالـب کفـر اوس دومره علنـي او ښـکاره شـو چـې هیڅـوک یـې د پټولـو تـوان نـه لـري ، او دا بیـا زمـوږ مسـولیت دی چـې ددوی د کفـر هـره کړنـه بیلـه ، بیلـه رابرسـیره کـړو او د شریعـت پـه تلـه یـې وتلـو او ددوی کشرخیلـو تـه ددوی د مشرانـو او ددوی د خپلـو اعمالـو یـوه داسـې اینـه ( هنـداره ) پـه لاس کـې ورکـړو چـې هـر یـو پـه کـې خپلـې دا بدرنګـې او مـردودې څېرې خـه ووینـي او وپیـژني او طالـب ملیشـو تـه بـه هیڅکلـه دا اجـازه ورنـه کـړو چـې خپـل صریـح کفـر د اسـلام پـه پـردو کـې پټ پـه ناخـبره خلکـو ورتیر کـړي ، مـوږ دوی سره پـه دلایلـو مـخ تـه ځـو او للـه الحمـد تـر دې بریـده مـو ددوی د هـر کفـر وضاحـت تـر خپلـې وسـې پـورې خلکـو تـه پـه مختلفـو شـکلونو ورکـړی دی .

نـو راځـو او مونـږ بـه د اوس لپـاره دلتـه دازحمـت لـه سره نـه کـوو چـې ددارالاسـلام تعریـف او دهغـې دحاکـم وجیبـه او دهغـی دإدارو عـدداو تفاصیـل وظیفـې او وجیبـې اوتقاضـاوې ذکـر کـړو خـو دومـره ضرور وایـو چـې کلـه د طالبانـو پـه قـول ددوی نظـام شرعـي وي نوبیـا ددې خـبرو شریعـت کـی ترکـوم حدپـوری جـواز شـته چـی ددوی یو داسـی رسـمي وظیفـه دار ...... چـي پـه حقیقـت کي یوأحمـق او فاقـد الحیـاء انسـان دی، پـه خپـل تقریـر کـی لګیـا دی وایـی چـې( کـه کافـران دی ملـک تـه راغلـل نـو مونـږ بیـا ددوی پـه معاملاتـو بانـدې کار ډیـر نـه ورلـرو، په معتقداتـو یـي کار نـه ور لـرو ،کـه دوی لـه ځانـه سره شراب راوړي وو او خـواړه یـې کـه دوی دلتـه لمونـځ نـه کاوه اوکـه دوي دلتـه نورکارونـه کـول چـې ددوی پـه مذهـب اودیـن کـی حـلال وو مونـږ وربانـدې تعـرض نـه کـوو امـن یـی سـاتو)!!!

نوراځـو او ددې وطنـي مرتـد اودکفـارو سره دمحبـت پـه هلاکونکـي سـمندر کې ددې ډوب شـوي شـیطاني او طاغـوتي عسـکر تـش پـه نامـه مولـوي ددې خـبری ردّ اوبطـلان دکتـاب اوسـنت او د اسـلامي امـت دعلـماءو داقوالـو څخـه وړانـدې کـوو او دغـه احمقانـو تـه دا وربښـایو چـې تاسـې څـه تـه دیـن او شریعـت وایـي دا کـوم چـې تاسـې تـه پـه قصـه خوانـۍ کـې آی آیـس آی پـه زیـړو پاڼـو کـې تالیـف کـړې دا دیـن نـه دی دا ستاسـې د بادارانـو د هـوا او هـوس او کفـري سیاسـت او پـه تاسـې او ټـول امـت د تجـارت یـوه ذریعـه ده .

اول دده داخـبره چـې.... کـه کافـران دې ملـک تـه راشي!!!

زمونـږ پوښـتنه داده چـې کافـران دې ملـک تـه ولـې راځـي؟!

او د څه دپاره راځی؟!

( دا بـه د اوس لپـاره نـه وایـم چې تاسـې د کفـارو درسـپارل شـوې ماموریـت تـرسره کـوئ کفـار بـلا غـواړي چـې دلتـه راځـي )

خـو چـې تـه وآیـي کـه کفـار دې ملـک تـه راشي .

نـو ځکـه تـه دعـوی دا لـری چـې دلتـه تاشریعـت نافـذ کـړی اوداخـاوره دې پـه زور لـه کفـارو څخـه ازاده کـړې، نـو اوس چـې کافـر کلـه داسـې ښـار کلي او منطـقې تـه را ځـي چـې پـه هغـې کـې شریعـت نافـذ وي نـو داکافـر بـه یـو د څـو قسـمونو څخـه وي.

اول : مسـتأمن کافـر بـه وي اوداهغـه چاتـه وایـي چـې دمسـلمانانو لـه امیـر څخـه امـان وغـواړي اودیـو معیـن وخت پـوری دارالاسـلام تـه راشي، بـس دامیـر لـه پنـاه اودغـه مؤقت امـن ورکولـو سره دغـه کافـر انسـان ممنـوع الـدم والمـال وګرځیـده

اللـه تبـارك وتعـالی پـه سـورة التّوبَـة ٦ نمبرایـت کریمـه کـی فرمایـی وَإِنْ أَحَـدٌ مِّـنَ الْمُشْرِكِـينَ اسْـتَجَارَكَ فَأَجِـرْهُ حَتَّـى يَسْـمَعَ كَلَـمَ اللَّـهِ ثُـمَّ أَبْلِغْـهُ مَأْمَنَـهُ ۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُـمْ قَـوْمٌ لَّا يَعْلَمُـونَ

او کـه لـه مشرکانـو څخـه کـوم څـوک پـه پنـاه غوښـتلو تـا تـه راشي (تـر څـو چـې د اللـه کلام واوري)، نـو هغـه تـه پناه ورکـړه، تـر دې پـورې چـې د اللـه کلام واوري، بیـا هغـه د هغـه د امـن تـر ځایـه ورسـوه دا ددې لپـاره بایـد وشي چـې دوی علـم نـه لـري

علامـه ابـن القیـم رحمـه اللـه ددغـه ډول مسـتأمن بـاره کـی پـه أحـكام أهـل الذمـة ۲/۸۷۴ کـی فرمایـي چـی داډول مسـتأمنین پـه څلـور قسـمه وي.

(۱)یابـه دپیغـام او خـبر راوړونکـو څخـه وي

(۲)یابه دتجار ت کونکو څخه وي

(۳) یـا بـه د اسـلام ددیـن اودمسـلمانانو داخلاقـو څخـه دځـان خبرولـو دپـاره دارالاسـلام تـه راځـي

(۴)اویـاد دڅـه حاجـت دپـوره کولـو دپـاره لکـه دخپلوانـو زیـارت یانـور څـه دپـاره راځـي نـو ددې هرقسـم والا تـه به دلتـه دمعینـې مـودې پـورې امـن وي، نـه بـه یـي دهغـې څخـه مخکـې شړلی شـي، نـه یـي وژلـی شـې اونـه تـرې جزیـه اغسـتلی شـې، کـه پـه دوی کـه پـه مسـتجیر بانـدې دیـن اسـلام قـران اوحدیـث پیـش کـړاې شـو او قبـول یـې کـه نـو بیاخـو دهمـدې ځای شـو او کـه بېرتـه ځـان خپـل ځـای تـه رسـول غـواړي اود اسـلام دیـن قبـول نـه کـړي، نـو دخپـل امـن ترځایـه درسـیدوڅخه مخکـې بـه ده تـه هیـڅ قسـم تعریـض نـه شي کیـدای ،خـو چـې کلـه پـه دې

څلورواړو قسمونو کی هریو خپل دامن ځای ته ورسیږي نو دده حکم به بیرته دحربي کافر ګرځي قتلیدای به هم شي او مال به یی هم غنیمت کیدای شي؛

د علامه ابن کثیر رحمه الله دتحقیق موافق دغه ډول مستأمنین کفار تقریبا شپږ ٦ قسمه دي هغه فرمایي: والغرض أن من قدم من دار الحرب إلى دار الإسلام في أداء رسالة أو تجارة أو طلب صلح أو مهادنة أو حمل جزية أو نحو ذلك من الأسباب، وطلب من الإمام أو نائبه أمانا أعطي أمانا ما دام مترددا في دار الإسلام، وحتى يرجع إلى مأمنه ووطنه، (ژباړه) اوغرض دبحث دادی چی که څوک ددارالحرب (دارالکفر) څخه دارالاسلام ته راشي، دخط راوړو په وجه، یادتجارت لپاره اویادصلح اومهادنیې لپاره اویاد جزیې دتعیین لپاره اویا دیته د ورته اسبابو په وجه اود امام اویاد هغه دخلیفه نه امان طلب کړي، نوده ته به امان ورکولی شي، ترڅو چې داپه دارالاسلام کې پاتی وي اوترڅو چی داخپل دامن ځای او وطن ته ورسیږي تفسیرابن کثیر ۴/۱۰۰

داشو (۱)یوقسم کفار چی هغوی ته مستأمنین ویل کیږي، دوی به ترمعلوم وخت اومودې پورې په دارالاسلام کی په امن وي، ترڅوچې خپل کلي او علاقې اودامن ځای ته نه وي رسیدلی.

(۲)دویم قسم کفارهغه دي چی هغوي ته أهل العهد، او أهل الصلح، اوأهل الهدنة ویل کیږي داهغه حربي کفار دي، چې دمسلمانانو امیر امام او یادهغه نائب ورسره ترمعلومې مودې پورې اور بند اوجنګ بندي اعلان کړي وي، چې دوي ددارالاسلام نه بهر خپل دارالکفر کی اوسیږي، ددوي خپل نظام اقتدار او قانون وي، ددوی صفت هم په خپل ځای باقي دی ،کافر هم دی اودالله اودهغه درسول اودمسلمانانو حربي دشمنان هم دي، خودومره ده چې دصلح اومعاهدې په وجه به دهغوی څخه دحربیت صفت په دغه معلومه موده کی ساقط حسابیږي، مسلمانان به قطعاًپه هغوی تعریض نه کوي، مګرکه هغوی یې وکړي، نو بیا دغه وخت صلح ختمول واجب دي، الغرض داډول خلک هم دخپلو خپلوانو ملاقات ته ددې صلح په موده کې دارالاسلام ته راتلای شي، لکه ابوسفیان دصلح په موده کي لورام حبیبه رضي الله عنها کره راغی ، کمافی سیرة ابن هشام ۲/۳۹۶ دغه ډول داسماء بنت ابی بکر مور چې هغه فرمایي: قَدِمَتْ عَلَيَّ أُمِّي وَهِيَ مُشْرِكَةٌ فِي عَهْدِ قُرَيْشٍ إِذْ عَاهَدَهُمْ فَاسْتَفْتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، فَقُلْتُ : يَا رَسُولَ اللَّهِ قَدِمَتْ عَلَيَّ أُمِّي وَهِيَ رَاغِبَةٌ أَفَأَصِلُ أُمِّي ؟ قَالَ نَعَمْ صِلِي أُمَّكِ (ژباړه)زمامور ماته راغله اوهغه مشرکه وه ،په زمانه د هغه عهد دقریشوکې چې مسلمانانو دهغوی سره کړی وو (یعنی دحدیبیې سولې پرمهال )

نو مادرسول الله صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وکړه ورته مې وویل : چی ماته (دمکی نه ملاقات ته) زما مور راغلې اوهغه رغبت لرونکې (هم) ده (اسلام ته اویازماسره صله رحمي کولو ته ) ایا زه هغې سره صله رحمي وکړم نو هغه (صلی الله علیه وسلم ورته) وفرمائل: هو مور سره صله رحمي وکړه متفق علیه واللفظ للمسلم

دغه ډول بله هغه زنانه چې هغې دحاطب بن ابی بلتعه رضی الله عنه دخط دوړلو کوشش کولو خو ګیره شوه ، هغه چې مشهور نوم یې دحافظ بن حجر رحمه الله دمعلوماتو مطابق ساره وه، چې دعمرو بن هاشم بن عبدالمطلب مولاته(ازاد کرده وینزه) وه کمافی فتح الباری ۱/۲۹۱ داشو دویم قسم معاهدین کفار چې دارالاسلام ته د سولې او عهد په موده کې راغلي دي، چې داهم صرف هغه خلق دي ، چې دخپلوانو سره دملاقات لپاره راغلي چې دهغوی سره خپله صله رحمي وپالي.

اودریم (۳) قسم هغه کفار دي، چې هغوی ته شریعت دأهل ذمه وو نوم ورکړی دی اودا هغه چاته وایي چې دوی کفار وي، لکه اهل الکتاب یعنې یهود نصارا او هغه چې شریعت له هغوی په حکم کی ګرځولي، لکه مجوس چې دغه کفار ځان ،سرونه او مال دمسلمانانو له تورو څخه محفوظ کړي، نو په دې مناسبت سره دوی دمسلمانانو دامام اونائب سره په یو اتفاقي حصه د مال او آمدن یې پریکړه وکړي چې په مونږ برید مه کوئ، مونږ به دسر په سر تاسې ته دومره .... مال درکوو نو دمسلمانانو امام او یانائب به هغوی او دهغې حال اومال ته په کتوسره په هغوی یومعین مقدار دمال دهرسر دپاسه مقررکړي، چې هغوی به یي کال په کال مسلمانانو ته په خپل لاس په ټیټ سر ورکوي، لکه څنګه چې دامخکې فصل کی دسورة التوبة په ۲۹ نمبرایت کی تیرشو اومختصر وضاحت یې وروسته راروان هم دی ، الغرض دغه ډول کفار دا به په امن وي، بغیر له جزیې به ددوی په نورمال اوشتمنۍ برید نه شي کیدای ، په دوی به داسلام ټول احکام جاري وي اودغه ډول خلک دا اکثر په دارالاسلام کی اوسیږي.

داشو عزتمندو مسلمانانو دجمله حربي کفارو اقسام چې مونږ دبحث څخه دخه او اسان فهم داخستو په پار ذکر کړل اوس راځو او داتحقیق اوڅیړنه کوو چی دوطني طالبانو دې اسلامي اوشرعي نظام(!) ته کوم قسم کافر راځي چې دوی یی دامن او هغوی ته دخپلو معتقداتو په ازادۍ برملا چغې وهي!!؟

## (حفظ الكفار والفجار) (لأجل الجبن وحصول السلطة والدولار)

د بزدلۍ له کبله او د قدرت او ډالرو ترلاسه کولو په خاطر د کفارو ساتنه . عزتمندو مسلمانانو ! تاسې په مخکې فصل کې دهاغو کفارو د أقسامو اواحکامو په اړه معرفت ترلاسه کړ ،چې هغوی دارالاسلام ته راننوځي، چې هغه په درې قسمه کفار وو چې اختصار یي دادی:

(۱) مستأمن کافر (۲) معاهد کافر (۳) ذمي کافر .

نواوس مونږ دکفارو دساتونکو وطني مرتدو طالبانو څخه پوښتنه کوو چې ستاسې شرعي نظام ته(!) دغه راتلونکي کفار په دې دریو قسمونو کې د کوم قسم څخه دي؟! که دمستأمینینو څخه وي، نوبیا پوښتو چې ددوی دراتلو سبب بیان کړئ، چې داڅوک دي اودڅه لپاره راځي ځکه دوی خو په څو قسمه دي.

ایا دوی پیغام راوړونکي دي؟!

ایا دوی د تجارت لپاره راځي؟!

ایا دوی د اسلام ددین اودمسلمانانو داخلاقو څخه دځان خبرولو اود قرآن داوریدلو لپاره راځي؟!

ایا دوی دلته څه قریبي رشته دار او خپلوان لري، د هغوی دزیارت ملاقات اوصله رحمۍ ساتلو لپاره راځي؟!

ایا دوی په ځان دجزیې تعیین کولو دپاره راځي؟!

ایا دوی د سولې اومهادنې دتړون لپاره راځي؟!

نوکه په دې یادو کفارو کی دوی له هرقسم څخه وي، نو بیا مو پوښتنه داده چې ددوی ددې راتلوسبب او علت معلوم دی چی دادڅه لپاره راځي؟ اوبیا هغوی ددې راتلو لپاره ستاسې دامام اویا هم دهغه دنائب څخه دامان مطالبه کړې ده؟

که یې کړې وي، نودغه موده دامان څومره او ترکوم وخت پورې ده؟

بل داچې مخکې دقرآن دصراحت څخه معلومه شوه ،چې دداسې راتلونکو لپاره چې الله تبارک وتعالی دامان ورکولو اجازه مؤمنانو ته ورکړې، مهم مقصود په کې د شریعت دعوت دی ،چې هغوی ته به دلته داسلام ددین دعوت ورکول کیږي، دقرآن ایاتونه به ورې تلاوت کولی شي، ابن کثیر رحمه الله دسورة التوبه د٦ نمبر ایت کریمه په شرح کی فرمایي:

يقول تعالى لنبيه صلوات الله وسلامه عليه وإن أحد من المشركين الذين أمرتك بقتالهم وأحللت لك استباحة نفوسهم وأموالهم استجارك أي استأمنك فأجبه إلى طلبته حتى يسمع كلام الله أي القرآن تقرؤه عليه وتذكر له شيئا من أمر الدين تقيم به عليه حجة الله ثم أبلغه مأمنه أي وهو آمن مستمر الأمان حتى يرجع إلى بلاده وداره ومأمنه ذلك بأنهم قوم لا يعلمون أي إنما شرعنا أمان مثل هؤلاء ليعلموا دين الله وتنتشر دعوة الله في عباده.

(ژباړه) الله تعالی خپل نبي صلی الله علیه وسلم ته فرمایي که چرته کوم کس له هغه مشرکانو څخه چې ماتاسې ته دهغوی سره په قتال کولو امر کړی اودهغوی نفسونه او مالونه مې درته حلال ګرځولي، له تانه امن وغواړي، نو ته دده دمطالبې قبولیت وکړه، تردې چې دالله کلام واوري یعنې قران، نو ته قران ولوله په دوی باندې اوڅه برخه ددین دامورو څخه ورته ذکر(بیان) کړه ته به په دې سره په هغه باندې دالله حجت قائم وګرځوې بیا یې له هغې وروسته خپل دامن ځای ته ورسوه اودابه په امن وي او امن به یې تردې جاري وي، چې ترڅو خپل ښار کور او دامن ځای ته ورسیږي اوداهرڅه ځکه جائز وګرځیده چې دابی علمه قوم دی ،یعنی فرمایي: دغه امان مونږه ددې لپاره ددی پشان خلقوته جائز وګرځاوه چې دوی دالله په دین پوه شي اودالله په بنده ګانو کی دعوت نشر شي تفسیرابن کثیر ۴/۱۰۰

او همدا تقریباً دهرمفسر تفسیردی، ددې ایت په باره کې چې سبب داباحت دامن ورکولو اود هغې دجواز هغه په دې ایت کې ددین ددعوت نشرول او په انسانانو حجت تمامول غرض دی.

نو بحث نه اوږدوو چې په دې دنورو مفسرینو اقوال هم ذکر کړو، بس دابه کافي وي نواوس دې مونږ ته دکفارو ساتونکي طالبان داوضاحت ضرور وکړي، چې څه کم دوه کاله وشول چې دوی دافغانستان گدۍ باندې کینول شوي او په خپل زعم او گمان یې شریعت نافذ کړی او قانون یې شرعي محمدي دی(!) کمایزعمون نو که دوی ته راتلونکي کفار دمستأمنینو څخه وي، نو دوی په هغوی کې په څومره خلقو قران اورولی او داسلام دڅومره حصې اوبرخې دعوت یې ورته کړی دی؟! ځکه داخو بیخي علني ښکاره وضاحت سره ثابته شوه ،چې دی نوع کفاروته دارالاسلام ته دراتلو اباحت اوجواز دا ددعوت پوری معلق دی او همدا دقرآن مقصد دی !! خو تاسې خپله چغې وهئ چې هغوی دلته راځي نو دشرابو اوشبابو سره راځي هغوی دلته دخپلو معتقداتو او شرکي شعائرو باندې حاملین او عاملین راننوځي اوتاسې هم ورسره منلې، چې که دوی دلته هرڅه کول مونږ به ډیر کار وربانده نه ورلرو بلکه امن به یې ساتو!! هر څه کې مطلب ټول قیدونه لرې شول ، تاسې یو ځل ددې گمراه خبرې واورئ چې دا څه وایي ؟

هئ! دپاکستان د ای اس ای مداریتوبه او دملل ملحده د غړیتوب خوبه او د امریکا د ډالري کڅوړو رعبه پرون دې رباني ،مسعود، گلبدین اوسیاف له ایمانه کنگال کړل او نن دی د همغوی په نقش قدم روان طالب اخوندان او ددوی بې شعوره او بې ضمیره احمق کشران له ایمانونو او غیرتونو کنگال او د کفر په ټولو ډولونو او خوندونو مالامال کړل ،دوی هم د هغه تیرو په څېر ځانونه دشل کلن جنگ سالاران مجاهدین او فاتحین( !) گڼل خو دادې د ارتداد په هره توره دروازه مو ورننویستل .

طالب ملیشو ته وایم ! له دې تفصیلي بحث څخه هم معلومه شوه، چې تاسې ته راتلونکي دغه کفار دمستأمنینو له جملې څخه نه ! بلکه دا هغه حربي کفار دي، چې په سرو سترگو دجرأتمندانه بدمعاشۍ سره دخپلو پاتو اهدافوسرته رسولو او ستاسې څخه د هغه ماموریت د څارنې په هدف راځي چې تاسې ته یې په دوحه کې دروسپاره ، چې هغه د شریعت په نوم په دوحه کې هېزاین شوې دیموکراسي ده چې تاسې ورته شرعي نظام وایي او د خپل خواهش مطابق فیصلو ته د شریعت نوم ورکوئ ، چې دادی اوس په کې نو خلکو او خپلو احساستي کشرانو ته په سترگو کې د خاورو ور اجولو په هدف غله څخه د لاس پرې کولو په ځای ویښته پرې کوئ او چې دا کېسه درپسې د اسلامي دولت زیرکه مجاهدینو راوسپړله نو اوس مو نو غلو ته هم دورې شروع کړې او لوطي هم په شل دورو وهلو د حدودو ورکولو په ډله کې شمیرئ .افسوس !

تاسې د وطنیت په کفري عقیده ایمان لرونکي مرتدین خو دومره په کفر

کې ورغرق یاست چې نور به مونږ ستاسې د کوم ،کوم کفر مثالونه وړاندې کوو.

ستاسې بادار کفار خو په داسې حال کې افغانستان ته رادرومي چې اوس یې هم دلاسونوڅخه د تازه وژل شویو مؤمنو اومؤمناتو وینې څڅیږي!! انا لله وانا الیه راجعون

## (إيقاظ الراقدين)
## ( بتعريف أحكام الكفار المعاهدين)
## د معاهدو کفارو په پیژندنه د خلکو راپاڅول

اوکه چرته بالفرض والتسلیم دغه کفار ددویم قسم له جملې څخه وي، چې هغوۍ ته معاهدین کفار وایي نو غرض دادی چې معاهد کفار هم دشمن وي او د هغوۍ دارالاسلام ته راتلل هم چې کتاب اوسنت کې بیان شوي، نو هغه هم په دوه قسمه دی
(۱) هغه چې مکه اویابل ځای او وطن به یې چې وو هغه به یې پریښوده اوداسلام دقبلولو او ایمان راوړلو لپاره به یې مدینې ته هجرت وکړ نودابه مسلمان شو او ټول حقوق به یې محفوظ وو.
(۲) اودویم قسم هغه معاهدین مشرکان او کفار وو چې دخپلو أقرباو ملاقات اوزیارت ته به دار الاسلام ته راتلل مثلاً مور لورکره راغلې( لکه اسماء بنت ابی بکر رضی الله عنهما ته خپله مور چې هغه دغه وخت مشرکه وه ،د سولې او معاهدې په دغه موده اوزمانه کی اسماء رضی الله عنها کره راغلې وه ) چې مونږ یې په تیر فصل کی دمتفق علیه حدیث په ذکر کولو سره ذکر وکړ، یابه پلار د لورکره راغلی وو (لکه ابوسفیان چې دغه وخت یې لا اسلام نه وو راوړی نو د سولې په دغه موده کې دخپلې لورام حبیبې رضی الله عنها کره راغلی وو)

او یابه مولاته یعنې ازاد کرده وینزه وه دخپلو مولا گانو کره به راغلې وه لکه هغه زنانه چې هغې دحاطب بن ابی بلتعه رضی الله عنه خط مکې ته روان کړی وو ،چې بیا په روضة خاخ مقام کی گیره شوه ، چې مشهور نوم یې دحافظ بن حجر رحمه الله دمعلوماتومطابق ساره وه ، چې دعمرو بن هاشم بن عبدالمطلب مولاته وه

کمافی فتح الباری ۱/۲۹۱

چې دا ښځه هم لوږې په سر اخستې وه، نو دنبی صلی الله علیه وسلم څخه دمال غوښتنی دپاره راغلې وه

کمافی العمدة ۱۴/۲۵۵

داشو دویم قسم معاهد کفارچې دارالاسلام ته راننوتي، نو اوس مونږ بیا دکفارو دساتونکو وطني طالبانو څخه پوښتنه کوو چې ستاسې اسلامي نظام اودارالاسلام(! ) ته دغه راتلونکي کفار ددی معاهدینو له جملې څخه دي؟

ایاتاسې په ریښتیا ددوی سره شرعي سوله کړی؟!

که کړې مو وي، نو هغه دکوم ښار اومنطقې کفارو سره مو سوله کړې ده؟!

امریکا که برطانیا؟!
ناروی که فرانسا؟!
استرېلیا که اوکراین؟!
اسرائل که بلجیم؟!
روسیه که هندوستان؟!
چین که چاپان؟!
شمالي کوریا که جنوبي؟!
او همداسې پسې ورځئ ...

ځکه نه خو نبي صلی الله علیه وسلم او نه له هغه نه وروسته دهغه صحابه کرامو او نه له هغوی وروسته دهغوی تابعینو او نه بیا دهغوی اتباعو چرته هم په یو ځل په یوار دټولو کفارو سره د ټول کفري ملت سره سوله نه ده کړې او نه د هغوۍ په کفري ملت ( بین الملل ) کې د شمولیت عذر زارۍ کړي دي ، ځکه که دیو سره به یې سوله وه نو بل سره به یې جنگ روان وو دمزید وضاحت څخه دځان خبرولو لپاره العزایم خپرندویه اداری خپور کړی کتاب (نقض الصحیفة الظالمة ) ولولئ .

بل که سوله مو کړې وي ، نو د سولې موده مو څومره ده کال، دوه کاله ،دری کاله لس کاله... اخرڅومره؟ نوکه د مودې له تعین پرته وي او هغه هم دټولو کفارو سره وي نو داخو باالله العظیم سوله نه ده ،بلکه داسلام په سرهغه علني سودا ده چې قیمت یې نن د ډالرو ددې اونیزو کڅوړو په شکل کی لیدل کیږي، چی انکارکول ترې خرتوب او حماقت نه پرته بل هیڅ نه دي.

لاحول ولا قوة الا بالله!!!

بل داهم ووایې چې اخر د سولې اومعاهدې هدف مو څه شې دی؟! نو که علی سبیل المثال دالفرض والتقدیر په صفت سره ستاسې سوله

صحیح وګڼل شي، نو بیا پو ښتنه کوو چې ایا ددې کفارو چې دورځې لس لس پروازونه ځي راځي دوی دلته تاسې کې ریشتې کړي که څنګه؟!

دوی دلته تاسې کې څه نسبي خپلولي او قرابت لري چې راځي که څنګه؟!

که چرته داسې وي، چې ریښتیایي هم تاسې کې نسبي خپلولۍ وي، نو بیا تاسې ته پکار دي، چې داسې تعامل ورسره وکړې، لکه صحابه چې ورسره کړی وو، اسماء رضی الله عنها ترهغه وخته کورته خپله مور پرینښوده ،چې ترڅو یي په اړه درسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ونه پوښتل ،خوتاسې یي استقبال ته څه پلن ښتونه ټیټ نیولي او ګلونه په لاس ورته په هوآیي میدانونو کې ولاړ یاستئ .

أم المؤمنین أم حبیبه رضی الله عنها وګورئ، پلار ابوسفیان یي دغه وخت په اسلام با مشرف شوی نه دی ،د سولې موده غنیمت ګڼي او د لورملاقات ته دمکې څخه دارالاسلام مدینې ته راځي، درسول الله صلی الله علیه وسلم بستره غوړېدلی ابوسفیان اراده لري، چې په دې کښیني خو لوریي فوراً دپلار دناستې څخه مخکې رانښکي پلار ورته وایي : یا بنیة، ما أدري أرغبت بي عن هذا الفراش أم رغبت به عني؟ قالت: بل هو فراش رسول الله صلى الله عليه وسلم وأنت رجل مشرك نجس، (ژباړه) ای لورکۍ زه پوه نه شوم ،چې دابستره دی زما لائقه ونه ګڼله اوکه زه دې ددې بسترې..؟

هغه رضی الله عنها ورته فرمایي، نه بلکه دا درسول الله صلی الله علیه وسلم بستره ده او ته یو مشرک اونجس انسان یي!! کمافی سیرة ابن هشام۲/۳۹٦

یاده دې وي چې مونږ دغه موجوده کفار دعلی سبیل الفرض والمثال په درجه کې معاهدین وګڼل، ګڼې چې

چاته الله د ذرې په مقدار ایمان ورکړی وي، هغه هم په دې پوهیږي چې دوی محارب کفاردي، چې دهیڅ اسمان څخه لاندې اود هیڅ ځمکې له پاسه امان نه لري.

نو دکفارو چوکیدارنو! ډالر خوړونکو طالبانو ! تاسې ته وایم چې خه وګورئ اوغور وکړئ، دلته معاهد کافردی، مکې ته دعهد په موده کې راغلی، خو برخورد ورسره وګورئ چې په کوم انداز کې برخورد ورسره کیږي ، ستاسې په څېر ورته رسول الله صل الله علیه وسلم یا یي نور ملګري مخې ته ورغلي په مخه :ې یي ورته قالینې غوړولي او په لاسونو یې ورته ګلونه نیولي او داسې په قهقها خنداو او چیپو برګندیو او غاړو ورکولو یي ددوی استقبال کړې او بیا ورسره په یو میزو خوراکونو ته او په پستو سوپو مجلسونو ته مو کار ویلې وي اوکه نه د ام حبیبې په څېر یي د خپل پلار څخه هم بستره ټوله کړې ؟

دا کفار خو تاسې ته له نسبي رشته دارو هم ډېر درنیږدې دي .

تاسې خو کفارو ته دومره ټیټ او پاس کیږئ ،چې دومره ذلت ورته لا د جمهوریت مرتدینو هم نه وو کړې ، تاسې خو هغوی هم ځان پسې وخندول، څومره چې تاسو ددی کفارو په راتلو خوشحالیږئ، دومره به هغوی ستاسو په دې روڼ ارتداد هم نه وي خوشحال شوي، تاسې په دې اقتدارکې چی څومره دامن ځای وي، څومره دسهولت او څومره دراحت ځای وي، هغه مو د دوی ته خاص کړي وي، اونه تنها دا بلکه ددوی خدمت او امنیت ساتنې ته موچې څومره بودیجه خاص کړې، فکرنه کوم دامو بل چاته خاص کړې وي!!

ریښتیا خبره ده چې ډالرخبری کوي، هغه چا ریښتیا ویلي دي چې لأجل المال ینقل الجبال نو ددې تفصیلي بحث څخه هم معلومه شوه چې تاسوته راتلونکې کفار معاهدین هم نه دي، ځکه ستاسې معاهده دشرعي معاهدی سره سمون نه خوري، ګنی وګورئ(" نقض الصحیفة الظالمة )" کتاب چې العزایم خپرندویه اداري خپور کړې او په همدې موضوع د العزایم اړوند نور خپاره شوي کتابونه هم ولولئ .

بل که دهمدې بالفرض والتسلیم په قاعده یي درسره ومنو ،چې دوی معاهدین دي، نو په دی پوښتنه موبیا مجبورکړو چې درڅخه یې وپوښتو معاهد کافرچې دارالاسلام ته راځي دځان سره شراب راوړلی شي؟! که قران کی دالحمد.. څخه

تر د والناس او احاديثو کې داول څخه ترد اخره په دی کار داجازې اوجواز دليل وي.

نو ولې هغه نه بيانوئ چې مسلمانان مو په دې کې په حقه وگڼي، بل معاهد کافرچې دارالاسلام ته راشي، نو هغه دخپلو معتقداتو علني اظهار کولی شی؟! دادقرآن په کوم ايت درسول الله صلی الله عليه په کوم حديث دلکونو صحابه وو څخه دکوم صحابي په قول او دامت دکوم معتبر اومسلمان فقيه په اجتهاداتو کی راغلي چی تاسې يې نن دواجب په مرتبه کې گڼئ؟!

بله داچې داسې مطلقه اجازه معاهد کافر ته په دارالاسلام کې چې که هغه هرڅه جايز او حلال گڼل نو مونږ وربانـدی تعرض نه کوو، په کوم ځای کې راغلي لږ خو يي راوښايي ؟!

تاسې خو وآيي چې که هرڅه کوي نو هر څه خو بيا دا هم راځي، هسې سوال راسره پيداشو که سبا ستاسې دکوم طالب دکور دروازه ورخلاصه کړي، نو بيا به هم ورته څه نه وايي امنيت به يې ساتئ، ځکه داهم دهغوی په نزد حلال عمل دی ، هيڅ عيب يې نه گڼي ،خو لږه گذاره وکړئ د الله بندیانو که دمشرانو کورنۍ مو پاکستان يرغمل کړي، نو دکشرانو په کورونو ولې دامحاربين کفار ورزړور کوئ اخرستاسې او دتير افغان حکومت فرق څه پاتې شو؟! انا لله وانا اليه راجعون .

نو صحيح حق او ثابته خبره هم داده چې دوی معاهدين کفار هم نه دي، نو چې نه مستأمنين دي، او نه معاهدين، نو پاتی نه شو مگر حربيين ،نو داحربي هغه کفاردي چې که څوک ورسره قتال کول جايز ونه گڼي او يا ورسره قتال کولو ته دهشت گردي او فتنه انگيزي وايي نو داکس په دې ټکي سره کافر گرځي

## (القصد والهمة فی ذكر شروط أهل الذمه)

اوکه دعوی کوئ چې نه، دا أهل الذمه يعنې ذمي کفار دي، نو نورخوپريږده په دې دعوی به مو خپلې ښځې اوبچې هم درپسې وخاندي، خو خندا هغه چاته عيب ښکاري، چې حياء او ايمان په کې وي، تاسې خودغه دواړه دهفته وارو کڅوړو په بدل کی پلورلي دي!! نو که بيا هم چرته طالب مشران کشرانو ته د ذمي کفارو اودهغوی په دارالاسلام کی داوسيدو څخه دليل ددوی سره په دی تعامل وړاندې کوي، نو ددوی دادليل به ددې لاندې څو وجوهاتو څخه باطل وي.

(اوله وجه ) دأهل ذمه وو ،سره دتعامل نه به دوی ته دموجوده کفاروسره دتعامل دپاره دليل هله او هغه وخت صحيح وي، چې دغه راتلونکي کفار هم ذميان وي اوداخبره لکه دلمر داسې روښانه شوه ،چې موجوده ټول کفارحربيان دي، يوهم په کې معاهد مستأمن او ذمي نه شته دی.

(دويمه وجه) ذمي کفارو باندې داسلام احکام جاري کيږي او هغوی دمسلمانانو خلاف سترگه هم نه شي رپولې، خو موجوده کفار داسلام دنوم څخه بد وړي احکام خو يی لاپريږده، دشريعت په احکامو ملنډې اومسخرې يې په چاپټې دي؟

په شام ،عراق ،ليبيا ،خراسان، هندوستان ،پاکستان او غيره ممالکو بلکه ټوله دنياکې يې دمسلمانانو په قتلولو اوتعذيبولو بوخت دي!!! دغه ډول نارينه خو لا څه کوئ زنانه اوکوچني ماشومان يې هم په جيلونو کې زنداني کړي دي!!! ايا ذمي کفار همدې ته وايي ايا ذمي کافر دبهر څخه دارالاسلام ته شراب راننويستلی شي؟!!

ايا ذمي کافر دارالاسلام کې دخپل اعتقاد موافق حلال کرده اشياؤ ته علني نږدی کيدلی شي.

(دريمه وجه ) ذمي کافربه هم مطلق اوازاد نه وي، چې هغه څه غواړي نو کوي به يي، نه بلکه هغه ته به دمسلمانانو اميراو امام په دارالاسلام کې دشريعت داشراف او داسلامي شعائرو داحترام څخه لاندې دژوند دتيرولو محدودې لارښوونی کوي، په دې باب کې دعمر رضی الله عنه پريکړه مسلمانانو ته قطعي دليل دی، کومه چې هغه په اهل الذمه کافرو لازم کړی وه ،چې دهغې عمده شروط په لاندې ډول دي.

(۱شرط)اداء الجزية:

چې دوی به د مسلمانانو دولت ته جزيه ورکوي!! نو.اوس دې وطني طالبان داوضاحت وکړي، چی دغه راتلونکي کفار که دوی ورته ذميان وايي هغوی دوۍ ته څومره جزيه ورکوي!! اوکه دډالرو هفته وارې کڅوړې يادوي، نودی کې هم ابهام شته چې وضاحت يی مطلوب دی؟!

## (۲شرط) يجب على أهل الذمّة الالتزام بأحكام الإسلام:

دوهم واجب په أهل الذمه دادی ،چې په دوی لازم دي، چې دشريعت احکامو ته به غاړه ږدي!! ددې ښکاره مطلب دادی ،چی دغه ذميان به اسلامي قضاء ته تسليمیږي، خپلې فيصلې به اسلامي قضاء ته وروړي ،داسې نه چې خپل قانون او خپلې محکمې به لري، نه هرگز نه نو اوس دې دکفرچوکيداران وطني مرتد طالبان داوضاحت وکړي ،چې دوی ته راتلونکو کفارو ريشتياهم داسلام احکامو ته غاړه ايښې؟!

او ايا ريښتيا به داسلام احکامو ته منقاد شي؟! او که شي نو په ټول افغانستان کې هغه شرعي محکمه او هغه مسلمان حاکم اوقاضي چرته او په کوم ولايت اويا ولسوالۍ کې وي، چې هغه صرف په قران اوسنت باندې حکم اوفيصله کوي؟!

(۳شرط) ألا يحدثوا في مدينتهم ولا فيما حولها ديراً ولا كنيسة ولا قلاية ولا صومعة راهب ولا يجددوا ما خرب:

دريم واجب پر دوی دادی، چې دوۍ به په خپلو ښارونو او له هغې گير چاپيره ساحو کې د نصاراو د راهبانو لپاره خاص ځايونه اوچتې گيرجې اوکليساوې نه جوړوي او نه به هغه عبادت خانې جوړوي چې خرابې شوي وي!

داشو بل عمري شرط چې دوی به ځانته نه نوي معبدونه جوړوي او نه به هغه ترميم کوي، چې خراب شوي وي، نو اوس دې دکفرچوکيداران مرتد وطني طالبان داوضاحت وکړي، چې دوۍ دنجسو مشرک سيکهانو هغه شرکي معبد چې دخلافت اتل مجاهد جناب ابومحمد التاجکي تقبله الله تعالی داور خوراک کړ ، دکابل

لکونو افغانيو په مرستې سره دهغې دترميم اعلان ونه کړ؟!!

ډيره عجيبه ده عمر رضی الله عنه خصوصاًاو مسلمانان عموماً هغه چاته دا اجازه نه ورکوي، چې هغه دې خپل خراب شوی معبد جوړکړي، چې هغه داسلام توهين او دمسلمانانو دنظام مخالفت دسترګو درپ په مقدار نه کوي ، خو دکفرچوکيداران وطني مرتد طالبان دهغوسيکانو دمعبدونو دترميمولو لپاره دخپل اسلامي اوشرعي نظام!! دبيت المال څخه (چې حقيقت کې دامريکا ډالر دي) دومره غټ رقم ورکوي ايا دا اسلام کې شته داسې ترننه چرته مسلمانانو کړي دي؟!

مجبور يو چې بيا وپوښتو چې دغه سيکهان چې دلته په امارت وطني افغانستان کې اوسې دوی ته اسلام پيش شوی؟! که پيش شوی وي، نو دوی قبول کړی؟! علی کل حال دوی ته دارالاسلام کې دژوندي پاتې کيدو اوددومره اختيارحق دقرآن په کوم ايت او درسول الله صلی الله عليه وسلم په کوم حديث کی ذکر دی؟!

(۴شرط)تجنّب التعرّض للمسلمين فيما يتعلق بدينهم، أو رسولهم، أو كتابهم، أو أحكامهم بالنقد أو السخرية:

څلورم واجب په اهل الذمه دادی : چې په دين اسلام او د مسلمانانو په پيغمبر او قرانکريم به د اعتراضاتو او په هغې باندې د مسخرو څخه په کلکه ډډه کوي!! داشو عمري شرط خو راځو او دکفر دچوکيدارانو وطني مرتدو طالبانو نه پوښتو چې ايادا تاسې ته راتلونکي کفار که ريښتياهم اهل ذمه وي، نو داپه الله قران ،رسول او دشريعت په احکامو چې ملنډې وهي، ددې به تری کله پوښتنه وکړئ؟!

داڅنګه ذميان دي، چې ذمه يې نه ماتيږي؟!

عجيبه ده هغوی دخپلو معتقداتو سره ازادانه دلته وخت تيرولی شي اوتاسې دهغوی له يرې داسلام يو حد نه شې نافذولی، بلکې خلکو ته په سترګو کې خاورې ورشيندئ ، حدود بدلوئ بيا د تعزير نوم ورکوئ ، بيا بيرته همدا تعزيري سزاوې حدود ګڼئ ، عجيبه لوبه مو روانه کړې ، موږ هم عجيبه يو دا راڅخه هيره وه چې ووايم ډالر خبری کوي!!!

(٥ شرط) عدم إظهار المنكرات والفواحش في الدولة الإسلاميّة:

په اسلامي نظام او د مسلمانانو په دولت کې به د منکراتو اوفحشاؤ اظهار نه کوي.

ددې خبرې مقصد هم معلوم دی، دوی يعنې دغه اهل ذمه به دمسلمانانو کلي، منطقه او دارالاسلام کې بربنډ نه شي ګرځيدلې شراب به ښکاره نه شي څښلې ، د خنزير غوښه به ښکاره نه شي خوړلی او نه به يې هم خرڅولای شي ،اودغه ډول دصليب ښکاره کول او داسې نور ددې ټولو منکراتو د ښکاره کولو څخه به په کلکه ډډه کوي ځکه داټول کفري شعائر دي، ددې په عملي کولو سره اسلامي شعائر مغلوبيږي او دهغې توهين منځ ته راځي نو که بالفرض کوم ذمي کافر ددې اعمالو څخه دکوم عمل مرتکب وګرځي، نو دارتکاب په دې صورت کې به د اسلامي قضاء پريکړه پرې تطبيقيږي!! نواوس بيا مجبورشو چې دکفر د چوکيدارانو وطني مرتدوطالبانو څخه وپوښتو چې ايا ريښتياهم تاسې ته چې کوم کفار راځي دوی خپل دغه نجس او ناوړه کارونه دعمري دی پريکړی موافق دي، که نه تاسې پری کارنه ورلرئ؟!!

نو چې تاسې خپله اعلان کوئ، چې که دوی هرڅه کول مونږ وربانديې تعرض نه کوو امن يې ساتو؟!!

نو که زه بيا ووايم چې تعرض نه کوئ، که کولی يې نه شئ، نو بحث بيا وږديږي خودومره به ووايم چې ډالر خبرې کوي!!!

(٦شرط) ترك ما فيه ضررٌ على المسلمين:

د هر هغه څه څخه به کلکه ډډه کوي چې مسلمانانو ته پرې ضرر رسيږي

،داشو عمري شرط خو اوس دې دکفر څوکيداران وطني مرتد طالبان داوضاحت هم وکړي چې اياريښتياهم دوی ته راتلونکي کافران مسلمانانو ته ضرر رسونکي نه دي؟! اياريښتيا دوی دمسلمانانو خير خواه دي؟! ايا ريښتيا هم دوی دمسلمانانو په نفع بوخت دي؟! اياريښتياهم دوی دقدر اکرام او دامن ساتنې حقداردي؟! که هربالغ عاقل مسلمان دغه جواب په هو سره وکړي، نو دادقران تکذيب کونکی شو چې په دې سره کافر بالله وګرځيده اعاذنااللـه وجميع اخوانناالموحدين واخواتنا الموحدات من الكفر والشرك والردة والخسارةامين ياالـه العالمين

(٧شرط)تغير الهيئات وتمييز أنفسهم عن المسلمين:

دوی به خپل شکل ته تغير ورکوي،اوجدا والی به راولي، دخپلو ځانونو اولباسونو دمسلمانانو دځانونو اولباسونو څخه!!

اوداشرط دليل دی په دې چې براءت دکفارو څخه فرض او واجب دی، ځکه دا په لباس عادت اواخلاقو کی قطع التشبيه دا دقطع ذريعة الولاء سبب دی، نو چې يوکافر څخه دومره کرکه اسلام مونږ ته راښايي، چې لباس او زينت کې به هم ورسره مشابهت نه کوو، نو هغه دوست ګڼل او هغه ته دشرابو ،زناء اودنورو جمله معتقداتو دعلني عملي کولو اجازه ورکول اودهغوی دامن ذمه اوهغې ته ټېر وهل به څنګه جايز او روا وي که په دې ناقض خبره کوو او دقران اياتونه ذکرکوو نو بحث اوږديږي، خو لنډه داچې دې باره کې د العزايم خپرندويه اداري څخه په همدې موضوعاتو نشر شوې کتاب "المنهج المبين" ضرور وګورئ

(٨ شرط )أن لا يعينوا أهل الحرب:

اهل الذمه به د نورو حربي کفارو سره د مسلمانانو په مقابل کې مرسته نه کوي!!

داشو عمري شرط خو دکفر څوکيداران وطني طالبان دې وضاحت وکړي چې ريښتياهم دوی ته راتلونکي کفار حربي نه دي؟!

او که بالفرض والتسليم دوی حربي هم نه وي نو ايا ريښتيا دوی دحربي کفارو سره داسلام مقابل کې ملګري او معاونت کونکي او مظاهره کونکي نه دي؟!

بل ښکاره حقيقت چې دا يې داظهار مقام او وخت دی هغه داچې وطني مرتد طالبان خپله داسلام او مسلمانانو په مقابل کې دکفاروسره ولاړدي، نو دوړې او دتړې قيصه ده دواړه خه کافي ډوب شوي دي لاحول ولاقوة

(٩شرط )بل داچې د عمر رضی الله عنه په دې شروطو کې دوی په ځان منلی وه ،چې أن نضيف كل مسلم عابر سبيل ثلاثة أيام ونطعمه من أوسط ما نجد

(ژباړه) چې مونږ به هر مسافر ته درې ورځې د متوسط خوراک څخه ميلمستيا ورکوو.

داشو عمري شرط چې په دې کې هم يو قسم دکفارو ذلت او مسلمانانوعزت پروت دی ،خو دکفرڅوکيداران وطني مرتد طالبان دغه د دوی دغه خدمت کوي اودوی ددې حقدارګڼي، چې ددوی هم هرڅه په کاريږي نوهغه به ورته دا خپل تازه مزدوران رارسوي ، که هغه چينايي سامانونه وي تيار چين نيږدې دي ورسره او ددوی ورسره پخه وروري هم ده او که يا د نورو وطنونو څه يي چې د بادارانو په کار وي ورته به يي په وخت رارسوي او باقې به يي ددوی باداران چې هر څه کوي نو دوی به يي امن ساتي .

لاحول ولا قوة

(١٠شرط )وَلَا يَتَقَلَّدُوا السُّيُوفَ وَلَا يَحْمِلُوا السِّلَاحَ :

اهل الذمه به غاړې ته اسلحه نه اچوي او نه به يې د ځان سره ګرځوي، بلکې خالي سلاح به وي،داشو عمري شرط چې په دې کی هم دکفارو ذلت دې ، خو دکفر څوکيدران وطني مرتد طالبان ددی پرځای چې دغه کفارذليل کړي، ددوئ مخې ته يی ځانونه داسې ذليل کړل چې دنيا ورته حيرانه پاتې ده بس خبره داده چې ډالر خبرې کوي.

(١١شرط ) په خپلو عبادت خانو به صليب ښکاره نه لږوي: ،ناقوس(اله د زنګ) به په تيزه نه وهي، خپلو مړو باندې به په زوره چيغې نه وهي او د مسلمانانو په کوڅو او ښارونو کی به پرې په ښکاره اور نه بلوي،

داشو عمري شرط، خو که دکفرڅوکيداران مرتد وطني طالبان لږه حياء اوغيرت هم ولري، دوی دې په راتلونکو کافرانو دلته په خپل وطن کې چې دوئ ترينه په دارالاسلام سره تعبير کوي!!!! يوه خبره ددې شروطوڅخه په هغوئ لازم. کړي، چې دابه ددوی حقانيت وګڼلې شي، خو کلا وحاشا لمر به دمغرب څخه سر راپورته کړي، خو وطني طالب به ددغه ايمان مظاهره ونه کړای شي، ولو كان بعضهم لبعض

ظهيرا ډالر خبرى كوي؟!

(۱۲شرط) ان لا يرغبوا في دينهم ولا يدعوا اليه أحدا وألا يمنعوا أحدا من أقربائهم اذا أرادوا الدخول في الاسلام: دوى به د خپل دين طرف ته خلك نه ترغيبوي او نه به مسلمانانو ته د يهوديت او نصرانيت دعوت وركوي، او كه چيرې د دوى د خپلوانو او نږدې خلكو څخه څوک وغواړي چې د اسلام په دين كې داخل شي نو دوى به يې مخه نه نيسي!

داشو عمري شرط اوس دې دكفر څوكيداران وطني طالبان دتندي خولې وچې كړي، او شمار دې شروع كړي، چې دوى ته دې راتلونكو كفارو څومره خلک له افغانستان څخه وويستل چې د انتقال د بهير په پروسه كې تراوسه ورته طالب اسانتياوې برابروي ، او په لومړيو وختونو كې يې څومره وويستل چې د دوى د بادارانو د نويو اهدافو د تطبيق لپاره طالب مرتدينو او ددوى بادارانو دغه خبيثان په شريكه ظيارو ته خيژول خو د اسلامي دولت يو اتل يې د خولې خوند وربرابر كړ، دوتلو فرصت او زمينه سازي ورته هم دې مرتدو وطني طالبانو كړې اولا دا لړۍ له هم روانه ده ،چې نور به څومره وباسي او دنصرانيت او يهوديت په باطلو اديانو به يې ورنګوي ؟! خوترننه يونر په دوى كې پيدانه شوچې دغه كار بد وګڼي ځكه دا وتونكي افغانان نورڅوک نه وو ،بلكه دا هماغه خلک وو چې ددې صليبي جنګ سالارانو څخه مخكې به دهمدې وطني مرتدو طالبانو په كورونو او مركزونو ورننوتل او دښځو اوبچو دمنځ نه به يې را پاڅول او بګرام اوپل چرخي او نورو زندانونو ته به يې ورغورځول ، خو نن هغه په عزت سره روان دي، خپل معبودباطل ته اوطالب يې دوتلو امن ساتي!!! ډالرخبرى كوي.

(۱۳شرط) أَنْ لَا يَعْلُوا عَلَى الْمُسْلِمِينَ فِي الْأَبْنِيَةِ وَيمْنَعُوا مِنْ رُكُوبِ الْخَيْل: اهل الذمة به خپلې ابادۍ د مسلمانانو د ابادیو څخه اوچتې نه جوړوي او نه به په اسونو سوريږي.!

داشو عمري شرط چې دغه ډول كفار به نه په اوچتو كورونو كى اوسيږي او نه به په اسونو سورلۍ كوي ځكه دې كې دهغوى عزت دى اود مسلمانانو ښار،كلي او منطقه كى به قطعاً كافر په عزت سره نه شي اوسيداى، خو كه ددې برعكس نن دنيا دكفرد څوكيدارانو مرتدو وطني طالبانو دوى ته دراتلونكو كفارو سره ددوى تعامل ادابو او احترام تقابل ته زير شئ نو دوى به په دې شرط كې هم بيخي ضد اوبرعكس وموميئ!!

نو عزتمندو مسلمانانو ورونو دا هغه شرائط دي چې د مسلمانانو ترمنځه دعمري شرائطو په نوم سره مشهور دي، چې دهرقرن په مسلمانانو كې خَلَفاً عن سلفٍ په شاندار استقبال سره مقبول راروان دي، امام ابن قيم رحمه الله په دى اړه په أحكام أهل الذمة ۱ /۲۱۸ كى فرمايې: ”وشُهرة هذه الشروط تُغني عن إسنادها، فإن الأئمة تلقَّوها بالقَبول، وذكَروها في كُتبهم واحتجُّوا بها، ولَم يَزَل ذِكْر الشروط العُمَريَّة على ألْسِنتهم وفي كُتبهم، وقد أنفَذَها بعده الخلفاء، وعَمِلوا بموجبها(ژباړه) ددى شرطونو شهرت(دعمر رضى الله عنه څخه) هغه مرتبه كې دى چې سړى ددې د سند (دذكر كولو) څخه مستغني كوي، او امامانو د احاديثو دا أخستي په قبلولو سره او په خپلو كتابونو كې يې ذكر كړي، او په همدې سره يې دليل نيولى، او هميشه يې همدا عمري شرطونه په ژبو او كتابونو كې جاري وو، او د هغه نه وروسته خلفاؤ دا په ذميانو نافذ كړي او ددې په مقتضى يې عمل كړى!!

(الحِدَّةُ والشِدَّة على مقالة أهل الردة)

نو داشرائط هم مونږ ددې دپاره ذكر كړل ،چې كه چرته طالبان دذمي كفارو سره دتعامل دليل دموجوده كفاروسره دناستې ولاړې دپاره وړاندې كوي، نو چې مسلمانانو ته ددوى داستدلال بطلان معلوم وي، ځكه داخو حقيقي او يقيني خبره ده چې مرتدو طالبانو ته راتلونكي دغه كفار لكه څنګه چې مخكې ثابته شوه چې نه مستامنين دي او نه معاهدين، نو دغه ډول داهم ثابته شوه چې هغوى اهل ذمه هم نه دي، خو مسلمانانو ورونو دتعجب وړخبره داده چې ذمي كفار لكه څنګه چې تاسې ته دهغوى د تعريف اوپه هغوۍ داسلام له طرفه د وضعه شويو شروطوڅخه معلومه شوه ،چې دوۍ دمعاهدينو او مستأمنينو كفارو په نسبت دډير ترحم او شفقت لائق كفاردي، لكه څنګه يې چې دتعريف اوشروطو څخه تفصيلي معلومه شوه ،چې خلاصه يې داده چې دمسلمانانو سره دارالاسلام كى اوسي دمسلمانانو خلاف به يوذره باندى هم ښكاره والى نه كوي اوپه دوى داسلام احكام جاري وي، خو اسلام دوى ته سره ددې هرڅه نه دشرابو دښكاره څښلو اونه دښكاره ګرځولو او نه دنورو كفري شعائرو دعلني كيدو جواز وركوي، بلكه كه يوشرط كې يې هم مخالفت وكړي نو فوراً به دا دهغه دنقض الذمه حسابيږي او شرعي محكمه به پرې پريكړه كوي، خو ددې برعكس تاسې دشرعي نظام ددعوه كونكو مرتدو طالبانو دا فاقد الحياء وګورئ، څه وايي چې( كه كافران دې ملک ته راغلل نو مونږ بيا ددوى په معاملاتو باندې كار ډير نه ورلرو ، معتقداتو يې كار نه ور لرو ،كه دوى له ځانه سره شراب راوړي وو او خواړه يې، كه دوى دلته لمونځ نه كاوه اوكه دوى دلته نوركارونه كول ،چې ددوى په مذهب اودين كې حلال وو مونږ وربانديې تعرض نه كوو امن يې ساتو) نو مونږ بيا پوښتنه كوو ددې فاقد الحياء مفتي ډالرشاه څخه چې ته بياځانته مسلمان څنګه وايې، چې ته دهغه كافر په معاملاتو كې كار نه لرې، چې هغه تاته بقول شما په اسلامي نظام كې اوسيږي، ستادې خبرې چې (ددوى په معاملاتو باندې كار ډير نه ورلرو ، په معتقداتو يي كار نه ور لرو..)داخو تا په كفر اقرار وكو اوپه هغې دې رضا ولرله ،ځكه ستادې وينا مطلقاً هغه ته ستا په دې اسلامي نظام (!) كې دهركفر جواز وركړ ، بل دهغه معتقدات اول داسلام ختمول دي، ددې اجازه دې وركړه!!

دهغوى له معتقداتو څخه داده چې هغه مسلمانان كفر ته اړوي، تا ددې اجازه وركړه!!

دهغوۍ دمعتقداتو څخه داسلام بطلان دقران توهين د نبي صلى الله عليه بى حرمتي ده ، تاددې اجازه وركړه!!!

دهغوۍ دمعتقداتو څخه داده چې هغوۍ سود جايز ګڼي، دخنزير غوښه جايز ګڼي، اكثر يي د خور مور كې فرق نه كوي، لواطت ورته ادنى عمل ښكاري، خپل يهوديت او نصرانيت حق اودين اسلام او محمدي شريعت باطل ګڼي تاددې اجازه وركړه!!!

په هغوى كې ديهودو له معتقداتو څخه دي، چې عزير عليه السلام دالله ځوى ګڼي والعياذ بالله نو تا ددې اعتقاد دجواز اجازه وركړه!!!

بيا هغوى كې دنصاراو له معتقداتو څخه دي، چې عيسى عليه السلام دالله ځوى ګڼي والعياذ بالله خوتا ددې اعتقاد داظهار او جواز اجازه وركړه!!!

دهغوى له معتقداتو څخه دي، چې هرمسلمان دې يهودي او نصراني شي او دالله ددين څخه څخه مرتدشي اوتا ورته ددې اعتقاد داظهاراوعملي كولو اجازه وركړه!!!

نو د جلي كفر دومره اقسام نورهم ددوي په معتقداتو كې شته چې دايو څو مو ترينه ذكر كړل خو ته وايې چې مونږ ورسره په دې كې كارنه لرو ايا چرته دمسلمانانو له تېر تاريخ څخه ته داثابتولى شئ، چې هغوى چرته په دارالاسلام كى كفاروته داسې مطلق ازادانه اجازه وركړې وي، ته څنګه مسلمان حاكم ځان ته وايې چې كفارتاته راځي شراب له ځان سره راوړي او ته دهغه مخه نه شې نيوې، نو كه مستأمن كافر وي نوپكاردى چې هغه ته ددين دعوت وشي كمامر مرار فى هذا البحث نو

ته څنګه وایي چې (مونږ بیا ددوی په معاملاتو باندی کار ډیر نه ورلرو ، معتقداتو یې کار نه ور لرو که دوی له ځانه سره شراب راوړي وو او خواړه یی....الخ داخو دقران صریح مخالفت دی بل له تاڅخه مخکې هم همداکفار ستا مخکنیو ورونو (افغان حکومت) ته راتلل هغوی هم لکه ستا په شان ددوی په معاملاتو او معتقداتو کار نه ورلره نوبیا ستا او دهغوی ترمنځ فرق څه شو؟!
داسلامي شعائرو علو او تعظیم شو؟! دمسلمان اوکافر حاکم ترمنځه فرق څه شو؟! ددارالکفر او دارالاسلام ترمنځه فرق څه شو؟!
مسلمانان لوستونکي دې دده په دې خبره هم خه غور وکړي، چې وایي (اوکه دوی دلته نورکارونه کول چې ددوی په مذهب اودین کې حلال وو مونږ وربانـدی تعرض نه کوو امن یې ساتو) نولوستونکو تاسې ووایې چې اخر دکفارو به کوم کار وي، چې دغه مرتد طالبان به یی بد وګڼي او ددوی شرعي نظام(!) به یې داسلام مخالفت وګڼي؟! طالبان مخاطب کوم او ورته وایم که دغه ستاسې راغلي ورونه سبا دکابل بازار کې دکومې مؤمنې عفت او عزت ته لاس واچوي، نو تاسې کې به څوک پیداشي، چې هغه ته ووایي چې داولې ځکه ستاسې داډول څرګندونې دا راز ښکاره کوي چې داکښوړی هسې نه راځي، دا ورځ یاده لرئ، چې لکه داشرف غربي او مرتد کرزي دحکومت پشان یې په همداتاسې ځانونو ته سفارتخانو ته شراب او شباب اکمال ونه کړ ، نو بیا ووایې چې تاسې الزام لګولی وو

(التحذيرمن العار والخسارة)
(لأفراد وطنية الإمارة)

د ابدي شرم او تاوان څخه د وطني امارت د کشرخیلو ویرول .
دمرتدو طالبانو کشران مخاطب کوم ! او ورته وایم زما داځوکربښې بغیر له تعصب څخه ولولئ نو ممکن دهدایت سبب مو شي، وما ذلک علی الله بعزیز او هغه داچې دطالب مشرانوله خوا څخه دکفارو سره دهغوی په منحرف او باطل دین دتلو خبره له مخکی څخه په قطر کې هوکې شوې ده، داچې نن ستاسې مشران دممبر په سر کله په أجرت اوپیسو باندې دزنا دحد د سقوط خبره کوي او کله دبازار او دوکان څخه دغلا حد په دې ساقطوي، چې داغیر محرز مال دی اوکله دکفارو دخواهش مطابق اعمال هغوی ته ددین په نوم تسلیموي او دا استقبال او احترام یې کوي، چې که هرڅه ددوی په مذهب او دین کی حلال وو نو مونږ وربانـدې تعرض نه کوو او امن یې ساتو.
نو اسلام وژنه خو یقیني ددوی په دې نجس او ناولي دین کې حلاله ده ،زنا خو بیخي لکه اوبه څښل داسې ضروري ګڼي، نو باید په دې پوه شئ، چې دانن یې چې اورئ، دا بل هیڅ نه دي مګرهاغه مادې دي، چې دوه کاله مخکې دامریکا دفوځي اډی قطر په دوحه کې د بندو دروازو او د زوړندو پردو شاته دملابرادر او ستانکزي سره دصلیبانو له خوا څخه دستخط شوي دي، چې نن یی نمبر په نمبر او وار په وار یوه ،یوه دمختلفو ځیرو او خولو څخه دفتوی قانون اوشرعي مسألې په نوم اورئ، نو که ته ځانته مسلمان وایې او ټوپک دې یقیني دې لپاره پورته کړی وي، چې زه دالله شریعت نافذوم او دالله لاره کې جهاد کوم نو ایا جهاد همداسې وي، شریعت همداسې وي، په ځان رحم وکړه ، دړوند تقلیدڅخه روڼ تحقیق ته واوړه او دخپل ارتداد څخه توبه وباسه ،ځکه نن چې دغه ستامشران دارتداد په ګدئ کیناستل، داستا په وجه ، نو که ته اوس هم ددوی سره ددوی په دې کردار متفق یې نو برخه دعذاب دې هم ورسره شریکه ده نو د"قوا أنفسكم وأهليكم نارا "ایت ته دې، دتوجو راړولو په وجه داخیرخواهي کوم چې عقل څخه کارواخله او لاژوندی یې په دې مرتد صف کی دې په ولاړه نظر ثاني وکړه، نو که انابت درکې وي، رب به ضرور درته هدایت وکړي.
نو باید پوه شې، چې دغه کفار چې په دومره کثرت سره تاسې ته راروان دي، چې فضا کې طیارو دلمر مخه دځمکی څخه نیولې ده، دا نور څوک نه دي، بلکې دا هغه حربي کفار او داسلام او مسلمانانو هغه نجس دشمنان دي، چې دسترګې دهر رپ او دبدن د هرې ساه سره داسلام اومسلمانانو خلاف سازشونه کوي، متل دی وایي ړوند څه غواړي؟ دوه سترګې .
نودوی څه غوښتل ؟ وفادار ،جواسیس، دلالان او کم کرایه اوکم مصرفه مزدوران ..چې کار ډیر کوي او ډوډوئ لږه خوري او هغه یې ونه موندل مګرطالبان اوطالبانو څه غوښتل دکابل ګدئ او کم أجرت ،ځکه امریکا او دهغې تحالفینو تېر داشرف غربي مرتد نظام ته په هغې کې صرف مرتدې ملي اردو ته دکال شپږ ٦ ملیارده ډالر ورکول ، نورو ادارو او ارګانونو ته چې څومره وو، هغه له اندازې څخه وتلي خبره وه، خوسره له دې کار یې داسې نه شو کولای لکه دطالب جان ..اوطالب جان(!) ته یی دادی په دوه کلونو کی چې ټول ډالرحساب کړی، نو یو نیم ملیارد هم نه راځي، خو کار یې ورته څومره وکړ، نو دومره ورته په شل کاله کی دکرزي مرتد او اشرف غني مرتد حکومت نه وو کړی ،وګورئ چې داسلامي دولت څومره مجاهدین دوی په بی رحمی سره شهیدان کړي، شبخوني چاپې خویې نړئ وینې، چې څومره واړه کوچنې ماشومان او باعفته موحدې تورسرې یې شهیدانې کړی، جیلونه یې دمؤمنو خویندو څخه ډک کړل ،هسی لږ تېر حکومت کې دخلافت دزندانیانو شمار وګوره او ورشه دې حکومت کې موحدین ورونه او خویندی وشماره او همدا دنړئ دملل ملحده خوف او خطر دی چې ددوی په اصطلاح داعش خورنه شي اوددې خطر څخه دحفاظت ذمه ورته طالب جان(!) وهلې ده او ورځ تربلې ورته ځان په دې کې وفادار ثابتوي، نو ظاهره ده چې کوم مزدور کار لږ کوي او تنخوا او خواړه زیات کوي، خلک یې شړي او پرځای یې داسې مزدور راولي چې دده په نسبت بادارته فائده رسان وي او دانه وو مګر طالبان ،نورحقیقت ټولې دنیا ته معلوم دی اوالله به دخپلو بنده ګانو ضرور مدد کوي، هیڅ کله به یې بی مرستې اوبی مدده پرینږدي . وَلَٰكِن لِّيَقْضِيَ اللَّهُ أَمْرًا كَانَ مَفْعُولًا لِّيَهْلِكَ مَنْ هَلَكَ عَن بَيِّنَةٍ وَيَحْيَىٰ مَنْ حَيَّ عَن بَيِّنَةٍ وَإِنَّ اللَّهَ لَسَمِيعٌ عَلِيمٌ
وبالله تعالی التوفیق وصلی الله تعالی علی خیر خلقه محمد وعلی اله وصحبه اجمعین

ډیر ژر ان شاءالله تعالی

ددې ګټه ور او خوندور کتاب په لوستو به تاسې په دې پوهه شئ
چې طالب مرتدین په څومره مکر په دوحه کې د ډیزاین شوې
دیموکراسۍ نوې بڼه په خلکو د اسلامي شریعت په نوم مني او له
خپلې خیټې او خواهش څخه ډکې فیصلې د الله احکام او حدود
ګڼي، ددې کتاب لوستل او تر نورو رسول مه هیروئ

# دالله حـدود او د طالبانو ډرامـــه

الحمد للــه رب العالميــن والعاقبة للمتقيــن والصلاة والسـلام علــى مــن بعـث بالسـيف رحمـة للعالميـن وعلـى آلــه وصحبــه أجمعيــن أمابعــد:

د مســلماني ټولنــې هــر کــشر مــشر نارينــه او زنانــه پــه دې خــبر دي چــې اللــه تبــارک وتعالــی پــه شرعــي نظــام کــې د خپــل لــوړ حکمــت د تقاضــا پــه بنــاء د زنــاکار دپــاره خپــل حــد او دغــل دپــاره خپــل حــد مقــرر کــړی دی، تــر دې چــې دغــه حــدود، قصــاص، د جزيې قانــون او کفــارو څخــه د بــراءت وغيــره قوانيــن د اســلامي نظــام ځانګــړې امتيــازات وګرځيــدل، او دا د يــو نظــام د پيژندنــې روښــانه معيارونــه وګرځيــدل.

د اللــه رســول صلــی اللــه عليــه وســلم دغــه حــدود عمــلاً نافــذ کــړي دي او لــه هغــه وروســته خلفــاء راشــدينو دغــه حــدود نافــذ کــړي دي چــې پــه تنفيــذ کــې يــې دهيڅ چــا پــروا نــه ده کــړی او نــه ددې پــه اړه دکــوم ملامتګــر دملامتۍ څخــه ويريدلــی دي. د صحيــح البخــاري پــه شــمول د احاديثــو زيــات شــمير کتابونــو کــې د عائشــې مــور رضِيَ اللَّــهُ عنْهــا څخــه روايــت دی، هغــه فرمايــي چــې قريــش د بنــو مخــزوم قبيلــې يــوې زنانــه پــه اړه ډيــر غمجــن شــول چــې هغــې غــلا کــړې وه نــو خپلــو کــې يــې وويــل چــې څــوک بــه د دې زنانــه پــه اړه رســول اللــه صلــی اللــه عليــه وســلم سره خــبره وکــړي ترڅــو هغــه ورتــه عفــوه وکــړي، نــو هغــو وويــل چــې پــه نبــي عليــه الســلام بانــدې دغــه جــرأت د رســولِ اللَّــه صَلــى اللَّــهُ عَلَيْــهِ محبــوب اســامه بــن زيــد پرتــه بــل څــوک نــشي کــولای، نــو هغــه ورسره خــبرې وکــړې، راوي وايــي: فَقَــالَ رَسُــولُ اللَّــهِ صَــلَّى اللَّــهُ عَلَيْــهِ وَسَــلَّمَ: " أَتَشْــفَعُ فِي حَــدٍّ مِــنْ حُــدُودِ اللَّــهِ ثُــمَّ قَــامَ فَاخْتَطَــبَ ثُــمَّ، قَــالَ : إِنَّمَــا أَهْلَــكَ الَّذِيــنَ قَبْلَكُــمْ أَنَّهُــمْ كَانُــوا إِذَا سَرَقَ فِيهِــمُ الشَّرِيــفُ تَرَكُــوهُ وَإِذَا سَرَقَ فِيهِــمُ الضَّعِيــفُ أَقَامُــوا عَلَيْــهِ الْحَــدَّ وَايْــمُ اللَّــهِ لَــوْ أَنَّ فَاطِمَــةَ بِنْــتَ مُحَمَّــدٍ سَرَقَــتْ لَقَطَعْــتُ يَدَهَــا.

(ژبــاړه) رســول اللــه صلــی اللــه عليــه وســلم (هغــه تــه) وفرمايــل: آيــا د اللــه د حــدودو څخــه يــو حــد پــه اړه مــا تــه ســفارش کــوې ؟!

بيــا پاڅيــدو او خطبــه يــې وکــړه او ويې فرمايــل: بــې شــکه هغــه خلــک چــې لــه تاســې څخــه مخکــې تېــر شــوي دي هغــوی ځکــه هــلاک شــوي وو چــې کلــه بــه پــه هغــوی کــې عزتمنــد کــس غــلا وکــړه هغــه بــه يــې پريښــوده او چــې کلــه بــه پــه کــې کمــزوري (غريب، بــې وســه، بــې واســطې، بــې منصبــه او لاچــاره) غــلا وکــړه نــو پــه هغــه بــه يــې حــد جــاري کاوه، خــو قســم پــه الله کــه چيــرې فاطمــه د محمــد [صلــی اللــه عليــه وســلم] لــور هــم غــلا وکــړي نــو خامخــا بــه يــې لاس ورپــرې کــړم.

نــو مســلمانانو ورونــو! د حــدودو تطبيــق بــاره کــې دشريعــت دســتر رهــبر، لاربشــود او پيغمــبر محمــد رســول اللــه صلــی اللــه عليــه وســلم عــزم وګــورئ او بــل اړخ تــه د افغانســتان پــه خــاوره د امريــکا لاس پوڅــي او ګوډاګــي تنظيــم، طالبانــو د اللــه د حــدودو پــورې خنــدا، ټوقــې، مســخرې او ډرامــې هــم وګــورئ!!

تاســې بــه خــبر شــوي ياســت چــې د لوګــر ولايــت پــه ورزشي لوبغــالي کــې مشرکــو طالبانــو پــه دولــس ۱۲ تنــه مجرمينــو بانــدې د امريکايــي طرحــې موافــق پــه نمايــشي ډول تعزيــري حدود جــاري کــړي دي !!! او هــر طالــب دا خــبر د افتخــار پــه موخــه پــه ټولنيــزو شــبکو کــې خپــروي، چــې هلــئ نــو مونــږ خــو پــه لوطيانــو، غلــو او نــورو مجرمانــو بانــدې شرعــي حــدود پلــي کــړل، خــو ډيــر د تعجــب مقــام و چــې کلــه خــبر شــو چــې لوطــي تــه يــې کــوړی(دُرې) ورکــړي دي!

خــو حقيقــت کــې طالبانــو د حــد پــه نــوم دا تعزيــري کــوړې هــم يــوازې د خپــل شرم پټولــو او احمقــو کشرانــو د دلاســه کولــو پــه پــآر رســنيزې کــړې چــې نتيجــه کــې يــې هغــه کشرخيلــو تــه روحيــه ورکــړې چــې ځــان مســلمان ،مســلمان او مجاهــد ،مجاهــد کــوي ،چــې مونــږ دلتــه شريعــت نافــذ کــړی او تاســې ديــو شرعــي نظــام نافذونکــي ســاتونکي او مجاهديــن ياســت چــې لوطــي تــه تعزيــر ورکــوي او نــوم پــرې د حــد ږدي !!

لومــړی خــو د هيــڅ مســلمان ذهــن پــدې نــه قانــع کيــږي چــې د دوی دې خــود ســاخته او خندونکــي کړنــو پــه پايلــه کــې د شريعــت حــدود دي تنفيــذ شــوي وي، ځکــه چــې اســلام کــې غــل تــه خپــل حــد دی او زنــا کار تــه خپــل، بيــا زنــاکار پــه دوه قســمه وي محصــن يعنــي نــکاح لرونکــې او غيــر محصــن او بــی نکاحــه مجــرد، دشرابي خپــل حــد وي، دســاحر خپــل، د لواطــت کونکــې خپــل حــد وي او د قطــاع الطريــق خپــل، نــو کــه هــر څــوک ددوی دغــه اعلاميــه وينــي او بيــا د دوی د حــدودو د تفصيــل پــه اړه معلومــات حاصلــوي نــو د خنــدا سره ، سره بــه ګوتــه پــه خولــه هــم حيــران پاتــې شي او بيــا بــه يــې ذهــن تــه صحيــح الهــام دا وشي چــې د دوی دغــه تعزيــری حــدود دا د الهــی شريعــت سره هيــڅ تعلــق نــه لــري، بلکــه دا دبين المللــل لخــوا ډيزايــن شــوی هغــه فاســد او کاســد شريعــت دی چــې دوی پــرې ناخــبره او بــې علمــه مســلمانان دوکــه کــوي، دا ســيناريو د امريکــې تــر ټولــو ســترې فوجــې اډې قطــر دوحــې د مــاډرن هوټلونــو پــه ســالونونو د بنــدو دراوزو پــردو شــاته د امريــکا او نړيوالــو اســتخباراتي ډاريکټرانــو او ليکوالانــو لــه لــورې ليــکل شــوې ، او دغــه ډرمــه بيــا طالــب ممثلينــو تــه ورســپارل شــوې چــې خلکــو تــه يــې ننــدارې تــه وړانــدې کــړي ، دا يــو مکملــه سلســله واره ډرامــه ده ، چــې لــه ډيــره وختــه يــې طالــب ممثلــين مختلفــې صحنــې لوبــوي او ننــدارې ته يــې وړانــدې کوي، کلــه پــه کــې طالــب ممثلــين د اســلام د فاتحانــو پــه حېــث صحنــې تــه راوړانــدې کيــږي ، کلــه بيــا د ترکــې او روســې پــه پلازمينــو کــې سره لــه يــو درځــن القابو ورکولــو او د اســلام پــه نــوم د طاغــوتي هيوادونــو پــه منــځ کــې د ســترو سياســونو او نــړۍ ماتونکــو اتلانــو پــه څېــر پــه دريــځ راښــکاره شي ، خــو ددې روانــې ډرامــې ځېنــې قســطونه داســې دي ، چــې طالــب ممثلــين پــه کــې د صريــح کفــر څرګندونــو تــه مجبوريږي نــو کلــه يــې چــې د شريعــت پــه نامــه خطــا کــړي کشرخيل اعــتراض وکــړي او يــا د خپــل هغــه خــرڅ شــوې شريعــت پوښــتنه وکــړي ، نــو بيــا د ډارمــې پــه ســناريو کــې داســې صحنــې هــم شــته چــې هغــه بايــد د شريعــت پــه نــوم د ځېنــو ننــدارو وړانــدې کــول دي ، لکــه د لوګــر پــه لوبغــالي کــې يــې چــې د حــدودو پــه نــوم پــه حــدودو کــوم رشــخند وواهــه ، نــو دا ټــول د روانــې ډرامــې بيلابيــل قســطونه دي ، دا پــه دوحــه کــې ډيزايــن شــوې هغــه جعلــي حــدود دي چــې پــه قــران او ســنت کــې کــوم اســاس نــه شــته ، چــې دوی ورتــه پــه يــوه اعلامــيّ کــې کلــه د تعزيــري ســزاګانو او کلــه بيــا د شرعــي حــدودو نــوم ورکــوي ، او پــه خپــل فکــر ځــان هــم لــه هغــه خلکــو لــه اعتراضــه ســاتي چــې ګنــې دا خــو حــدود نــه دي نــو که څــوک داســې انتقــاد کــوي نــو دوی بــه ورتــه وآيــي چــې مــوږ خــو تعزيــر يــاد کــړې او کــه يــې کشرخيــل څــه وايــي نــو دا احمقــان يــې حــدود څــه پيــژني نــو دوی بــه پــه اعلاميــه کــې د حــدودو پــه کلمــه ورتــه ګوتــه ږدي .

د افغانستان اسلامی امارت
دلوګر د رسنيو مرکز
شماره:۲۰۸

امارت اسلامی افغانستان
مرکز رسانه های لوگر
۱۴۴۴/۴/۲۸هـق

**په لوګر ولايت کې پر ۱۲ تنو مجرمينو باندې تعزيري حدود جاري شول**

نن د لوګر ولايت په ورزشي لوبغالي کې د لوګر ولايت د مرستيال والي الحاج مولوي عنايت‌الله شجاع، د لوګر ولايت ثلاثه محاکمو د مسؤولينو، د دولتي ادارو د مسؤولينو، قومي مشرانو او سلګونو تنو په شتون کې پر ۱۲ تنو مجرمينو باندې تعزيري حدود جاري شول.

غونډه د قاري ذاکرالله جنتي لخوا د قرآن عظيم‌الشان د څو مبارکو آيتونو په تلاوت سره پيل شوه.

ورپسې د لوګر ولايت د اطلاعاتو او فرهنګ رئيس قاضي رفيع الله صميم راغلی مسؤولينو، قومي مشروانو او ميلمنو ته ښه راغلاست وويل.

د لوګر د استناف محکمې د مدني ديوان رئيس مفتي ګل‌الرحمن آخندزاده د لوګر د محکمې په استازيتوب خبرې وکړې او ويې ويل، د خوښۍ خبره ده، چې په افغانستان کې له شلکلن اشغال وروسته حدود جاري کيږي.

هغه وويل، د حدود تطبيق او د شريعت پلي کول د شهيدانو له آرمانونو څخه وو.

هغه زياته کړه،اسلام د امن، وروړګلوی او عفې دين ده او څوک چې امن ته زيان رسوي الله ج هغه نه خوښوي.

د امربالمعروف او نهی عن المنکر د محتسبيونو آمر مولوي ابراهيم حقاني، د اسلامي احکامو او حدودو د جاري کولو په اړه په تفصيل سره خبرې وکړې.

د لوګر مرستيال والي الحاج مولوي عنايت الله شجاع په خپلو خبرو کې وويل، د اسلامي امارت هدف د اسلامي نظام ټينګښت او د شريعت پلي کول دي او همدا راز يې وويل چې اسلامي امارت د شريعت تطبيق ته ژمن دی.

د لوګر مرستيال والي وويل، د شريعت تطبيق د افغانستان د سترو ستونزو حل دی او شريعت بايد تطبيق شي.

په دې لوبو او ډارمو دوی په نورو خلکو هم د ځان په څېر د احمقانو فکر کې چې ګوندې ټول خلک به ددوی د کشرخیلو په څېر د ډوډۍ په ځای واښه خوري ، په دې ناکامه هڅه دوی دا کوشش کوي ترڅو خلکو ته دا باور ورکړي چې دوی ګني شريعت نافذ کړی او هيواد يې دار الاسلام ګرځيدلی او خلاف کول يې بغاوت حرام او ناجائز دي او ددې خاص وجه چې هر مؤمن په دې پوهيږي هغه دا ده چې دوی دا ګمان کوي چې مونږ به ددی خودساخته حدودو په تنفيذ يو خو خپل کشران په قرار کړو بل به داسلامي دولت او د اسلامي دولت د زمرو د ګذارونو او ورځ تربلې د زياتيدونکي نفوذ مخه ونيسو ، او هغوی ته به دا باور ورکړو چې مونږ دشريعت نافذونکي يو او د هغوی جګړه به غير مشروع جنګ وبولو!! چې دا ډيره دخندا خبره ده ځکه هغه به څنګه مسلمان وي چې ستاسې دې نام نهاد اسلامي او حقيقت کې سيکولر نظام شرعي او ستاسې واکمني دارالاسلام وګڼي ؟!

هغه به څنګه مسلمان وي ، دا هر څه يې په خپلو سترګو وليدل، چې له اشرف غني څخه امريکا حکومت واخست او تاسې ته يې حواله کړ، په رينجرو او ټانکونو يې سپاره کابل ته ورننه کړئ، هره اونۍ څلويښت ميليون ډالر درته راځي ، د نورو لسګونو صريحو اسلام ماتونکو کړنو او کفرونو په شمول مو استخباراتي مشران د امريکا په استخباراتي هډه قطر کې پټې ناستې کوي هغه ناستې چې تاسې ي په هيڅ صورت ښکاره کول نه خوښوئ ، او بيا هم تاسې مسلمان وګڼي ؟! آيا تاسې په نورو مسلمانانو باندې هم د ځان په څير د ړندو ګمان کړی، چې هغوی به تاسې سره دا خودساخته حدود چې شريعت کې يې څرک نه ليدل کيږي شرعي حدود وګڼي ؟! د اسلامي نظام او شرعي محمدي قانون نه باخبره هر مسلمان مونږ سره په دې کې اتفاق کوي چې که تاسې بالفرض شرعي حدود صحيح نافذ هم کړئ بيا هم تاسې مسلمانان نه ياست! او ددی ښکاره علت دا دی چې تاسې

د بين المللي وضعي قوانين او فرامين منئ !!

هر مسلمان ستاسې او د حربي کفارو ترمنځ خواږه او د اخلاص څخه ډک تعلقات او دوستانې او ستاسې ترمنځ راشه ، درشه پټ تړونونه او سره شريکې ګټې او شريک کارونه ګوري!

د الله د نظام په پآر جنګيدونکو مجاهدينو سره ستاسې سخته دښمني هم مسلمانانو وليده، هغه ستاسې دمسلمانانو مقابل کې د يهود نصارا او نورو کفارو سره معاونت کول يې هم وليدل!! ستاسې هغه کړنې يې هم وليدې چې د مجاهدينو ګزارونو څخه مو حربي کفار خوندي کول!! تاسې خو نړيوال کفار لکه روس، امريکا، چين، هند، اوزبکستان، پاکستان او د ايران مجوسي روافض وغيره او هر هغه کافر چې يو څه طمعه ترې لرئ خپل دوستان او ورونه وبلل !! تاسې خو د جزيې او وينځو غلامانو نظامونو څخه انکار کړی دی، تاسې خو د سايکس پيکو پولې منلو په ترڅ کې د الله واک بين الملل مشرانو کفارو لپاره تسليم کړ، تاسې خو هغه جهاد تعطيل کړ چې الله تبارک وتعالی او د هغه رسول صلی الله عليه وسلم يې په اړه تر قيامته د دوام خبر ورکړی دی نو غرض دا چې دا او دې ته ورته لسګونه نور صريح کفريات او نواقض دي چې د الله د کتاب او د رسول الله صلی الله عليه وسلم دصحيح ثابت شويو احاديثو او د مسلمانانو د اجماعي مسائلو تکذيب کوي. ترڅو چې تاسې کې يو ناقض هم پاتې وي نو له ځان څخه د ردت او کفر نوم نشئ لرې کولې، اسلام د اودس په څير په يو ناقض هم ماتيږي او که ډير نواقض هم مهاله ترسره شي خو اودس او اسلام پرې ماتيږي نو ترڅو چې تاسې د شرک ککړ څادرونه له خپل خيرنو ځانونو څخه نه وي ليرې کړي، تر هغه تاسې د اسلام په پاک نوم نشئ نومول کيدای.

اوس راځو او د الله په خاص فضل او توفيق سره دا ثابتوو چې دطالبانو دغه تعزيرات شرعي حدود او يا هم شرعي تعزيرات نه دي بلکه دا د مخلوق په نظام او قانون کې غوره شوی او اختيار شوي هغه مجازات دي چې دوی غواړي د دې په عملی کولو سره دوه ښکاره وکړي يو خپل هغه باداران خوشحاله کړي چې دوی ته د ډالرو کڅوړې راليږي او د هغوی په اقتصاد د دوی دغه ظاهر شاهي حکومت ولاړ دی او چليږي او بل دا چې ځان دهغه ملامتۍ څخه بچ کړي چې څوک ونه وايي چې تاسې ترننه چې دغه شرکي جنګ ته دجهاد او خودکوشو انتحاريانو ته مو چې داستشهاديانو او فدايانو نومونه ورکول او نن مو په نظام کې د لواطت او محصن زاني لپاره شرعي حدود نشته. خو حد ته هم حد ځکه وايي چې د دې په

وجه دغه مجرم بيا ځل ددغه کار څخه منع شي، او دغه ډول ددی حد په وجه هغه خلک هم د دی کار څخه منع شي او عبرت واخلي کوم چې ددغه حد تنفيذ ته حاضر شوي وي، دا د حد لغوي تعريف شو، اوس راځو اصطلاحي تعريف دحد ته، نو حد په اصطلاح کې ويل کيږي: "عقوبة مقدرة في الشرع لأجل حق الله تعالى" د الله تعالی د حق له امله د شريعت [معلومې] اندازې سزا ته ويل کيږي.

اوس راځو د اصطلاحي تعريف تفصيل ته، نو معنا دحد دا شوه چې دغه حدود د الله د حقوقو په وجه شريعت کې اندازه شوي دي ،نو تعريف کې دا خبره چې

دافغانستان اسلامي امارت
ستره محکمه
د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رياست
۱۴۴۴ / ۴ /۲۹

په لوګر کې د استيناف محکمې لخوا ۱٤ مجرمينو ته شرعي تعزيري سزا ورکړل شوه

نن چهارشنبه (۱۴۴۴/٤/۲۹) نېټه د لوګر د استيناف محکمې لخوا د پل علم ښار اړوند ورزشي سټډيوم کې ۱٤ مجرمينو ته د ولايتي اداري مسؤولينو، ديني علماوو، عامو خلکو او قومي مخورو په موجوديت کې د بېلابېلو جرمونو په خاطر تعزيري سزا ورکړل شوه.

په دې مناسبت جوړو شوو مراسمو کې د استيناف محکمې د مدني ديوان مفتي مولوي ګل الرحمن اخندزاده وويل، د اسلام مبارک دين د انساني ژوند ټولې برخې په مکمله توګه واضح کړې او کفار هېڅکله نه پرېږدي، چې د اسلام دين ټول احکام پلي شي او مسلمانان د امن په فضا کې د پوره اتفاق په چوکاټ کې خپل ژوند د اسلامي نظام تر سيوري لاندې تېر کړي.

همداراز د لوګر د استيناف محکمې د ديوان جزا رئيس او د استيناف محکمې سرپرست مولوي فضل الرحيم عابد وويل؛ د دغه مظلوم ملت او تېر شل کلن جهاد هيله همدغه شرعي نظام او د الله حکم جاري کول وو، چې نن الحمدلله د شرعي احکامو په نظر کې نيولو سره د مرکز او يو شمېر ولسواليو د محاکمو لخوا ١٤ تنه، چې په کې درې تنه زنانه هم شاملې دي د غلا، زنا او نورو فسادونو په تور د خلکو په موجوديت کې تعزيري سزا ويني او په درو وهل کيږي.

ښاغلي مولوي فضل الرحيم عابد زياته کړه، چې په دغه مجرمينو کې ځينو يې اقرار کړی او ځيني نورو باندې يې د تميز محکمې لخوا له تائيد وروسته دا پرېکړه صادره شوې ده.

بايد وويل شي؛ چې له تېرو شلو کلونو وروسته لومړی ځل دی، چې مجرمينو باندې په عام محضر کې د شرعي محکمې لخوا شرعي تعزيري سزا پلې کيږي.

Superme Court of Afghanistan Supermecourt.gov.af @supremeCourt_af

حدود داسي عقوبات دي، چې شريعت کې مقدر دي نو دي قيد سره تعزيرات خارج شو ځکه چې تعزير ته حد نه ويل کيږي، حد د سزا معلومي اندازې ته ويل کيدايشي او تعزير غير معلومي اندازې ته وايي. بله وجه دا ده چې دتعزير تعريف دحد دتعريف نه مختلف دی، تعزير په لغت کې دتفعيل له باب څخه مصدر دی او د تأديب په معنى سره راځي يعني بل ته ادب ورکول نو دي سره هم دوه مقصوده ترلاسه کيږي، يو دا چې همدې ګناه ګار او مجرم ته ادب ميلاو شي، بل هغه چا ته هم ادب ورکول مقصود دي چې دمجرم تعزير ته حاضر وي. والله اعلم. او په اصطلاح کې علماوو يې دا تعريف کړی لکه امام ماوردي رحمه الله په الأحكام السلطانية ص۲۳۶ کې فرمايي: التعزير: هو التأديب على ذنوب لم تشرع فيها الحدود. (ژباړه) تعزير دا ادب ورکول دي (يو چا ته) د هغو ګناهونو په وجه چې هغې کې حدود نه وي مشروع شوي.

علامه رملي فرمايي: التعزير: هو التأديب في كل معصية لله أو لآدمي لا حد لها ولا كفارة. (ژباړه) تعزير په هره ګناه کې ادب ورکولو ته وايي، برابره ده که دا د الله [په حق] کې وي او که د انسان، چې دغه ګناه لپاره هيڅ حد نه وي او نه يې هم کفاره وي. ابن قدامة رحمه الله هم فرمايي: التعزير: هو العقوبة المشروعة على جناية لا حد فيها. (ژباړه) تعزير يو مشروعه سزا ده چې دجرم په وجه ورکول کيږي، چې هيڅ اندازه يې معلومه نشته.

حنفي علماء کرامو کې ابن الهمام هم دغه تعريف کړی هغه وايي: التعزير: هو تأديب دون الحد. (ژباړه) تعزير د حد پرته ادب ورکول دي. [شرح فتح القدير۵/۱۱۲ داتعريف جرجانى په التعريفات ص/۵۵ کې هم کړی].

نو ددې بحث نه معلومه شوه چې تعزير جدا او حد جدا شی دی ځکه تعزير په هغو ګناهونو او جرمونو کې ورکول کيږي، چې هغې کې شريعت حد نه وي مقرر کړی او حد هغه جرم او ګناهونو کې جاري کيږي چې هغې کې شريعت تعزير نه وي مقرر کړی ، نو اوس دطالبانو دي دجل منافقت او ابليسي تلبيس ته وګورئ چې په اعلاميه کې په سور ليک دا عنوان نشروي چې په لوګر ولايت کې په ۱۲ تنو مجرمينو باندې تعزيري حدود جاري شول !!! نو اوس بايد هر لوستونکي په دې پوهه شوی وي چې تعزير جدا شي دی او حد جدا نو ددوی دا خبره چې تعزيري حدود جاری شول، دې باندې ساده ناخبره مسلمانان دوکه کوي او خپل جاهل بلکه اجهل جنګيدونکي قراروي بيا ددوی دشرم دپاسه شرم او دعار د پاسه عار او د عيب او بدبختۍ دپاسه عيب او بدبختي وګورئ چې ددوی او ددوی د همصفته رسنيو د راپورونو له مخې په دې کسانو کې چې دوی پرې محکمه کړی زنا کار سارقين او حتی لواطت کونکي هم وو !! نو بيا پوښتنه کوو چې آيا زنا کې شريعت حد نه دی مقرر کړی؟! آيا غلا کې شريعت حد نه دی مقرر کړی ؟! آيا لواطت کې شريعت حد نه دی مقرر کړی؟! نو که شريعت په دې جرائمو حدود مقرر کړی وي نو بيا تاسي سارقين او زناة يو ويشت ۲۱ ، يوشت ۲۱ کوړی( دُرې) او لواطت کار نهه ديرش ۳۹ کوړی( دُرې) ولې او په کوم دليل وهلي دي ؟

نو اوس مجبور شو چې دا پوښتنه ترې وکړو چې دا شريعت د کومې ملائکې په واسطه په کوم نبي نازل شوی چې د زنا کار حد په کې يو ويشت ۲۱ کوړې( دُرې) ، دغل حد يوويشت ۲۱ کوړې ( دُرې) او د لواطت کار حد په کې نهه ديرش ۳۹ کوړې( دُرې) دی، ځکه تاسي خپله د حد نوم ورکړی نو حتماً شرايط به پوره شوي وي ، چې حد مو ورته ويلي دی، اسلام کې خو دا حد نه شته بلکه دعيسى او د موسى عليهما السلام په شريعتونو کې هم داسي حدود نه دي تير شوي، اخر دا دکوم پيغمبر دين دی ؟!

## (کسر اللاة والمناة)
## (ببيان معرفة حد الزناة)

مسلمانان دي پدې خبر وي چې مونږ ځکه داسي وايو چې طالبان دعوه کوي چې مونږ شرعي نظام نافذ کړی نو دا خو بشکرور دروغ دي ، ځکه محمدي شريعت کې د هر حد متعلق وضاحت موجود دی که يو سړی او ښځه زنا وکړي نعوذ بالله او څلور ګواهان نارينه مسلمانان عاقلان ددوی دزنا ګواهي ورکړي چې دغه ګواهان په دې اقرار کې ريښتوني وي او شرعي محکمه د هغوی تصديق وکړي نو بيا به کتلي شي که دغه زانيان غير محصن (يعنی مجرد) وي نو بيا به هريو ته له دوی څخه سل ۱۰۰ سل کوړی ورکولی شي. دليل د الله تبارك وتعالى دا قول په سورة النور ۲ آيت کريمه کې فرمايي:

الزَّانِيَةُ وَالزَّانِي فَاجْلِدُوا كُلَّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ وَلَا تَأْخُذْكُم بِهِمَا رَأْفَةٌ فِي دِينِ اللَّهِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَلْيَشْهَدْ عَذَابَهُمَا طَائِفَةٌ مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ.

(ژباړه) زنا کاره ښځه او زنا کار سړی، له دواړو څخه هر يو سل ،سل دُرې ووهئ. او ودې نه نيسي تاسي لره نرمي کول پر دوی باندې په دين د الله کې، که تاسي پر الله تعالىٰ او د اخرت په ورځ باندې ايمان لرئ. همدا راز هغو ته د سزا ورکولو په وخت کښې دي د مؤمنانو يوه ډله موجوده وي.

داشو عزتمندو دقران څخه د هغه زاني حد چې غير محصن وي چې هغه سل دُرې دی.

او هغه زانيان چې هغوی واده کړی وي ، نو د هغوی حد رجم دی، دې باندې هم ډير دلائل موجود دي خو يو دليل دوه به ذکر کړو صحيح مسلم کې په کتاب الحدود باب حد الزنا کې په ۳۲۰۵ رقم باندې دعبادَة بْنِ الصَّامِتِ رضي الله عنه څخه روايت دی، دا فرمايي رسول اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: " خُذُوا عَنِّي خُذُوا عَنِّي ، قَدْ جَعَلَ اللَّهُ لَهُنَّ سَبِيلًا الْبِكْرُ بِالْبِكْرِ جَلْدُ مِائَةٍ ، وَنَفْيُ سَنَةٍ ، وَالثَّيِّبُ بِالثَّيِّبِ جَلْدُ مِائَةٍ وَالرَّجْمُ

(ژباړه) له ما نه زده کړئ له مانه زده کړئ. يقيناًالله تبارك وتعالى هغوی (زنانه وو) ته لاره جوړه کړه، بې واده سړی که بې واده (زنانه سره زنا وکړه نو) سل کوړی به ورکولی شي او يو کال به د علاقې څخه شړلی شي او

د اسلامي خلافت تمکين ساحه کې د اسلامي حدودو تطبيق يوه بيلګه

که واده کړی واده کړي سره زنا وکړي ،نو هغوی ته سل کوړې ورکول او رجم کول دي.

نو دې حدیث څخه صفا معلومه شوه چې دواده کړی زانیانو حد رجم او د نا واده کړو زانیانو حد سل کوړې وهل او یو کال دعلاقې نه شړل دي، البته دې حدیث کې دواده کړو زانیانو دپاره د رجم سره کوړی هم ذکر دي ،خو اهل علم فرمایي چې ددوی په حق کې رجم باقي دی او کوړې دُرې ورکول منسوخ دي او دوی دلیل دا نیسي چې نبي صلی الله علیه وسلم ماعز رضی الله عنه رجم کړو خو په کوړو دُرو یې ونه وهلو، دغه ډول غامدیه زنانه جهینه قبیلې والا زنانه، بل یهودي سړي او یهودی ښځې چې مدینه کې زنا کړې وه ،هغوی ټول نبي صلی الله علیه وسلم رجم کړي وو، کوړې دُرې یې نه وې ورکړی او همدا د امام شافعي رحمه الله په شمول دجمهورو مسلمانانو قول او عقیده ده خو بعضې اهل علم داسې هم شته چې هغوی واده کړي ته اول دسلو ۱۰۰ کوړو دُرو او بیا درجم ورکولو قول کوي لکه دا د احمد بن حنبل، اسحاق بن راهویه، امام داود، امام ابن المنذر رحمهم الله قول دی ،چې دوی استدلال ددې مذکور حدیث نه کوي، کوم چې مسلم روایت کړی بل دعلي رضی الله عنه د هغه واقعې نه دلیل نیسي چې هغه یوه واده کړې زنانه (شراحه نامې) چې دزنا اقرار یې وکړ، دپنځ شنبې په ورځ سل کوړې دُرې ووهله او دجمعې په ورځ یې رجم کړه او وې فرمایل:

رَجَمْتُهَا بِسُنَّةِ رَسُولِ اللَّهِ وجلدتها بِكِتَابِ اللَّهِ.

ژباړه: دا مې د رسول الله د سنت په دلیل رجم کړه او د الله دکتاب په دلیل مې کوړې دُرې ورکړې کما في فتح الباري ۱۲/۱۱۹.

الغرض ددی حدیث څخه معلومه شوه چې واده کړي زانیان به رجم کیدایشي او ناواده کړي زانیان به سل کوړې دُرې وهلی شي او یو کال دپاره به دعلاقې څخه شړلی شي دا چې د واده کړی زنا کونکو دپاره حد په شریعت کې رجم دی نو په دی دا حدیث هم وګورئ، صحیح البخاری کې په نمبر ۶۳۴۵ باندې د ابو هریْرَةَ رَضي الله عَنه څخه روایت موجود دی، هغه فرمایي:

أَتَى رَجُلٌ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ فِي الْمَسْجِدِ فَنَادَاهُ ، فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ : إِنِّي زَنَيْتُ ، فَأَعْرَضَ عَنْهُ ، حَتَّى رَدَّدَ عَلَيْهِ أَرْبَعَ مَرَّاتٍ ، فَلَمَّا شَهِدَ عَلَى نَفْسِهِ أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ ، دَعَاهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، فَقَالَ أَبِكَ جُنُونٌ ؟ قَالَ : لَا ، قَالَ : فَهَلْ أَحْصَنْتَ ؟ قَالَ : نَعَمْ ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : اذْهَبُوا بِهِ فَارْجُمُوهُ ؟ " قَالَ ابْنُ شِهَابٍ : فَأَخْبَرَنِي مَنْ سَمِعَ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ ، قَالَ : فَكُنْتُ فِيمَنْ رَجَمَهُ ، فَرَجَمْنَاهُ بِالْمُصَلَّى ، فَلَمَّا أَذْلَقَتْهُ الْحِجَارَةُ هَرَبَ ، فَأَدْرَكْنَاهُ بِالْحَرَّةِ ، فَرَجَمْنَاهُ.

(ژباړه) چې یو سړی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی په داسې حال کې چې نبي صلی الله علیه وسلم په مسجد کې ناست وو نو دې سړي هغه ته غږ وکړ چې ای دالله رسوله ما زنا کړې ده ،نو نبي صلی الله علیه وسلم دهغه څخه مخ وګرځاوه تر دې چې هغه دغه خبره یې نبي صلی الله علیه وسلم ته څلور ځلې وکړه نو کله چې هغه په ځان دغه ګواهي څلور ځله وکړه نو نبي صلی الله علیه وسلم راوغوښته او ورته یې وفرمایل : آیا ته لیونی یې ؟ هغه وفرمایل: نه. بیا ورته (نبي صلی الله علیه وسلم) وفرمایل: ایا تا واده کړی دی هغه ورته وفرمایل: هو نو نبي صلی الله علیه وسلم وفرمایل: دا بوزئ او رجم یې کړئ. ابن شهاب فرمایي: ما ته خبر راکړی هغه چا چې هغه ته جابر رضی الله عنه خبر ورکړی و جابر وفرمایل چې زه هم دهغه چا څخه وم چې دا مو رجم کړ، دا مونږ په عیدګاه کې رجم کړ، نو چې کله کاڼو ودرداوه نو وتښتیده نو مونږ بیا په خوړ کې راحصار کړ او رجم مو کړ،

دا حدیث دصحیح البخاری څخه بغیر په صحیح مسلم ،سنن ابي داود ،دارمي او مسند احمد کې هم موجود دی،

بلکه دا هم مه هیروئ چې د واده کړي زنا کونکي نارینه او زنانه و، درجم په باره کې قران هم نازل شوی چې د ایت الفاظ او قراءات او تلاوت منسوخ شوی او حکم یې باقي دی، دې باره کې به عمر رضي الله عنه فرمایل: والله لولا أن يقول الناس: إن عمر زاد في كتاب الله لكتبتها. ولقد نزلت وكتبناها.

(ژباړه)قسم په الله که چرته خلکو دا نه ویلی چې عمر دالله په کتاب کې زیادت وکړ نو ما به دا دالله په کتاب کې لیکلی وی ،ځکه دا یقیني نازل شوی وو او مونږ ځانونو سره لیکلی هم وو. [تفسير يحيى بن سلام ۱/۴۲۵]

په سنن ابن ماجه کې په کتاب الحدود باب حد الزنا کي په نمبر ۲۵۴۵ باندی د ابْنِ عَبَّاسٍ رضی الله عنهما څخه نقل دي هغه فرمایي چې عمر رضی الله عنه وفرمایل: لَقَدْ خَشِيتُ أَنْ يَطُولَ بِالنَّاسِ زَمَانٌ حَتَّى يَقُولَ قَائِلٌ : مَا أَجِدُ الرَّجْمَ فِي كِتَابِ اللَّهِ فَيَضِلُّوا بِتَرْكِ فَرِيضَةٍ مِنْ فَرَائِضِ اللَّهِ أَلَا وَإِنَّ الرَّجْمَ حَقٌّ إِذَا أُحْصِنَ الرَّجُلُ وَقَامَتِ الْبَيِّنَةُ أَوْ كَانَ حَمْلٌ أَوِ اعْتِرَافٌ وَقَدْ قَرَأْتُهَا الشَّيْخُ وَالشَّيْخَةُ إِذَا زَنَيَا فَارْجُمُوهُمَا الْبَتَّةَ رَجَمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَجَمْنَا بَعْدَهُ

(ژباړه) زه یقیني ویریدم له دې څخه چې خلکو باندې به ډیر وخت تیر شي تردې چې یو ویونکی به دا وایي چې زه خو رجم (د زنا کونکي) دپاره دالله په کتاب کې نه وینم (نو رجم به پریږدي) نو ګمراه به شي په سبب د پریښودلو دفریضی د فرائضو دالله څخه.

خبردار ګورئ رجم حق دی چې کله سړي واده کړی وي او دلیل پرې قائم شي ( یاني ګواهان چې ده زنا کړې) او یا حمل ښکاره شي او یا (یو کس په ځان) اقرار وکړي (نو رجم کیدلی به شي) او حال دا چې یقیني ما (دا ایت قران کې) لوستلی چې واده کړی سړي او واده کړې ښځې چې زنا وکړه نو خامخا یې رجم کړئ ، رسول الله صلی الله علیه وسلم هم دغه رجم کړی او مونږ هم له هغه وروسته دغه رجم عملي کړی دی.

نو دا شو مسلمانانو ورونو دزنا دحد متعلق دشریعت محمدي واضح او شفاف دلائل چې دا ترینه لکه دلمر داسې روښانه کیږي:

(۱) کتاب اوسنت دواړه دلیل دی چې که غیر واده کړي زنا وکړه نو دا به سل ۱۰۰ کوړې دُرې وهلی شي.

(۲) صحیح حدیث کې درسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ثابته شوه چې که نا واده کړی زنا وکړي سل ۱۰۰ کوړې دُرې به هم خوري او د یو کال دپاره به دخپل کلي او منطقې څخه شړل کیږي.

(۳) د قران او حدیث دواړو څخه ثابته شوه چې که محصن یعنی واده لرونکي انسان زنا وکړي، هغه به رجم کیدلای شي.

(۴) دا حدود خپله الله او رسول بنده ګانو ته دامر په صیغه دفرض په مرتبه کې ورکړي دي.

(۵) که څوک د قدرت لرلو څخه وروسته د حد نافذول پریږدي نو ده د الله فریضه پریښوده او دا کس په دې سره ګمراه شو، دا د کتاب او سنت د دلائلو څخه دزنا کونکي دحد باره کې اخذ شوي فوائد او احکام شو. خو اوس راشئ او د وطني مرتدو طالبانو دلوګر دمحکمې دحدودو تنفیذ وګورئ دوی زنا کونکو ته یو ویشت ۲۱ کوړې دُرې ورکړي او بس.

حال دا چې تاسې پورته دحد تعریف کې دا ولوستل چې حد په شریعت کې مقدر او معلومې سزا ته ویل کیږي، زیادت او کمی دواړه په کې نه شي کیدای، که یو حاکم مثلاً غیر محصن (نا واده کړی) زاني ته د سلو نه یوه کوړه دُره زیاته ورکړي او دا کار دحد د برخې څخه وګرځوي دا په دې کار باندې کافر ګرځي، علت دا ده چې ده په الله تبارک وتعالی دروغ وویل او دالله دکتاب تکذیب یې وکړ. دغه ډول که د سلو کوړو نه یوه هم کمه ورکړي نو ده حد نافذ نه کړ، دا به دالله حد نه شي حسابیدای او که د کوړو پرځای یې دلاس او پښو نه یو کال رازوړند کړي، بیا هم دا حد نه حسابیږي او که لس کاله یې زنداني کړي ، بیا هم دا حد نه حسابیږي!! دغه ډول که یو سړی محصن زانیان پرته له رجم څخه یې په نورو طریقو قتل کړي نو دا بیا هم حد نه ګڼل کیږي ، ځکه چې حد دې ته وایي چې اصل او کیفیت به یې معلوم وي ، نو که درجم نه بغیر قتل شي دا به حد نه شي ګڼلی نو

مؤمن او ځان ته مسلمان ویونکې دي په دې پوهه شي چې دې حد ته الله تبارک وتعالی دین ویلی دی، هغه فرمايي: وَلَا تَأْخُذْكُم بِهِمَا رَأْفَةٌ فِي دِينِ اللَّهِ.

(ژباړه) او نه دې نیسي تاسې لره په هغوی (زنا کونکي سړي او ښځې باندې) نرمي کول په دین دالله کې.

نو وګورئ! د زانیانو لپاره دا مقرر حد د الله دین دی، دې کې زیاتی او کمی دالله په دین کې زیاتی او کمی حسابیږي ، چې الله او د هغه رسول او مؤمنانو ته هیڅکله د منلو وړ نه دی!! نو اوس دې د وطني مرتدو طالبانو څخه عوام مسلمانان وپوښتي چې د "تعزیري حدودو " څخه ستاسې څه مطلب دی؟

تعزیر او حد دا دواړه جدا جدا احکام دي تاسې یې څنګه یو ځای کوئ او له دې څخه مو څه مراد دی او بیا دا چې دغه زانیانو واده کړی و که نا واده ؟ خو که دې دواړو کې هر یو و، نو تاسې ورته یو ویشت کوړې دُرې دکوم ایت یا د کوم حدیث په دلیل ورکړې ؟!

څه که کتاب او سنت څخه درسره دلیل نه وي، نو دا راته ووایئ چې د کوم صحابي دقول څخه په دې باندې حجت نیونکي یاست، که دا هم نه وي نو کوم تابعي په دې فتوی ورکړې، په مشهورو څلورو امامانو کې چا په دې قول کړی دی او که بالفرض داسې څوک پیدا هم شي چې دا کار جایز وګڼي نو ایا دا به دکتاب اوسنت مخالفت نه وي ؟!!

## (السيف البارق على من عطل عقوبة اللص والسارق)

[غلیدونکي توره دهغه چا په څټ چې هغه دغل سزا معطلوي]

دغه ډول که دغل سزا ته مو پام وکړو، نو هغې کې مو هم سر تر پایه د شریعت مخالفت کړی ، ځکه شریعت کې خو هم دغل سزا په قران او حدیث دواړو کې بیان شوی، الله تبارک وتعالی په سُورَةِ المَائِدَة ۳۸ نمبر ایت کریمه کې فرمايي: وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوا أَيْدِيَهُمَا جَزَاءً بِمَا كَسَبَا نَكَالًا مِّنَ اللَّهِ ۗ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ(ژباړه)

ژباړه: او غل، که نر وي که ښځه، د دواړو لاسونه پرې کړئ، دا د هغو د خپلې کړني بدله او د الله له لوري د عبرت وړ سزا ده، د الله قدرت پر ټولو غالب دی او هغه د پوهې او حکمت څښتن دی.

عزتمندو! دا وګورئ، الله متعال دغل دپاره تر قیامته یو مستقل قانون ذکر کړی چې دیته حد السرقة ویلی شي دلته قران کې دغه دمطلق غلا سره دلاس قطع کول ذهن ته راځي ، خو داسې نه ده بلکه ددی مطلق تقیید رسول الله صلی الله علیه وسلم په صحیح احادیثو کې کړی دی.

صحیح البخاري کې په نمبر ۶۷۹۰ باندې دعائشې رضی الله عنها څخه روایت نقل دی، فرمايي چې نبي صلی الله علیه وسلم وفرمایل: تُقْطَعُ يَدُ السَّارِقِ فِي رُبُعِ دِينَارٍ.

(ژباړه) دغل لاس به د دینار د څلورمې حصې (دقیمت په غلا کولو) قطع کیدلی شي.

دې باب کې نور هم ډیر زیات احادیث دي چې دغه موقف ثابتوي چې دا یو هم کفایت کوي.

دینار د سرو زرو سیکې ته ویلی شي، چې دموجوده افغانیو په حساب سره د ربع دینار نه تقریبا څلورنیم زره افغانۍ جوړیږي، نو دا دی د څه د پاسه کال وشو ، هره ورځ دطالبانو سایټونه دا اعلامیه خپروي چې مونږ دومره غله ونیول او دومره مو ونیول خو تر اوسه دوی په یو غل باندې هم د الله تبارک وتعالی حد نافذ نه کړ. بس د لاس پرې کولو حد یې ۲۱ کوړو دُرو ته واړوه.

سبحان الله آیا دا شرعي نظام دی ؟ اسلامي نظام په اړه خو ابتدا کې مونږ ذکر کړل چې درسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې دمخزومیه قبیلې زنانه غلا کړې وه، اسامه بن زید دسفارش دپاره رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورغې، او نبي صلی الله علیه وسلم ممبر ته پورته کیږي او فرمايي: وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ، لَوْ أَنَّ فَاطِمَةَ بِنْتَ مُحَمَّدٍ سَرَقَتْ لقطعت يدها.

(ژباړه) قسم په هغه ذات چې دمحمد روح دهغه په واک کې دی ، که چرته فاطمه د محمد لور غلا وکړي نو خامخا به ترینه لاس قطع کوم. په ابن ماجه مسند احمد سنن الکبري مؤطا امام مالك وغیره کتابونو کې دا حدیث موجود دی چې صفوان رضي الله عنه راځي، مسجد کې اوده کیږي، خپل څادر سر ته ږدي، یو غل راځي او څادر یې له سر څخه راکاږي، دا پرې راویښیږي، غل لاس نیولی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راولي، رسول الله صلی الله علیه وسلم دغل دلاس پرې کولو امر کوي، نو صفوان رضی الله عنه ورته فرمايي: يَا رَسُولَ اللَّهِ لَمْ أُرِدْ هَذَا، رِدَائِي عَلَيْهِ صَدَقَةٌ.

اې دالله رسوله زما خو د ده د راوستو نه دا اراده نه وه (چې ته به تری لاس پرې کوې) زما دا څادر دی ده ته صدقه شي (خو دا پریږده) نو رسُول اللَّهِ صَلَى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَم ورته وفرمایل: "فهلا قبل أنْ تأتيني به" دا دی ولې ورته مخکې له دینه چې ماته دی راوسته (نه صدقه کاوه). بحث نه اوږدوو مسلمانانو ! تاسې دجناب رسول اکرم او نبي محترم صلی الله علیه وسلم دحد دتنفیذ په اړه جدیت او قاطعیت وګورئ او بل طرف د مرتدو طالبانو ډرامې ته فکر وکړئ، نو انسان حیران شي چې دا کاني خو والله که بې عقله ماشومان هم وکړي! اول خو ددوی دبلاعمه صفته بعضو ملایانو دناکاره او خطاء فتوو په اعلانولو سره دټول افغانستان دغلو نه حد ساقط کړ، په دې بهانه چې دا مالونه محرز نه دي.

انا لله وانا اليه راجعون.

چې ددی کاسدې شبهې او فاسد فتوی جواب زمونږ یو فاضل ورور په ډیر بهترین علمي انداز کې کړی چې د "الدلائل البيضاء للرد على من عطل حدود العهر والزناء " په نوم کتاب العزائم خپرندویه اداري خپور کړې ، اړینه ده چې چې اړوند مسائل په یاد کې کتاب کې ولولئ، جزا الله مصنفه ومن أعانه فيه خير الجزاء في الدارين، یاد مضمون د خراسان غږ مجلې په تیره دیارلسمه ګڼه کې هم لوستلای شئ .

نو راځم او له دې مرتدو طالبانو بیا پوښتم چې ایا دا تر اوسه چې دا په سلګونو غله تاسې ونیول نو ریښتیا هم په دوی کې یو هم محرز مال نه دی پټ کړی ؟!

ایا ریښتیا هم دوی تراوسه دومره مال نه دی پټ کړی چې هغه نصاب ته ورسیږي، چې لاس پرې قطع کیږي ؟!

ایا ریښتیا دې غلو کې یو غل هم داسې نشته چې د هغه وظیفه او عمل همدا غلا وي ؟!

نو که تاسې وایاست چې هو ترننه مو داسې یو غل نه دی نیولی نو دا جواب مو دعقل والاو په نزد مردود دی، تفصیل ته یې ضرورت نه محسوسوم او که نیولی مو وي نو ولې پرې حد نه نافذوئ ؟!

او که یو ویشت کوړو دُرو ته دحد نوم ورکوئ نو بیا خو صفا معلومه شوه چې دا دملحده و، شریعت کیدای شي خو د الله او د هغه د رالیږلي پیغمبر شریعت هرګز نه دی !!

### (الإماطة في تنفيذ عقوبة اللواطة)
### (دلواطت حد نافذولو سره د ناولتيا لرې کول )

او بيا ډيره عجيبه دا چې په دې مجرمينو کې شرکې امارت محکمې لواطت کارو ته دنورو په نسبت زياته سزا تعين کړی چې هغه ۳۹ کوړې دُرې ده . رسول الله صلی الله عليه وسلم د داسې عمل د فاعل او مفعول دواړو ډپاره قتل متعين کړی ، چې که په هره طريقه وي بايد دا قتل شي.

سنن ابن ماجه کې په ۲۵۶۱ نمبر باندې صحيح حديث موجود دی.

رسول اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايې: «مَنْ وَجَدْتُمُوهُ يَعْمَلُ عَمَلَ قَوْمِ لُوطٍ، فَاقْتُلُوا الفاعل والمفعول بِهِ».

(ژباړه) څوک چې تاسې مونده کړل چې هغوی دقوم لوط دعمل غونډې عمل کوي نو کونکی او چا سره چې کيږي (دواړه) قتل کړئ.

دا هم ښکاره دليل دی او ښکاره فيصله ده چې دوی به په هرحال کې قتل کيدای شي، خو که څلور عادل مومنان ګواهان په دوی ګواهي ورکړي يا دوی خپله ددی اقرار وکړي.

خو د طالبانو اعلاميه کې په څرګند ډول دا ليکل شوي چې بعضو پکې اقرارونه هم کړي دي. خو بيا هم دوی پرې شرعي حدود نه تطبيقوي.

لواطت کې د واده لرونکي او بې واده دواړو يو حکم دی، امام مَالِك رحمه الله د ابْن شِهَاب زهري نه پوښتنه وکړه دهغه کس په اړه چې دلوط دقوم عمل کوي فرمايي چې ابن شهاب راته وفرمايل: عَلَيْهِ الرَّجْمُ. أَحْصَنَ أَوْ لَمْ يُحْصِنْ

(ژباړه) په ده باندې رجم دی، واده يې وي او که نه، نو امام مالک رحمه فرمايي: وعلى ذلك رأيي. او په دې زما فتوی هم ده.

د امام مالك رحمه الله دفتوی تفصيل داسې منقول دی فرمايي: يرجم الفاعل والمفعول به، أحصنا أو لم يحصنا، إذا شهد عليهما أربعة شهداء عدول.

(ژباړه) فاعل او مفعول به دواړه رجم کيدلی شي، واده کړی وی که بې واده وي خو چې کله څلور عادلان ګواهان په هغوی ګواهي ورکړي.

موطأ امام مالك للأعظمي. ۵/۱۲۰۵

دغه ډول دويم حديث کې ابو هُرَيْرَة رضی الله عنه دنبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه د هغه کس په اړه نقل کړي چې هغه دلوط دقوم عمل کوي، فرمايي: چې نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: «ارْجُمُوا الأَعْلَى وَالأَسْفَلَ، ارْجُمُوهُمَا جَمِيعًا» ژباړه: لاندې او باندې دواړه رجم کړئ، دواړه يو ځای رجم کړئ. [سنن ابن ماجه رقم الحديث ۲۵۶۲] نو دې په اړه دقتل او د رجم دواړه صيغې درسول الله صلی الله عليه وسلم څخه نقل دي نو ځکه ټول صحابه په دی متفق وو چې لواطت کار به قتليدلی شي، خو دومره ده چې په کيفيت دقتل کې يې جدا جدا نظريات دي، چې ايا دا به مطلقاً قتليدای شي او که نه دده قتل به د زاني دقتل غونډې وي.

علامه ابن القيم رحمه الله فرمايي: أطبق أصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم على قتله لم يختلف فيه منهم رجلان، وإنما اختلفت أقوالهم في صفة قتله. (ژباړه) د رسول الله صلی الله عليه وسلم ټول صحابه دلواطت کار په قتل متفق وو، په دوی کې دوه کسانو هم اختلاف نه دی کړی، البته اختلاف ددوی په اقوالو کې د قتل په صفت کې دی. "

الداء والدواء ص۲۴۹

لهذا دصحابه کرامو اجتهادات دلواطت کار دقتل باره کې مختلف دي:

(۱ قول) دا به اور کې سوزولی شي ځکه ابوبکر صديق، علی بن ابي طالب، عبد الله بن الزبير رضی الله عنهم او هشام بن عبد الملك رحمه الله دی څلور واړو خلفاو لوطي په اور کې سوزولی دی.

روضة المحبين ۳۶۹

(۲ قول) دا به په کاڼو رجم کيدايشي او دا د عمر رضي الله عنه او د علي رضي الله عنه او د ابن عباس رضي الله عنهما او د يوې ډلې دصحابه کرامو قول دی. وګورئ السنن الکبری ۸/۲۳۲ تلخيص الحبير ۴/۶۱.

د يادونې وړ ده چې دعلي رضی الله عنه نه دوه قوله نقل دي: هغه لوطي سوزلی هم دی او بل لوطي يې رجم کړی هم دی. کما في روضة المحبين ص ۳۶۳ .

(۳ قول) دا به په ښار کې د اوچت ځای څخه راغورځول کيږي او بيا به په کاڼو ويشتل کيږي. او دا هم دابو بکر او ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل دي. وګورئ زادالمعاد ۳/۲۰۹ الداء والدواء ص۲۴۹

(۴ قول) ده باندې به ديوال راغورځولی شي او دا به دهغه څخه لاندې کيدای شي او دا قول هم دعمر ، عثمان او علي رضي الله عنهم أجمعين نه نقل دی. نيل الأوطار ۷/۱۲۴

(۵ قول) د ده حد د زاني حد دی، که واده لرونکی وي او که بې واده وي. او دا د ابن زبير رضی الله عنهما فتوی او قول دی. روضة المحبين ص۳۶۳ السنن الکبری ۸/۲۲۳.

علی کل حال مسلمانانو تاسې ته داحاديثو او دصحابه کرامو داقوالو څخه معلومه شوه چې لواطت کار هم څه تعزير نه بلکه شريعت کې حد لري او هغه حد نه دی مګر قتل، البته کيفيت يې ددې ذکر شوو اقسامو څخه معلوميږي چې هغه د وخت حاکم پورې تعلق لري ،چې د وخت او حال موافق چې کوم کې ډير عبرت وو، هماغه دې عملي کړي نو اوس به د مرتدو طالبانو نه وپوښتو چې دشريعت په کوم کتاب کې يې داسې ليکلي چې لوطي ته ۳۹ کوړې دُرې ورکړئ او بس. الله اکبر بيا وايو دا کوم دين دی چې تاس يې نافذول غواړئ ؟

او عجيبه لا دا چې دا غټ ځتې په فخر افتخار او شد او مد سره لګيا وي چې دخوښی خبره ده چې افغانستان کې دشل کلن اشغال نه وروسته حدود جاري کيږي !! والله انسان ته بې اختياره خندا هم ورشي، ددوی په دومره حماقت او جهالت باندې او خفګان هم ورشي چې د طالبانو مشران خپلو کشرانو ته غير شرعي احکام د شرعي حدودو په نامه ښکاره کوي ،خو دوی کې هيڅ تدبر او د سوچ ماده نشته.

دومره فکر نه کوي چې مونږ خو امريکې ته قطر کې دا ژمنه ورکړې ده چې مونږ به ستاسې د منفي تبليغاتو او ټولنيزو شبکو له املې د زنا، لواطت او نورو جرمونو ته هڅول شوي ځوانانو باندې حدود نه جاري کوو، ځکه نو هغوی هم د طالبانو څخه په دې کوږو دُرو ظاهري خفګان څرګند کړ او دې کار ته يې ظالمانه کردار وواېه، خو حقيقت کې دا هر څه لا له وخته دوحه کې پلان شوي دي، ترڅو په دغه ډرامو د شرعي حدودو د پلې کيدو مخنيوی وکړي.

نو تاسې چې د حدودو په نوم کوم ګيم ترسره کوئ ،دا محمدي شريعت نه بلکې هغه شيطاني خرافات وو چې دالله په نزد دلعنت او غضب سبب ګرځي، او د همدغه کړنو له امله به په دنيا او عقبا کې ډير ژر په ذلت او رسوايئ ککړ شئ. سبحانك اللهم وبحمدك اشهد ان لااله الا انت استغفرك واتوب اليك

### (الختام في توضيح تعريف الإسلام)

دا چې مخکې فصلونو کې دا خبره يقيني ثابته شوه چې د مرتدو طالبانو په نزد د حد وړ مجرمانو ته يو څو کوړي(دُرې) ورکول شريعت نه دی بلکې دا د شريعت په مقابل کې يو خودساخته ظاهرشاهي شريعت دی چې سرپرستي يې د مشر شيطان ابليس په غاړه ده او نيابت يې د هبت الله په نوم انسي شيطان کوي، ددې متعلق وضاحت په تيرو فصلونو کې ذکر شو بلکه دمزيد وضاحت په موخه به ووايم چې اې دوطنيت او قوميت سيلاب ځپلو سيکولر طالبانو! که چرته بالفرض والتقدير تاسې شرعي حدود هم نافذ کړئ (چې هرګز به يې نافذ نه کړای شئ) نو بيا هم تاسې ته ددې تنفيذ ګټه نه دررسوي ځکه تاسې کې دايمان ښکاره نواقض موجود دي، اګر که تاسې څومره هم په خوله مسلمان يم مسلمان يم طوطي ګردان جاري وساتئ ، خو د اسلام تعريف په تاسې نه صادقيږي، که څوک مونږ سره په دې کې اختلاف کوي نو دا ګز او دا ميدان راځئ چې داسلام تعريف ته زير شو داسلامي امت علماؤ دکتاب اوسنت څخه داسلام تعريف داسې اخذ کړی: "هو الإستسلام لله تعالى بالتوحيد والإنقياد له بالطاعة والبراءة من

الشرك وأهله"
نو ددې تعريف معنا دا شوه چې اسلام ديته وايي چې الله ته به په توحيد کې تسلميږي، هغه به يک تنها ګڼي بيا دا هم نه بلکه ددې سره به يې طاعت ته منقاد اوسي چې د کتاب او سنت اتباع او د شرک او مشرکانو څخه به براءت کوي. دا د اسلام لفظي معنا شوه اوس راځو ددې تعريف شرحې ته، تعريف کې دا جمله چې "هو الإستسلام لله تعالى بالتوحيد " دا دالله يو والي منلو ته وايي، ځکه الله د يوالي دعوی کړی ،چې زه يو يم هيڅ شريک نه لرم نو مونږ به الله په دې دعوی کې ريښتونی ګڼو او دا به يو ګڼو او بيا دغه يوالي دالله په پنځه قسمه دی.

(١) توحيد في الذات
(٢) توحيد الربوبية
(٣) توحيد الألوهية
(٤) توحيد في الأسماء والصفات
(٥) توحيد الحاكمية

دا د توحيد داقسامو اجمال شو، اوس راځو دالله په توفيق سره تفصيل ذکرکوو، توحيد في الذات ديته وايي چې ذات دالله به يوګڼلی شي په ځمکه او اسمانونو کې، دې ته ورته بل ذات نه شته او نه به راشي. لنډه دا چې سورة الاخلاص کاملاً او نور بې شميره اياتونه په توحيد في الذات باندې دلائل دي.

نو اوس له طالبانو پوښتم ايا تاسې دتصوف دسلسلو سره وابسطه نه ياست ؟! نو انکار خو به نه شئ کولی ځکه بيا پوښتنه کوم چې دتصوف څلور واړه سلسلې د وحدة الوجود په نظريه ولاړې دي او که نه؟! نو انکار خو نه شئ کولې چې ووايې نه! نو چې داسې ده نو معلومه شوه چې توحيد فی الذات کې موحدين نه ياست ځکه دوحدة الوجود عقيده دتوحيد في الذات منافي ده !!

اوس راځو دويم قسم توحيد ته او هغه ته توحيد الربوبية وايي، د ربوبية دتوحيد معنی دا چې الله به په ربوبيت کې يوازې ګڼو، هيڅ شريک به ورسره نه جوړوو، دا عقيده به لرو چې الله رب يعنی تصرف کونکی دی، دهمه مخلوقاتو واک او اختيار د هغه په لاس کې دی، دې رب سره به هيڅ څوک په دی صفت کې نه شي شريکيدای. نو ای دوطنيت او قوميت مردار فکر ځپلو طالبانو ! بيا له تاسو پوښتم چې ايا تاسې ريښتيا د الله سره بل څوک په ربوبيت کې نه دی شريک کړی ؟! دکفارو دغه تقسيم کوم چې دملکونو ترمنځه دپولو اودروازو په شکل دی ، چې دا دوئ دالله په ځمکه کې کړی ايا تاسې دا قبول کړی نه دی؟!!

دهمدی تقسيم دمنلو په وجه تاسې دپولی ديخوا ځمکه خپله او اخوا ځمکه پردئ نه ګڼئ ؟! دهمدې تقسيم په مرسته تاسې د پولې نه ديخوا ځمکه خپل وطن او اخوا ځمکه پردې وطن نه ګڼئ ؟!

ايا دهمدی تقسيم په مرسته دپولې نه ديخوا اوسيدونکي هيواد وال، وطن وال او اخوا اوسيدونکي په پردي او خارجي سره نه نوموئ ؟!

اگر که ديخوا اوسيدونکي کافر هم وي او اخوا اوسيدونکي مسلمانان هم وي !!

نو اوس که تاسې دعقل څخه خلاص ياست او د وطنيت د خُسي [غوا بچي] محبت مو زړه ته دننه شوی نه وي، نو بايد زمونږ په دې خبرو باندې د عناد او تعصب له چشمو پرته لږ نظر واچوئ، او بيا خپلو کړنو باندې نظرثاني وکړئ ممکن د هدايت سبب مو شي !

او مسلمانان ورونه هم مخاطب کوم چې هغوی دې زمونږ په دی خبرو کې سوچ وکړي چې دا کار خو يقيني دالله سره دربوبيت په توحيد کې بل شريکول دي او هغه هم ملحدين دهريين او حربی کفار!! نو ګورئ چې دغه خوار طالبان په دې دويم قسم توحيد کې هم مشرکان وختل!!

اوس راځو دريم قسم توحيد ته چې هغه ته "توحيد الألوهية" وايي يعني د الله سره په عبادت کې بل برخه دار نه ګرځول خو که مونږ دتوحيد دی قسم ته هم فکر وکړو نو دا هم طالبانو روغ او سلامت نه دی پريښ، ی قبر پرستی پير پرستی اکابر پرستی او غيرالله ته مو فريادونه او د هغوی نه مرستی غوښتنې او هغوئ ته رامدد شه ويل او پيرانو ته سجدې کول او دغه ډول دتصوف مکفره او بدعي اعمال تاسې کې دوخت دبل هرباطل پرست نه زيات دي نو ثابته شوه چې دا دريم قسم توحيد مو هم نه دی منلی!!

دغه ډول که څلورم قسم توحيد ته هم فکر وکړو چې هغه توحيد في الاسماء والصفات دی چې معنا يې دا ده چې د الله چې څومره نومونه او څومره صفات دي، کوم چې هغه تعالی ځانته ثابت کړي او کوم چې هغه ته دهغه پيغمبر صلی الله عليه وسلم ثابت کړي نو هغه به هماغه شان ثابت منلی شي، نه به يې مخلوق سره تشبيه ورکولی شي، نه به يې کيفيت بيانيدای شي، نه به په کې تاويل کيدايشی او نه به ترينه انکار کيدايشی، حقيقت به يې الله ته معلوم وي، په ظاهر به يې ايمان لرل واجب وي.

خو که د دې متعلق ستاسې عقيده وکتلی شي نو تاسو خو ددی قسم توحيد منونکو ته وهابيان مشبهه او مجسمه او لا مذهبه خوارج واياست، دا قسم توحيد مو داهل حق اهل سنتو نښه علامه او شعار ګرځولی دی، او له دې څخه ستاسې علني انکار هر اهل السنة ته معلوم دی، ځکه تاسې او ستاسې هم صفتو ته اهل السنة والجماعه د پخوا راهيسې د جهميه وو او معطله وو نومونه درکړي دي چې ددې نه معلومه شوه چې دتوحيد دې قسم ته هم منقاد شوي نه ياست !!

او کوم چې پنځم قسم توحيد دی چې هغه ته دحاکميت توحيد وايي او هغه دا چې الله به په قانون او نظام کې تنها او يو ګڼو، دالله په ځمکه به دالله نظام او قانون وي، دهيڅ چا قانون او نظام به مشروع نه ګڼو، که چا داسې وکړل چې دبل چا نظام او قانون يې هم ومنلو نو دا کس د حاکميت توحيد کې مشرک شو نو اوس دې دغه مرتد طالبان خاص او مسلمانان عام وګوري چې ايا ريښتيا طالبانو دنړۍ په ملحدو نظامونو او قوانينو کفر کړی؟!

ايا ريښتيا دوی دالله په دې ځمکه دخپل تسلط څخه لاندې ساحه باندې دالله شريعت نافذ کړی دی؟!

ايا دوئ دپاکستان، ترکيه ،ازبکستان ،ايران ،تاجکستان ،قزاقستان ،سعودی ،قطر ،دوبی ،عرب امارات او د نورو برای نام اسلامي ممالکو د وضعي قوانينو تکفير کړی دی ؟!

ايا دوئ دهغوئ قوانين او نظام مشروع نه بولي ؟!

ايا دوئ دملل ملحده دکفري او الحادي قوانينو له مخې دا ټول کفار او مرتدين خپلو نظامونو او قوانينو کې حقدار نه ګڼي؟!

نو چې له دی څخه انکار نه شئ کولی نو معلومه شوه چې تاسې توحيد الحاکمية کې هم دشرک مرتکب شوي ياست !!

ای طالبانو ! دتوحيد په دې پنځه واړه اقسامو کې تاسې نه يو هم سالم او محفوظ نه دی پاتی ، نو داسې خلک که ځانته مسلمان وايي نو دا هسې د طوطي ګردان دی ، چې حقيقت پرې نشي ثابتولی. اوس که يو انسان دتوحيد په پنځه قسمه کې هم شرک ونه کړي او دغه توحيد ثابت ومني نو بيا په پورته تعريف کې له دې وروسته دا قيد موجود دی چې "والانقياد له بالطاعة " چې دا کس به الله ته په طاعت کولو منقاد وي، ددې نه معلوميږي چې که يو کس ريښتونی موحد وي، چې هيڅ قسم شرک ترينه هم نه وي صادر شوی نو په دې يې هم اسلام کامل کيدای نه شي چې ترڅو الله ته په طاعت کې منقاد نه شي او طاعت د الله او د رسول الله صلی الله عليه وسلم په کامله توګه ونه کړي، چې دا عبارت دی د"اطيعوا الله واطيعوا الرسول" څخه. نو که مونږ يادو طالبانو کې دا قيد وګورو نو دوی د دی قيد هم لحاظ نه دی کړی ځکه چې دوی دهغو خلکو قتلول واجب ګڼي چې هغوی دالله او د هغه درسول صلی الله عليه وسلم طاعت کوي، چې مراد دی دکتاب او سنت نه ځکه دوی دې قسم خلکو ته لامذهبه خوارج او وهابيان وايي، د راتلو سره سم يې دکتاب اوسنت تابعدار يا په بل تعبير سره دالله طاعت ته منقاد خلک په چوکونو باغونو او سرکونو کې رازوړند کړل چې انکار کونکې به يې شپې ته د ورزې نوم ورکونکې وي نو معلومه شوه چې درب طاعت ته انقياد هم په دوی کې صفر دی !!

نو داسلام تعریف خو تر دی ځایه په تاسې صادق نه شو کوم چې تاسې ته مونږ در په ګوته کړ، خو بالفرض والتسلیم په مرتبه کې به ووایم که بالفرض ستاسې توحید هم صحیح وي او انقیاد هم نو بیا به مو دتعریف پاتې برخه باندې هم نظرکوو چې دغه باب کې مو کوم ګلان کرلي دي، چې هغه دتعریف اخری تتمه او حصه ده چې په دې ډول ده: "والبراءة من الشرك وأهله "چې براءة کونکي به وي دغه داسلام دعوی کونکي دشرك او مشرکانو څخه، نو ددی نه معلومه شوه که بالفرض یو انسان موحد هم وي، پنځه قسمه توحید یې جوړ هم وي او دالله طاعت هم کوي یعني کتاب او سنت باندې دعمل دعوه کونکی هم وي خو که دکفر او شرك څخه براءت نه کوي نو دا د اسلام په دعوه کې دروغجن دی!!

نو وګورئ ای طالبانو، ستاسې په حق کې خو دا خبره ډیره ښکاره او واضحه ده چې دهیڅ شرك اومشرك څخه تاسې براءت نه کوئ !! بلکه پلن پلن څټونه د هر شرك او مشرك په دروازو کې لکه خادمان ولاړ یاست ، دغه روافض چې داسلامي امت په اجماع سره غلیظ ترین مرتدین او مشرکین دي، تاسو هغوی ورونه نه ګڼئ ؟!

تاسې دهغوی او دهغوی دشرکي مراکزو او شرکي معبدونو او مراسمو امنیت ساتنه خپله وجیبه نه ګڼئ ؟! ایا تاسې دروافضو پسی لمونځونه جایز نه ګڼئ ؟! کله چې د اسلامي دولت مجاهدین یې د الله په توفیق او نصرت سره ښکار کړي تاسې یې تعزیو او غم شریکۍ ته وروان نه یاست ؟! ایا تاسې دایران دهغه مرتدو او نجسو روافضو په مردارولو چې په شرکي مرکز کې دشرك په کردار بوخت وو او زمونږ یو ورور لخوا د خپل عمل په سزا ورسیدل او د مؤمنانو سینې یې پرې یخې کړې، د افسوس او غم شریکۍ پوستونه نه کوئ ؟! ایا دسیکهانو مشرکانو په دفاع کې ستاسې او د هغوی وینې په یوه لښتي کې ونه بهیدلې ؟! ایا تاسې د هغوی دمردارو تعزیت او تسلیت ته د هغوی کورنیو ته ور نغلئ، په لکونو پیسې مو ورنه کړی ؟!

ایا تاسې هغوی ته د خلافت نړولي هغه کفري او شرکي مراکزو او معبدونو د بیا رغونې ډاډ او ترمیم اعلان مو ونه کړ؟ !! ایا تاسې دصلیبي روسیاه د کافرو په وژنه دغم اظهارات او افسوسونه ونه کړل ؟!

د نړۍ د هرکافر سره ددوستۍ زارۍ مو له چا پټې دي ؟! ستاسې لخوا دکفارو او مشرکانو دحفاظت او څوکیدارۍ برملا چیغې چا وانه اوریدې ؟!

دا دی اوس یې نو د شرابیانو او زانیانو د امن ساتنې دوجوب او فرضیت فتوه هم د خپل تسلط منطقه کې صادر کړې ده !! نو دا او دې ته ورته ستاسو بې شمیره کرغیړن کردارونه موجود دي چې د اسلام تعریف په تاسې نه صادقیږي بلکه اسلام له تاسې کرکه او نفرت کوي ،بلکه اسلام ستاسې په قتل امر کوي!! بلکه اسلام تاسې سره په براءت امر کوي !!

نو ددې تفصیل څخه څرګنده شوه چې تاسې مرتد شوي یاست، تاسې داسلام او د مسلمانانو خلاف دحربي کفارو سره د تعاون او مظاهرې تړونونه کړي دي نو که تاسې بالفرض دغه څو حدود یقیني او په ریښتیا هم نافذ کړئ (چې هیڅ کله به یې نافذ نه کړای شئ) نو بیا هم تاسې ته فائده نه درکوي ځکه دمرتد هیڅ عمل الله نه قبلوي.

أللهم باعد بیني وبین الکفر والردة ونواقض الاسلام والایمان والفسوق والعصیان ما ظهر منها وما بطن والبغي والمنکر ومن کل ما تکره وتبغضه کما باعدت بین المشرق والمغرب أللهم آمین وصلی الله علی خیر خلقه محمد وعلی آله وصحبه أجمعین.

# دار الإسلام کې اسلامي حدودو تطبیق یو څو بیلګې

اسلامي حدود

دعبادَةَ بْن الصَّامت رضی الله عنه څخه روایت دی، دا فرمایي رسول اللَّهِ صَلی اللَّه عَلَیْه وَسَلم وفرمایل: " له ما نه زده کړئ له مانه زده کړئ. یقیناًالله تبارک وتعالی هغوی (زنانه وو) ته لاره جوړه کړه، بې واده سړی که بې واده (زنانه سره زنا وکړه نو) سل کوړی به ورکولی شي او یو کال به د علاقې څخه شړلی شي او که واده کړی واده کړي سره زنا وکړي ،نو هغوی ته سل کوړې ورکول او رجم کول دي.

﴿وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوٓا أَيْدِيَهُمَا جَزَآءً بِمَا كَسَبَا نَكَٰلًا مِّنَ اللَّهِ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ﴾
ژباړه: او غل، که نر وي که ښځه، د دواړو لاسونه پرې کړئ، دا د هغو د خپلې کړنې بدله او د الله له لوري د عبرت وړ سزا ده، د الله قدرت پر ټولو غالب دی او هغه د پوهې او حکمت څښتن دی.

رسول اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي :(ژباړه)
څوک چې تاسې مونده کړل چې هغوی دقوم لوط دعمل غوندې عمل کوي نو کونکی او چا سره چې کيږي (دواړه) قتل کړئ.


نوی احساس نوی بدلون ښکاري
یو نا آشنا غوندې سکون ښکاري
د دې وحشت تورو تیارو لپاره
د تور بیرغ سپین سباؤون ښکاري
په نبوي منهج روان شازلمي
مړو ولسونو ته ژوندون ښکاري
دې مرتدین ډېر وارخطا، وارخطا
د چریکي غازیانو شتون ښکاري
دا د مظلوم شهید ازار وهلي
د دوی په ډلو کې جنون ښکاري
امتحانات ورباندې سخت سخت راغلل
بنیان مرصوص صف کې سمون ښکاري
خوب مې لیده بیرغ په لاس وي غازیان
له خراسان، تر اقصی یون ښکاري
زولنې ماتې او زندان به مات شي
د نن هنداره کې پرون ښکاري

د بین الملل په نوم د کفر په ملت کې د شاملیدو په کفري شرایطو، د اسلامي شریعت په تله د بین الملل د ځینو کفري مادو تلل، د بین الملل د کفري اصول تحلیل او ارزونه، دغه کفري قوانینو ته د فیصلو وروړلو حکم، په دې کفري غوجل کې د طالب مرتدینو د چوکۍ او رسمیت غوښتو زارۍ او ننواتې، د طالب مرتدینو له لوري د بین الملل د کفري شرایطو د پوره کیدو اعترافات ....او نور ډیر اړوند موضوعات په دې ګټه وره علمي او سیاسي رساله کې د شریعت د احکامو په رڼا کې تحلیل او بحث شوي، لوستل او تر نورو رسول یې مه هیروئ

# بناري بنكاري!

طارق ( وحدت ) تقبله الله

مخکې له دې چې د اسلامي دولت لیکو سره یو ځای شم ، په ذده کړو بوخت وم ، په پوهنتون کې مو د کانکور ازموینه وه ،.ډیر زده کونکې د کانکور امتحان ورکولو لپاره راغلي وؤ ،ناڅاپه مې د یو تنکي زلمي په عاجزه خو له وقاره په ډکه څهره سترګې ولږېدې.

په لومړي ځل لیدلو یې له نوراني څهرې داسې متاثر شوم چې سترګو اړول راته ستونزمن شول..

دغه ګلالی ځوان مې له دې مخکې هیڅکله نه وو لیدلی کله مې چې د خلکو په منځ کې ولیده نو رب العالمین د هغې مینه راته زړه کې واچوله. دغه د توحید په عقیدې ښکلي او مزین شوی ځوان راته ډیر خوږ ښکاره شو،د امتحان وخت رانیږدې کیدلو ازموینه مو ورکړه ،بیا مې د نا پیژانده ورور په لور سترګې واړولې،د الله ﷻ شان دی، هغې هم پیژندلې وم چې دیوې عقیدې ورونه یو قرار مې خواته را روان شو کله چې مې خواته راورسیده نو د سیکولرستانو او وطنپرستانو خلاف یې د خوږ نبي ﷺ په طریقه پوره سلام وکړ .

د سلام جواب مې ورکړ، د ښه راغلاست او ابتدایي خبرو څخه وروسته مو له یو بله پوښتنې شروع کړې. د خبرو په دوران کې یې وپوښتل: اجمل پیژنې؟

له ځان سره مې وویل الحَمْدُ لله وپوهیدلم چې غازي زلمی دی، ځکه چې اجمل زموږ په طرفونو کې د زمریو پلار وو.

الله ﷻ زیاته بهادری، او شجاعت پکې رب العالمین پیدا کړې وه.

له خبرو او ځوابونو څخه مې وپوهیده چې إن شاء الله د هغې د باور وړ یم .ورځې تېریدلې پوهنتون درسونه مو پیل شول، دواړه یوې رشتې ته کامیاب شوي وو، د درس په لومړۍ ورځ چې کله صنف ته راغلم دې هم ناست دی.

تر خوا یې د سلام اچونې وروسته کیناستم، کله به چې استاد نه وو،موږ به خپلې خبرې کولې د لږ وخت تیریدلو څخه وروسته مو یو بل پوره درک کړل او لکه د ورونو په څیر خواږه شوو. د یو بل په خویونو، عادتونو ، عقیدي او فکر باندې ښه پوه شو بلدتیا مو په یو بل د پوره باور باعث شوه.

دا زمری تازه د تیر مرتد نظام د زندان څخه ازاد شوي وو.

د زندان کیسې یې هم ډیرې جالبې وې، تري مې وپوښتل: د دومره ثبوتونو سره ونیول شوي څنګه را خلاص شوي؟

په خندا او مسکا خوله به یې ځواب راکړو پټه خوله بهتره ده : په خپلو کارونو قانع نه شوم، دوسیه مې صفا وه الحَمْدُ لله.

ډیر زیات راته ګران شو،په صنف کې به ډیر زیات خاموش ناست وو. موږ سره په صنف کې انجونې هم وې ، او د انجونو شتون په موږ دواړو ډیر دروند تمامیده ، په صنف کې به هلکانو د انجونو سره نا روا اړیکې پاللې او دغه ګلالي ځوان به په هر ځل لیدلو سره أَسْتَغْفِرُ اللّٰه ویله ، او راته به یې کړل چې : وروره دا حالات خو ماته د برداشت وړ نه دي ..

ورته مې وویل : وروره موږ دوۍ څه کوؤ، خپل درس به وایو ،خو دا به ډیر جدي وو، کله به چې کومې جلۍ تیزه خندا وکړه، دا به په چوکۍ کې له غوصې سور واوښت. همغه وو چې څو ورځې پوهنتون ته رانغې، تري مې وپوښتل : ولې پوهنتون ته نه راځې؟

ویې ویل :هغه پوهنتون نه دې، بلکې د فحشا او بې لارۍ یو روزنتون دی ،خبره یې ریښتیا وه د طاغوت د ټولو پوهنتونونو غیږې له فحشا ډکې وې، دلته نا مشروع اړیکې ان د زنا ترحده رسیږي.

نوره مو دلته ګذاره نه کیدله چې درسونو ته دوام ورکړو،تصمیم مو ونیو او په ګډه مو پوهنتون ته د پای ټکې کیښود.

د موبایل روابط مو ډیر کلک وؤ،خو موږ نو دغه وخت د زمرو د دولت د سرشیندونکو زلمو د دولت .

هو ! د اسلامي دولت په غړیتوب او بیعت الله عزوجل رابندې احسان کړې و، څه وخت وروسته یې راته وویل: وروره رابطی راباندې د مشرانو لخوا بندې دي تر یو څه وخته رابطه نشم کولی.

هم مې زړه خفه شو او هم خوشحاله ، خفه په دي وم چې ورور سره مې روابط قطعه شول او خوشحاله په دي وم چې ورور مې الحَمْدُ لله اطاعت کونکی انسان دی، څه وخت وروسته د یو ملګري سره د شنو ونو لاندې په یو چمن کې ناست وم، د ورور جداېې خفه کړې وم، له راسره ملګري څخه مې د همدې ورور په اړه پوښتنه وکړه : راته یې وویل بیخي ښه دی الحَمْدُ لله، سم زمری دې ، په مرتدینو یې ځمکه راتنګه کړې.

راسر ناست ورور هم زموږ د دواړو باوري ملګرې وو، د خپل همصنفي ورور په کېسو مو وخت تیاراوه دده د زړوتیا او میړانې بیلګې مو یو بل ته ویلې ، ملګري راته کړه څو ورځې مخکې ،په فلانې ځای کې د خلکو په ډله کې ورننوت د مرتد خواته ورنږدې شو او په سر یې ورته تمانچه ور کیښوده ، مرتد یې په هغه ځای کې وؤاژه.

الله أکبر څه زمریان الله عزوجل د خپل دین د لوړاوي او حفاظت لپاره انتخاب کړي ، له عمره کم، ډیر غلې او خاموش و مګر زړورتیا ، اخلاص ، میړانه او شجاعت یې بیا له ده مشران وو.

د الله لپاره مې ورسره په زړه کې مینه ورځ تربلې زیاتیده ،له جیبه مې موبایل راویست له یوې نوي ایډی نه مې ورته مسج وکړ،یوه شیبه مې ښه تنګ کړ، بیا مې ځان ور وپیژانده، چې فلانې یم له خندا شین شو. څه وخت وروسته مو سره د رابطو ترتیب بیرته منظم شو . هغه وخت یې نو د جلال اباد ښار ته رښتیا د قتال اباد بڼه ورکړې وه ، د ښار په هر واټ او کوڅه کې به روزانه د د تکبیر د هیبتې نارو سره د باقیه تندریزې نارې راغبرګیدې او د نمرتدینو وینې به بهیدې ،

د تقوا عجیبه مثال وو،یو ځل د اوړي په ټکنده غرمه د ملګرو سره سترې ستومانه راغلو...

ټول پریوتل او شیبه وروسته په درانده خوب ویده شول دا هم ویده شوخو زموږ چې سترګې پټې شوې او څه وخت وروسته را بیدار شوم دا نو بیا د قرانکریم تلاوت ته ناست وه.

ډیر زیات مینه ناکه انسان وه،یوه ورځ ډیر وخت افلاین شو اندیښنه راسره شوه مېسج مې ورته پریښود، او په ګیله منه لهجه مې تري وپوښتل:وروره خیریت خو دی ولې افلاین یې!؟ چې کله ته راغی د موبایل سکرین شاټ یې راولیږه ویې ویل: که ستا سودا وه ما هم د هر چا نه مخکې اول ستا میسجونه وکتل رشتیا هم د نورو میسجې یې نه وي کتلې خو ماته یې یې ځواب کړی وه.

یو ماښام یې مېسج را وکړ، لیکلي یې وه چیرته یې؟ یاد شوی مې یې ومې ویل: چیرته یې چې درشم؟

هغه مهال په یو اطاق کې دیره و،مازیګر ورسره وګرځیدم ماښام یې اطاق ته لاړم ماښام لمانځه پر وخت مې ورته زیات اسرار وکړ چې مخکې شه خو زه یې جمعې ته مخکې کړم ښکلي جمعه مو سره وکړه بیا یې ویل زه به نن کور ته لاړ شم الله په اماني مو وکړه، تر ناوخته رابطه کې نشو سودا مې شوه ورته ،بیا په سبا ورسره د رابطې ترتیب وشو ویل یې چې کور ته تللم ،لار کې مې کمین وخوړ، نو موبایل مې د لاسه ورکړی وو،د دغې غازي زلمي به هر وخت په یوه لاسته راوړنه کې نوم لیکل شوی وه ډیرې کیسې یې راته مخ مخ ته کیږي، خو زه یې د لیکنې اوږدیدو په خاطر نه لیکم.

مازیګر مهال وو چې دغه زمري خپل سامان راخیستې وو او د یو حماري د وژلو پسې وتلې وو کله چې تللې وو هلته یې هم دغه حماري په سر سر ویشتلې وو،خو شا طرف نه پرې د مرتد نظام رینجرې راغلې وې هغې سره یې هم د تمانچو مقابله کړي وه،په هغه کې دا په تشې لږیدلې وو او بیا یې ژوندې نیولې وو.

ماښام مهال راته بل ملګري وویل: ورور دې یې زخمي حالت کې ونیو ،زره مې سخت درد وکړاو دعاګانو کې مې د رب نه د دغه زمري د خلاصون او روغ صحت غوښتنه وکړه.

څه وخت وروسته یې راته له زندانه میسیجي وکړې خاندل یې د خندا په ډکه خوله یې ویل: وروره د مسافرو پوښتنه هم نه کوې، زه نو د خوشالۍ نه په کالیوو کې نه ځایدم ،زیات خوشحاله وم ځکه څو میاشتې وروسته مې د خپل ورک شوي ورور غږ په ډیر مینه ناکه انداز واورید، ښه مې ورسره زړه تش کړ، راته یې تصویران راولیږل چې کتل مې په بدن یې څو ځایه غټ ،غټ زخمونه وه سخت خفه شوم داډ مې ورکړ خو د دغې زمري حوصله او عزم زما له اټکل زیات پورته وه ویل به یې وروره! کیسه کې یې مه اوسه..

چې رب یې قبول کړي بیا د رب لپاره دا زخمونه کم دي حیران شوم چې څه عجیبه مینه ده ، رب به ترې قبول کړي وي ان شاءالله ،یوه ورځ یې راته میسجونه وکړل او د یو بوډا سړي عکس یې هم راولیږه، ویل یې چې دروخګم دغسې به یم . سبحان الله د مخلوق فیصله کې ریښتیا هم دي زمري ته اوږود قید ورکول شوي وو، خو د رب فیصلې څه عجیبه وي،ورته ومې خندل او ومې ویل: ګله!دا زندانونه به رب حتماً ماتوي د هر مجاهد په خوله به دغه لفظ زیات تکراریده چې رب به حتماً دغه زندانونه ماتوي ځکه قیمتي غمیو ته وخت سره ضرورت پیدا کیږي.

اه هر وخت به یې د یوې ګلدارې جوړې تصویر راالیږلو چې وروره واده وکړه. دغه جوړه مې خوښه شوې داسې جوړه درته کوم ما به ورته وخندل چې ته نه یې زه واده نه کوم. یو وخت داسې راغې چې نظام همغه و، ماموریت همغه و، خو مامورین یې بدل شول د جمهوریت نوم په امارت واوښت نور نو همغه زړه شنه پلیته دیموکراسي حاکمه وه ، کله چې امریکا واک د بې ډیرو څخه ډیرورو مرتدینو ته وسپاره نو رب العالمین هم زموږ زندانیان ورونه د خپلو پنجرو په ماتولو وتوانول ، که څه هم ځینو زندانونو لکه باګرام ته ، امارتي مرتدین لا نه وو رارسیدلي ، زموږ د بهر ورونو هم د خپلو زمرو ورونو د خلاصون منظم پلان په لاره وو خو هغې ته اړتیا پیدا نه شوه او ورونه له هغه زندانه د امارتي ملیشو له راورسیدو مخکې ووتل لومړی د اسلامي دولت مجاهدین وو چې د باګرام اوسپنیزې پنجرې په خپلو فولادي متو پنجوماتې کړې ددې زندان د ماتیدو هم عجیبه کیسې دې بیا به یې په خپل وخت وکړو ، د پل چرخي له زندان څخه څه ورونه د امارتي مشرکینو له رارسیدو مخکې وتلي وو او څه دوی سره په جنګ هم کیوتلي وو خو په هر صورت الله عزوجل زموږ ګڼو ورونو ته له زندانونو څخه د وتلو موقعه ورکړه .

هر ملګري راتګ ته تلوسه کې وم خو دغه ګل ته مې نو زیاته سودا وه، بار، بار به مې ورته آیدي کتله ، په سختۍ د انتظار شیبې تیریدلې بالاخره یې میسجي وکړی ویې ویل: وروروجانه !

الحَمْدُ لله ثم الحَمْدُ لله زه راووتلم ،رب راسره مدد وکړ، بس اولنۍ کسان مونږ وو، چې را ووتلو پاس ټاور ته ډیرور مرتدین ختلې وه ډزې یې هم را باندې وکړې خو بس مرګ مې قبول کړی وو د الله په فضل او مدد په دیوالونو را واوختم.

ومې ویل: خوږ شوی خو نه یې؟ ویې ویل: نه صرف بدن مې په دیوالونو ګریدلی نور ښه یم الحَمْدُ لله. بله ورځ یې راته وویل: وروره فلانی به درولیږم ورسره راشه زما چې زیات یاد شوی یې، ومې ویل سمه ده وروروجانه دا خو نو په موږ د الله احسانات دي ، درځم ان شاءالله.

زړه مې له خوشحالۍ درزیده ،په تیزۍ سره د ملګري سره د دې زمري ورور په لور روان وم چې کله یې ځای ته ورسیدم، اطاق کې یې راتللو ته منتظر کېناستم، څپله نه وه دقیقې لکه د ساعتونو اوږدیدلې سینه کې مې د زړه د خوښیو ډک ټکانونه احساسول، هغه وخت هم بالاخره را ورسید چې د زیاتې مودې نالیدلې ورور دروازه کې راښکاره شو په ځان پوه نه شوم چې څنګه پاڅیدلم خو یو بل ته ور غږې وتلو،د سترګو نه بهیدونکي اوښکې نه زما او نه هم د هغې په اختیار کې وې ،په ژبه یې د الحَمْدُ لله الفاظ بار بار تکرارول تر ډیره مو بل کلک په غیږ کې نیولې وه.

د رب لپاره مینه څومره خوږه وي ، د رب لپاره وروري څومره خوږه وي ،داسې خوشحالي وه چې په الفاظو کې د هغې خوښۍ د احساساتو ترجماني زه نه شم کولای .

هیڅ مو سره نه پیژندل خو د الله لپاره دومره یو بل ته ګران وو چې د وینې رشتې هم نه شوې پسې رسیدلې.

سهار چې مې چای وڅښه زه د یو کار لپاره کابل ته د تګ په موخه را پورته شوم اجازه مې ترې وغوښته ما کابل طرف ته سفر درلود ترې اجازه مې واخیسته.

ډیر کلک شو خو ورته ومې ویل: وروره بیرته راځم ان شاالله ، د بیرته راتګ په وعده یې اجازه هم راکړه. څو ورځې وروسته مې ورته وویل: وروره زما لږ مشکلات دي ځای مې هم سم نه دی، په غوصه یې وویل: د الله بنده دا زما ځای ستا خپل ځای دی، زر همدلته راشه! ومې ویل سمه ده درځم ان شاءالله ویې ویل: چیرته یې ځای راوښایه زه خپله درځم ان شاءالله ادرس مې ورکړ ځنډ وروسته موسکې مخ ته را ودرید شیبه وروته د کور په لور رهي شو، د دغې وروسته مې له دې زمري مجاهد سره ژوند شو. عجیب انسان وه د زړورتیا تر څنګ د تقوا یو مثال وو هر وخت به مې چې ولیده ژبه به یې د الله ﷻ په یاد لمده وه.

اکثر به په اوداسه ګرځیده اعمالو کې داسې پاپند وه ،چې په ما یې یو ډول اغیز کاوه ، چې نوراني مخ ته به مې یې ولیدل نو الله ﷻ به مې زړه کې خوشالي زیاته کړه ، د شپې تهجد یې نه قضا کول، قرانکریم به یې په زیات تدبر لوسته ،خوالله عزوجل په کې داسې صفات راجمع کړي وه کوم چې الله ته محبوب انسان کې موجود وي.

له زندانه له راوتلو وروسته هم زما ورور ستړي نه شو ، ده هم په ډیر اخلاص د امارت د مرتدینو داسې بیخ کندې شروع کړه چې بیا به د امارت مرتدو عسکرو په ښار کې هم ټوپکونه په څادرونو کې پټ ګرځول ، تل به دا زمري دد ګیدړانو په ډارولو بوخت ووخت .

په خوښۍ تیریده بیا داسې وخت هم راغې چې دې زمري مجاهد ته یې کوژدن وکړه ، کوژده کې یې زما په شمول نور ملګري هم وه امنیتي حالات هم یو څه بهخونده شوي وه ،د خوښیو او محبت څخه ډک بندار مو وکړ، کله یې چې بیا واده و، دغه د الله لپاره ستړی ستومانه مجاهد لکه د ښار د عیاشو ځوانانو په څیرواده نه درلود د مُحَمَّد ﷺ تمام سنت یې واده کې را ژوندي کړي وه، واده کې خپلوانو هم شتون نه درلود یوه مورکۍ یې ورسره وه قسمت به مو نه وه دغو ورځو کې د دې زمري مجاهد لرې بل طرف تللي وم کوشش مې وکړ ځان را ورسوم خو ونه توانیدلم زړه مې خفه وه چې ولې داسې د یو زمري مجاهد واده کې ګډونوال نه شوم، خو الحَمْدُ لله هغه جوړه چې ماته به یې خوښوله

ما ورته وکړه او ورته مې وويل: واده کې به زما لخوا درته کړې کالي اغونديږي ويې موسکل او ځواب يې راکړ: وروره!کالي راته نورو ملګرو هم کړي خو ان شاءالله ستا ولا به اغوندم، ملګري تري لرې وو خو د واده په شپه يې د ټيلګرام ګروپ جوړ کړ... څه عجيب انسان وه دغه وخت يې هم مونږ ته د يوازې والي احساس نه راکوه. واده په سهار يې وليمه وکړه او خپله يې پسه حلال کړ،

چې يې عکس راولېږه زړه مې سخت درد وکړ چې د نړۍ نور ځوانان په څه حال کې ودونه کوي خو زما د يو ورور په څېر دوست واده کې نه نور ملګري اشتراک کولای شي او نه هم زه ورتلای شم او نه هم نور مراسم شته ، خو په دې خوشاله وم چې واده يې په سنت طريقه ترسره کيږي نو دا ستره خوشالي ده ، زړه ته به مې پر دې خبره تسلي ورکوله چې ان شاءالله زمونږ ژوند د اخرت ژوند دی.،

د واده يې ديارلسمه ورځ وه چې راته يې وويل : وروره سبا بل سبا کور نيسم ان شاءالله ته مې په نظر کې نيولې يې دلته به ماسره اوسيږې مونږ به هم در باندې داړه يو زه هم زيات خوشاله شوم ومې ويل: سمه ده وروړجانه د خندا په ډکه خوله به يې ويل:تاته هم يوه کوټه جوړوم چې واده وکړې، نو د کوټې غم خو به درسره نه وي څه عجيب انسان وه سهار مې لمونځ وکړ اذکارو وروسته مې نيټ خلاص کړ ،چاى ته ناست وم مبايل مې را واخيست،د ملګري مېسجې مې وليدلې هک پک لکه د بې روحه جسد په شان شوم ملګري ميسج را کړی وو چې په دوي چاپه وه او شهيدان شول .

زړه مې وچ درد وکړ کپ مې د ګوتو ولويد، چايو پياله مې په لړزيدلو لاسونو بېرته کېښوده د څنګ ملګري ته مې په ريږديدلي غږ وويل:

ګلاب ورژيده، چې مسجبې مې ورته پلې کړي ويلې وو:اى ورونو صبر وکړئ صبر وکړئ!

او دا وعده راسره وکړئ چې ببښنه او دعا به راته کوئ په ژړيدلو سترګو مې اودس وکړ او رب ته ودريدم په ډيره ژړا مې ورته دعا وکړه. ميسجې مې پلې کړې چې ويلي يې وو:

ما هم جاکټ اچولې او بې بې مې هم اچولې دی، زه هم زخمي يم او بې بې مې هم زخمي ده خو له کاره نه يو لويدلې جنګ ورسره کوو بې بې مې هم راسره جنګ کوي او الحَمْدُ للہ شه مرداره مو پکې وکړه.

آخ دغه ګلاب زما عاجزه ورور وحدت تقبله الله وو چې د خپلې بې بې تقبلها االله سره د واده په کاليو کې د خپل رب لقا ته ولاړل.

دوحدت طارق جميل تقبله الله په اصل کې د ننګرهار ولايت د چپرهار ولسوالۍ اوسيدونکی وه، په يوه ديندراه او مجاهده کورنۍ کې زيږيدلی وه له ماشومتوب يې د جهاد او مجاهدينو سره مينه وه چې د دی سپيڅلي مينې په وجه يې بيا د جهاد ګرمو سنګرونو ته را ودانګل شه مې ياد شي عمر مې دومره نه وو، د اسلامي خلافت لمر لا خپل څرک نه وه وهلی، د اسلامي خلافت د قايمولو لپاره مخلصو مجاهدينو ډيرې زياتې قربانۍ ورکولې، د همدې قربانيانو وجه وه چې الله عزوجل مؤمنانو ته اسلامي خلافت ور په برخه کړه، د دې قربانيانو له ډلې يو هم (اشنا منصو) مولوی سيب تقبله الله وه، چې د چپرهار ځمکه يې په مرتدينو سور اور ګرځولې وه، مرتدينو به ترې ځان نشو خوځولی هر ځای به يې په مرتدينو سرې لمبې بلې کړی وی که د اشنا منصور تقبله الله په اړه وغږيږو نو شايد کتابونه ترې ډک شي

تل يې د جهاد سنګرونه ګرم ساتلی وه، د جهاد او سنګرونو ګرمو ساتلو وجه وه چې ډيرې ځوانان به راتلل او د مجاهدينو په ليست کې به يې خپل نومونه همده سره ليکل، مرتدين دومره ووېريدل چې بيا به په خپله راتلل مجاهدينو ته به تسليمدل، د جهاد خوندورې صحنې وې، په هر لور به د مرميو شور او درزهار وه، د هغه وخت مخلص مجاهدين هم دومره زړور او سترګور شوی وه ،چې دښمن سره به لاس په لاس جنګيده، دښمن به له ډيرې يرې له خپل پټنځای څخه نشو راوتلی، د چپرهار اولسونو هم د مجاهدينو سره ورځ تر بلې مينه زياتيده دومره مينه چې کله به مجاهدين په لاره تلل نو زنانه و به د کورونو له ديوالونو په مجاهدينو به يی ګلان شيندل، د عوامو مينه ورځ تر بلې زياتيده او اکثره ځوانان به راتله د مجاهدينو په صف کې به يې نوم ليکنه کوله يو له هغو زړورو او بهادرو زلمو څخه وحدت تقبله الله وه وحدت تقبله الله د اشنا منصور مولوی سيب تقبله الله په دلګې کې نوم ليکنه وکړه،وحدت تقبله الله چې کله هم د مجاهدينو صف کې يو ځای کيده نو ډير زيات وروکی وه، خپله وروکی وه خو رب العالمين د غره هومره زړه ورکړی وه، د ډيرې زړورتيا له وجې يې هغه وخت د خپلو مجاهدينو په منځ کې په قومندان مشهور وه، جهادونه وو ،کيدل ورځ تربلې د مجاهدينو رعب او دبدبه زياتيده، داسې وخت راغی چې د نړۍ په بام د اسلامي خلافت څرک ولګيده مؤمنان مجاهدين زيات خوشحاله شود نړۍ سپيڅلو مجاهدينو د مؤمنانو امير ابوبکر البغدادي تقبله الله سره بيعتونه شروع کړه يو د هغو نه د خراسان زمری هم وه چې له دې ځايه يې خپل بيعتونه د اسلام ستر سپه سالار ته وليږه، د نورو ځايونو په نسبت د خراسان بيعت لږ وځنډيده، د وخت په تيريدو سره چې د خراسان بيعت د مؤمنانو امير قبول کړ، نو د خراسان غازيان دلته په غورځنګونو راغلل، دلته نو بيا د خراسان شهسوار حافظ سعيد خان تقبله الله د خراسان مجاهدينو لپاره والي مقرر شو، هر چا خپل بيعتونه د حافظ سعيد خان تقبله الله په لاس د اميرالمومنين تقبله الله سره کاوه، د چپرهار اکثره مجاهدينو هم د حافظ سعيد خان تقبله الله سره بيعت وکړ، وحدت تقبله الله له کورنۍ پټ لاړ، د بيعت کولو لپاره، کله يې چې بيعت وکړ او راستون شو، نو بيا وحدت تقبله الله زيات سترګور شوی وه، مېړانه شجاعت يې هم لا زيات شوې وو، وحدت تقبله الله د غه وخت په يوه ديني مدرسه کې خپل سبقونه هم ويل، د ورځې به يې خپل درس وايه او ماښام به بيا د مجاهدينو خواته راته، د وخت په تېريدو سره وحدت تقبله الله د ښاري شازلمو په ليست کې نوم ليکنه کړی وه، ښاري شازلمو ورته تمکين ته د مهاجرينو ليږد راليږد ترتيب وسپاره،او د يو څه وخت له تيريدو وروسته د ښار د خرپ ، ترپ د ډلګيو سره يو ځاې شو چې بيا نو د مرتدينو د ککريو په لو کولو تر هغې بوخت وو چې تر څو ورته په همدې لاره کې مرګ راغې . تقبله الله .

# تالب
## کشران غولوی

تالب کشران غولوي *** هسی خپل ځان غولوي
فرمان د دروغو خپور کړي *** هر مسلمان غولوي
چل ول یې ډیر زده کړی *** ولا شیطان غولوي
شي امریکا خوشحاله *** خیال کې (رحمان) غولوي
دغه د دوی ذهن دی *** ځمکه اسمان غولوي
هر چاته ښه مالوم شو *** څه ماشومان غولوي
له خندا شین شم ورته *** ټول سادګان غولوي
شهید ځان لولپه کړ *** دوی یې ارمان غولوي
امریکا ګټه وکړه *** دا خره ارزان غولوي
دا کمکرایه عسکر دي *** ډیر یې اسان غولوي
مشران ښې ډیرې اخلي *** په کم، خواران غولوي
یو یې هیلکس کې ګرځي *** بل یتیمان غولوي
رب خو سمیع بصیر دی *** خیر که جهان غولوي

# سِيرَةُ النَّبِي صلى الله عليه وسلم

## سیرت دولسم درس

بسم الله الرحمن الرحیم
الحمد لله رب العالمین والصلاة والسلام علی سید الأنبیاء والمرسلین وعلی آله وصحبه أجمعین، أما بعد:
محترمو مسلمانانو ورونو، د نبي علیه السلام د سیرت مبارکه لړۍ د صحیح احادیثو په رڼا کې شروع وه، تیر درس کې تر دې ځای پورې خبره رسیدلې وه، چې نبي علیه السلام خفیه دعوت شروع کړی و، د لومړي مسلمانانو بیان وشو، د هغوی د عبادت بیان هم وشو اوس د الله په توفیق سره د جهري دورې تذکره پیل کوو.

### د دعوت دوهمه مرحله: د جهري دعوت پیل:

تر دې ځای پورې د نبي علیه السلام توحید ته بلنې لومړۍ دوره پای ته ورسیده، چې درې کاله موده وه یا هم څلور کاله موده یې وه، دغه درې څلور کاله کې د نبي علیه السلام دعوت د مکې هرې قبیلې ته ورسیدو، تقریبا هرې کورنۍ څخه یو څو کسانو اسلام قبول کړو. مسلمانانو عقیده پخه شوه، د نبي علیه السلام بڼ ګلان رازرغون کړل، د الله تعالی پیغام ډیری خلکو ته ورسیدو او هغوی په خپلو سینو کې محفوظ کړو.
د نبي علیه السلام دعوت څخه قریش یو څه خبر شوي وو، خو دومره التفات یې ورته نه کاوه، هغوی فکر دا و چې دا به هم د جاهلیت موحدینو په څیر یو نیک انسان وي، او خپل شخصي اعمال به کوي، زمونږ سیاسي نظم کې به ګوتې نه وهي، زمونږ د جاهلیت په قوانینو ولاړ وضعي او شرکي نظام ته به څه نه وایي ؟ زمونږ د بتانو نړولو په پار ابراهیمي دریځ به نه اختیاروي، اجتماعیت پورې هسې هم کار نه لري نو شخصي اعمالو پسې یې مونږ هم نه ګرځو. لکه نن سبا هم چې د سیکولرزم کفري مفکورې همدغه تاثر خپور کړی چې شخصي اعمالو کې هر انسان آزاد دی، ولو که دا عقیده ده، که اعمال دي، که نظر او فکر دی، که لباس، خوراک، استوګنې وغیره معاملاتو کې آزادي ده، دا حقوق انسانانو ته حاصل دي، خو د سیکولر نظریې پرضد فکره او د نظام لپاره مبارزه ورته د منلو وړ نه ده.
نبي علیه السلام دغه دویمې مرحلې ته هغه وخت ورداخل شو کله چې الله عزوجل ورته دا حکم وکړو، چې خپل نزدې خپلوان دې د الله تعالی له عذاب څخه وډار کړه.
علي رضي الله عنه وایي: کله چې دا آیت کریمه نازل شو [وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ.] [الشعراء: 214]
ژباړه: او ته خپل نزدې خپلوان وډار کړه. نو نبي علیه السلام د خپلې کورنۍ خلک [ډوډۍ ته] راجمع کړل. نو دیرش کسان راټول شول، نو هغوی خوراک وکړو او څښاک یې وکړو. بیا نبي علیه السلام ورته وفرمایل: څوک به زما د قرض ضمانت وکړي او زما څخه وروسته زما لوظونه پوره کړي او هغه به ما سره جنت کې ملګری وي، او زما په اهل کې به زما نائب وي ؟ نو یو کس وویل: اې د الله رسوله ته خو بحر یې، تا سره څوک ودریدای شي ؟ وایي بیا یې بل کس ته وویل، خپلې ټولې کورنۍ ته یې دا خبره وړاندې کړه. [خو هیڅوک تیار نشو] علي رضي الله عنه وایي: ما ورته وویل چې زه یم. [مسند أحمد وإسناده ضعیف لضعف شریك بن عبد الله النخعي وعباد بن عبد الله الأسدي وفیه عنعنة الأعمش]
سبحان الله، د نبي علیه السلام د دعوت څومره ښایسته انداز و، چې ټولې کورنۍ ته یې مېړۍ وکړه، ددغه احسان له امله یې ځانته مایله کړل، چې کله خه ماحول برابر شو، خوراک څښاک هم وشو، خلک ماړه شول، د هغه نه وروسته یې خلک په لطیف انداز سره خپل دعوت ته متوجه کړل او الهي ماموریت ادا کول یې شروع کړل، خو خلکو ورته وویل: ته خو بحر یې، سخي یې، ستا سره څوک ودریدای شي ؟ دا د توحید نظام قیام په پار اغزنې لار باندې مزل کول زمونږ کار نه دی، دا د غرونو په څیر کلک او اوچت فولادي ایمان غواړي!! صلی الله علیه وسلم.
مسند احمد کې بل روایت هم راغلی چې هغه کې علي رضي الله عنه وایي: نبي علیه السلام د عبد المطلب بچیان راوغوختل، دا داسې خوراکي خلک وو چې هر یوه به په یوازې ځان د بیزې بچی خوړو او یو لوی لوښی څښاک به یې کوو، وایي نبي علیه السلام د دوی لپاره درې پاو اوړه واغږل او خوراک یې ورته تیار کړو، هغوی ټولو خوراک وکړو تر دې چې ماړه شول. وایي خوراک بیا هم هغه شان پاتې و، ګویا که چا ورته ګوتې هم ندي وروړي. بیا یې ورته وړوکي لوښي کې شیدې راوړې، چې ټولو وڅکلې او پرې ماړه شو. او دا شیدې هغه لوښي کې همداسې پاتې وې لکه چا چې بیخي ګوتې هم نه وي وروړې.
نو نبي علیه السلام وفرمایل: اې د عبد المطلب بچو، زه تاسې ته په خاصه توګه او نورو خلکو ته په عامه توګه رالیږل شوی یم. تاسې زما د حقانیت نښه [د خوراک او څښاک زیاتیدل] هم ولیده، نو کوم یو په تاسې کې ما سره بیعت کوي چې هغه به زما ورور او ملګری شي ؟ وایي هیڅ یو تن هم پانڅیدو خو وایي زه پاڅیدم سره ددې چې ټولو کې زه کشر وم، وایي نبي علیه السلام راته وویل ته کینه. درې کرت یې خپله خبره تکرار کړه او هر کرت ورته زه پاڅیدم او هغه به راته ویل: کینه. تر دې چې دریم ځل یې راسره بیعت وکړو. [ددې روایت سند ته بعضې محققینو حسن ویلي دي او یونیم محقق ربیعة بن ناجذ ته مجهول ویلي دي.]
محمد رسول الله علیه السلام مربي انسان و، د الله عزوجل بندګانو سره یې زیاته خیرخواهي درلوده، او ډیره عجیبه دا ده چې د یو ماشوم ملاتړ او بیعت یې هم خپله بریا ګرزولې ده، ناامیده شوی نه دی چې یو ماشوم باندې به څه کار وشي.
په سنن الکبری د امام بیهقي کې دا روایت ددې څخه هم تفصیلي راغلی دی خو هغه روایت ضعیف دی. هغه روایت کې دي چې نبي علیه السلام ته دا کار ډیر ګران ښکاریدو، ځکه لومړي ځل لپآره توحید ته ښکاره بلنه سخته وه، او د خلکو استهزاء څخه ډاریدو، وایي جبرائیل علیه السلام ورته وویل که د رب العالمین ددغه حکم تعمیل دې ونه کړو چې خپل نزدې خپلوان وډار کړه نو عذاب به درته درکړي. دا روایت خو ضعیف دی خو نوره دا خبره سمه ده، کله چې نبي د الله تعالی وحي او رسالت په صحیح توګه امت ته ونه رسوي، الله تعالی ورته عذاب ورکوي، لکه د سنن الترمذي او مسند احمد روایت کې چې راغلي دي: الله تعالی یحیی علیه السلام ته د پنځه خبرو وحي وکړه چې خپله پرې هم عمل کوه او بني اسرائیلو ته هم

امر وکړه، نو یحیی علیه السلام څخه دغه وحي رسولو کې تاخیر وشو، عیسی علیه السلام ورته وویل: اې زما وروره، الله تعالی تاته د پنځه کلماتو وحي کړې ده، چې خپله هم پرې عمل وکړه او بني اسرائیلو ته هم اووایه چې عمل پرې وکړي، نو یا خو ته دغه وحي بیانه کړه او یا یې زه بیانوم. یحیی علیه السلام ورته جواب ورکړو: [أَخْشَى إِنْ سَبَقْتَنِي بِهَا أَنْ يُخْسَفَ بِي أَوْ أُعَذَّبَ] ژباړه: زه ډاریږم کچیرې ته پدې کې زما څخه مخکې شوې نو زه به په ځمکه دننه کړی شم او یا به راته عذاب راکړی شي. الله أکبر، نبي دومره ډاریږي که وحي رانه بل نبي بیانه کړه نو الله به مې په ځمکه ننباسي، غرق به شم، او عذاب سره به مخ شم، د داعیانو لپاره ډیر د ویرې او خوف مقام دی. الله دې مونږ تاسې ته د حق وینا توفیق راکړي، نو یحیی علیه السلام زر راووتلو او خلک یې بیت المقدس کې راجمع کړل، دومره خلک و چې دا جمات ترې سم ډک شو او بره ځایونو کې خلک ناست ول. یحیی علیه السلام ورته د الله تعالی وحي بیانه کړه، چې دغه کلماتو کې د توحید دعوت، د شرک څخه منع کول، مونځ، روژه، صدقه او د الله تعالی د ذکر امر و. الغرض د جبرائیل علیه السلام دغه خبرې څخه وروسته رسول الله علیه السلام ډوډۍ انتظام وکړ او خپل ټول خاندان یې راټول کړو، د ډوډۍ څخه وروسته چې نبي علیه السلام ځان خبرې ته جوړووو نو ابو لهب ظالم چې خوراک ته خه تکړه و، ځان یې تر سپیړمو پورې موړ کړو نو نبي علیه السلام ته یې وویل چې وراره بس دغه کیسو نه تیر شه، تا دا ټوله جادوګري ددې [توحید دعوت] لپآره کړې وه، جادوګري نه هدف یې د خوراک او څښاک معجزتا زیاتیدل و، نو ټول پاڅیدل، سبا نبي علیه السلام بیا ډوډۍ وکړه، بیا ابو لهب ځان په خوراک خه موړ کړو خو نبي علیه السلام یې خبرې ته پرېنښود، نبي علیه السلام هم همت نه بایلو نو دریمه ورز باندې یې بیا ټولو ته ډوډۍ وکړه، او پدغه ورز یې خوراک پسې فورا خپل دعوت شروع کړو، خو قوم کې ورسره د علي رضي الله عنه پرته بل هیچا بیعت ونه کړو.

مشهور مؤرخ ابن الأثیر په الکامل في التاریخ ج ۱ / ص ٦٥٩ کې د جَعْفَر بْن عَبْد اللَّه بْن أَبِي الْحَكَم څخه روایت راوړی، هغه وایي: ددې آیت له نازلیدو وروسته رسول اکرم صلی الله علیه وسلم خپله کورنۍ (بني هاشم) راوبلل، هغوی بلنه ومنله راغلل، او د بني المطلب بن عبدمناف له کورنۍ نه هم څو کسان ورسره وو، ټول پنځه څلویښت کسان راټول شول. ابو لهب وړاندې شو د خبرې سر یې ونیو او محمد صلی الله علیه وسلم ته په خطاب سره یې وویل: ګوره! دا ستا ترونه او د ترونو زامن دي، خبرې وکړه خو ناپوهي پریږده، پدې ښه پوه شه چې ستا کورنۍ د ټولو عربو زور نلري، نو زه حق لرم چې ودې نیسم (لدې کار نه دې منع کړم). ستا لپاره همدا ستا کورنۍ کافي ده چې مخه دې ونیسي که چیرې ته پخپله خبره همداسې ټینګ پاتې شې، نو ستا د قوم لپاره ستا مخنیوی لدینه آسانه دی چې قریش ټول ستا په خلاف را پورته شي، او نور عرب یې هم مرسته وکړي، زه نه پوهیږم هغه وخت به بیا بل څوك داسې پیدا شي چې ستا په شان د خپل قوم د تباهۍ او بربادۍ دا ډول سبب وګرزي؟! رسول الله (صلی الله علیه وسلم) چوپ پاتې شو او پدې مجلس کې یې هیڅ خبرې ونکړې.

وروسته رسول اکرم صلی الله علیه وسلم دوهم ځل بیا هغوی راوبلل، کله چې غونډ شول ویې فرمایل: " الْحَمْدُ لِلَّهِ، أَحْمَدُهُ وَأَسْتَعِينُهُ وَأُومِنُ بِهِ وَأَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ "، ثُمَّ قَالَ: " إِنَّ الرَّائِدَ لَا يَكْذِبُ أَهْلَهُ، وَاللَّهِ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُمْ خَاصَّةً وَإِلَى النَّاسِ عَامَّةً، وَاللَّهِ لَتَمُوتُنَّ كَمَا تَنَامُونَ، وَلَتُبْعَثُنَّ كَمَا تَسْتَيْقِظُونَ، وَلَتُحَاسَبُنَّ بِمَا تَعْمَلُونَ، وَإِنَّهَا الْجَنَّةُ أَبَدًا وَالنَّارُ أَبَدًا ". ژباړه: ټول حمد او ثنا الله تعالی لره ده، زه د هغه ثنا وایم، له هغه نه مرسته غواړم، په هغه ایمان لرم، او په هغه باندې توکل کوم، او پدې شاهدي وایم چې له الله تعالی پرته بل هیڅوك هم د عبادت وړ ندي، هغه واحد دی هیڅ شریك نلري، بیا یې وویل: مشر او لارښود خپل اهل او د خپل کور خلکو ته دروغ نه وایي، [رائد هغه کس ته وایي چې قوم یې کومې خواته د اوبو یا واښو معلوملو په پار ولیګي] قسم په هغه ذات چې لده پرته بل اله (د عبادت وړ معبود) نشته، زه د الله تعالی له لوري ستاسې لپاره په خاصه توګه او د ټولو خلکو لپاره په عامه توګه رسول او استازی رالیږل شوی یم، قسم په الله (جل جلاله) داسې به مرئ لکه څرنګه چې ویده کیږئ، او داسې به بیرته را ژوندي کیږئ لکه څرنګه چې له خوب نه را پاڅیږئ، او د خپل هر عمل حساب او کتاب به درسره کیږي، بیا به د تل لپاره یا جنت وي او یا دوزخ. ور پسې ابو طالب داسې وویل: ستا سره زمونږ لپاره د ویاړ خبره ده، مونږ له هر چا نه زیات ستا نصیحت ته غوږ ږدو او منو یې، مونږ له هر چا نه زیات ستا خبره رښتیا ګڼو، دا دي ستا ترونه او تربرونه ټول حاضر دي، زه هم د دوی یو غړی یم، خو زه ستا د خوښۍ او هدف د تکمیل په لار کې له دوی نه وړاندی یم، په پوره ډاډ او اطمینان سره مخ په وړاندې درومه، خپله دنده په ښه توګه ادا کړه، قسم په الله تل به دې خوا ته ولاړ وم او ملاتړ به دې کوم، خو طبیعت او نفس مې د دې اجازه نه راکوي چې د عبدالمطلب دین پریږدم.

دلته ابو لهب وویل: والله چې دا ډیره بده ده، مخکې لدینه چې نور خلك یې له دې کارنه منع کړي باید تاسو یې لاس ونیسئ او له دې لارې نه یې را واړوئ. ابو طالب په ځواب کې ورته وویل: قسم په الله تر څو ژوندي یو دفاع به ور نه کوو.

[محققین وایي ددې راوي جعفر بن عبد الله بن الحکم کچیرې د انس رضي الله عنه شاګرد وي، نو هغه کشر تابعي دی، پدغه حال کې دا روایت مرسل او ضعیف دی، سره ددې چې هغه پورې هم دا سند نه دی رسیدلی، او که دغه راوي نه وي نو مونږ دا راوي د تخریج په کتابونو کې ونه موندو]

**د صفا غونډۍ څخه د توحید غږ پورته کول:**

دا د نبي علیه السلام لومړی قدم و چې د توحید غږ یې د خپلې کورنۍ هر غړي ته ورورساوه، حجت پرې قایم شو، دې پسې نبي علیه السلام دویم اقدام کوي، او دې ځل د بندو کوټو څخه د مکې په پراخه فضا کې د صفا غونډۍ څخه د توحید غږ اوچت کړ، رازئ چې د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه یې واورو: [لَمَّا نَزَلَتْ: {وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الأَقْرَبِينَ} [الشعراء: 214]، صَعِدَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الصَّفَا، فَجَعَلَ يُنَادِي: «يَا بَنِي فِهْرٍ، يَا بَنِي عَدِيٍّ - لِبُطُونِ قُرَيْشٍ - حَتَّى اجْتَمَعُوا فَجَعَلَ الرَّجُلُ إِذَا لَمْ يَسْتَطِعْ أَنْ يَخْرُجَ أَرْسَلَ رَسُولًا لِيَنْظُرَ مَا هُوَ، فَجَاءَ أَبُو لَهَبٍ وَقُرَيْشٌ فَقَالَ: «أَرَأَيْتَكُمْ لَوْ أَخْبَرْتُكُمْ أَنَّ خَيْلًا بِالوَادِي تُرِيدُ أَنْ تُغِيرَ عَلَيْكُمْ، أَكُنْتُمْ مُصَدِّقِيَّ؟» قَالُوا: نَعَمْ، مَا جَرَّبْنَا عَلَيْكَ إِلَّا صِدْقًا، قَالَ: «فَإِنِّي نَذِيرٌ لَكُمْ بَيْنَ يَدَيْ عَذَابٍ شَدِيدٍ» فَقَالَ أَبُو لَهَبٍ: تَبًّا لَكَ سَائِرَ اليَوْمِ، أَلِهَذَا جَمَعْتَنَا؟ فَنَزَلَتْ: {تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ مَا أَغْنَى عَنْهُ مَالُهُ وَمَا كَسَبَ} [المسد: 2]] [صحیح البخاري ومسلم]

ژباړه: کله چې د (وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ الأَقْرَبِينَ) آیت را نازل شو رسول الله صلی الله علیه وسلم د صفا غونډۍ ته وخوت او د قریشو کورنیو ته یې جدا جدا غږ وکړ، اې بني فهر، اې بني عدي! تر څو ټول قریش راغونډ شول، کچیرې کوم کس د تللو وسع نه درلود نو خپل استازی یې ولیږلو چې لاړ شه وګوره څه خبره ده ؟ ابولهب هم راغی، قریش هم راغلل، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: که درته ووایم چې پدې دره یا خوړکې یوه ډله شهسواران دي غواړي حمله درباندې وکړي، نو آیا تاسې به زما دغه خبره ومنئ؟ دوی وویل: هو، مونږ له تا نه همیشه رښتیا اوریدلي دي. بیا یې ورته وفرمایل: زه تاسې ته له یوه سخت عذاب نه د خبر ورکونکي په حیث راغلی یم. پدې وخت کې ابو لهب وویل:

ټوله ورځ هلاك اوسې، همدا نن هلاك شې آيا د همدې لپاره دې راټول کړي وو؟ نو پدې پسې (تبت يدا أبي لهب و تب) (مات، هلاك دې شي دواړه لاسونه د ابي لهب او پخپله دې هم هلاك شي) سورت رانازل شو.

عزتمندو لوستونکو!

د هر وخت خپله تقوا وي، دلته وس دا تقوا ده چې داعي ميدان ته راوځي او على الأعلان کفر ته ټټر ووهي، د توحيد صفا عقيده ورته ورسوي، او دغه مبارزه يوازې د رب په توفيق سره کيږي، کله کله انسان کې اخلاص نه وي، نو خپلې دا غټې غټې دعوی ورله بيرته فتنه وګرځي، نعوذ بالله، نن سبا همدا وخت دی، همدا امر مونږ تاسې ټولو ته متوجې دی، وأنذر عشيرتك الأقربين، بيان کول تقوا ده، که رب العالمين يې قبول کړي، ليکنه تقوا ده، مجاهد ته ځاي ورکول تقوا ده. د خراسان تمکين پرمهال يوځل د اعلام اداري کارمندانو د يو ويډيو جوړونې په پار بعضې ملګري منتخب کړل، خو هغه منتخب ملګرو ويډيو کې خبرو کولو څخه ډډه وکړه، عذر يې دا وړاندې کړو چې عمل کې مو رياء رانشي، د اعلام ملګرو دا شکايت د خراسان والي شيخ عبد الحسيب ته وکړو، شيخ صيب ډير خفه شو او ويې ويل چې د دغه ملګرو فهم خطا دی، د هر زمان او مکان خپله تقوا وي، نن سبا تقوا دا ده چې د اعلام په سنګر يو مجاهد ودريږي او کفارو ته سپين حق بيان کړي، دا انسان متقي دی، نه دا چې د زنانه وو په څير د اعلام او مطبوعاتو پرمخ راڅرګنديدو څخه ډار محسوسوي چې کفارو ته به نور هم مطلوب شم يا نور غير معقول او مشروع اعذار وړاندې کوي !!

دويم دې مقام کې د نبي عليه السلام طرز او نهج د بيان تغير شو، مخکې د خپلې کورنۍ خبره وه نو هغوی ته يې ډوډۍ وکړه او پدې يې د هغوی توجه جلب کړه، اوس خبره عامه ده، ټولو قريشو ته د حق غږ رسول دي، نو نبي عليه السلام د قريشو معمول مطابق صفا غونډۍ ته وخوت، او اول يې غږ وکړو يا صباحاه، اې سهاره. دا هغه لفظ و چې قريشو به د خلکو راجمع کولو پرمهال کاروه، لکه نن سبا چې خلک يو بل ته خبردارې ورکوي ورته وايي: يو ضروري اعلان واورئ. نو دغه الفاظ د قريشو د اعلان الفاظ وو. قريش چې راغلل ګوري چې د صدق او وفا غر د صفا په غونډۍ ولاړ دی، موضوع نوره هم مهمه شوه، ځکه نبي عليه السلام په شان باوقاره، صادق او امين انسان به يو ضروري مسئلې لپاره دا اعلان کړی وي. کله چې قريش راټول شول، او ټول د نبي عليه السلام مبارکې خولې څخه راوتونکو ملغلرو ته په طمعه ول. دې ځای کې محمد رسول الله عليه السلام دعوت کې کمال کړی او ډير خوندور اسلوب سره يې خلک خپل دعوت باندې قانع کړل، هغه داسې چې لومړی يې ترې خپل صدق په اړه تپوس وکړو، خپل عدالت ثبوت يې د هغوی د خولو څخه راوويستلو، کله چې ټولو په يوه خوله وويل چې ته ريښتوني انسان يې، دا د قريشو اجماع شوه، دغه وخت نبي عليه السلام تقريبا د ۴۴ کالو و، قريشو په دومره اوږده موده کې نبي عليه السلام باندې هيڅ کوم نقد نه درلود، د نبي عليه السلام داسې بې داغه ماضي و. نو نبي عليه السلام ورته وويل خه چې زه صادقه يم، هيڅکله تاسې له ما څخه دروغ نه دي اوريدلي، دنياوي امورو کې مې رښتينې ګڼئ، نو أخروي امورو کې مې هم رښتيني وګڼئ، دا أوضح خبر چې د لښکر خبر ورکول دي، دې سره يې واضح خبر يعني د آخرت عذاب ورته ښه روښانه کړو. نورو قريشو د قال په ژبې سره دا خبره ونه منله خو د حال په ژبه يې دا ګواهي ورکړه، چې خبره دې حقه ده، خو د نبي عليه السلام د خپل کور سپي ابو لهب وغپل !! پدې طريقې سره د توحيد دعوت په مکه کې بيخي په ډاګه شو، د بيت الله هر مجلس، د مکې هر کور، کوڅه، غر او دره کې همدا آوازې شوې چې محمد بن عبد الله [عليه السلام] خو د نبوت دعوه وکړه.

دې حديث کې او مخکنو بعضې رواياتو کې هم ذکر وشو چې نبي عليه السلام دا قريش د عذاب او جهنم څخه وډار کړل او وروسته به هم راشي چې ځای په ځای مشرکان د عذاب او جهنم څخه ډاروي، نو د دعوت ترهيبي اړخ انتخابولو کې کوم حکمت و ؟ ولې يې ترغيبي اړخ نه اختياراوو ؟ ددې لنډ جواب دا دی چې قريش د سخت مزاج خاوندان وو، سختو کارونو سره عادت و، د غرونو مزلونو، شاقه ژوند، فقر او جهالت له امله يې زړونه د کاڼي په څير کلک شوي وو، نو هغوی باندې ترغيب سم اثر نه کوو بلکې دغه ډول سخت دريځه خلکو باندې ترهيب او تهديد خه اثر کوي. ځکه د مقتضی الحال موافق نبي عليه السلام د خپل دعوت موضوع انتخاب کړه.

صحيح مسلم کې ابو هريره رضي الله عنه د جهري دعوت پيل نامه داسې بيانوي: [عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: لَمَّا أُنْزِلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ {وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ} [الشعراء: 214]، دَعَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُرَيْشًا، فَاجْتَمَعُوا فَعَمَّ وَخَصَّ، فَقَالَ: «يَا بَنِي كَعْبِ بْنِ لُؤَيٍّ، أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ، يَا بَنِي مُرَّةَ بْنِ كَعْبٍ، أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ، يَا بَنِي عَبْدِ شَمْسٍ، أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ، يَا بَنِي عَبْدِ مَنَافٍ، أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ، يَا بَنِي هَاشِمٍ، أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ، يَا بَنِي عَبْدِ الْمُطَّلِبِ، أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ، يَا فَاطِمَةُ، أَنْقِذِي نَفْسَكِ مِنَ النَّارِ، فَإِنِّي لَا أَمْلِكُ لَكُمْ مِنَ اللهِ شَيْئًا، غَيْرَ أَنَّ لَكُمْ رَحِمًا سَأَبُلُّهَا بِبَلَالِهَا»] ژباړه: کله چې د(وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ) آيت را نازل شو، رسول الله صلى الله عليه وسلم آواز وکړ، دا آواز عام هم و او خاص هم، ويې فرمايل: اې قريشو! ځانونه له جهنم نه وساتئ، اې بني کعب! ځانونه له دوزخ نه وساتئ، اې د محمد صلى الله عليه وسلم لورې فاطمې! رضي الله عنها ځان له اور نه وساته، ځکه قسم په الله چې زه د الله تعالى له رانيولو څخه ستاسې د خلاصون په لاره کې هيڅ واك او اختيار نلرم، خو دا ده چې ستاسې سره د نسب او قرابت اړيکې لرم، او کوښښ کوم چې حق يې ادا کړم، ټينګې او برقرارې يې وساتم.

دا آيت کريمه (وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ) د سورت الشعراء برخه ده، ددې انتخاب ځکه وشو چې سورت الشعراء کې د انبياء کرامو د دعوت بيان دی، د توحيد لارو کې د خنډونو او تکليفونو ذکر دی، نو د هغوی په اقتداء کولو سره د مومنانو تربيت مقصود و او کفارو ته هم تهديد و چې ګورئ که توحيد څخه انکاري شوئ نو انجام به مو داسې شي لکه سابق کې چې تکذيب کونکي قومونه په بدو مرګونو هلاك شول. او نبي عليه السلام او صحابه وو ته هم د مخکني انبياؤ په واقعاتو سره تربيت ورکول مقصود و.

الله عزوجل نبي عليه السلام ته لومړی امر خپلوانو ته توحيد رسولو په اړه ځکه وکړو چې خپلوان د نورو خلکو په پرتله په انسان باندې زيات حق لري. دويم دا چې کله خپل خلك داعي سره ودريږي، نو هغوی بيا کلک ولاړ وي، او نورو قبيلو ته اسلام خوريدو کې به ورسره مرسته وکړي. لکه ابو طالب چې نبي عليه السلام سره موافق شو او نبي عليه السلام ته د دعوت زمينه مساعده شوه. دريم علت دا و چې هاشمي خاندان د مکې معزز او ديندار خلك و، دغه رنګ د مکې نور قومونه هم ټولو عربانو ته معزز او د دين مشران ښکاره کيدل، بيت الله د عربانو قبله وه، ديني مرکز ګڼل کيدو، نو په نورو عربانو او قبائلو يې خاص اثر درلود، ځکه هغوی دا کعبه مقدسه ګڼله، عملي نښې يې ليدلې وی، لکه د ابرهه لښکر ماتيدل او داسې نور. بيا لږه موده وروسته د کور کلي څخه دا دعوت د نړۍ لر بر ته خپور شو.

امام طبري رحمه الله په خپل تفسير کې د عبد الله بن عبيده اثر راوړی دی، چې حافظ ابن کثير خپل تفسير کې ابن مسعود رضي الله عنه ته منسوب کړی، هغه وايي: " مَا زَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُسْتَخْفِيًا حَتَّى نَزَلَتْ: {فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِينَ} [الحجر: 94] فَخَرَجَ هُوَ وَأَصْحَابُهُ " [تفسير الطبري ۱۴ / ۱۴۳] ژباړه: نبي عليه السلام پټ و [خفيه دعوت يې کوو] تر دې چې دا آيت

نازل شو: صفا بیان کړه هغه څه چې تا ته یې امر شوی دی او د مشرکانو څخه مخ واړوه. نو نبي علیه السلام او د هغه صحابه راښکاره شو. خو ددې روایت سند ضعیف دی، موسی بن عبیده الربذي پکې ضعیف راوي دی.

## د تعذیبونو نه ختمیدونکې لړۍ:

محمد رسول الله علیه السلام د توحید دعوت غږ د مکې هر نر او ښځې ته ورسید، د مکې کفارو دا غږ د خپلې واکمنۍ لپاره د خطر زنګ وباله، په بیت الله کې د ۳۶۰ بتانو منجوران پدې پوهه شو چې زموږ شخصي مفادات او د دین په نوم د نامشروع تجارت بازار په سړیدو دی، د قریشو د وضعي قانون تصویب کونکو او د پارلمان غړو ابو جهل [ابو الحکم]، ولید، أمیه، عاص بن وائل وغیره وو سر هم خلاص شو چې د توحید منل زموږ قانون او دستور ته د پای ټکی کیښودلو په معنا دي. په عربانو کې زموږ امتیازات، تشریفات او دیني مشري د زوال سره مخ کیږي، د لات، عزی، منات او هبل بتانو شرکي عبادت د کلک ګواښ سره مخ شو، د پلار نیکه څخه راپاتې خود ساخته شرکي دین تغر په ټولیدو دی، زموږ پلار نیکه به هم د دې نه وروسته د ګمراهانو په نوم یادیږي، زموږ د جاهلي غیرت هسکې شملې ولونه به پرانیستل کیږي، دلته به بیا موږ ته د عدل، انصاف، تعلیم، تهذیب، تمدن، ثقافت، عفت، امانت، صداقت، دیانت، شرافت، د ټولنې د هر فرد مشروع حقونو او د الهي نظام پیاوړي بنسټونو باندې استوار سپیڅلي احکام منلو لاربښودنې او سپارښتنې به راته کیږي، زموږ د غلا، ډاکې، د زنا، د ظلم، سود، رشوت، اختطاف، باج ګیري، چپاول، فساد او نورو ناوړه کړونو مخنیوی به کیږي، زموږ د قوم سپین ګیري او پوهان به د یو ځوان په اتباع کې ناسته او ولاړه کوي، خپل میراثي غرور او تکبر به د لاسه ورکوو او پرځای به یې د انقیاد او اطاعت ځادرونه په سر کوو، زموږ د ټولنې مظلوم او ضعیف قشر به هم موږ سره په حقوقو کې شریک شي، د تبعیض پرته د شریعت په زرینو اصولو ولاړ نظام به رامنځ ته کیږي، لهذا د مکې مشرکانو اجتماعي پریکړه وکړه چې جاهلي غیرت، د بتانو عبادت، او شرکي سیاست زموږ سره کرښه ده، ددې څخه په هیڅ صورت نه تیریږو، نړیوالو ته ځان کم نشو راوستلای ولو که دا د عبد الله زوی محمد [صلی الله علیه وسلم] ریښتونی نبي هم وي !!

د انسان په شکل کې شیطانانو د حق اتباع پرځای د باطل ملاتړ تکل وکړو، د الله تعالی توحید پرځای یې د شرک لمن ونیوله، او په هر قیمت یې د توحید غږ خپ کولو قوي هوډ او عزم وکړو، خو دا سادګان د کائناتو عظیم رب د تدبیر څخه ناخبره ول، یوازې د ابلیس په ملاتړ ډاډه وو. قریشو خپل تکبر او عناد فارموله استعمال کړه، او امر یې وکړو چې څوک هم د لا اله الا الله ګواهي ورکوي، دا په ټولنه کې د اوسیدو حق نه لري، یا به یې انجام زخم ګالل، اسارت او شهادت وي او یا به بیرته د عزی او د لات خاورې څټې !! دا خلک ډیر په نشه کې وو او ګمان یې وکړو چې صحابه کرام اکثره هغه کسان دي چې غلامان دي، یا هم تنکي ځوانان دي، دا کار دومره ګران ندی، عملیات پرې شروع کړئ چې دا سیمه ترې پاکه شي. خو کله چې دوی د خپلې تصوري طرحې او نقشې تنفیذ باندې لاس پورې کړ نو ناڅاپه دوی سخت ټکان وخوړل، ځکه د دغه نظام او دعوت اساس، مرجع او بنیاد د سیمې تر ټولو پاک لمنه، باحیا، باوقاره، باعزته، با شرافته، باادبه، با اخلاقه انسان، د صدق او وفا بې مثاله نمونه، د عدل، انصاف، پوهې، بصیرت او د پریکړې خاوند او د بشر د ټولو غوره صفاتو ځانګړی سمبول سیدنا وحبیبنا محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم دی. هغه انسان چې تر اوسه ترې چا ضرر نه دی لیدلی، هغه انسان چې تر پرونه یې د اختلاف پرمهال زموږ روغې جوړې او عقلمندانه پریکړې کولې، نو نن به موږ په کومو سترګو د ده سپکاوی وکړو، هغه به کوم بدبخته وي چې دغه کمالي بشر ته بد رد اووایي، او هغه به کوم جهنمې څیره وي چې لاسونه یې دغه مبارک بنده په تکلیف کړي !!

قریش پدې سوچ کې وو چې آخر پدغه پاکدامنه انسان باندې کوم تور پورې کړو ؟ په کوم جرم یې راونیسو ؟ کوم نوم ورته ورکړو، کوم بهتان پرې ولګوو ؟ آخر دغه د توحید داعي باندې کومه ټاپه ولګوو، د ده کومه د ضعف نقطه راونیسو، پده باندې کوم عیب ولګوو ؟ ځکه ده باندې عیب لګول خو لمر ته لاړې توکل دي. پده باندې څنګه لاس اوچت کړو، او څنګه به د ده په توهین باندې وتوانیږو ؟ د لویو لویو بدبختو انسانانو حوصلو کار پریښود او دغه مشن ته یې د عمل جامه اچولو څخه معذرت وکړو، هغه ټولنه چې په د نړۍ په هر ډول فساد باندې ککړه وه، خو مقابل یې داسې یو څوک دی چې د خبرې ځای هم پکې نشته، پاتې لا نور اقدامات !!

الله أکبر کبیرا !! د محمد رسول الله علیه السلام په عزت باندې قربان شو، دا څومره کمالي انسان و، د دې کرښو لیکوال په خیر د ناتوانه بنده مات ګوډ قلم یې د بیان څخه کاملا عاجزه دی.

الغرض پریکړه دا وشوه چې نبي علیه السلام باندې خو لاس نشو پورته کولای، رازئ د هغه د اتباعو خلاف پریکنده عملیات به شروع کړو، پدغه صحابه وو باندې هر نوعه تشدد، وحشت او بربریت کول روا دي، داسې سختۍ څخه کار واخلئ چې راتلونکي وخت کې بیا څوک زموږ شرکي نظام او جاهلي غیرت ته په کږه سترګه ونه ګوري، خپل ټولې حربې په کار واچوئ او د خپلې قبیلې ناپوهان او غلامان د کلک فشار د لاندې ونیسئ، ترڅو په لږه موده کې زموږ عملیات بشپړ شي.

د دغې پریکړې څخه وروسته مکه کې یوه عجیبه فضا جوړه شوه، په هر کور کې خفګان او جنګ شو. د هرې کوڅې څخه د زړه سوځونکو کړیکو او چیغو غږونه راخیژي، په بیت الله او بازارونو کې د نازولو زلمو د سپینو ګل ورینو او تنکیو جسمونو څخه د سرو وینو ویالې بهیږي، مکې د تعذیب خانې څادر اغوستی و، د آهونو او دردونو غبار ټوله فضا خړه کړې وه، د ایمان او د کفر مقابله شروع وه، د مشرکانو درندې درندې څپیړې د کمزورو او لاچاره مسلمانانو په یوسفي مخونو باندې د باران په څیر وریدې، د الله عزوجل پرته بل کوم یار او مددګار نه و، د فریاد اوریدو او د ژړا بل در نه و، د الله د نصرت نه علاوه د نجات کوم امید نه و، خو هغه حالت یوازې الله ولیدو چې په صحابه کرامو باندې کوم کوم ظلمونه وشول ؟ بعینه نن سبا د کفارو او د مرتدینو زندانونه د مکې د حالاتو روڼ انځور وړاندې کوي، د توحید او جهاد په جرم بې ګناه مومنان د دغه وحشیانو په شکنجه خانو کې بې آسرې پراته دي، د دغه ظالمانو هر ظلم او ستم ته یې غاړه کیښودې ده، او د رب در پرته بل در نه لري. والله المستعان. خو ترڅو چې د حق او باطل معرکه روانه وي دا اسارت او شهید لړۍ به هم ورسره هم مهاله روانه وي، او دا د حق په لار کې مومنانو باندې اوله عقبه وي، کور او کلي خلک د حق داعي څخه هجران اختیار کړي، او د زور واکو لخوا پرې د تعذیبونو نه ختمیدونکې لړۍ شروع شي، رازئ چې په لاندې کرښو کې د قریشو بعضې مظالم او د مومنانو د استقامت معالم ولولو:

بلال بن رباح رضي الله عنه چې د امیه بن خلف الجمحي غلام و کله چې په اسلام مشرف شو، نو امیه بن خلف به یې په غاړه کې پړی وراچاوه او هلکانو ته به یې په لاس ورکړ چې د مکې په غرونو کې یې تاو راتاو کړي. پړي به یې غاړه ووهله، امیه به په ډیر شدت سره راکاږه او په لرګي به یې واهه، سره لمر ته به یې کیناوه، سخته لوږه به یې ورباندې راوستله، او په ټکنده غرمه کې به یې په سرو شګو کې څملاوه او په سینه به یې لویه تیږه ورایښودله او ورته ویل به یې: قسم په الله چې همداسې به پروت وې تر څو یا ومرې اویا په محمد صلی الله علیه وسلم باندې کافر شې او د لات او عزی عبادت وکړې خو بلال رضي الله عنه به په همدې

سخت حالت کې ویل: احد، احد [الله یو دی، الله یو دی].

عبد الله بن مسعود رضي الله عنه وايي: كَانَ أَوَّلَ مَنْ أَظْهَرَ إِسْلَامَهُ سَبْعَةٌ: رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -، وَأَبُو بَكْرٍ، وَعَمَّارٌ، وَأُمُّهُ سُمَيَّةُ، وَصُهَيْبٌ، وَبِلَالٌ، وَالْمِقْدَادُ، فَأَمَّا رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَمَنَعَهُ اللَّهُ بِعَمِّهِ أَبِي طَالِبٍ، وَأَمَّا أَبُو بَكْرٍ فَمَنَعَهُ اللَّهُ بِقَوْمِهِ، وَأَمَّا سَائِرُهُمْ فَأَخَذَهُمْ الْمُشْرِكُونَ، وَأَلْبَسُوهُمْ أَدْرَاعَ الْحَدِيدِ، وَصَهَرُوهُمْ فِي الشَّمْسِ، فَمَا مِنْهُمْ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا وَقَدْ وَاتَاهُمْ عَلَى مَا أَرَادُوا إِلَّا بِلَالًا، فَإِنَّهُ هَانَتْ عَلَيْهِ نَفْسُهُ فِي اللَّهِ، وَهَانَ عَلَى قَوْمِهِ، فَأَخَذُوهُ، فَأَعْطَوْهُ الْوِلْدَانَ، فَجَعَلُوا يَطُوفُونَ بِهِ فِي شِعَابِ مَكَّةَ وَهُوَ يَقُولُ: أَحَدٌ أَحَدٌ. [رواه ابن ماجة وسنده حسن]

ژباړه: اول اسلام اووه کسانو ښکاره کړی و، رسول الله صلی الله علیه وسلم، أبو بکر، عمار او د هغه مور سمیه، صهیب، بلال او مقداد رضي الله عنهم. هر چې رسول الله صلی الله علیه وسلم و، هغه الله جل جلاله د خپل تره ابو طالب په سبب له کافرو وساته او ابو بکر رضي الله عنه یې خپل قوم په سبب وساته. او دا نور ټول، مشرکانو راونیول او د اوسپنې زغرې یې ورته واچولې او په لمر کې یې ودرول [ترڅو وازده یې ویلي شي] نو دې هر یو د مشرکانو مطالبه ومنله سیوا د بلال رضي الله عنه نه چې هغه خپل نفس د الله لپاره سپک وګاڼه او پخپل قوم هم سپک شو، نو دا به یې هلکانو ته ورکړو او هغوئ به د مکې په درو کې راخکلو او ګرځاوو او بلال رضي الله عنه به أحد أحد ویل.

دا هغه مسلمانان دي چې د بدن په غوښو او وازدو به یې سکروټې مړې کړې خو د قریشو غیر مشروع مطالبې یې نه منلې، کفر ته تسلیمي یې نه ورکوله. بلال خو د اسلام مشهور ستوری دی، د نبي علیه السلام د حضر او سفر ملګری و، او کلک اعتماد یې پرې کاوه، دا ځکه چې په سخته ورځ کې یې دده قرباني لیدلې وه، نو سابقینو ملګرو باندې به یې زیات اعتماد کاوه. چې بیا ددې امت صدیق ابو بکر رضي الله عنه واخستو او آزاد یې کړو. صحیح البخاري کې روایت راغلی دی چې عمر رضي الله عنه به د بلال رضي الله عنه مناقب بیانول او ویل به یې: [أَبُو بَكْرٍ سَيِّدُنَا، وَأَعْتَقَ سَيِّدَنَا يَعْنِي بِلَالًا] ژباړه: ابو بکر زمونږ سردار دی او زمونږ سردار یې آزاد کړی دی، د هغه هدف بلال و.

او مصنف ابن أبي شيبة 14/ 312 کې په صحیح سند سره د قیس بن أبي حازم مرسل روایت نقل دی چې هغه وايي: ابو بکر رضي الله عنه، بلال د پنځه اوقیه سپینو زرو په عوض آزاد کړی و، چې هغه په کاڼو کې خښ کړی شوی و. مشرکانو ورته وویل: که تا دا په یوه اوقیه سپین زر باندې اخیستو نو هم مونږ درکاوه، ابو بکر ورته وویل: که تاسې دا په سل اوقیه سپین زر باندې خرڅاوه نو بیا هم ما اخیستو.

الله دې ابو بکر رضي الله عنه ته خیر کثیر ورکړي، چې زمونږ د اسلام لومړیو مستضعفینو سره یې ستر احسانات کړي دي. دا څومره لویه نیکي ده چې یو مسلمان د سخت کړاوونو سره مخ وي، اسیر وي او یو موحد مسلمان چې الله ورته مال ورکړی وي، دا یې د مال په عوض راخوشې کړي، هغه انسان ټول عمر دده ښیګړه نه هیروي. امام بخاري خپل صحیح کې دا روایت هم راوړی دی: بلال رضي الله عنه ابو بکر رضي الله عنه ته وویل: [إِنْ كُنْتَ إِنَّمَا اشْتَرَيْتَنِي لِنَفْسِكَ، فَأَمْسِكْنِي، وَإِنْ كُنْتَ إِنَّمَا اشْتَرَيْتَنِي لِلَّهِ، فَدَعْنِي وَعَمَلَ اللَّهِ] ژباړه: کچیرې تا زه د ځان لپآره اخیستی [آزاد کړی] یم نو ما ایسار کړه او کچیرې تا زه د الله لپآره اخیستی یم نو ما د الله تعالی لپآره اعمال کولو ته پرېږده.

دا خبره یې ورته هغه وخت کړې وه، کرماني وايي کله چې نبي علیه السلام وفات شو نو بلال ویل چې نور په هغه مدینه کې نه پاتې کیږم چې محمد رسول الله علیه السلام پکې نه وي، خو ابو بکر رضي الله عنه ایساروو نو دغه خبره یې ورته وکړه، که الله لپآره دې آزاد کړی یم، ما پرېږده چې لاړ شم. حافظ ابن حجر د طبقات ابن سعد په حوالې سره دا ویلي چې ابو بکر رضي الله عنه، بلال په مدینه کې ایسار کړو، او د هغه په خلافت کې به یې هم اذان کاوه، کله چې ابو بکر رضي الله عنه وفات شو نو عمر رضي الله عنه ته یې وویل چې بس نور اذان نه کوم، عمر رضي الله عنه ورته اجازت ورکړو او شام ته لاړو، هلته یې جهادونه کول تر دې چې طاعون عموس په مرض باندې ۱۸ هجري یا ۲۰ هجري کې د دمشق په خاوره وفات شو. خو د طبقات ابن سعد دغه روایت صحیح ندی ثابت.

د تعذیبونو په لړۍ کې غلامان یوازې نه و، بلکې احرار او آزادو مسلمانانو هم ډول ډول تکلیفونه ګالل، زبیر بن عوام رضي الله عنه چې د نبي علیه السلام د ترور زوی دی، او اته کلن دی، [یا شپاړس کلن دی] تنکی ځوان دی، دا یې د ناز او د پالنې وخت دی خو د ده کاکا به دا په یو پزکې کې وتاړو، او لاندې نه یې ورته د اور لوګي شروع کړو، او دا به یې ورته ویل: کفر ته راواوړه خو دغه تنکي ماشوم به ورته پدغه سخت حالت کې هم ویل: چې هیچرې به کفر ونه کړم. [هیثیمي وايي دا د ابو الأسود مرسل روایت دی او رجال یې ثقات دي. مجمع الزوائد 9/ 151]

که مونږ تاسې فکر وکړو چې یو ماشوم په پزکې کې تاو شي او لاندې څخه ورته لوګي وکړی شي، د هغه به کوم حالت وي ؟؟ د عشره مبشره د ډلې څخه بل ځوان سعد بن أبي وقاص و، هغه د خپلې خولې بیان دی، چې د هغه په اړه د قرآن کریم دا آیتونه نازل شوي وو، وايي: حَلَفَتْ أُمُّ سَعْدٍ أَنْ لَا تُكَلِّمَهُ أَبَدًا حَتَّى يَكْفُرَ بِدِينِهِ، وَلَا تَأْكُلَ وَلَا تَشْرَبَ، قَالَتْ: زَعَمْتَ أَنَّ اللهَ وَصَّاكَ بِوَالِدَيْكَ، وَأَنَا أُمُّكَ، وَأَنَا آمُرُكَ بِهَذَا. قَالَ: مَكَثَتْ ثَلَاثًا حَتَّى غُشِيَ عَلَيْهَا مِنَ الْجَهْدِ، فَقَامَ ابْنٌ لَهَا يُقَالُ لَهُ عُمَارَةُ، فَسَقَاهَا، فَجَعَلَتْ تَدْعُو عَلَى سَعْدٍ، فَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ فِي الْقُرْآنِ هَذِهِ الْآيَةَ: {وَوَصَّيْنَا الْإِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ حُسْنًا ... وَإِنْ جَاهَدَاكَ عَلَى أَنْ تُشْرِكَ بِي} وَفِيهَا {وَصَاحِبْهُمَا فِي الدُّنْيَا مَعْرُوفًا} [لقمان: 15]

ژباړه: د سعد رضي الله عنه مور قسم وکړو چې هغه سره به تر هغه وخت پورې خبرې ونه کړي ترڅو چې خپل دین باندې کفر ونه کړي، او نه به خوراک کوي او نه به څښاک کوي. بیا یې ورته وویل: ته دا دعوه کوې چې الله تعالی تا ته د مور پلار سره د [احسان] حکم کړی دی، او زه ستا مور یم او تا ته پدې [کفر] امر کوم. وايي درې ورزې همداسې وډې او نهاره پاتې وه تر دې چې د ډیر تکلیف له امله بې هوښه شوه، نو د هغې بل زوی چې عماره نومیده، هغه ورته اوبه ورکړې، نو [کله چې په هوش شوه] سعد رضي الله عنه ته یې ښیراوې کولې، الله عزوجل قرآن کریم کې دا آیت نازل کړو: او مونږ انسان ته دخپل مور او پلار د حق پیژندنې تاکید کړی دی... خو که هغوې پرتا فشار راولي چې له ماسره ته داسې څه شریك کړې چې تاته د هغه معلومات نه وي نو دهغو خبره هیڅکله مه منه، په دنیا کې له هغو سره غوره چارچلند کوه.

سعد بن أبي وقاص باندې مور ډیره ګرانه وه، نو د ضعیفې مورکۍ هجران وربانډې ډیر سخت تمامیدو، د هغې اعتصاب او بیا بې هوښه کیدل یې هیڅ نشو برداشت کولای او د مور یې هم دا خیال و چې سعد به زما لحاظ وکړي او د اسلام څخه به واوړي، خو د سعد په زړه کې د غر په څیر ایمان و، هغه کله د اسلام څخه اوړیدو ؟

سعد درې ورزې استقامت وکړو، درې ورزې پس یې مور خوراک څښاک شروع کړو. او عجیبه لا دا چې مور یې نآشنا استدلال کړی دی چې تاسې ته رب د مور پلار سره احسان کولو توصیه کړې ده نو ته هم ما سره د احسان معامله وکړه او بیرته مشرک شه ! یعني د الله عزوجل حق هم زما لپاره ضایع کړه، دا بعضې والدین او مشران د جهاد څخه منع کولو لپآره نآشنا دلایل تراشي. والله المستعان. خو سعد رضي الله عنه خو هغه ځوان و، چې د الله په دین ورته بصیرت حاصل و، هغه ویل چې مورې ډیره راته ګرانه یې خو د رب د ادنی حکم خلاف هم ستا له وجې نشم کولای پاتې لا شرک!! چې د رب او د بنده تعارض راشي نو بیا ترجیح د رب

امر ته وي، ولو که دا بنده مور وي، پلار وي، استاذ وي، دوست وی، ښځه وي، خاوند وي او که بل نږدې انسان وي.

ابو جهل به چې خبر شو فلانی سړی مسلمان شویدی، نو که هغه به د مقام او شرف خاوند و د تهدید او اخطار لاره به یې ورسره نیوله، او پدې به یې ویراوه که له اسلام نه وانه وړي نو د ځاني او مالي زیان انتظار دې باسي، او که به دا نوی مسلمان کمزوری او بې وسه و، نو بیا به یې واهه، او د وهلو ټکولو له لارې به یې د هغه د بې لارۍ او ارتداد کوښښ او هڅې کولې. او همدا راز نور خلك به یې هم د هغه په خلاف را پاڅول. [سیرة ابن هشام ج ۱/ ص ۳۲۰]

د سیرت په کتابونو کې بعضې واقعات پرته له سند څخه نقل شوي دي لکه د عثمان بن عفان رضي الله عنه تره به هغه د کجورو په پوزي کې نغښت او بیا به یې له لاندې نه دودونه (لوگي) به یې ورته جوړول. د مصعب بن عمیر رضي الله عنه مور چې کله د خپل زوی له اسلام راوړلو نه خبریږي، نو خپل هغه نازولی او په نعمتونو کې پټ زوی له کوره شړي او دومره لوږه او تنده وربانديږ راولي چې هغه نرمه څرمن یې وچیږي، درز، درز چوي، او بدن یې لکه د مار په شان پټوکي (پوستکي) اچوي.

عمار بن یاسر رضي الله عنهما چې د بني مخزوم غلام و، ده، مور او پلار یې چې کله ایمان راوړ، نو مشرکانو خصوصاً ابو جهل به هغوی په تکنده غرمه کې له کوره ایستل او په سرو شگو به یې تعذیبول. یوه ورځ رسول کریم صلی الله علیه وسلم تیریده او دوی د بطحاء خوړ کې په عذاب کې وو، نو د الله رسول صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: [أَبْشِرُوا يَا آلَ عَمَّارٍ ، فَإِنَّ مَوْعِدَكُمُ الْجَنَّةُ.] اې د عمار فامیله زیری واخلئ، ستاسې ځای جنت دی. [الطبقات الکبیر لابن سعد واسناده مرسل صحیح ووصله الحاکم عن جابر، ولا یصح وصله]

یاسر د همدې تعذیبونو په نتیجه کې مړ شو، سمیه (د عمار مور) هم د ابو جهل له خوا په فرج کې په نیزه ووهل شوه او په شهادت ورسیده، پدې ترتیب سره نوموړې د اسلام لومړنۍ شهیده شمیرل کیږي. [ددې صحیح سند مو پیدا نه کړ]

مشرکانو عمار بن یاسر ونیوو او نه یې پریښودو تر دې چې نبي علیه السلام پسې بد رد یې وویل او د هغوی معبودان یې خه یاد کړل نو بیا هغوی پریښودو، کله چې عمار د رسول الله علیه السلام خواته راغی، هغه تري وپوښتل ؟ شاته دې څه حالات وو ؟ وایي: اې د الله رسوله بد حالت و، زه خو پرینښودل شوم تر دې چې ستا په شان کې مې خبرې وکړې او د هغوی معبودان مې خه یاد کړل. هغه ورته وفرمایل: خپل زړه دې څنگه محسوسوو ؟ وایي: په ایمان باندې مطمئن و. هغه ورته وفرمایل: کچیرې هغوی بیا ستا تعذیب ته راوگرزیدل نو ته هم دغه کلمات ویلو ته وگرزه. [المستدرک للحاکم وتفسیر الطبري، او سند یې حسن دی، بعضې محققینو مرسل گرزولی دی]

عبد الله بن عباس، امام شعبي، قتاده او ابو مالک څخه امام طبري په خپل تفسیر کې مسند نقل کړي چې دا آیت د عمار رضي الله عنه په اړه نازل شوی دی: [مَنْ كَفَرَ بِاللَّهِ مِنْ بَعْدِ إِيمَانِهِ إِلاَّ مَنْ أُكْرِهَ وَقَلْبُهُ مُطْمَئِنٌّ بِالإِيمَانِ...] (النحل: ۱۰۶)

[هر څوك چې كافر شو پر الله وروسته له ایمان راوړلو (نو پرې غضب دی د الله) مگر هغه څوك چې زور پرې وکړی شو (او مجبوراً یې د کفر کلمه ویله) حال دا چې زړه دده آرام نیوونکی دی په ایمان سره.]

د ابن عباس رضي الله قول سند ضعیف دی، او وروستي مراسیل درې واړه قوي دي.

خباب بن الارت چې د انمار بنت سباع الخزاعیه غلام و هم د مشرکینو له خوا په ډول ډول ربړونو ربړولی شویدی، د سر له ویښتانو به یې رانیوه او راکشاوه به یې، ورمیږ به یې ورتاواوه ډیر ځله به یې په سرو سکروټو څملاوه او د پاسه به یې تیږې ورباندې ایښودلې چې راپورته نه شي. [صحیح سند یې پیدا نشو]

سړي خو سړي وو، خو زنانه هم د مشرکانو د وحشتونو سره څخه په امن نه وې، لکه مخکې د سمیه رضي الله عنها بیان وشو، اوس یوه بله زنانه وه، چې نهدیه نوم یې و، عروه رحمه الله څخه په سیرت د ابن اسحاق کې نقل شوي:

ابو بکر رضي الله عنه یوه ورځ په لاره تیریدو، چې گوري د نهدیه مالکه لگیا ده هغه ته عذاب ورکوي، او ورته وایي تر څو چې ژوندۍ وې والله که دې آزاده کړم، ابو بکر ورته وویل: هو، اې د فلاني مورې. هغې ورته وویل: خه نو ته یې آزاده کړه، ستا په دین هم ده. ابو بکر ورته وویل : په څو ؟ هغې وویل: په دومره دومره. نو هغه ورته وویل: بس ما واخستله او آزاده مې کړه. [نهدیې ته یې وویل] دا وړه ورته ورکړه [او رازه] خو نهدیې ورته وویل: ته ما پریږده چې وړه ورته واغړم.

دا مرسل روایت دی، خو مورخین وایي چې عروه د ابو بکر رضي الله عنه اکثر احوال خپلې خاله عائشه رضي الله عنها څخه اوریدلي دي.

سبحان الله، د کفارو وحشت او بربریت وگورئ او د نهدیه رضي الله عنها اوچت اخلاق وگورئ، چې خپلې کافرې او ظالمې مالکې سره هم احسان کوي، چې لا یې هم په جسم کې د هغې د ظلمونو نښې موجودې وې.

بله زنیره رضي الله عنها وه، چې اسلام یې قبول کړی و، او د کفارو لخوا زیاته ځوریده، ابن اسحاق د امام عروه څخه نقل کړي: ذهب بصر الزِّنِّيرَةَ ، وكانت ممن تعذب في الله عز وجل على الإسلام، فتأبى إلا الإسلام، فقال المشركون: ما أصاب بصرها إلا اللات والعزى، فقالت: كذا؟! والله ما هو كذلك، فرد الله علها بصرها. [سیرة ابن اسحاق مرسل صحیح] ژباړه: د زنیره د سترگو دید تللی و، او دا هم هغه کسانو څخه وه چې د الله لپآره په عذابیدل، د اسلام راوړلو له امله، خو هغې اسلام نه پریښودو. مشرکانو وویل: ددې د سترگو دید لات او عزی بوتلی دی، هغې وویل: نه قسم په الله داسې نه ده، نو الله ورته د سترگو دید راوگرزاوه.

عروه بن زبیر وایي: " أَعْتَقَ أَبُو بَكْرٍ مِمَّا كَانَ يُعَذَّبُ فِي اللَّهِ سَبْعَةً: عَامِرَ بْنَ فُهَيْرَةَ وَبِلَالًا وَنَذِيرَةَ وَأُمَّ عُبَيْسٍ وَالنَّهْدِيَّةَ وَأُخْتَهَا وَحَارِثَةَ بْنَ عَمْرِو بْنِ مُؤَمِّلٍ " [مصنف ابن أبي شيبة. وهو مرسل صحيح وانفرد بوصله عن عائشة في المستدرك 3/ 284 وصححه ووافقه الذهبي.]

ژباړه: ابو بکر اووه داسې کان آزاد کړل چې د الله [باندې ایمان] له امله ځوریدل، چې هغه عامر بن فهیره، بلال، نذیره، أم عبیس، نهدیه، د هغې خور او حارثه بن عمرو مؤمل وو.

دې کفارو دا تعذیبونه ځکه ورکول چې صحابه کرام د دین نه واوړي، د نورو خلکو لپاره عبرت وگرځي، هغوی اسلام قبول نه کړي. او خپله غصه به یې پرې سړوله.

عزتمندو ورونو!

دغه د اسلام ابتدایي دور و، مکي ژوند مرحله وه، هرې خوا سختیاني وې، هر طرف نه کفار په مسلمانانو باندې داسې سره سره راتلل، مومنانو ته د جهاد او قتال امر هم نه و چې چیریکي بریدونه یې شروع کړي وی او په دښمن یې سر تاو کړی وی، خو فقط د زغم، صبر او الله عزوجل ته عاجزي پرته بله کومه لار نه وه.

د نبي علیه السلام د فدایي ملگرو د استقامت نآشنا بابونه د تاریخ پاڼو ته سپارل، او صدیق أکبر به د مکې په کوڅو کې گرځیدو، چیرته به یې چې مظلوم او مجبور مسلمان سړی یا زنانه ولیده د هغه کومک به یې کوو، هغه به یې اخستلو او د غلامۍ او تکلیف څخه به یې آزادوو. او دا د مومنانو شان وي چې سختۍ کې مستضعفینو پسې گرځیدل، د هغوی حاجتونه پوره کول او د هغوی په خفه مخونو د خوشحالۍ مسکا راوستل رب ته زیات خوخیږي.

عبد الله بن عمر رضي الله عنهما وایي: أَنَّ رَجُلاً جَاءَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ , فَقَالَ : يَا رَسُولَ اللهِ , أَيُّ النَّاسِ أَحَبُّ إِلَى اللهِ ؟ وَأَيُّ الأَعْمَالِ أَحَبُّ إِلَى اللهِ ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : أَحَبُّ النَّاسِ إِلَى اللهِ تَعَالَى أَنْفَعُهُمْ

لِلنَّـــاسِ ، وَأَحَـــبُّ الأَعْــمَالِ إِلَى اللــهِ تَعَـالَى سُرُورٌ تُدْخِلُــهُ عَـلَى مُسْـلِمٍ ، أَوْ تَكَشِـفُ عَنْــهُ كُرْبَــةً ، أَوْ تَقْضِي عَنْــهُ دَيْنًـــا ، أَوْ تَطْــرُدُ عَنْـــهُ جُوعًـــا ، وَلأَنْ أَمْــشِيَ مَــعَ أَخِـــي فِي حَاجَـــةٍ أَحَـــبُّ إِلَيَّ مِــنْ أَنْ أَعْتَكِــفَ فِي هَــذَا الْمَسْــجِدِ – يَعْنِـــي مَسْـــجِدَ الْمَدِينَـــةِ شَـــهْرًا – المعجــم الكبيــر للطــبراني ســنده حســن.

ژبــاړه: نبــي عليــه الســلام تــه يــو كــس راغــی او ويــې ويــل: اې د اللــه رســوله، اللــه تــه پــه ټولــو خلكــو كــې محبــوب څــوک دی ؟ او كــوم عمــل ورتــه تــر ټولــو خــوښ دی ؟ نبــي عليــه الســلام وفرمايــل: اللــه تعالــی تــه خلكــو كــې تــر ټولــو خــوښ كــس هغــه څــوک دی چــې هغــوی تــه زيــات نفــع رســونكی وي، او اللــه تعالــی تــه تــر ټولــو خــوښ عمــل دا دی چــې تــه مســلمان تــه خوشــحالي وركــړې، يــا تــرې مصيبــت لــرې كــړې، يــا قــرض يــې ادا كــړې، يــا ولــږه تــرې لــرې كــړې، او د يــو ورور پــه حاجــت كــې تلــل مــا تــه دې جــمات [مســجد نبــوي] كــې يــو مياشــت اعتــكاف څخــه غــوره دي.

شــعب الايــمان للبيهقــي كــي دا الفــاظ دي: مــن أفضــل العمــل إدخــال الــسرور عــلى المؤمــن. [دا ســند صحيــح مرســل دی] ژبــاړه: مومــن تــه خوشــحالي وركــول د غــوره عمــل څخــه دی.

مومنه وروره!

تــه فكــر وكــړه چــې دغــه ســختۍ كــې چــې څــوک د يــو مســلمان كومــک وكــړي، د هغــه ضرورت پــوره كــړي، حاجــت يــې رفــع كــړي، كورنــۍ سره يــې كومــک وكــړي، نــو هغــه انســان ډيــر زيــات خوشــحاليږي، او دا عمــل رب تــه ســخت محبــوب دی چــې د يــو تنــګ دســته امــداد وكــړی شي.

او داســې غيــرتي رب دی چــې ســبا د قيامــت پــه ورځ ددغــه انســان څخــه ســختي لــرې كــوي. نــو بايــد مونــږ تاســې پــه هــر قيمــت د غازيانــو، اســيرانو او شــهداؤ كورنيــو سره مــالي او ځــاني مرســته وكــړو، او پــدې ســخته كــې وفــادار او بــې وفــا ملګــري هــم معلوميــږي، كــه پــه ســخته كــې يــو انســان درسره لــږ لاس هــم واړوي نــو هغــه يــې ټــول عمــر يــاد ســاتي خــو پراخــي كــې د انســان سره زياتــه مرســته هــم هغــه شــان اثــر نــه لــري.

عَــنْ أَبِي مُــوسَى رَضِيَ اللَّـــهُ عَنْـــهُ ، قَـــالَ : قَـــالَ رَسُــولُ اللَّـــهِ صَـــلَّى اللَّـــهُ عَلَيْـــهِ وَسَـــلَّمَ : " فُكُّـــوا الْعَـــانِيَ يَعْنِـــي الْأَسِـــيرَ وَأَطْعِمُـــوا الْجَائِـــعَ ، وَعُـــودُوا الْمَرِيـــضَ ".

ژبــاړه : بنــدي راخوشــې كــړئ، او وږي انســان تــه خــوراک وركــړئ او د د نــاروغ پوښــتنه وكــړئ.

نــو د بنديانــو غــم پــه كار دی او مهاجريــن دي، هيــڅ اقتصــادي منبــع نــه لــري د هغــوی د كــور او نفقــې غــم پــه كار دی نــو وَأَطْعِمُــوا الْجَائِــعَ كــې بــه هــم راشــو او زخميــان دي، پــه هغــوی صدقــه او د هغــوی پوښــتنه بــه هــم وشي نــو وَعُــودُوا الْمَرِيــض فريضــه بــه هــم ادا شي.

مونــږ دا نــه وايــو چــې د دې حديــث مصــداق صرف مجاهديــن دي خــو پــه دې وخــت كــې مجاهديــن ډيــر مســتحق دي. او كــه يــو انســان خپلــه جهــاد بالنفــس نــشي كولــې، نــو جهــاد بالمــال دی وكــړي، لكــه مشــهور حديــث: " مَــنْ جَهَّــزَ غَازِيًــا فِي سَــبِيلِ اللَّـــهِ فَقَـــدْ غَـــزَا ، وَمَـــنْ خَلَــفَ غَازِيًــا فِي سَــبِيلِ اللَّـــهِ بِخَــيْرٍ فَقَــدْ غَــزَا " . [متفــق عليــه]

ژبــاړه: چــا چــې يــو مجاهــد مجهــز كــړو (د جنــګ ســامان يــې ورتــه واخســته ) نــو يقينــا ده خپلــه د اللــه پــه لار كــې جنــګ وكــړ، او چــا چــې د مجاهــد د تــګ نــه وروســته د ده د اهــل او مــال خيــال وســاته نــو يقينــا ده غــزا وكــړه.

دا خــبرې وړی نــه دي ګڼــل پــه كار، پــه كومــه ورز چــې زمونــږ ټولنــه كــې دا احســاس پيــدا شــو، پــه هماغــه ورځ بــه د مســلمانانو بــری پــه نصيــب كيــږي. ان شــاء اللــه. او يــو بــل حديــث كــې ســخت وعيــد نقــل شــوې " وإن الرجل ليتعلق بجاره يوم القيامة فيقول: إن هــذا أغلق بابه، وضن عني بماله ". [تهذيــب الآثــار مســند عمــر ج1/صـــ108]

د قيامــت پــه ورځ بــه يــو سړي خپــل ګاونــډي كلــک نيولــې وي او دا بــه وايــي: دې زمــا نــه خپــل ور او مــال بنــد كــړی و.

د تعذيباتــو لــړۍ اړونــد نــور بحــث بــه راتلونكــي درس كــې وكــړو. ان شــاء اللــه.



# براء بن مالك

## رضی اللّٰه عنه

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد للـه الـذي جعل في سِـيرَ الصالحـين عـبرةً للمعتَبِرِيـن، وذكـرى للذاكرين،وجعـل في الصادقـين منهـم أسـوةً وقـدوةً للمقتديـن، وأشـهد أن لا إلـه إلا اللـه، وحـده لا شريـك لـه، إلـه الأولـين والآخريـن، وأشـهد أن محمـداً عبـده ورسـوله. امـا بعـد :

قـال تعـالى " وَالسَّـابِقُونَ الْأَوَّلُـونَ مِـنَ الْمُهَاجِرِيـنَ وَالْأَنْصَـارِ وَالَّذِيـنَ اتَّبَعُوهُـمْ بِإِحْسَـانٍ رَضِيَ اللَّـهُ عَنْهُـمْ وَرَضُـوا عَنْـهُ وَأَعَـدَّ لَهُـمْ جَنَّـاتٍ تَجْـرِي تَحْتَهَـا الْأَنْهَـارُ خَالِدِيـنَ فِيهَـا أَبَـدًا ذَٰلِـكَ الْفَـوْزُ الْعَظِيـمُ. التوبـة " ١٠٠

قـال عمـر رضـى اللـه عنـه " لا تُوَلُّـوا الـبراءَ جَيْشًـا مـن جُيُـوشِ المسـلمينَ مَخَافَـةَ أن يُهْلِـكَ جُنْـدَهُ بإقْدامِـهِ.

أخرجـه الحاكـم " ٣/٢٩١ وانظـره في: أسـد الغابـة " ١/٣٦٤ والاسـتيعاب" ١/٢٨٥ وسـير أعـلام النبـلاء" ١/١٩٦

ترجمـه " تاسـو بـراء بـن مالـک رضـى اللـه عنـه د مسـلمانانو د لښـکر او ډلـې امیـر مـه جوړوئ ددی یـرې لـه وجـې نـه چـې دی خپلـه زړور او بهـادر دی او خپـل لښـکر بـه پـه مخکـې کیـدو بانـدې هـلاک کـړي یعنـي سـختو ځایونـو تـه بـه یـې داخـل کـړي.

کلـه چـې یـو سـړی پـه ښـه ماحـول کـې سـتر شي؛ ځکـه چـې صداقـت نـږدې وي، او فسـاد لیـرې وي، هـر چیـرې چـې د پاکـوالي خیـال سـاتل کیـږي د شـیطان لارې کمـزورې کیـږي او د خواهشـاتو لارې تنگیـږي، او کـه د دې لـه لارې یـو څـه د غفلـت پـه حالـت کـې تـرسره شي، نـو ملامتـه کوونکـې روح بـه هغـه ژر خـبر کـړي، او د الهـي وحـی حکـم بـه، د هغـه مخـې تـه رابښـکاره شي، هغـه بـه خپـل رب تـه توبـه وباسـي او اللـه یـې توبـه قبلـوي،

بیـا ددی پـه خـلاف هغـه څـوک چـې ځـان پـه فسـاد کـې اچـوي او د خپـل حالـت د سـمولو لپـاره الهـي وحـې نـه لـري او پـه داسـې ماحـول کـې راگیـر وي چـې لـه خواهشـاتو او لـه بدیـو ډک وي، دا سـړی پـه ناڅاپـه دلـدل کـې د ډوبیـدو پـه حـال کـې دی او د خلاصـون او ژونـدي پاتـې کیـدو چانـس یـې کـم او کمـزوری دی، خـو ماحـول خپـل اثـر لـري، او پـه خلکـو بانـدې ډیـر اثـر کـوي؛ مـور او پـلار پـه خپلـو اولادونـو اثـر کـوي، ورونـه او خوینـدې یـو پـه بـل اثـر کـوي او معلـم او اسـتاذ پـه خپلـو شـاگردانو بانـدې اثـر کـوي، دا یـو داسـې مثـال دی چـې د هغـه سـړي پـه ژونـد کـې اسـتعمالیږي چـې سـتر جرئـت یـې کـړی او د زړورتیـا انتهـا تـه رسـیدلی، د اللـه سـبحانه وتعالـی ددیـن پـه دفـاع او د اللـه پـه لار کـې جهـاد کـول، پـه داسـې حـال کـې چـې ایـمان یـې د زړه لـه پـردې سره گـډ شـوې و، هغـه پـه نیـک کـور کـې سـتر شـوی، د یـوې نیکـې مـور لخـوا یـې پالنـه شـوې، داسـې مـور چـې اسـلام تـه یـې ترکـي ورکـړې هغـه یـوه د مخکنـو اسـلام راوړونکـو نـه وه او د هغـې مهـر د هغـې د میـړه اسـلام قبلـول وو، نـو ددغسـې مـور اثـر پـه بچـو بانـدې خامخـا وي دا چـې ددی مـور غیـرت او قربـاني بیـان کـړو نـو درس بـه اوږد شي خـو راځـو ددی مـور بچـي بـراء بـن مالـک رضـی اللـه عنـه لنـډ سـیرت تـه،

بـراء بـن مالـک انصـاري رضـی اللـه عنـه دی ببـر او خـړ سر ، خـوار کمـزورې او داسـې ؤ، چـې هډوکـي یـې لـه لـرې ښـکارېدل او بـدن پـورې یـې غوښـه کمـه وه، لـه ډیـرې خـواری او کمزورتیـا ورتـه کتـل ډیـر گـران وو؛ خـو لـه دې سره سره یـې پـه جنـگ کـې پـه یـوازی ځـان سره سـل تنـه وژلي وو دا لـه هغـو نـه بغیـر چـې لـه جگـړه مـارو سره یـې پـه جگـړه کـې وژلي وو،

بـراء بـن مالـک رضـی اللـه عنـه هغـه نـوم وتـی، مخکـې تلونکـی او زړور مجاهـد او صحـابي و، چـې عمـر رضـی اللـه عنـه د خپـل خلافـت پـر مهـال خپلـو عمالـو تـه لیـکلي وو چـې دی د مسـلمانانو د یـو لښـکر امیـر مـه گرځـوئ! ځکـه لـه ده سره دا ویـره وه چـې بـراء بـن مالـک رضـی اللـه عنـه بـه یـې لـه دې املـه هـلاک کـړي او سـختو ځایونـو تـه بـه یـې داخـل کـړي ځکـه چـې دی خپلـه ډیـر مخکـې ځـي، همـدا شـخص بـراء بـن مالـک انصـاري رضـی اللـه عنـه د رسـول اللـه ﷺ د خـاص خـادم انـس بـن مالـک رضـی اللـه عنـه ورور و، کـه زه پـه دې لټـه کـې شـم چـې دده د غیـرت کارنامـې ټولـې درتـه بیـان کـړم، نـو خـبره بـه ډیـره اوږده او ځـائ بـه تنـگ شي لـه همـدې وجـې دده د زړورتیـا یـوه کیسـه درتـه کـوم هغـه بـه د نـورو کیسـو خـبر هـم پـه لاس درکـړي،

دا کیسـه لـه هغـو اولـو سـاعتونو وروسـته سمدسـتي شروع کیـږي چـې رسـول اللـه ﷺ وفـات وکـړ او لـه رفیـق اعلـی سره پیوسـت شـو، دا هغـه وخـت وو چـې د عربـو قبیلـې لـه دیـن څخـه داسـې ډلـې، ډلـې وتلـې لکـه مخکـې چـې پـه دیـن کـې ډلـې، ډلـې داخلیـدې تـر دی چـې لـه مکـې، طائـف، مدینـې او ځینـې مختلفـو ډلـو نـه بغیـر بـل هیڅـوک پـه اسـلام کـې پاتـه نـه شـول، او یـوازی هغـه خلـک پاتـې شـول چـې اللـه تعالـی یـې زړونـه پـه ایـمان مضبـوط کـړي وو،

ابوبکـر صدیـق رضـی اللـه عنـه ددې ړنـدې او هلاکوونکـې فتنـې د

ختمولو لپاره مټې را ونغښتلې او د محکم غره په شان ودرید او له مهاجرینو او انصارو څخه یې یوولس لښکره او د همدې لښکرو قائدینو او امیرانو ته یې یوولس بیرغونه تیارکړ، دوی د اتلان د عربو د جزیرې شاوخوا ته ولیږل ترڅو مرتدین د هدایت او حق لور ته راوګرځوي او بیرته په تیرو تورو سره منحرفین سمې لارې ته راستانه کړي، په مرتدینو کې تر ټولو قوي او مضبوط، جنګ کوونکي او زیات شمیر واله د مسیلمة الکذاب ملګري بنوحنیفه وو،

د مسیلمه سره دده د قوم او د نورو ملګرو دده نه ځلوېښت زره ډیر سخت جنګ کوونکي راغونډ شوي وو، ددوی ډیر کسان له ده سره په ایمان نه بلکې په عصبیت او قومیت ورسره ولاړ وو او ځینو به یې ویل موږ په دې ایمان لرو چې مسیلمة درواغجن او محمد ﷺ ریښتوني دی؛ خو موږ ته د ربیعه درواغجن «مسیلمة» ډیر خوښ او محبوب دی د ریښتوني مضر یعني «محمد ﷺ» نه نعوذ بالله، مسیلمه د مسلمانانو هغه اولني لښکر ته ماتې او شکست ورکړ کوم چې د عکرمه بن ابي جهل رضی الله عنه په قیادت او مشرۍ کې مقابلې ته ورغلی ؤ، او شاتګ ته یې مجبور کړ، ابوبکرصدیق رضی الله عنه دوهم لښکر د خالدبن ولید رضی الله عنه په قیادت کې ور ولیږلو او په همدې لښکر کې یې د انصارو او مهاجرینو مخور اشخاص هم ورسره لیږلي وو د همدې مخورو په لړ کې یو هم د مسلمانانو له اتلانو څخه براء بن مالک انصاري رضی الله عنه ؤ،

د نجد په یمامه سیمه کې دواړې ډلې سره مخامخ شوې، د لږ وخت له تیریدلو وروسته یو ځل بیا د مسیلمة تله درنه شوه او د مسلمانانو د جنګیالو د پښو لاندې زمکه ولړزیده او هر یو د خپل موقف پریښودلو ته مجبور شو، تر دې چې د مسیلمة ملګري د خالدبن ولید رضی الله عنه خیمو ته ورسید او له بیخه یې وویستلې، که چیرته د مسیلمه یو ملګري پناه نه وای ورکړې نږدې وو چې د خالدبن ولید رضی الله عنه ښځه ووژني،

په دې وخت کې مسلمانانو یو ستر هلاکوونکي خطر احساس کړ او په دې پوهه شول چې که مو دا ځل د مسیلمة په مقابل کې شکست وخوړ بیا به نو د تل لپاره د اسلام پایه ټینګه نه شي او نه به د واحد لاشریک ذات الله تعالی عبادت په ټوله جزیرة العرب کې وشي،

خالد بن ولید رضی الله عنه خپل لښکر ته متوجې شو بیرته یې له سره منظم کړ مهاجر یې له انصارو او د صحرا او سیدونکي یې له دوی دواړو بیل کړ او د هر پلار او ټبر خلګ یې تر یوه بیرغ لاندې راټول کړ دی لپاره چې په جګړه کې د هرې ډلې بهادري معلومه شي او دا څرګنده شي چې مسلمانانو ته له کوم لوري شکست راځي،

د دواړو ډلو تر منځ داسې درنه او هلاک کوونکې جګړه ونښته چې تر دې وړاندې یې د مسلمانانو په جګړو کې نظیر موجود نه ؤ، د مسیلمه قوم د جګړې په ساحو کې داسې محکم او ثابت ولاړ وو لکه ستر ستر غرونه او هرڅومره مرګ ژوبله چې به ور رسیدله دوی یې هیڅ باک نه درلود، مسلمانانو هم داسې حیرانوونکې کارنامې تر سره کړې که چیرته سره جمع شي نو یو ستر او مضبوط کتاب به ترې جوړ شي، ثابت بن قیس رضی الله عنه چې د انصارو د بیرغ مسؤل ؤ، خوشبویي یې لګولې، کفن یې ترلی، خپل ځان ته یې په زمکه کې کنده کنستلې وه او تر ځنګنو پورې ورپکښې پټ ؤ، او په خپل موقف کې محکم ولاړ ؤ، تر هغه یې د خپل قوم له بیرغ څخه دفاع کوله تر دې چې شهید شو، بل طرف د عمر رضی الله عنه ورور زید بن خطاب رضی الله عنه په خلکو کې دا نارې وهلې ای خلکو! غاښ وچیچئ په دښمن حملې وکړئ او مخ په وړاندې لاړشئ! ای خلکو! والله که زه له دې وروسته تر هغه پورې بله خبره وکړم تر څو چې مسیلمة ماتې او شکست نه وي خوړلې او یا زه په شهادت رسیدلی نه یم او د الله تعالی په وړاندې مې خپل حجت نه وي پیدا کړی، ورپسې یې په دښمن حمله وکړه او تر هغه وجنګید تر دې چې په شهادت ورسید،

همدغه شان بل طرف د ابوحنیفه غلام سالم د مهاجرینو بیرغ اخیستی ؤ، د ده قوم په ده ویریدو چې ضعیف او یا شاته نشي؛ نو ورته یې وویل " له موږ سره دا ویره ده چې مسلمانانو ته به ماتې او شکست ستا له طرف راشي، ده وویل " که چیرته تاسو ته شکست زما له طرفه راغی؛ نو زه به د قرآن یو ډیر بد عالم یم؛ وروسته یې د الله تعالی په دښمنانو حمله وکړه تر دی چې په شهادت ورسید؛ خو ددې ټولو اتلولی د براء بن مالک رضی الله عنه د اتلولی او بهادرۍ په مخکې ډیرې وړې معلومیدې، رضی الله عنهم.

هغه داسې چې خالد بن ولید رضی الله ولیدل چې د جګړې تنور په ګرمیدو دی؛ نو براء بن مالک رضی الله عنه ته یې وکتل او ویې ویل " ای د انصارو زلیه! دوی ستا تر قوماندې لاندی دي! براء خپل قوم ته وکتل او ویې ویل" ای د انصارو ډلې! هیڅوک دی نور دا فکر نه کوي چې مدینې ته به ستنیږي له دې وروسته ستاسو لپاره مدینه نه شته، بلکې الله واحد لاشریک ذات دی او بیا جنت دی!

له دې سره سم ده او ورسره مجاهدینو حمله شروع کړه، براء بن مالک رضی الله عنه صفونه ونړول د الله تعالی ددښمنانو په ورمیږونو یې داسې ګذارونه وکړ چې ورسره مسیلمه او دده د دښمنانو پښې ولړزیدې او ټولو هغې باغچې ته پناه یووړه چې د تاریخ په کتابونو کې په حدیقة الموت سره شهرت لري دا ځکه هلته ددښمن ډیر زیات جنګیالي ووژل شول،

حدیقة الموت ډیره پراخه او د لوړو دیوالو لرونکې باغیچه وه، مسیلمه او ورسره د ده زرګونو جنګیالو په ځانو پسې د باغچې دروازې وترلې او د هغې په لوړو دیوالو یې پناه وغوښته او ځانونه یې خوندي کړ، او له دننه طرف یې په مسلمانانو د غشو ورول شروع کړ داسې غشي را وریدل لکه باران، په دې وخت کې د مسلمانانو ستر اتل او زړور مجاهد براء بن مالک رضی الله عنه رامخکې شو او ویې ویل " ای قومه! ما په ډال کښیږدئ، او ډال په نیزو پورته کړئ او ما دروازې ته نږدې د باغچې دننه طرفته ګوزار کړئ ! یا به شهید شم او یابه تاسو ته دروازه درخلاصه کړم،

د سترګو په رپ کې براء بن مالک رضی الله عنه په ډال کښیناست براء بن مالک رضی الله عنه ډیر د وجود او د بدن نه خوار او کمزوری ؤ، لسګونو نیزو پورته کړ او د مسیلمه د زرګونو لښکر په منځ کې یې ګوزار کړ او هغوی ته دده ورغورځیدل یو آسماني تندر ؤ، براء بن مالک رضی الله عنه تر هغه د حدیقة الموت د دروازې په وړاندې جګړه کوله او توره یې ددوی په ورمیږونو کې چلوله تر دې چې بالاخره لس کسان یې ووژل او دروازه یې په داسې وخت کې خلاصه کړه چې د اتیاوو زیات زخمونه یې په بدن د تورو، غشو او نیزو جوړ شوي وو، مسلمانان حدیقة الموت ته د دیوالو او دروازو وربشکته شول او په هغه مرتدینو کې یې توری ښخې کړې چې د باغچې په دیوالو کې یې پناه اخیستې وه تر دې چې نیږدی شل زره جنګیالي یې په قتل ورسیدل او مردار شول، مسلمانان مسیلمة ته ور ورسیدل او په وینو کې لت پت یې په زمکه راڅملاوه، براء بن مالک رضی الله عنه یې دی لپاره خپلې خیمې ته راووړ چې تداوي یې وکړي، خالد بن ولید رضی الله عنه پوره یوه میاشت د ده ملاقات کولو او دده زخمونو علاج یې کولو تر دې چې الله تعالی شِفا ورکړه او دده په لاس سره الله تعالی مسلمانانو ته کامیابي ورنصیب کړه،

براء بن مالک رضی الله عنه هغه شهادت ته ډیره جلتي درلوده چې د حدیقة الموت د جګړې په وخت ورڅخه فوت شوی ؤ! براء بن مالک رضی الله عنه به همیشه یو په بل پسې جګړو کې په دې وجه برخه اخیستله تر څو خپل ستر هدف شهادت تر لاسه کړي او دده د رسول الله ﷺ پیوستون او دیدار ته ډیره بیره وه چې بالاخره د فارس په علاقه کې د تُستَر علاقې د فتحې ورځ راغله، فارسیانو په یوه مضبوطه قلعه

کې پناه واخيسته او مسلمانانو دوی محاصره کړ او د کلابندي کړی يې داسې پې راوستله لکه په مروند چې بنګړي راتاو وي، کله چې محاصره اوږده او فارسيان په تکليف شول؛ نو د قلعه له پاس طرف به يې اوسپنيز ځنځيرونه راوغورځول چې د فولادو نه جوړ شوي کونډې به يې په سرونو کې وې او په اور به يې دومره ګرم کړي وي لکه سکروټې، نو د مسلمانانو په بدنونو پورې به ونښتل، دوی به په داسې حال کې پورته کول چې يا به مړه او يا به مرګ ته نږدې وو، نو له هغه ځنځيرونو نه يو د براء بن مالک رضی الله عنه په ورور انس رضی الله عنه پورې ونښت، براء چې کله وليد د ديوال طرفته په منډه ورغی او هغه ځنځير ئې ونيو چې دده په ورور پورې بندوو او هغه د فولادو ګرمه وسپنه دده له ورور څخه په داسې شکل بيلوله چې دده لاس يې سوځولو او لوګي ترې ښتل؛ خو ده هيڅ پروا نه پرې کوله تر دی چې خپل ورور يې ورڅخه خلاص کړ او په داسې شکل زمکې ته راکوز شو چې د لاسو غوښې يې نه وې او صرف هډوکي پاتې وو،

په همدې جګړه کې براء بن مالک رضی الله عنه له الله تعالی څخه وغوښتل چې شهادت يې په برخه شي، الله تعالی يې دعا قبوله کړه او په داسې حال کې شهيد شو، چې د الله تعالی په ليدلو باندې خوشحاله ؤ،

نضَّرَ الله وجهَ البراء بنِ مالكٍ في الجنّة، وأقرَّ عينَهُ بصَحبَةِ نبيِّهِ محمّدٍ عليه الصَّلاةُ والسَّلامُ ورضي عنه وأرضاه.

الله تعالی دی د براء بن مالک رضی الله عنه مخ په جنت کې تازه او سترګې دی د نبي کريم ﷺ په ديدار يخی کړي، الله تعالی دی له ده او دی له ځانه راضي کړي.

مسلمانانو ورونو " که څوک د براء بن مالک رضی الله عنه په باره کې نور معلومات حاصلول غواړي نو هغه دی دغه کتابونه وګوري.

الاستعاب " ٢/١٣٧ " سيرت د ابن هشام

طبقات الکبری، ٣/٤٤١ " تاريخ طبری او داسې نور کتابونه د سيرت او تاريخ...

## ددی سيرت څخه بعضې فائدې،

اوله " مسلمانانو زنانه ؤ ته پکار دي چې خپله عقيده او خپل ايمان داسې کلک او مضبوط کړي لکه څنګه چې د براء بن مالک رضی الله عنه د مور ؤ، او خپلو بچو ته داسې اسلامي او جهادي تربيت ورکړي لکه څنګه چې د براء بن مالک مور خپلو بچو ته ورکړي ؤ،

دويمه " په هر وخت کې ددين اسلام او د اسلامي قانون او نظام دفاع کمزورو او غريبانانو مومنانو کړې هغه مومنانو کړې چې د خپل بدن او د خپل جسم د انرژۍ او صحت غم ورسره نه وي هغه مومنانو کړي چې خپلو خيټو غټولو غم او فکر ورسره نه وي لکه براء بن مالک رضی الله عنه ته وګورئ،

خو نن چې د مسلمانانو حال وګورو دوی د خپلو خيټو غټولو او د خپل بدن د انرژۍ په غم او فکر کې دي او د اسلامي قانون او نظام غم ورسره نشته،

دريمه " مومن مسلمان بايد داسې غيرتمند او زړور وي لکه براء بن مالک رضی الله عنه، او د کافرانو په مقابله کې داسې سخت وي لکه براء بن مالک، او په جنګ او سياست اسلامي کې داسې ماهر وي لکه براء بن مالک رضی الله عنه، خو وس اکثره مسلمانان نه خو اسلامي سياست پيژني او نه جنګ او جهاد ته تيار دي، د غلامي په ژوند کې ستر شوي او د کفري قانون لاندې د غلامي او سر ټيټي ژوند خوند ورکوي،

څلورمه " د اسلام نه په ډلو ډلو خلکو وتلو او مرتد کيدو سره به انسان دا ګمان نه کوي چې اسلام په حقه نه دی، او داسې کلک او مضبوط به په ايمان او اسلام باندې ودريږي لکه څنګه چې د نبي عليه السلام د وفات نه پس براء بن مالک او نور صحابه ودريدل.... نو وس که طالبان او د القاعدې وغيره جاهلان د کفارو غلامان او د کفر لپاره بې معاشه او بې تنخوا فوځيان او عسکر وګرځيدل نو دا څه لرې خبره نه ده او نه به موږ ددوی په مرتدد کيدو جهاد بدنامه وو،

پنځمه " د رسول الله صلی الله عليه وسلم د امت يو مرض بې اتفاقي ده او بل ګوډ کيدل دي بل مرض يې د کفري قانون او نظام لاندې د ذلت وخت تيرول دي بل مرض يې د کفري حاکم او بادشاه لاندې سرټيټه ژوند کول دي او داسې نور مرضونه درواخله،

خو ددی ټولو مرضونو علاج چې دی هغه اسلامي خليفه او اسلامي خلافت دی لکه څنګه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفات شو نو ابوبکر صديق رضی الله عنه متی راونغښتې او خلافت يې علان کړ،

شپږمه " د مسلمان يو فرضي صفت دادی چې په مخ د زمکه به مرتد او مشرک نه پريږدي لکه څنګه چې د ابوبکر صديق رضی الله عنه په امر باندې صحابه د مرتدينو او مشرکينو د ختمولو لپاره ووتل،

اوومه " څوک چې د اسلام او مسلمانانو مخالف او دشمن جوړيږي نو دا په مختلفو شکلونو او صورتونو باندې جوړيږي بعضو ته به ښه دا معلومه وي چې موږ په باطله باندې يو خو بيا به هم د اسلام او مسلمانانو سره دښمني کوي د ضد حسد او د قوميت له وجې نه لکه څنګه چې د مسيلمه ملګرو دا خبره کوله چې موږ په دی پوهيږو چې مسيلمه دروغجن دی او محمد صلی الله عليه وسلم ريښتني دی خو بيا هم موږ ته مسيلمه خوښ او محبوب دی،

نو وس طالبانو ته دا پته ده چې موږ د کفارو عسکر يو زموږ په سر باندې کفار مشري کوي خو د اسلامي خلافت سره د ضد حسد او د قوميت وغيره د وجې نه دښمني کوي،

أتمه " په جنګ کې شکست خوړل داده باطل پرستۍ علامه او نښه نه ده ځکه چې اولنې لښکر چې ابوبکر صديق رضی الله عنه د جنګ لپاره وليږو نو هغه شکست وخوړ او په شا شول او که څوک په جنګ کې شکست خوړل د باطل پرستې علامه او نښه ګرځوي نو بيا خو نعوذ بالله دلته صحابه په باطله ثابتيږي، حالانکې داسې نه ده،

نهمه " د کفارو او مرتدينو په خلاف باندې په جنګ کې کلک ودريدل او مقابله کول داده خوارجو علامه او نښه نه ده لکه چې طالبان او د کفارو غلامان دا خبره کوي، ځکه چې ثابت بن قيس رضی الله عنه د جنګ په ډګر کې ځانته کنده وهلې وه او تر ځنګنونو پکې پټ ؤ، او تر مرګه پورې يې جنګ وکړ همدغه شان براء بن مالک او نور صحابه هم په جنګ کې کلک پاتې شوي وو،

لسمه " په دشمن باندې د انغماسي او استشهادي حمله کول جايز دي يا په بل تعبير سره يو مجاهد په داسې ځائ باندې حمله کولی شي اګر که غالب ګمان پکې دا وي چې دی به روغ رانشي او قتل به کړای شي لکه څنګه چې صحابه ؤ براء بن مالک رضی الله عنه قلعه کې ددښمن منځ ته يواځې ورخطا کړ او هغه ورسره زانته جنګ شروع کړ تر دی چې د قلعه دروازه يې خلاصه کړه،

يولسمه " امير ته پکار دي چې د خپل زخمي مجاهد ډير خيال وساتي لکه څنګه چې براء بن مالک رضی الله عنه زخمي شو او خالد بن وليد رضی الله عنه يې علاج کاوه او امير به داسې نه کوي چې مجاهد روغ وي نو جار قربان ورته وايي او چې زخمي شي نو بيا يې تپوس هم نه کوي،

دولسمه " مسلمان ته پکار دي چې د زخمي کيدو نه پس هم جهاد ته دوام ورکړي او جهاد تر هغه پورې وکړي چې مرګ ورته راشي لکه څنګه چې براء بن مالک رضی الله عنه وکړ،

ديارلسمه " مسلمان ته پکار دي چې خپله هم جهاد وکړي او خپلو ورونو او بچو ته هم د جهاد تربيت ورکړي لکه څنګه چې براء بن مالک او د هغه رور انس بن مالک رضی الله عنهما دواړو په جهادونو کې برخه اخی سته،

محمود غزنوی
سلطان
د بتانو ماتونکی او د بدعاتو ځپونکی

د بتانو ماتول او سوځول د کفر بالطاغوت له انځورونو څخه يو روښانه انځور دی چې د ابراهيم خليل الله څخه را پديخوا انبياؤ عليهم السلام پرې حرص کړی دی، موسی عليه السلام د خپل نيکه په تابعدارۍ کې د بني اسرائيلو هغه خوسی وسوځاوه چې عبادت يې کيده او محمد صلی الله عليه وسلم په مکه کې د عربو بتان درې ورې کړل؛ لات ، عزی ، مناة، هبل او نور يې وسوځول يايې هم مات کړل، وروسته صحابه کرامو رضي الله عنهم ، تابعينو او د هغوی نورو پيروانو همدا لار تر نن ورځې پورې تعقيب کړې.

مونږ په اسلامي تاريخ کې داسې ډير واقعات ګورو؛ چې د انبياؤ عليهم السلام د پيروانو د ژوند ستر هدف د بتانو ماتول، پدې لار کې يې زيار باسل، د دې هدف لاس ته راوړلو لپاره د شاړو دښتو سفرونه کول او د پرخطره لارو په مرګونو ساحو ور پورې وتل وي، د اسلامي تاريخ له دغو نومياليو اتلانو څخه يو هم غازي سلطان محمود بن سبګتګين غزنوي (رحمه الله ) هم و، هغه څوک چې په اسلامي نړۍ کې يې د بت شکن (ماتوونکي) نوم ګټلی دی او دا ځکه چې د يو پلوه د ده په لاس مات کړی شوي بتان په شميره کې ډير زيات ول او د بل پلوه دغه بتانو په هغه زمانه کې د مشرکينو په آند ډير لوی حيثيت درلوده.

اګر چې دا د هغه د ژوند يواځينی ځانګرتيا نه وه بلکې سلطان د سنتو ملاتړه، د بدعاتو له منځه وړونکی او د مسلمانانو د صف په وحدت حرصناک و، د دی خبرو ځرګنده ثبوت يې هغه مهال ورکړ چې کله يې د عباسي خليفه سره بيعت وکړ او د هغه د اطاعت په کړی کې داخل شو.

سلطان محمود بن سبګتګين په کال(۵۳٦۰) د محرم په مياشت کې د خراسان په غزني ښار کې وزيږيده ، پلار يې په کال (۳۸۷هـ) کې ومړ، د هغه د مرګ نه وروسته حکومت محمود ته وسپارل شو، بيا ده خپل ځان د هند د مشرکينو سره د غزا، د بتانو ماتولو او د هغوی په سيمه کې د اسلام د مقدس دين د خپراوي لپاره فارغه کړ.

په کال (۳۹٦هـ) کې سلطان محمود غزنوي د کواکير کلاته لاړ ، چيرته چې د مشرکينو (٦۰۰) بتان وو، کلا يې فتحه کړه اوهلته موجود بتان يې ټول وسوځول [دزيات تفصيل لپاره الکامل د ابن اثير وګورئ].

په کال (۳۹۸هـ) کې يو ځل بيا غزنوي هند ته ولاړ ترڅو د هند په ښارونو غزا وکړي، ابن اثير وايي:« هغه د هندمند د سيندغاړې ته ورسيد، هلته ورته ابرهمن بال بن اندبال د لوی هندي لښکر په مشرۍ مقابلې ته راغی، د ورځې زياتره برخه برخه جنګ چې وشو نږدې وه چې هندي لښکر پر مسلمانانو غالبه شي، ليکن الله تعالی د مسلمانانو مرسته وکړه اوبرياليتوب يې ورپه برخه کړه، کفارو ماتې وخوړه او د مسلمانانو تيرو تورو راواخيستل، يمين الدوله(سلطان محمود غزنوي) د ابرهمن بال لښکرې وزغلولې او د بهيم نګر په کلا يې ورپناه کړې، دغه کلا د يو هسک غره په سر پرته وه چې هندوانو هغه د خپل ستر بت د خزانو مرکز ګرځولی و، کله چې هغوی د مسلمانانو لښکرې او په جنګ يې د دوی حرص وليده؛ کم زړي شول، د مسلمانانو څخه يې امان وغوښت او د کلا دروازه يې خلاصه کړه، مسلمانانو کلا فتحه کړه، يمين الدوله د خپلو خاصو ملګرو سره يوځای کلا ته ورننوت، بې شميره جواهرات او نوي مليونه شاهي اشرفی يې لاسته راوړې، الله تعالی مشرکان ذليله کړل د هغوی طواغيت او بتان يې نسکور کړل او هغه جواهرات چې بتانو ته نذرانه شوي و د مسلمانانو لاسونو ته ورغلل».

دغه راز نوموړي غزنوي سلطان څو نورې ستري کارنامې هم ترسره کړې، هغه د بل ځل لپاره په کال (۴۰۰هـ ) کې هند ته ولاړ او زيات شمير بتان يې نسکور او مات کړل، په کال (۴۰۵هـ) کې سلطان د تانيشر فتحې ته مخه کړه چې ابن اثير لدی څخه په تهانسيرسره هم يادونه کړې ده چې نن ورځ هم پدغه نوم ياديږي، ابن اثير وايي «کله مسلمانان خپل هدف ته نږدې شول د يو ژور اوخورا تيز سيند سره مخ شول، چې د دې سيمې هندو مشر د سيند بلې غاړې ته سنګر نيولی وه اوڅوک به يې پورې وتلو نه پريښودل، د هغه سره خپل پوځ او فيلان هم ول چې ډير فخر به يې پرې کاوه، يمين الدوله خپلو بهادرو پوځيانو ته د سيند څخه د پورې وتلو امر وکړ، ترڅو د مشرکينو پوځ مشغوله کړي او پاتې لښکر هم ور پورې وځي، هغوی همداسې وکړل، د هندوانو سره دغو بهادرو مجاهدينو سخت جنګ وکړ او د سيند د غاړې د ساتنې څخه يې مشغول کړی، تردې چې ټول اسلامي لښکر د سيند بلې غاړې ته پورېووت ، ټوله ورځ جنګ دوام وکړ، هندوانو ماتې وخوړه اومسلمانانو ستره بريا ترلاسه کړه ډيرمالونه اوفيلان يې په غنيمت کې ونيول».

ځينې تاريخ پوهانو دا هم ذکر کړي ده چې د هند د باچاهانو څخه يو تن سلطان محمود غزنوي ته وړانديز وکړ، چې د دوی د بتانو د ماتولو او د معبد د رنګولو څخه لاس واخلي، هندي بادشاه زياته کړه: «مونږ پوهيږو چې تاسو دا بتان د خپل رب د رضا کولو لپاره ماتوئ، نو آيا دا څه چې مو مات کړل دا ستاسو د تقرب لپاره کفايت نه کوی ؟ په ځانګړي ډول هغه بتان چې تاسو د نکرکرت په کلا کې ويجاړ کړل؟ بيا يې ورته د لوی مال ورکولو وعده ورکړه که چيرته دوی د بتانو د ماتولو څخه لاس واخلي، سلطان ورسره دا هيڅ هم ونه منل اوپه ځواب کې يې ورته وويل: زمونږ جنګ د الله تعالی د رضا او د هغه د کليمې د لوړتيا لپاره دی، نه د دنياوي مادياتو په خاطر، لدې وروسته سلطان په بيړه دمعبد لوري ته ولاړ ترڅو د دوی بتان ټوټه ټوټه کړي، مګر يو بوت يې مات نه کړ، هغه يې د ځان سره واخيست؛ ترڅو پرې په خپل اصلي ټاټوبي (غزني) کې خلک د پاسه وګرځي او پيمال يې کړي.

په کال (۴۰۷هـ) کې د سلطان بله ستره کارنامه دا وه چې د هندوانو يوې بلې مظبوطې بت خانې ته بې ځان ورساوه چې ودانې يې ترټولو پياوړې وه، ابن اثير وايي:«په دغه معبد کې نږدې (۵۰۰) بتان ولاړ و، چې د سرو زرو څخه جوړ او جواهر پکې لګول شوي و، چې د سرو زرو وزن يې په مجموعي ډول (٦۹۰۳۰۰) مثقاله ته رسيده او هغه بتان چې د سپينو زرو څخه جوړ وو شميره يې (۲۰۰) بتان وو، يمين الدوله بتان مات کړل او سره او سپين زر يې د ځان سره واخيستل، دلرګيو بتان يې وسوځول او د قنوج په لور وکوچيده... د قنوج کلاونه او د هغې تابع اووه سيمې چې په دغو اوبو پرتې وې ونيولې، هلته د بتانو نږدې

لس زره مندرونه وو، ويل کيدل چې دغه د دوه لکه نه تر درې لکه کالو پخواني دي. چې دا ټول درواغ ول. کله چې سلطان دغه مندرونه ونيول نو خپل لښکر ته يې د هغې غنيمتونه حلال کړل».

د بتانو په ماتولو کې د سلطان محمود غزنوي ترټولو لويه فتح د هندوانو د لوی بت سومنات ماتول و، کومه چې په کال (۴۱٦هـ) کې منځ ته راغله، ابن اثير وايي:«دا بت د هندوانو تر ټولو لوی بت و، کومه شپه چې به سپوږمۍ تندر ونيوله دوی به دغلته حج ته راتلل، د سومنات د عبادت لپاره به تقريباً سل زره خلک راغونډيدل کيدل... د تقرب او نذر لپاره به يې قيمتي غاړکۍ سومنات بت ته ور اچولې او د بت منجورانو او موريدانو ته به يې هم ډير گران قيمته مالونه ورکول، د دغه بت لپاره لس زره کلي وقف کړی شوي وو».

البته د موحد سلطان د دغه بت د نسکورولو اراده کول، دلاري خورا زيات مشکلات اوتکليفونه گالل پدې خاطر نه وو چې د بت په ماتولو سره به مالونه اوخزانې ترلاسه کړي، بلکې د هغه اراده او قصد دا و چې د سومنات په ماتولو سره د هغه د پيروانو او عبادت کونکو زيلې غوڅې کړي او د شرک ټغر ورټول کړي.

ابن اثير وايي: «کله چې به يمين الدوله په هندوانو کوم بري ترلاسه کړ او بتان به يې ورمات کړل، نو هندوانو به ويل:دا بتان ځکه ټوټه ټوټه کيږي او ماتيږي چې دوی سومنات خفه کړی دی او هغه ورته غوصه دی، که چيرته تري هغه خوشحاله وی نو په دوی به داسې نه کيدل اوچا چې د دوی د ماتولو اراده کړي وی نو سومنات به هغه خلک هلاک کړي وی، کله چې يمين الدوله ته د هندوانو دا خبره ورسيده نو کلکه اراده يې وکړه چې دغه بت نسکور کړي، د هغه گمان دا و چې هر کله دغه بت نشت شي او دوی ته د خپلې دعوا درواغ په ډاگه شي، نو په اسلام کې به داخل شي، سلطان استخاره وکړه او د غزني څخه د دغه کال د شعبان په لسمه د ۳۰ زره لښکر سره روان شو او دا د هغه مجاهدينو څخه علاوه وو چې د جهاد لپاره په خپله خوښه تلل».

هغه لار چې دغه بت ته رسيده؛ ډيره خطرناکه او ستونزمنه وه، ځکه چې په دښتو او صحراوونو ورتيره شوې وه، ليکن موحد سلطان دغه ستونزې وگاللي او هيڅکله د خپل عزم او ارادې څخه لس په سر نه شو، ابن اثير وايي:«کله چې سلطان دغه اوږده دښته ووهله نو بل لوري ته يې وکتل چې کلاگانې د بت پرستو نه ډکې دي او د کلاگانو په څنگ کې يې ډېر کوهيان او خندقونه کيندلي دي، ترڅو د سلطان مخه په دې کوهيانو او خندقونو بند کړي او دوی ته ونه رسي، ليکن کله چې سلطان دغه کلاگانو ته نږدې شو، الله تعالی د مشرکانو په زړونو کې رعب واچو او اسلامي لښکر ته يې دغه فتحه اسانه کړه؛ کلاگانې يې ورته ورکړې، ډير مشرکان يې پکې ووژل او بتان يې ورمات کړل، له دغه ځايه يې يواځې اوبه او بعضې د ضرورت شيان ځان سره واخيستل، د ډيرو جنگونو او د کلاگانو د محاصرو څخه وروسته سلطان محمود غزنوي سومنات بت ته ورسيده، ابن اثير وايي:«د ذي القعدې مياشت نيمه تيره وه، د پنجشنبې ورځ وه چې سلطان محمود غزنوي سومنات بت ته ورسيد، سلطان وکتل چې يوه مظبوطه کلا د سمندر په غاړه اباده ده او د سمندر څپې يې په ديوالونو ماتيږي ، د کلا خلک د مسلمانان ليدو ته راوتي دي، دايې باور دی چې د دوی معبود (سومنات) به اوس د مسلمانانو دغه لښکري ختموي» او دا د هر مشرک عادت او عقيده وي ليکن دغه باطل پرست چيرته د توحيد د لښکرو په وړاندې ودريدلای شي!.

ابن اثير د جنگ تفصيل او د بت پرستو د هغه وخت حيرانتيا چې يې معبود د هغه چا په وړاندې چوپ ولاړ و او هيڅ ډول دفاعي حرکت يې نه کولو، چې د ده په ماتولو پسې راغلي و، دا په داسې حال کې چې د بت پرستانو عقيده دا وه چې همدا بت به دوی ته نجات او خلاصون ورکوي، هر چې هغه بتان وو چې سلطان مات کړل علت يې پر هغوی د سومنات غصه وه، که سومنات تري راضي وی نو اسلامي لښکرو بيا نه شو ماتولی، ابن اثير وايي:« هندوان د مسلمانانو له خوا د داسې جنگ سره مخامخ شول چې مخکې يې نه ؤ ليدلی د جنگ د شروع کيدو سره سم بت پرست د ديوالونو نه راښکته شول او مسلمانان پر ديوالونو ورجگ شول، د توحيد چغې يې وهلې او د اسلام شعارونه يې پورته کړل، سخت جنگ پيل شو، بت پرستانو چې کله د اسلامي لښکرو بې مثاله قرباني اود دې په مقابل کې خپل ضعف وليده، نو سومنات بت ته ورغلل اوژړا او فريادونه يې ورته شروع کړل، مخونه يې ورته په خاورو کې ولړل او مرسته يې ترې وغوښته، تردې چې شپه شوه او جنگ هم تم شو، کله چې سبا شو اسلامي لښکرو سهار وختي حمله پيل کړه او نښتې پيل شوې، ډير هندوان يې ووژل او د ښار څخه يې د سومنات کور ته ورټيل وهل، د بت خانې په دروازه کې سخت جنگ کيده، مقاومت ډير سخت و، هندوان به ډلې ډلې سومنات ته ورتلل، غاړې به يې ورکولې، ژړل به يې او مدد به يې ترې غوښته او بيا به د اسلامي لښکرمقابلې ته راوتل، خو اسلامي لښکرو به يوه ډله په بلې پسې له تيغه ويستله، تردې چې نږدې وه ټول هندوان ووژل شي، ډير کم يې ژوندي پاتې شول، هغوی په کښتيو کې د تيښتې په خاطر سپاره شول، ليکن مسلمانانو هغوی هم راگير کړل ، څه يې ووژل او څه يې په اوبو کې لاهو کړل».

د سومنات حال دا شو چې: « يمين الدوله سومنات بت ټوټه ټوټه کړ، څه حصه يې په اور وسوځوله او پاتې حصه يې د ځان سره غزني ته يوړه او د جامع مسجد درشل يې ترې جوړ کړ» او پدې سره دغه بت د ماتولو نه وروسته ډير زيات سپک شو.

په دغه غزا کې د مسلمانانو لاس ته دومره زيات غنيمتونه راغلل چې د جهاد ټوله خرچه يې ورته پوره کړه، چې دغه يواځې د الله تعالی لخوا پاک رزق و، ابن اثير وايي: «د بتانو د خونو څخه د ترلاسه شوي غنيمت قيمت شل مليونه ديناره و او په دې جنگ کې د پنځوس زره څخه زيات هندوان مردار شول.

موحد سلطان محمود غزنوي (رحمه الله) خپل پاتې ژوند په جهاد في سبيل الله کې تير کړ تردې چې په کال (۴۲۱هـ) کې وفات شو.

د سلطان محمود غزنوی رحمه الله د جهاد او بت ماتونې له امله په هند کې اسلام تر ډيرو پيړيو حاکم و او د سومنات ماتولو په مشرکينو ډير لوی اثر درلوده.

د سلطان تورو يواځې د بت پرستو پر څټونو مسلطه نه وه بلکې سلطان د مبتدعينو او باطني زنديقانو لپاره تيره توره وه، هغه بدعات د پښو لاندې کړل، سنت يې را ژوندی کړ او د حديث قدر د هغه رحمه الله زمانه کې ډير لوړ شو.

د سلطان محمود غزنوي-رحمه

الله- مشغله دا وه چې بتان مات او د ځمکې له مخه ورک کړي، د کومي بیلګي او مشهور واقعات چې مونږ مخکې ذکر کړل، په ځانګړي توګه د مشرکو هندوانو د لوی بت"سومنات" ماتول، خو د دې ترڅنګ غزنوي سلطان د مسلمانانو په ټولي (خلافت) دومره حرص کونکی و لکه چې د شرک او مشرکینو په خپلو یې کولو، پدې باب کې د هغه مشهوري کارنامي تاریخ په خپلو پاڼو کې د ځان سره ساتلي دي چې یو شمیر یې په دې ډول دي په کال (۴۰۴هـ) کې چې کله د بعضې غزاګانو څخه راستون شو، نو عباسي خلیفه القادر بالله -رحمه الله- ته یې لیک ولیږه او د هغه څخه یې غوښتنه وکړه چې د خپل لاس لاندې سیمه باندې یې والي مقرر کړي، ابن اثیر-رحمه الله- وایي: "کله چې سلطان د غزا نه وزګار او بیرته غزني ته راستون شو نو خلیفة المسلمین القادر بالله ته یې لیک ولیږه، چې په هغې کې د خراسان او هغو هیوادونو د مشرق په اړه د یو فرمان غوښتنه شوې وه چې د سلطان د لاس لاندې وو، نو خلیفه دهغه غوښته ومنله او په سیمه د مشرق فرمان یې ورته ولیکه"، که څه هم غزنوي سلطان دېته کومه اړتیا نه درلوده چې د چا په فرمان یا وصیت خپله بادشاهي مضبوطه کړي، لیکن د هغه ټول حرص دا و چې د یو داسي قریشي امام د سیوري لاندې ولاړ شي چې په هغه مسلمانان راټول وي.

عباسي خلیفه د سلطان په عزت کې نور څه هم زیات کړل او هغه ته یې یو شمیر لقبونه ورکړل، ابن الجوزي وایي: "خلیفه غزنوي ته د اکرام جامه (چوغه) ولیږله او هغه ته یې د یمین الدوله او امین الدوله لقبونه ورکړل ، بیا یې وروسته ورسره دا هم زیات کړل، چې نظام الدین ناصر الحق"[المنتظم].

غزنوي سلطان کله هم د قریشي خلیفه د اطاعت څخه د هغه چا اطاعت ته وتونکی نه و چاچې په ظلم سره د خلافت دعوا کوله او د ځان لپاره یې په درواغو فاطمي نسب غوره کړی و، ابن کثیر-رحمه الله- وایي: "هغه په د خپل واک لاندې په ټوله خاوره کې د خلیفه القادر بالله په نامه خطبې کولې (په هغه زمانه کې به د جمعې په خطبه کې د خلیفه نوم یادیده)، په دغه مهال کې به د مصر څخه د فاطمیینو استازي هم سلطان ته راتلل؛ د سلطان په نوم لیکونه او او قیمتي تحفې به ورسره و، ترڅو سلطان د دوی لوري ته واوړي، لیکن هغه به دغه استازي د پیغامونو او تحفو سره سوځول"، پدې جمله کې غزنوي سلطان د فاطمیینو یو استازی او د هغوی تحفې عباسي خلیفه ته هم لیږلي وې، ترڅو یې په هکله خلیفه په خپله فیصله وکړي، ابن الجوزي وایي: " ابو العباس هغه څه حاضر کړل چې د مصر لخوا یمین الدولة ته لیږل شوي وو، د یمین الدوله لیک پکې هم و، چې په هغې کې سلطان لیکلي وو: «زه ستاسو مخلص غلام یم، ستاسو اطاعت په ځان فرض ګڼم او د هر هغه څه نه برائت کوم چې د عباسي دولت خلاف وي»، د دې نه یوه ورځ وروسته یې هغه جامې چې فاطمیینو رالیږلې وې باب النوبي ته وویستلې، هلته ورته یوه کنده وکیندل شوه، لرګي پکې واچول شول او د هغې دپاسه دغه جامې کیښودل شوې او وسوځول شوې"؛ ابو العباس ابن تیمیه- رحمة الله- وایي: "د مصر عبیدي حاکم غزنوي سلطان ته لیکنه کړې وه، په هغې کې یې سلطان خپلې پلوی ته بللی و، هغه د عبیدي حاکم دغه لیک د هغه د استازي په سر وسوځاوه او د اهل السنت داسې ملاتړ یې وکړ چې د هغه څخه مشهور دی "[منهاج السنة].

په کال (۳۹۶هـ) کې د اوسني پاکستان ملتان سیمې ته پدې غرض ولاړ چې د هغې قرمطي حاکم له منځه یوسي، ابن اثیر وایي: "د دغې غزا سبب دا و چې د ملتان د والي ابو الفتوح په اړه غزنوي ته خبر را رسیدلی و چې دغه سړی چټله عقیده لري؛ ابو الفتوح قرمطي په الحاد تورن کړی شوی و او بله دا چې دی په ملتان کې د خپل ولایت خلک ځپلي دغې چټلې عقیدې ته رابللي دي او هغوی یې خبره منلې ده، نو یمین الدولة لازم وګڼله چې د دغه قرمطي پرخلافت جهاد وکړي او د دغې مشرۍ څخه یې راکوز کړي، د هغه په لور روان شو، په لاره کې د سیندونو د ډیر والي سره مخ شو، په ځانګړي توګه سیحون سیند؛ او هیڅ لاره نه وه چې د هغه نه تیر شي، غزنوي سلطان د هند د بادشاه اندبال څخه غوښتنه وکړه چې ملتان ته په رسیدو کې ورته د خپلې خاورې نه د تیریدو اجازه وکړي، لیکن اندبال دغه غوښتنه ونه منله، نو غزنوي سلطان په هغه د ملتان نه مخکې جګړه پیل کړه او ویې ویل: دوه غزاګانې به یوځای کړو" غزنوي سلطان د لوی الله په فضل اندبال له منځه یوړ او ملتان ته هم ورسیده.

ابن اثیر-رحمه الله- وایي: "کله چې ابو الفتوح ته د غزنوي سلطان د راتلو خبر ورسیده، پدې پوه شو چې د هغه مخې ته ودریدل او نافرماني ورته مشکل دي، نو خپل مالونه یې سرندیب ته منتقل کړل او ملتان یې سلطان ته خالي کړ، یمین الدوله ملتان ته ورسیده او هلته یې پراو واچاوه، هغه ولیدل چې د ملتان خلک په خپله ګمراهۍ کې رانډ او حیران دي، هغوی یې محاصره کړل، تنګي یې پرې راوسته او جنګ ته یې دوام ورکړ، تردې چې الله تعالی ورته سیمه په جنګ فتح کړه، بیا یې د توبې سره د سزا په توګه په ملتانیانو شل زره درهمه مقررکړل".

سلطان محمود غزنوي-رحمه الله- د قریشي خلیفه په اطاعت او د بدعت او زندیقانو پر خلاف ډیر حرصناک و، په کال (۴۰۸هـ) کې "یمین الدوله او امین الدوله ابو القاسم محمود بن سبکتګین د امیر المؤمنین امر ومانه او د خپل لاس لاندې خراسان او نوره ټوله سیمه کې د هغه په نقشقدم روان شو؛ معتزله، روافض، اسماعیلیان، قرامطه، جهمیه او مشبهه یې ووژل، په سولۍ یې کړل، بند ته یې واچول او د سیمو نه یې وشړل، بلکې د مسلمانانو په منبرونو یې پر هغوی لعنتونه وویل، ټول مبتدعین یې وشړل، د هیواد نه یې فراري کړل او دغه په اسلام کې یو سنت وګرځیده "[البدایة والنهایة].

په کال (۴۲۰ هـ) کې غزنوي ری سیمې ته ولاړ، هلته "مجد الدوله" البویهي رافضي مشر و، د هغه نه یې مشري واخیسته او هغه او د هغه پوځ یې له

منځه یوړه، دغه خبر یې بیا خلیفه "القادر بالله" ته ولیږه، لکه چې ابن الجوزي یې دغه برخه رانقل کړې: "الله تعالی د دې سیمې نه د ظالمانو زور ختم کړی او د باطني کفارو فاجرانو او مبتدعینو څخه یې دغه سیمه پاکه کړه، ستاسو پاک حضور ته به د خبر واقعیت در رسیدلی وي، چې بنده عاجز د کفارو او ګمراهانو په غزا کې خپل ټول توان په کار اچولی دی، ترڅو د خراسان د خاورې څخه د باطنیه فاجرانو جرړې ختمې شي، د رې ښار د دوی ټاټوبی ګرځیدلی و د هر ځایه به ورته رامات ول، هلته یې د خپل کفر اعلان کړی و او معتزله مبتدعینو او غلو کونکو روافضو سره ګډوډ ول؛ څوک چې د قرآن او سنت مخالفین دي، صحابه کرامو ته په ښکاره کنځلې کوي، د کفر عقیده ساتي او د اباحیت مذهب لري"

په همدې ډول غزنوي سلطان د ګمراهان اشاعره و پر خلاف هم ډیر واقعات لري، ذهبي په خپل کتاب "السیر" کې وايي: "ابن فورک د غزنوی سلطان مجلس ته ورغی، نو ویې ویل: مونږ الله تعالی ته فوقیت ځکه نه شو ثابتولی چې د دې نه الله تعالی لاره تحتیت (لاندې والی) لازمیږي، ځکه د چا لپاره چې فوقیت ثابتیدل جائز وي، د هغه لپاره لاندې والی هم ثابتیدل جائز وي، نو سلطان ورته وویل: «ما خو په فوقیت د الله تعالی صفت ندی بیان کړی، بلکې هغه په خپله دغه صفت د ځان په هکله بیان کړی دی، نو ابن فورک وشرمیده او ذلیله شو".

همدا شان ذهبي وايي "ابو الولید سلیمان الباجي وايي: کله چې ابن فورک د کرامیه څخه د مناظرې غوښتنه وکړه نو هغوی د خراسان والي محمود بن سبکتګین ته ولیکل: دغه سړی چې زمونږ په خلاف خلک راپاروي دغه زمونږ څخه ستا په نیزد ډیر کافر او مبتدع دی، ته د هغه څخه د محمد بن عبد الله-صلی الله علیه وسلم- په اړه پوښتنه وکړه، چې هغه نن ورځ هم پیغمبر دی که نه؟ دغه خبره په سلطان محمود ډیره درنه پریوته، هغه وویل: «که دغه خبره ثابته شوه نو زه به خامخا دغه سړی وژنم»، بیا یې هغه راوغوښت او پوښتنه یې تري وکړه، ابن فورک وویل: "محمد بن عبد الله مخکې پیغمبر و، لیکن نن ورځ پیغمبر ندی"، سلطان د هغه د مرګ امر صادر کړ، بیا ورته پدې اړه یو سفارش راغی او ورته وویل شول، چې دغه یو بوډا سړی دی، نو سلطان امر وکړ، چې په زهرو دې ووژل شي، نو زهر یې پرې وڅښل".

ابن حزم-رحمه الله- وايي: "یوه داسې ډله پیدا شوې، هغوی دعوا لري چې محمد بن عبد الله بن عبد المطلب-صلی الله علیه وسلم- اوس د الله تعالی رسول ندی-صلی الله علیه وسلم-، دغه د اشعریانو یو قول دی، ماته سلیمان بن خلف الباجي خبر راکړی- او هغه نن ورځ د مشرانو اشعریانو څخه دی، چې محمد بن الحسن بن فورک الاصفهاني د همدې مسئلې په سر په زهرو وژل شوی و، هغه د ماوراء النهر نه د لاندې ټول خراسان والي محمود بن سبکتګین ـ رحمه الله- په زهرو وژلی و ... مونږ په الله تعالی پورې د دې وینا څخه پناه غواړو، ځکه دا ښکاره کفر دی چې هیڅ شک پکې نشته. دوی قرآن کریم پدې آیت کې درواغژن کړ چې الله تعالی فرمايي: (محمد رسول الله)، دوی اذان و اقامت درواغژن کړل، کوم چې الله تعالی په ورځ کې پنځه وخته د مسلمانانو په ټولي فرض کړي دي ، دوی کافرانو ته د مسلمانانو دعوت درواغژن کړ، د کوم نه پرته چ د اور په څوک خلاصیدی نشي، دوی د مسلمانانو ټولې پیړۍ درواغژنې کړې، د صحابه کرامو رضي الله عنهم نه راواخله ټول امت نیکان او بدان ځکه هغوی دغه کلمه ویلې چې لا اله الا الله محمدا رسول الله، بل د دې ملعون قول په خاطر دا خبره فرض کیږي چې باید مونږ موذنین او اقامت کونکو ته درواغژن ووایو، ځکه هغوی محمد رسول الله وايي: باید محمد کان رسول الله ووايي: ځکه خو پدې مسئله امیر محمود بن سبکتګین د امیر المومنین غلام او د خراسان والي-رحمه الله- راولیږده او د اشعریانو شیخ ابن فورک یې وواژه، الله تعالی دې غزنوي سلطان ته اجر ورکړي او الله تعالی دې په ابن فورک او د هغه په ملګرو او اتباعو لعنت وکړي"[الفصل].

نو سلطان محمود غزنوي داسې سړی نه و چې د ګمراهی د مشرانو، داعیانو او اهل الکلام په اړه چپ پاتې شي.

شیخ الاسلام ابو العباس ابن تیمیه-رحمه الله- د سلطان محمود غزنوي صفت داسې بیانوي، وايي: "هرکله چې د په خراسانیانو کې تر ټولو بهتره بادشاهي د محمد بن سبکتګین وه: نو د هغه په بادشاهی کې اسلام او سنت عزتمند وو، هغه د هندو د مشرکینو پرخلاف غزاګانې وکړې او داسې عدالت یې خپور کړ چې مخکې چا هم په دغه سیمه نه و کړی، د هغه په زمانه کې سنت غالبه او بدعت په سر وهل شوی و "[الفتاوی].

بل ځای ابن تیمیة -رحمه الله- وايي: " هغه د بهترینو او عادلو بادشاهانو څخه و، هغه د بدعتیانو پر خلاف د ټولو نه زیات سخت و"[منهاج السنة].

په همدې توګه د امام د بیعت او د بدعتیانو او زندیقانو پر خلاف د جنګ برکت دا و چې: الله تعالی ورسره مرسته وکړه، واکمني یې ورکړه او په دښمنانو یې غالبه کړ، ابن کثیر رحمه الله د (۵۴۲هـ) کال په واقعاتو کې داسې وايي: "کله چې د دې کال د ربیع الاول میاشت راغله نو عادل بادشاه، لوی غازي، تایید کړی شوی مرابط، کامیاب مجاهد، یمین الدوله ابو القاسم محمود بن سبکتګین وفات شو، هغه د د غزني او لویو هیوادونو پادشاه و، هغه د هند زیاتره برخه په په زور نیولې وه، هغه د هندوانو بتانو مات کړي او د هندوانو بادشاهي یې په زوره ختمه کړې وه".

دغه د دې عادل سلطان د سیرت یو څو ملغلرې وې، هغه د توحید او سنت مرسته کړې وه او شرک او بدعت یې ځپلی و، هغه د مسلمانان د جماعت په پیاوړتیا حرص درلوده او دا په داسې وخت کې چې د خلافت پر خلاف ډیر مبتدعین او د باطلو فرقو خلک پاڅیدل او هغه یې ختمول غوښتل، نو د غزنوي سلطان لخوا د امیر المؤمنین القاهربالله لپاره دوستي او تابعداري پدې اړه ډیر لوی رول ولوباوه، دغه ډلې یې سرتیټې کړې او د قرشي خلافت هیبت یې راتازه کړ.

نن یو ځل بیا په خراسان کې د موحدینو یو نوی نسل رالوییږي، الله تعالی په دوی د اسلام او مسلمانانو مرسته کوي، د شرک پرخلاف جنګیږي ، بدعت ختموي او په خلافت منګولې لګوي.

د الله تعالی نه سوال دی چې د دوی په لاس د سند او هند هیوادونه بیا فتح کړي، إنه ولي ذلك والقادر علیه، والحمد لله رب العالمین.

ډېر ژر
ان شاءالله تعالی

په دې جامع علمي، تحقیقاتي او هر اړخیز کتاب کې د شیعه ګانو
په تاریخ، ډولونو، کفري عقایدو، د دوی سره د دوستۍ په احکامو
او په همدې تړاو په ډېرو مهمو موضوعاتو او مسائلو تفصیلي، مستند
او مدلل بحث شوی، ددې په زړه پورې کتاب لوستل مه هیروئ.

## په دې په زړه پورې مدلل او

# معلوماتي کتاب کې

مؤسسة العزائم
الإعلامية

مؤسسة العزائم الإعلامية
يې وړاندې کوي